# متضاد روايات

## مذهبي اختلافات

## سلفي شم که مذهبي پاته شم؟

حکمتيار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

په داسي حال کي چي موږ د اسلامي امت یووالی غواړو، د امت پر هغو ژورو ژورو پرهارونو ویر کوو او اوښکي تویو چي ستر عامل ئې قومي او مذهبي اختلافات ول، د همدغو کرغېړنو اختلافاتو له کبله ټوټې ټوټې او له ذلت او سپکاوي سره مخامخ شو، هیله مو دا ده چي اسلامي امت د الله تعالی پر مضبوطي رسۍ منګولي ولګوي، متحد شي، خپل تېر برم او عظمت تر لاسه کړي، د ټولو حقه مذاهبو صادق او مؤمن پلویان یو ځل بیا د متحد او تفرق نه منونکي امت په توګه راڅرګند شي؛ د ورونو په څېر یو د بل خوا ته په ډاډ او اطمئنان سره او له کرکي او دښمنۍ پرته ژوند وکړي، نه یو بل تکفیر کړي، نه په فروعي مسایلو کي اختلاف د دوی تر منځ په دښمنۍ واوړي، نه اصلي مسایل هېر کړي او په فروعي مسایلو پوري ونښلي، نه ستر ستر خطرناک بهرني او کورني دښمنان له پامه وغورځوي او هغوی ته شا کړي او په داسي شخړو کي ځان مصروف کړي چي د مسلمانانو تر منځ له فروعي اختلافاتو راولاړېږي، موږ غوښتل چي افغان ولس په یوه ډاډمن او متحد اسلامي صف کي راغونډ کړو، پرې نږدو چي افغانان؛ مخصوصاً هغه چي خپلواک، آزاد او سرلوړی اسلامي افغانستان غواړي او دې سپېڅلي هدف ته د رسېدو لپاره هري

(c) ketabton.com: The Digital Library

قربانۍ ته چمتو دي؛ په بېلو بېلو ډلو ووېشل شي، غوښتل مو د دوی سنګر یو وي، د اسلام دوست ئې دوست او دښمن ئې دښمن وي، په ګډه د کورنیو او بهرنیو دښمنانو مقابله وکړي، توره ئې د دښمن پر سر راپرېوځي، ژبه ئې د دښمن په ضد وخوځي، قلم ئې د دښمن په ضد ولیکي، خو متأسفانه ځیني کمعقله او غرضي کړۍ د داسي هیلو په وړاندي خنډونه راولاړوي، په داسي حال کي چي موږ له لوی دښمن سره په ساړه او تاوده جنګ کي مصروف یو، په داسي حال کي چي نن د تاریخ تر ټولو لوی او اوږد سوړ او تود جنګ د اسلام او اسلامي امت په ضد روان دئ، د مسلمانانو په ضد د نړۍ ټول کفري ځواکونه متحد شوي او د اسلامي هېوادو منافق او مفسد غلام صفته حکام هم ورسره ملګري شوي، د کابل او بغداد په څېر د اسلام ستري کلاګاني د دښمن په لاس کي پرېوتې، په همدې ویرجن او دردناک حالت کي ځیني وایي: موږ په مقلدو مذهبیانو پسي ورروان یو او سنګرونه ئې ترې نیسو!! ځیني وایي: د مذهب تقلید شرک دئ، ځیني وایي: د احنافو په طریقه لمونځ کول لمونځ نه دئ، د دوی لمونځ د سنت خلاف دئ او الله تعالی ئې نه قبلوي!! ځیني وایي: له سنتو وروسته دعاء څنګه ده؟ او دې ته ورته نور مسایل. دښمن خوښ دئ او دا غواړي چي مسلمانان په دغسي قضایاوو کي مشغول وساتي، یقیناً چي د دغه بهیر تر شا یا د زرنګ دښمن ناولي لاسونه د فتنو راولاړولو په موخه بوخت دي او یا هغه کمعقله او په غرض او مرض ککړ خلک چي نه د دین په حقیقت پوهېږي او نه د دنیا له حالته خبر دي، نه دوست پېژني او نه دښمن، نه د اسلام غم ورسره دئ او نه د اسلامي امت درد.

موږ دا کتاب په دې موخه خپروو چي دا توطئه شنډه کړو، د دغو مرموزو کړیو د تبلیغاتو مخه ونیسو، ټولو ته جوته کړو چي موږ غواړو عقیده، مذهب، مسلک،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمونځ او ټول عبادات او معاملات مو سل په سلو کي د قرآن او سنت مطابق وي، يوازي هغه څه منو او عمل پرې کوو چي د الله تعالی د کتاب او د رسول الله ﷺ له لارښوونو سره مطابقت ولري. هر مسلمان خپل ورور ګڼو، د ټولو حقه مذاهبو پلويانو ته درناوی لرو، شافعي، مالکي، حنبلي، سلفي او هر هغه څوک زموږ ديني ورور دئ چي د الله کتاب قرآن ئې لارښود دئ او د رسول الله ﷺ سنت ئې تګلاره دئ، خپلو ورونو ته وايو: په فرعي مسايلو کي اختلاف دي تاسو د هغو خلکو په اړه دښمنۍ، حساسيت او ضديت ته اړه نه کړي چي په اصلي مسايلو کي له تاسو سره متحد دي، خپل وخت له هغو خلکو سره په شخړو، مشاجرو او مجادلو کي مه ضايع کوئ چي اصلي دښمن ئې هېر کړی، اصلي کار ئې پرېښی، د دښمن په ضد د جهاد سنګر ترې پاته دئ، د مسلمانانو په ضد ئې د جدل سنګر پرانيستی او د دوی په ضد د خولې ډزي کوي. پر دوی زړه سوی ولرئ او ورته ووايئ: که ګمان کوې چي په فرعي مسايلو د ترکيز له لاري به د الله تعالی رضا ترلاسه کړې او جنت الفردوس به دي په برخه شي، نو خپل شوق پوره کړه، خو په دې پوه شه چي نه د الله تعالی رضاء په دومره آسانۍ ترلاسه کېدی شي او نه جنت دومره ارزانه متاع ده چي په څو وړو او سړو خبرو واخيستی شي، د قرآن دغه آيت ئې مخي ته کېږدئ:

ûïÎÉÁ 9$N=è/r NåäZÏB (rß‰g»_ ûïÏ%©!$# ª!$# ÄÉ=è/ $£J9r pY f #$(qè=äzô‰? b& ÷LäêöÅm Qr&

ÇÊÍËÈ آل عمران:۱۴۲

آيا داسي مو انګېرلې چي جنت ته به له هغه د مخه داخل شئ چي لا الله نه ستاسو مجاهدين معلوم کړي او نه ئې صابران معلوم کړي؟!!

يعني دا هسي يوه خوشې هيله او بې بنسټه انګېرنه ده چي تاسو به يوازي د ايمان په دعوی سره جنت ته درومئ او د جنت دروازې به په خپلي مخي کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرانیستې مومئ، مخکې له دې چې له آزموینو تېر شئ، په امتحانونو کې بریالي شئ او د آزموینو په ترڅ کې جنت ته د ننوتو وړتیا ثابته کړئ!! دا هیله د الله له سننو سره اړخ نه لګوي، الله جنت د هغو لپاره جوړ کړی چې په آزموینو کې بریالي شي، جنت د مجاهدینو او صابرانو ځای دئ، په آزموینو کې الله تعالی دا عملاً څرګندوي چې څوک مجاهد او صابر دئ او د جنت مستحق. له دې آیت داسې معلومېږي چې له (مجاهد) او (صابر) پرته بل څوک جنت ته نشي ننوتی. او له دې دا خبره معلومېږي چې د (جهاد) او (صبر) لمن ډېره پراخه ده، او د انسان ټول ژوند احتوی کوي.

د حدیث او سنت په اړه موږ له دوو (مُنکِرینو او مُنَکِّرینو) ډلو سره مخامخ یو، یوه ئې انکار کوونکې او بله ئې انکاروونکې، یوه ئې په خپله له حدیث او سنت نه انکار کوي، بله ئې نور انکار ته اړباسي، اسلام ته د دوهمې ډلې خطر تر لومړۍ زیات دئ، هغه چې هر وچ او لانده د حدیث په نامه وړاندې کوي، رسول الله ﷺ ته متضاد او متعارض اقوال او افعال منسوبوي، داسې څه ورته منسوبوي چې هم د قرآن خلاف وي او هم د عقل، رسول الله ﷺ په داسې صفاتو یادوي چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی، دوی له سنت او اسلام سره تر هر چا زیاته دښمني کوي، له سنت نه انکار نه بازار لري او نه په امت کې د نفوذ مجال، خو متضاد او متعارض روایات هم بازار لري، هم په امت کې د خوربدو مجال، او هم د اختلافاتو راولاړولو توان، ډېر کمعقله دښمن به دا هڅه کوي چې له حدیث او سنت نه د انکار لار غوره کړي او له دې لارې اسلام ته کوم تاوان ورسوي، دښمن هغه ډلې خوښوي، جوړوي او پالي چې د دین او مذهب په نامه د دین جرړې پرې کړي، له دین او مذهب نه داسې تعبیر وړاندې کړي چې د هر چا کرکه راپاروي. موږ ټول امت او د امت مجاهد علماء، هدفمن دعات او د اسلام هر دردمن خواخوږی دې ته رابلو چې راوړاندې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دغو فتنو د مقابلې لپاره ملا وتړي. موږ له هيڅ واقعي مسلمان سره، که د کوم مذهب پلوي وي او يا سلفي وي هيڅ ستونزه نه لرو، غواړو ټول په يوه صف کي راغونډ شي، ستونزه مو له هغو کړيو سره ده چي د مرموزو شبکو له لوري استخدامېږي او غواړي د مذهب تر نامه لاندي په مسلمانانو کي اختلافات راولاړ کړي او له اصلي دښمن او اصلي کار نه ئې مخ بل لوري ته واړوي.

حزب اسلامي دغه لار غوره کړې، د امت د راويښولو، په يوه صف کي د ټولو مسلمانانو د راغونډولو او په ګډه د ټولو کورنيو او بهرنيو دښمنانو د مقابلې لپاره ئې د چمتو کولو ملا تړلې، د دغي تګلاري له امله وو چي نه يوازي د افغان ولس اکثر صالح او هوښيار مجاهدين او د اسلام دردمن او هدفمن خواخوږي د حزب په ليکو کي تنظيم شول بلکي د افغانستان ډېری مخلص مذهبيان او سلفيان له حزب سره يو ځای شول او افغانستان ته له نورو هېوادو راتلونکو رضاکارو مجاهدينو به هم دا غوره ګڼله چي د حزب په سنګرونو کي او د حزب اسلامي د مجاهدينو په څنګ کي جهاد وکړي.

اللهم ارنا الحق حقاً وارزقنا اتباعه

و ارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه

حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سلفي شم که مذهبي پاته شم؟

مخکي له دې چي پورتنۍ پوښتني ته ځواب ووايو او دا مطلب روښانه کړو چي آيا موږ ته له مذهب نه استغناء او د احاديثو په موجود کتابونو کي په کوم يوه عمل کول ممکن او صحيح دي که نه؟ دا راته غوره ده چي د کوم مذهب تقليد وکړو او که ټولو مذهبونو ته شا کړو، په اصطلاح سلفي شو او پر حديث عمل وکړو؟ بايد څو خبري د سريزي په توگه وړاندي کړو:

د شهيد عبدالله عزام هغه تاريخي وينا مي مخي ته ځلېږي چي ويل ئې: څوک چي افغانستان ته نوی مذهب راوړي له اسلام او جهاد سره خيانت کوي!! دا وينا بايد په سرو زرو وليکل شي او هر څوک ئې خپلي مخي ته پر دېوال وځړوي. شهيد عبدالله عزام به کله چي له افغانانو سره يو ځای لمونځ کولو نو آمين بالجهر به ئې نه کولو، رفع اليدين به ئې نه کولو، پښې به ئې آزادي نه اېښودې، دې ته به ئې ترجيح ورکوله چي په لمانځه کي کوم افغان امامت وکړي، په څو اوږدو او لنډو جهادي سفرونو کي ئې زما ملگرتيا کړې، تل ئې له ما غوښتل چي په لمانځه کي ئې امامت وکړم، د ده اخلاص، قوي ايمان، هوښيارتيا او په جهاد کي د ده لويي ونډي ته په پام سره دښمنانو ونه زغملو او د داسي چا په لاس ئې شهيد کړ چي د مسلمانۍ ادعاء ئې کوله!!

دښمن پرون هم دا هڅه کوله چي په اسلامي امت کي د مذهب په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلافات راولاړ کړي او نن هم، اسلامي امت ئې هغه مهال ټوټې ټوټې کړ چې د مذهب په نامه ئې د دوی تر منځ د دښمنیو اور بل کړ، په افغانستان کي د نویو سیاسي او مذهبي ډلو د جوړولو لړی د جهاد په کلونو کي پیل شوه، او د هغو ځواکونو له لوري او د ډالر او ریال په زور چي په افغانستان کي د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي حکومت له جوړېدو سخت وېرېدل. په دغو ډلو کي ځیني ئې سیاسي وې او ځیني ئې مذهبي، ځینو د وحدت تر نامه لاندي اختلافات راولاړول او ځینو له افغانانو غوښتل چي خپل مخکنی مذهب پرېږدي او نوی مذهب غوره کړي.

کومو ډلو چي د نوي مذهب خوړولو ته ئې ملا وتړله په څو ډېرو بسیطو او فرعي مسایلو ئې ترکیز کاوو او له همدې ئې د اختلاف راولاړولو وسیله جوړوله، د پام وړ اساسي او مهم مسایل ئې دا وو: د الله تعالی لپاره د خدای نوم مه کاروئ، الله تعالی هر ځای او له هر چا سره نږدې نه دئ بلکي د عرش له پاسه دئ او پر عرش ئې استوی کړې، په لمانځه کي د قیام په وخت کي پښې آزادي ږدئ، د تکبیرونو په وخت کي لاسونه لوړوئ، آمین په لوړ ږغ وایئ، د کوم مذهب تقلید حرام دئ، هر څوک باید مخامخ احادیثو ته رجوع وکړي او پر حدیث عمل وکړي نه د کوم امام پر قول!!... غواړم په دې لیکني کي د دوی دغه وروستی ویناوي وڅېړم او ماهیت ئې روښانه کړم:

درنو محدثینو ته دي الله تعالی ډېر ډېر اجرونه ورکړي چې د رسول الله ﷺ احادیث ئې په ډېر دقت او احتیاط سره او د ډېرو ستونزو په گاللو سره راغونډ کړل، روایات ئې وچڼل، د راویانو په اړه ئې ژور تحقیقونه وکړل، صحیح روایات ئې بېل کړل، د اعتماد وړ راویان ئې له کمزورو بېل کړل او د مبارکو احادیثو گڼ شمېر مجموعې ئې راتلونکو نسلونو ته په مېراث پرېښودې. په دې اړه د درنو فقهاوو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوري راغونډ شوي احاديث او د هغوی په رڼا کي فقهي احکام تدوينول او د صحاح ستته امامانو خدمات د ډېري ستايني وړ دي، خو ای کاش په اسلامي امت کي داسي مدبر او د بصيرت خاوند زعيم راپيدا شوی وی چي د رواياتو په اړه ئې همغه کار کړی وی چي عثمان رضي الله عنه د قرآن په اړه وکړ، که موږ د احاديثو او رواياتو يوه معتبره او ټول امت ته د منلو وړ مجموعه درلودی او د احاديثو موجود کتابونه د قرآن په رڼا کي له تنقيح نه وروسته په يوې مجموعې کي راغونډ شوي وی نو له سترو فتنو او اختلافاتو به ژغورل شوي وو. اوس خو متأسفانه د رواياتو په بېلو بېلو کتابونو کي د مختلفو مذاهبو پلويانو ته د اعتبار وړ رواياتو کي شديد تناقضات او اختلاف خو پرېږده د احاديثو په يوه کتاب کي به ګڼ شمېر متعارض روايات ومومئ، داسي چي له دوو نه به ناچار يو منو او بل به پرېږدو، دا هم نه دي په ګوته شوي چي په دغو متعارضو رواياتو کي کوم يو په کوم دليل د منلو وړ دئ او پر بل ترجيح لري.

زموږ ګران ائمه هم له دغي ستونزي او مشکل سره مخامخ ول، ليدل ئې چي د متعارضو رواياتو له کبله په امت کي شديد اختلافات راولاړ شوي، هر څوک په ځانګړو رواياتو استناد او عمل کوی، کمعلمه خلکو ته څو روايات په لاس ورغلي، له تحقيق پرته ئې منلي، همدا ئې ځان ته مذهب ګرځولی، خپله لار ئې له نورو بېله کړې، له هغه چا سره مخالفت کوي چي د دې رواياتو پر ځای نور روايات او د ده تر رواياتو ډېر صحيح او مستند په لاس ورغلي، دا اختلاف ورځ په ورځ زياتېدو، خبره ړوند تعصب ته رسېدلې، يوه بل په دې خاطر تکفير کړی چي د ده روايات ئې ورسره نه دي منلي، درنو ائمه وو تر ډېره حده د دې فتنې مقابله وکړه، که د دوی مبارکي هڅي نه وی نو امت به داسي ټوټې ټوټې شوی وو چي راغونډول به ئې ممکن نه وو. تر ډېري مودې دا فتنه غلې وه، خو ورو ورو ئې بيا سر رااوچت کړ، بيا په امت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي داسي خلک راپيدا شول چي نه يوازي مخکنۍ فتنه ئې راژوندي کړه او ويل ئې چي هر څوک بايد په حديث عمل وکړي، او د خاص مذهب له متابعت نه ډډه وکړي، بلکي د ائمه وو د متابعت په اړه ئې ويل چي دا متابعت ناروا تقليد او شرک دئ!! دا په داسي حال کي چي ائمه وو له دې پرته بل کار نه دئ کړی چي احاديث او روايات وچڼي، صحيح له ضعيف نه تفکيک کړي، او خلکو ته وښيي چي په کوم روايت عمل وکړي او په کوم نه، هر څوک چي د حديث متابعت ته خلک رابلي نو هرو مرو به د رواياتو يوه خاصه لړۍ د هغوی مخي ته ږدي، په ځانګړيو کتابونو کي د احاديثو د راغونډولو لړۍ دغه ضرورت ته په پام سره پيل شوې، نن هم که څوک يوازي په حديث د عمل کولو خبره کوي نو ناچار به خلکو ته وايي چي د احاديثو کوم کتاب ته به اعتبار ورکوي او د رواياتو کومه لړۍ به معتبره ګڼي، او دا له دې پرته بل کار نه دئ چي نوی مذهب ته به خلک رابلي، ځيني کمعقله او ساده خلک داسي فکر کوي چي مذاهبو امت وېشلی او په احاديثو عمل کول دا اختلاف له منځه وړي، حال دا چي خبره په بشپړه توګه د دې عکس ده. د احاديثو کتابونه دومره ډېر دي چي يو ستر کتابتون ترې ډکېږي، او د رواياتو شمېر دومره دئ چي لکونو ته رسېږي، عادي خلک خو په ځای پرېږدئ متخصصين هم له هغوی نه د احکامو په رااېستو کي له سترو ستونزو سره مخامخ کېږي. کاش موږ د رواياتو داسي متفق عليه کتاب او مجموعه درلودی چي ټول امت پرې متفق وی، او په هغه کي داسي روايت نه وی چي له قرآن سره تعارض لري او يا يو ئې له بل سره، که تاسو د رواياتو اوسنيو کتابونو ته په دقت او له تعصب نه پرته رجوع وکړئ نو نه يوازي په سلګونو داسي روايات به ومومئ چي په بشپړه توګه له قرآن سره تعارض لري بلکي په خپلو منځو کي هم دومره ژور تعارض لري چي هيڅوک ئې په تلفيق نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library
توانېدی. دا تعارض به نه یوازي په هغو روایاتو کي وګورئ چي د بېلو بېلو مذاهبو پلویانو ته د اعتبار وړ دي بلکي په هغو کي به ئې هم ومومئ چي د یوه خاص مذهب پلویان ئې د ځان ګڼي.

د مثال په توګه د شیعه وو له نظره معتبر کتاب اصول کافي په اړه د دوی یو مشهور عالم علامه برقعي لیکي: د دې کتاب اکثر روایات جعلي، له قرآن سره متصادم او د عقل خلاف دي او رواة ئې مجهول الهویه، کاذب او فاسق دي، برقعي د اصول کافي د تردید په اړه یو ضخیم کتاب لیکلی چي په هغه کي ئې لیکلي: که دښمنان خبر شول چي زموږ د روایاتو په کتابونو کي داسي روایات هم راغلي چي راویان ئې خر او چنګښه دي؛ نو څه به کوو؟!

ځیني داسي دي چي ځان ته اهل حدیث او سلفي وایي او د مذاهبو پلویان مشرک ګڼي، دا په داسي حال کي چي دوی په خپله د یوه خاص امام او مذهب متابعت کوي، د ډېرو ئې امام بخاري امام دئ او بخاري ئې مذهبي کتاب، او دا په داسي حال کي چي د ائمه وو په وړاندي امام بخاري داسي دئ لکه د شاګرد شاګرد، هم د احادیثو د ذخېرې له پلوه او هم د صحابه وو دور ته د نږدې والي له پلوه، د څلورو مذاهبو امامانو هر یوه ئې په دومره احادیثو استناد کړی چي بخاري ئې نیمایي ته هم نه رسېږي، په ائمه وو کي امام ابوحنیفه داسي احادیث هم روایت کړي چي له صحابه وو ئې مخامخ اورېدلي!! آیا هغه به ډېر سلفي وي چي د صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو متابعت کوي او له دوی نه ئې مخامخ روایات ترلاسه کړي او که هغه چي د احادیثو کتابونه ئې له دغو دریو ادوارو نه وروسته لیکلي؟!! امام ابوحنیفه وایي: که کوم حدیث صحیح ثابت شي نو همدا زما مذهب دئ، یعني د هري قضیې په اړه زما وروستۍ رأیه همغه رأیه ده چي صحیح حدیث ئې وړاندي کوي!! د دې معنی دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د امام ابوحنيفه مذهب د صحيح احاديثو مجموعه ده، هغه هر صحيح حديث د خپلي فتوى بنسټ ګرځولى، روايت ئې په هغه صورت کي نه دئ منلى چي اسناد ئې ضعيف او متن ئې د قرآن او درايت خلاف موندلى. او دا کار هر امام کړى او هر هغه څوک به ئې کوي چي مسلمان وي، پر قرآن ايمان ولري او د خاص مسلک او مذهب په اړه ړوند تعصب ونه لري. روايت خو يوازي په هغه صورت کي د منلو دئ چي منشأ ئې قرآن وي يا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري او د عقل خلاف نه وي، څوک چي پر قرآن ايمان لري نو نه د قرآن يو آيت داسي تعبيروي چي له ګڼ شمېر نورو آيتونو سره په تعارض کي راشي او نه داسي روايت مني چي له قرآن سره تعارض لري.

په رواياتو کي د اختلاف يوه بېلګه د لمانځه څرنګوالى دئ، ګورو چي په دې اړه د مذاهبو تر منځ اختلاف دئ چي د تکبيرونو په دوران کي رفع اليدين وشي که نه، د فاتحې په پاى کي آمين په جهر او لوړ ږغ وويل شي که په ټيټ ږغ، د قرائت پر وخت لاس چېري، پر سينه يا پر نامه کېښودى شي او يا ځوړوند پرېښودل شي، د قيام په وخت کي پښې څنګه او څومره يوه له بلي لري کېښودى شي... دا په داسي حال کي چي په زرګونو صحابه وو د پيغمبر عليه السلام لمونځ په خپلو سترګو ليدلى، په جمع ئې لمونځ ورپسي کړى، ټول حرکات ئې ليدلي، خو سره له دې د همدې لمانځه د څرنګوالي په اړه مختلف روايات د دې باعث شوي چي بېلو بېلو مذهبي ډلو بېل بېل صورتونه غوره کړي!!

کاش زمونږ درنو فقهاوو لږ تر لږه د لمانځه د هيئت په څېر مسايلو کي اختلاف نه درلودى، ټولو د مدينې منورې د خلکو لمونځ او څرنګوالى ئې معيار ګڼلى وى او نن د ټولي نړۍ د مسلمانانو لمونځ يو شاني وى، د پيغمبر عليه السلام نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلس زره لمونځونه د مدينې خلکو په خپلو سترګو ليدلي او په خپلو غوږونو ئې اورېدلي او خبر ئې نسل په نسل له يوه بل ته انتقال شوی، خو متأسفانه مونږ په دې کي هم د امت تر منځ د اختلاف شاهد يو، د کوفې، مدينې او شام د فقهاوو ترمنځ اختلاف دئ، دا درې مراکز په هغه وخت کي درې ستر ستر سياسي مراکز وو، د سياسي مراکزو اختلاف په فقهي مسايلو کي له اختلاف سره يو ځای شو او دا دئ تر نن پوري د دې لړۍ روانه ده، هر څومره چي دا سياسي مراکز زيات شوي همدومره اختلاف ورسره پراخ ابعاد موندلي، مصر، استانبول، مرو او خراسان هم د کوفې او شام په څېر په سترو سترو سياسي مرکزونو بدل شول او مزيد مذهبي اختلافات ئې وزېږول.

دا مشکل به هغه وخت حل کېږي چي ټول اسلامي امت واحد ستر سياسي مرکز ولري، او همدا مرکز د مذهبي اختلافاتو د ختمولو لپاره داسي کار وکړي لکه عثمان ﷺ چي د قرآن د مختلفو نسخو د توحيد په اړه وکړ او د يوه ستر اختلاف مخه ئې ونيوله.

د رواياتو دغو ارزښتناکو زېرمو هغه فتنه تر ډېره حده پای ته ورسوله چي د اسلام دښمنانو، غرضي او مرضي کړيو او ناپوه مسلمانانو راولاړه کړې وه، په مسلمانانو کي د اختلافاتو راولاړولو لپاره له ځانه احاديث جوړول، غلطي، کمزورې، نيمګړې او د قرآن خلاف ويناوي ئې پيغمبر عليه السلام ته منسوبول، د سياسي اغراضو لپاره د قرآن آيتونه او د پيغمبر عليه السلام احاديث په داسي بڼې کي تعبيرول چي ټګماران خپلي موخي پرې ترلاسه کړي، هغه لويه فتنه وه چي په امت کي د تفرق او د سياسي اختلافاتو او شخړو پر مهال رامنځته شوه، هر څومره چي د اقتدار مراکز زياتېدل او د اقتدار د خاوندانو ترمنځ اختلافات تشديد کېدل نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جعلي رواياتو او موضوعي احاديثو لړۍ تقويه کېده، تر هغي ورځې چي د اسلامي امت د اقتدار سياسي مرکز يو وو، ستر اسلامي خلافت له يوه دارالخلافه نه اداره کېدو، مدينه له سياسي لحاظه دارالخلافه وه او له علمي پلوه د ارشاد او دعوت مرکز، ټول اسلامي امت لدغه واحد مرکز نه ديني او علمي لارښووني او سياسي پرېکړي ترلاسه کولې، خو کله چي سياسي مرکز له مدينې نه کوفې بيا شام او مصر ته انتقال شو، نو د مدينې په خوا کي درې نور علمي او ديني مراکز جوړ شول، دغه مهال وو چي سياسي اختلاف مذهبي رنګ غوره کړ، بېل بېل مذاهب رامنځته شول او د رواياتو بېلي بېلي مجموعې جوړي شوې، د عباسيانو د اقتدار په مهال دا اختلافات خپلي لوړي کچي ته ورسېدل، شيعه مذهب هم په دغه دوران کي رامنځته شو، که څه هم د دې مذهب بنسټ د يهودي عبدالله بن سبا له لوري اېښودل شوی او دی د هغي فتنې محرک وو چي په ترڅ کي ئې لومړی عثمان رضي الله عنه او بيا علي رضي الله عنه په شهادت ورسېدو، خو د ده تحريک هغه مهال د يوه مذهب بڼه غوره کړه چي اقتدار له امويانو نه عباسيانو ته انتقال شو او عباسي واکمنانو غوښتل چي د امويانو په ضد د هغو خلکو مرسته او ملاتړ هم ترلاسه کړي چي د علي رضي الله عنه ملاتړي او پلويان ول، د امويانو د اقتدار پر مهال د علي رضي الله عنه ځيني اولاد د ايران او خراسان په لوري هجرت ته اړ شول، د زوړ ايران سياسي او مذهبي مشرانو د مسلمانانو له هغو مشرانو سره ژوره کينه په زړه کي درلوده چي ايران د دوی د واکمنۍ په دوران کي فتحه شوی وو، دوی ته دا موقع په لاس ورغله چي د علي رضي الله عنه د خواخوږو په توګه راوړاندي او د علي رضي الله عنه د اولاد ملاتړ وکړي او د علي رضي الله عنه حب او ملاتړ ته د يوه مذهب بڼه ورکړي. دوی د رواياتو داسي لړۍ ځان ته جوړه کړه چي يوازي د علي رضي الله عنه اولاد ته منسوب شوي، نهج البلاغه او اصول کافي د دوی د رواياتو دوه مجموعې دي چي د علي رضي الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library
له شهادت نه نږدې څلور سوه کاله وروسته رامنځته شوې.

دوی د قرآن د آیتونو په اړه په داسې روایاتو باور لري چې ښيي د قرآن ډېر آیتونه د علي رضی الله عنه او د ده د اولاد په هکله نازل شوي، دا په داسې حال کې چې د ټول قرآن په یوه آیت کې هم نه صراحتاً او نه اشارتاً داسې آیت تر سترګو کېږي چې د علي رضی الله عنه او د ده د اولاد په اړه وي، خو دوی د دغو آیتونو لپاره داسې شأن نزولونه له خپله ځانه جوړ کړي چې خپله ادعاء پرې ثابتوي، په دې کې داسې مسخره او خندوونکي روایات هم شته چې وايي: والشمس ای علي، والقمر ای فاطمه، والتین ای علي، والزیتون ای فاطمه!! یعني په قرآن کې چې الله تعالی په لمر یا انځر لوړه کړې له دې مراد علي دئ او په سپوږمۍ او زیتون له لوړې نه مراد د فاطمې پر سر لوړه ده!! که څوک ورته ووایي: چې الله تعالی ولې دوی په خپل اصلي نومونو نه دي یاد کړي؟ الله تعالی د ابولهب نوم اخلي او د دوی نه، د هارون علیه السلام نوم یادوي او د دوی نه، ولې به ئې داسې الفاظ کارولي وي چې هر څوک بله معنی ترې اخلي؟ آیا الله تعالی غواړي چې خلک په شک کې واچوي؟ الله تعالی خو فرمايي چې په دې کتاب کې د شک ځای نشته، داسې آیت په کې نشته چې څوک ئې د معنی په پوهېدو کې شک وکړي، الله تعالی خو فرمايي چې قرآن آسان دئ، څرګند او مبین دئ، د ټولو اختلافاتو د حلولو وروستۍ مرجع ده، خو دا څنګه تاسو په قرآن کې اختلاف راولاړوئ او دا اختلاف په روایاتو حل کوئ!! هیڅ ځواب نه لري. په اهل سنت و جماعت کې هم داسې خلک راپیدا شول چې د قرآن په ځای روایات وروستۍ مرجع ګڼي، د آیت صراحت ته هیڅ اعتناء نه کوي، دې ته نه ګوري چې د هر آیت معنی باید تر هر څه د مخه په خپله په قرآن کې ولټوو او که په قرآن کې مو ونه مونده نو روایاتو ته رجوع وکړو، روایت یوازې په هغه صورت کې ومنو چې د قرآن له کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګند آیت سره تعارض او اختلاف ونه لري، پر قرآن د ایمان تقاضاء دا ده چې د هر څه په اړه د لارښوونو وروستۍ مرجع او د اختلافاتو د حل وروستۍ پرېکړه ئې وګڼو، دا خوارکیان کله کله د قرآن په ځینو آیتونو د خپل مسلک د اثبات لپاره استناد کوي او وايي: قرآن موږ د الله تعالی او د هغه د پیغمبر په اطاعت مکلف کړي یو، نو په حدیث عمل خو د دغه حکم تقاضاء ده، که څه هم دا خبره په خپل ذات کي صحیح ده خو دوی ئې په غلطه تعبیروي او دا معنی ترې راباسي چې د هر هغه روایت متابعت پر موږ فرض دئ چي دوی ئې صحیح ګڼي که څه هم له قرآن سره تعارض لري، دې ته ئې پام نه دئ چي د پیغمبر اطاعت یعني د قرآن اطاعت، که څوک غواړي د پیغمبر علیه السلام اطاعت وکړي نو په دې قرآن دي عمل وکړي، کوم څه چي له پیغمبر علیه السلام نه موږ ته په بشپړ امانت او د ټولو صحابه وو په اجماع سره رارسېدلی دغه قرآن دئ، الله تعالی خپل پیغمبر د دغه قرآن د تبلیغ لپاره غوره کړی، د پیغمبر علیه السلام اصلي مأموریت دا وو چي دغه قرآن تر خلکو ورسوي، پیغمبر علیه السلام په قرآن دومره ترکیز کولو چي د یوه روایت له مخي ئې د عمر تر پایه چا ته د احادیثو د لیکلو اجازه نه ورکوله او د بل روایت له مخي د مدینې تر ورستیو کلونو پوري. د احادیثو له لیکلو نه د ممانعت په سبب ګورو چي له احادیثو نه د ګوتو په شمېر داسي دي چي په تواتر سره تر موږ رسېدلي، داسي احادیث ډېر لږ دي چي ټولو صحابه وو پرې اتفاق کړی وي او په مقابل کي ئې داسي روایت نه وي چي په معنی او الفاظو کي ورسره اختلاف ونه لري. احادیث خو د قرآن له شرحي او تفصیل نه پرته بل څه نه دي.

د روایاتو د یوې خاصي لړۍ په اړه ړوند تعصب د دې باعث شو چي شیعه له ټول امت نه بېله لار غوره او په امت کي د اختلاف باعث شي، دوی د زرګونو صحابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو له لوري وړاندي شوو رواياتو ته شا کړه او يوازي هغه ئې ومنل چي د علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ اولاد ته منسوب وو، همدغه غلطه تګلاره په دې منتج شوه چي دوی په ټولو صحابه وو د نفاق او ارتداد حکم وکړي، له پيغمبر عليه السلام نه وروسته علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ او زامن ئې د هغه ځای ناستي او د خلافت اصلي او يوازني وارثين وبولي او ابوبکر، عمر او عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُم او ټولو هغو صحابه وو ته د غاصب په سترګه وګوري چي له علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه پرته ئې له بل چا سره بيعت کړی او د بل په خلافت راضي شوي، حال دا چي علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ په خپله له مخکنيو خلفاوو سره بيعت کړی او نه يوازي دا چي تل ئې په لمانځه کي په هغوی پسي اقتداء کړې بلکي خپله لور ئې عمر ته په نکاح ورکړې!! د امام حسين رَضِيَ اللهُ عَنهُ لپاره به د محرم په ورځو کي توره جامه اغوندي او د محرم په لسمه به د هغه د شهادت وير کوي، په مسخره، کرکجنو، خرافي او اسلام ضد حرکاتو او ناولو بدعتونو سره به دا ورځ لمانځي؛ خو په عمل کي به په کربلا او نجف باندي د صليبي ځواکونو د بريد په وخت کي د يرغلګرو مرسته کوي او د دوی په لاس د زرګونو هغو مسلمانانو د وژلو به هيڅ پروا نه کوي چي د امام حسين په څېر د ظلم او تېري مقابله کوي!! پر يزيد به لعنت وايي خو په عمل کي به تر يزيد نه د لازيات ظالمو واکمنانو ملګرتيا او له بې دينه، منافق، ظالم او مفسدو واکدارانو سره بيعت کوي!! که د پيغمبر عليه السلام په ژوند کي دومره مسلمانان په عراق او افغانستان کي وژل شوي وی، مګر هغه مبارک به د کربلا تر شهيدانو په دغو شهيدانو زيات نه وو خواشينی شوی؟!! دغه شيعه چي نن په عراق او افغانستان کي د عاشوری په لسمه ځانونه وهي؛ د افغانستان او عراق په نيولو کي ئې له امريکايانو سره لاس يو کړ، په کربلا او نجف ئې د امريکايانو د بيرغ رپېدا ومنله، په داسي حال کي د عاشوری د ورځي مراسم لمانځي چي امنيت ئې امريکايانو نيولی!! دا ټول د څه لپاره او وجه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه ده؟ په غلطو روایاتو باور په دې ډنډ کي پرې ایستل. په اهل سنت و جماعت کي هم دوی ته ورته یوه ډله جوړه شوه، په هر هغه چا ئې د کفر فتوی ورکوله چي د دوی د روایاتو لړی ئې نه منله.

په دې کي هیڅ شک نشته چي له اهل بیت او حسین ﵁ سره د دوی د محبت ادعاء هسي یوه دروغجنه سیاسي لوبه ده، دا د دوی پلرونه ول چي له حسین ﵁ سره ئې خیانت وکړ، کوفې ته ئې وروبللو خو خپلي ژمني ئې تر پښو لاندي کړې او د یزید په هغه لښکر کي شامل شول چي حسین ﵁ او د ده ملګري ئې شهیدان کړل، یقیناً چي الله تعالی د همغه منافقت سزا نن د دوی اولادونو ته ورکوي، داسي چي د هغه د شهادت په ورځ به ځانونه په خپله په زنځیرونو وهي!! دا هم په بشپړه توګه سیاسي وجوهات لري چي د اهل بیت په نامه ئې روایات راایستلي او هغه ئې د خپل مذهب لپاره مستمسک جوړ کړي.

د دې لپاره چي روښانه شي پر روایاتو مخامخ عمل کول څومره ګران کار دئ، د بخاري څو لومړني روایات ستاسو مخي ته ږدم چي وګورئ د هغوی له منځه د یوه انتخاب څومره درونډ او ستونزمن کار دئ:

بخاري په دې حدیث پیل شوی:

حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِىُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الأَنْصَارِىُّ قَالَ أَخْبَرَنِى مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِىُّ أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَقَّاصٍ اللَّيْثِىَّ يَقُولُ سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ - ﵁ - عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ ( إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ إِلَى امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ).

عبدالله بن زبیر حمیدي له سفیان نه، هغه له یحیی بن سعید الانصاري نه، هغه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد بن ابراهیم التیمي نه روایت کوي چې له علقمه بن وقاص نه ئې اورېدلي چي ویل ئې: عمر بن الخطاب ﵁ د منبر پر سر وویل: له رسول الله ﷺ نه مي واورېدل چي فرمایل ئې: یقناً چي عملونه په نیتونو پوري تړلي دي، او یقیناً چي هر چا ته هغه څه دي چي نیت ئې کړی، نو چا چي هجرت د دنیا لپاره وي چي په برخه ئې شي یا د کومي ښځي لپاره چي په نکاح ئې کړي نو هجرت ئې د همغه څه لپاره دئ چي هجرت ئې ورته کړی.

بخاري دا حدیث اته ځلي راوړی، په ټولو کي يَحْيَى بْنِ سَعِيد له محمد بن ابراهیم نه هغه له عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ او هغه له عمر ﵁ نه روایت کړی، له یحیی نه وروسته راویان بېل بېل دي، د بخاري په نورو روایاتو کي هم دا تکرار تر سترګو کېږي، کاش بخاري د روایت متن یو ځل راوړلی او په خوا کي ئې د راویانو مختلفي سلسلې بیانولی، په دې سره به هم لوستونکو ته کار آسانه شوی وو او هم به د بخاري حجم راکم شوی وو، په دې صورت کي به د بخاري اوسنی ضخامت نږدې پنځمي برخي ته راکوز شوی وو.

که دغو اتو روایاتو ته ځیر شئ نو وبه ګورئ چي په الفاظو کي ئې توپیرونه شته، ځیني ئې لنډ او ځیني ئې اوږده دي، ځیني الفاظ په یوه کي راغلي او په بل کي نه، په یوه کي (الاعمال) او په بل کي (العمل) په یوه کي (النیة) او په بل کي (النیات)، په یوه کي (لامرئٍ) او په بل کي (لکل امرئٍ) او همداسي نور توپیرونه. بخاري دغو توپیرونو ته په پام سره اړ شوی چي ټول روایات راوړي او قضاوت ئې لوستونکو ته پرېښی چي کوم تري غوره کوي، دا حکم ئې نه دئ کړی چي کوم روایت له کومو الفاظو او ترکیب سره ارجح ورته برېښي، حال دا چي دا ډېره مهمه او ضروري مسئله ده، که نه نو لوستونکی په شک کي لوېږي چي په یوې موضوع پوري اړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

رواياتو کي کوم يو ومني، په کوم يوه عمل وکړي، په يوې جملې کي د يوه لفظ تغيير په معنی کي ډېر بدلون راولي، لکه په دغه لومړني روايت کي لوستونکي ته دا پوښتنه راولاړېږي: ټول اعمال په نيت پوري تړلي دي او که کوم خاص عمل (ځکه په يوه کي العمل او په بل کي الاعمال) راغلي، پيغمبر عليه السلام د (نية) صيغه کارولې که د (نيات)؟، د وينا اصلي بڼه کوم روايت منعکس کړې؟

د بخاري د لوستلو په دوران کي به تاسو ته يوه بله مسئله هم مخي ته راشي، هغه دا چي وبه گورئ د روايت سياق او سباق ته له اشارې پرته د کلام يوه برخه رااخيستل شوې، لوستونکی په دې نه پوهېږي چي دا حديث کله ويل شوی؟ په څنگه حالت کي ويل شوی؟ تر دې مخکي څه ويل شوي؟ دا د يوې بشپړي وينا کومه برخه ده که يوه مستقله وينا؟ د قرآن او حديث يو ژور توپير په دې کي دئ چي د قرآن هره سوره يوه مستقله موضوع ده، د سورې آيتونه يو له بل سره تړلي دي او په گډه ئې دا يو مشخص مضمون جوړ کړی، هر آيت په خپله په ځانگړې توگه هم يو مطلب افاده کوي او له مخکي او وروسته آيت سره په گډه هم، د آيت سياق او سباق ته په پام سره د هغه مطلب په واضح او بشپړه توگه د لوستونکي مخي ته راځي، خو د احاديثو کتابونه داسي نه دي، د پيغمبر عليه السلام هره وينا او خطبه په بشپړه توگه نه ده رااخيستل شوې، بلکي هر راوي د وينا يوه ځانگړې برخه حفظ کړې او هغه ئې نورو ته انتقال کړې، داسي نه دي شوي چي چا مثلاً د پيغمبر عليه السلام يوه بشپړه خطبه ليکلې وي او نورو ترې اقتباس کړې وي، پيغمبر عليه السلام دا اجازه نه وه ورکړې، د هغه تأکيد پر دې وو چي يوازي قرآن وليکل شي، حفظ شي او نورو ته انتقال شي. طبيعي ده چي د يوې خطبې ټول مطالب په بشپړه توگه حفظ کول که محال نه وي نو ډېر گران کار دئ، هر چا د خطبې يوه برخه حفظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې او نورو ته ئې ویلې، دا هم ډېره طبیعي ده چې په الفاظو کې تبدیلي راشي او د ځینو الفاظو پر ځای مترادف الفاظ راشي، د همدې لپاره محتاط کسان د پیغمبر علیه السلام د هر حدیث په پای کې وایي: او کما قال رسول الله ﷺ: او یا لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي!

همداراز که دغو اتو روایاتو ته ځیر شئ نو هرومرو به دا پوښتنه درسره پیدا کېږي چې پیغمبر علیه السلام تر دې د مخه څه ویل؟ آیا د هجرت په اړه ئې خبري کولې که پر دې چې د عمل تعلق له نیت سره څنګه دئ؟ د بحث اصلي موضوع څه وه؟ ځکه یوازې په دې خبري له پوهېدو وروسته ویلی شو چې د نیت او عمل تر منځ دا تعلق عام دئ که خاص؟ یوازې د هجرت په څېر نیک عمل احتوی کوي که هر عمل؟ د روایت له وروستۍ برخې داسې معلومېږي چې پیغمبر علیه السلام د هجرت په اړه بحث کولو، د همدې بحث په ترڅ کې ئې ویلي چې هجرت هغه عمل دئ چې د انسان نیت ئې څرنګوالی ټاکي. دا ځکه چې د نیت او عمل تړاو په لاندې صورتونو کې وي:

۱ - نېک نیت او نېک عمل، ۲- بد نیت او نېک عمل، ۳- نېک نیت او بد عمل، ۴- بد نیت او بد عمل، ۵- یوازې نېک نیت له عمل کولو پرته، ۶- یوازې بد نیت له عمل کولو پرته.

په دغو شپږو صورتونو کې د نیت او عمل تړاو یو شانته نه دئ، په ټولو کې دا خبره صدق نه کوي چې نیت د عمل څرنګوالی ټاکي، یوازې په نېک عمل کې نیت اعتبار لري، په بد عمل کې نیت اعتبار نه لري، نېک نیت له عمل کولو پرته هم معتبر ګڼل کېږي او انسان پر بد نیت له عمل نه پرته نه نیول کېږي. بد عمل په هر صورت کې بد دئ، که ئې تر شا نېک نیت وي یا بد نیت، دلته نیت هیڅ اعتبار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري.

دغو خبرو ته په پام سره په بشپړ اطمئنان سره ویلی شو چي دا روایت د پیغمبر علیه السلام د هغي وینا یوه برخه زموږ مخي ته ږدي چي د هجرت په اړه ئې کړې. نو په دغو روایاتو کي هغه راجح دئ چي د (الاعمال) پر ځای (العمل) په کي راغلی.

دغو خبرو ته په پام سره ګورو چي له مختلفو روایاتو نه د یوه غوره کول نه یوازي دې ته ضرورت لري چي د راویانو په اړه دقت او تحقیق وشي بلکي په الفاظو او ترکیب کي ئې هم باید له درایت او دقت نه کار واخیستل شي، دا ځکه چي په روایاتو کي د الفاظو او د هغوی د ترکیب له پلوه پراخ او ژور توپیرونه تر سترګو کېږي، او دا یوه طبیعي خبره ده ځکه چي روایات تر هغو محدثینو پوري په لیکلي بڼه نه دي رسېدلي چي د کتاب بڼه ئې ورکړې، خوله په خوله انتقال شوي، په ټولو کي به وګورئ چي د (حدثنا) او (قال) الفاظ راغلي، داسي مورد به ډېر لږ په نظر درشي چي په لیکلې بڼه کي کوم روایت له یوه بل ته رسېدلی وي.

د امت فقهاوو دغو خبرو ته په پام سره مختلف، متعارض او حتی متضاد روایات چڼلي، یو ئې ترې غوره کړی او هغه ئې د یوه حکم بنسټ ګرځولی، او اختلاف رأی ئې پای ته رسولی، خو د حدیث هغه کتابونه چي له ائمه وو وروسته لیکل شوي دا کار ئې نه دئ کړی، دا دئ ګورئ چي بخاري یو روایت اته ځلي نقل کړی، داسي چي په الفاظو کي ئې ډېر توپیرونه دي، له دوی نه د یوه انتخاب ئې لوستونکو ته پرېښی!! د بخاري ټول هغه روایات به دې ته ورته ومومئ چي په مکرره توګه ئې نقل کړي، په ځینو کي خو به دومره شدید تعارض وګورئ چي تلفیق ئې قطعاً امکان نه لري او له دې پرته بله هیڅ چاره به په نظر نه درځي چي له ټولو نه یوازي یو غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړئ، او دا هم په هغه صورت کې چې د ترجیح دلائل ومومئ که نه نو په متعارضو روایاتو عمل کول باید متوقف شي.

دې خبرو ته په پام سره باید ووایو: ځوک چې ځان ته اهل حدیث وایي او ګمان کوي چې هر څوک کولی شي له بخاري نه احکام راوباسي او عمل پرې وکړي، نه د فقهاوو آراءو ته په مراجعې اړ کېږي او نه د روایاتو چڼلو او تنقیح ته، سخته اشتباه کوي او دا وینا ئې یا له کمعلمۍ او یا له ړانده تعصبه راولاړه شوې.

د بخاري دوهم حدیث دا دئ:

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْىُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ« أَحْيَانًا يَأْتِينِى مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ - وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَىَّ - فَيُفْصَمُ عَنِّى وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِىَ الْمَلَكُ رَجُلاً فَيُكَلِّمُنِى فَأَعِى مَا يَقُولُ ». قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْىُ فِى الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ، فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا.

دا حدیث هم بخاري دوه ځلي رااخیستی دئ، په دوهم کې راویان دا دي: فَرْوَةُ له عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ نه، هغه له هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ نه، هغه له خپل پلار نه، او هغه له عَائِشَې رضي الله عنها نه روایت کوي چې حَارِثَ بْنَ هِشَام له رَسُولَ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل: یا رسول الله! وحي څنګه درباندې راځي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله کله د زنګ د غږ په څېر راته راځي، او دا تر ټولو راباندې سخته وي، او په داسې حال کې رانه جلا شي چې په وینا ئې پوه شوی وم، او کله کله (د وحي حامل) فرشته د یوه سړي په بڼه کې راته تمثیل شي نو خبرې راسره وکړي او په هغه څه پوه شم چې وایي ئې، عائشې رضي الله عنها وویل: ما د سختې یخنۍ په ورځ لیدلی چې وحي پرې نازلېده او بیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي حال کي ترې بېلېده چي پر تندی به ئې خولې بهېدې.

دلته هم په دواړو رواياتو کي څو توپيرونه تر سترګو کېږي: په يوه کي (کل ذاک) الفاظ شته او په بل کي نشته، په يوه کي ويل شوي چي (وحی) د (صلصلة الجرس) په څېر راته راځي او په بل کي ويل شوي چي فرشته د (صلصلة الجرس) په څېر راته راځي، په يوه کي د (وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ) الفاظ تر نورو مخکي او په بل کي دا الفاظ وروسته راغلي.

که غور وکړو نو دا راته جوته کېږي چي د فرشتې راتګ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه کول مناسب نه برېښي، خو د وحي راتګ له (صلصلة الجرس) سره تشبيه کول موزون معلومېږي، نو په يقين سره ويلی شو چي لومړی روايت تر دوهم ارجح دئ. د قرآن له وينا سره يوازي لومړی روايت اړخ لګوي ځکه قرآن د وحي درې صورتونه بيانوي:

ÓÇqãü ZwqÏß‘ @ŸÅöã‹ A $gÉ Ç !‘r `Ë ‹ $‹ôÏr ŽwÎ ª ! $ çJÏ3ãb Ÿ³ ;Ï b%. $Br

ÇÎÈ ÒŠÅ6 m ;’Íã ¼çRÎ ä‹ ±„ $B ¾ÏmÏŒøÎ الشوری: ۵۱

هيڅ انسان ته نه ښايي چي الله ورسره تکلم وکړي مګر په وحي سره، يا د حجاب له شا نه يا دا چي فرشته ولېږي او هغه څه د ده په حکم ورته وحي کړي چي غواړي ئې، يقيناً چي هغه باحکمته لوړ دئ.

دلته د وحي درې صورتونه ښودل شوي: ۱- مخامخ وحي، ۲- تکلم خو د حجاب له شا نه او ۳- د فرشتې په لاس وحي، قرآن موږ ته وايي چي دوهم صورت ئې (د حجاب له شا نه تکلم) له موسی عليه السلام نه پرته له بل پيغمبر سره نه دئ شوی، دوه نور صورتونه ئې داسي دي چي يو ئې بلاواسطه وحي ده او بل ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library
بالواسطه او د فرشتې له لارې وحي، نو ځکه يوازې هغه روايت د منلو دئ چې له قرآن سره اړخ لګوي، او همدا خبره کوي چې وحي دوه صورتونه لري: له فرشتې پرته وحي او د فرشتې له لارې وحي، يوه ئې صلصة الجرس ته ورته او بله ئې د انسان په بڼې کې د فرشتې له لارې، له دې نه معلومېږي چې هغه روايت دقيق نه دئ چې دواړه د فرشتې له لارې وحي ګڼي، يو ئې له لرې او بل ئې د انسان په بڼې کې د تمثيل له لارې.

بخاري نه دلته او نه په نورو مواردو کې دا ويلي چې له متعارضو رواياتو نه کوم يو ئې تر بل ارجح دئ او په کوم يوه ئې بايد عمل وشي، کوم يو ئې له قرآن سره اړخ لګوي او کوم نه، هغه غوښتي هر هغه روايت په امانت سره ثبت او نورو ته ورسوي چې تر ده رسېدلی او اسناد ئې د اعتبار وړ ورته برېښېدلي. دا ئې لوستونکو ته پرېښې چې کوم يو غوره کوي. ښايي د بخاري د دوو لومړنيو رواياتو په اړه دا تحليل او څېړنه به کافي وي چې د نورو د څرنګوالي په اړه قضاوت وکړو.

د دغو رواياتو په اړه يوازې هغه څوک صحيح پرېکړه کولی شي او ارجح ئې ټاکلی شي چې هم د قرآن په تفسير پوه وي، هم د درايت خاوند وي، هم ئې د حديث نور کتابونه لوستلي وي، هم د بخاري ټول روايات ورته معلوم وي او هم ئې د سيرت کتابونه لوستلي وي، او په اختصار سره يو فقيه وي، خو متأسفانه اوس داسې کمعقله او بې علمه کسان ګورو چې له کوم استاد نه د بخاري په لوستلو او د پګړۍ په تړلو سره به داسې مغرور شي چې ګمان به کوي د يوويشتمې پېړۍ مفتي اعظم شو، په هغو ائمه وو به اعتراضونه او نيوکې کوي چې امام بخاري ئې د يوه شاګرد حيثيت لري. دا په داسې حال کې چې دی به نه د بخاري د رواياتو په معنی سم پوهېږي، نه به د رواياتو ترمنځ تعارض درک کولی شي او نه به د دوو متعارضو

(c) ketabton.com: The Digital Library

رواياتو ترمنځ د ارجح د پېژندا پوهه او درايت لري.

# رفع اليدين

د جهاد په دوران کي ځينو عربو هېوادو تر هغه د مجاهدينو ملاتړ کاوو چي امريکايانو همدا کار ترې غوښتو، خو کله چي سپيني ماڼۍ دا پرېکړه وکړه چي په کابل کي د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت د جوړولو مخنيوی وکړي او د مجاهدينو په ليکو کي اختلاف راولاړ کړي نو دغو هېوادو هم لاس پر سينه کېښود او د واشنگټن د اوامرو د تعميل لپاره ئې ملا وتړله، تهران لادمخه له مسکو او واشنگټن سره لاس يو کړی وو، د مجاهدينو په ليکو کي اختلاف راولاړول د غربيانو او د دوی د گوډاگيانو تر ټولو خطرناکه منصوبه وه، غربيانو داسي ځېرې لټولې چي نه دين لري او نه مذهب، نه د اخلاقي حدودو پروا ساتي او نه د ملي هويت، او ملي فرهنگ او کلتور، هغسي کسان چي روسانو غوره کړي او روزلي وو، له دې توپير سره چي يوه ئې څه نا څه يوه مفکوره درلوده که څه هم ډېره سخيفه او غلطه وه خو بل له دې هم محروم وو، له يوې خوا ايران د شيعه وو په تنظيمولو بوخت وو او له بلي خوا عربو هېوادو د خرما او خېمو تر څنگ خپل مذهب هم په افغانانو کي خوراوو او په دې سره ئې د جهاد په ليکو کي د فتنې راولاړولو هڅه کوله، د مذهب په نامه اختلاف راولاړول که په تاريخ کي اوږده سابقه لري نو يو ډول ئې په افغانستان کي يوازي د جهاد په دوران کي راپيدا شو، که کمونيستانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډغرو غربپالو پر دین نیوکي کولې، د عربي هېوادو په استخباراتي شبکو پوري تړلو څېرو پر حنفي مذهب گوزارونه کول، تقلید او د مذهب متابعت به ئې شرک گڼو، د لمانځه په تکبیرونو کي لاسونه لوړول به ئې دومره ضروري گڼل لکه چي فرض وي او داسي نه کولو ته به ئې د حدیث خلاف عمل په سترگه کتل، دا نه د دې لپاره چي د فقهاوو تر منځ یوه اختلافي مسئله ده، بلکي فقط د دې لپاره چي په دې نامه په افغانانو کي اختلاف راولاړ کړي، دوی په کنر کي همداسي یوه ډله جوړه کړه او د جهاد په ډېر حساس پړاو کي ئې د حزب اسلامي په ضد وجنگوله، خلکو ته به ئې ویل: دا دئ د بخاري ټول روایات وایي چي رسول الله ﷺ او صحابه وو به د لمانځه په تکبیرونو کي لاسونه لوړول، له قرآن او حدیث نه بې خبره خلک به د دوی د غلطو تبلیغاتو تر اغېز لاندي راغلل، غرضي او مرضي خلکو به د خرما، خېمې او ریال لپاره له دوی سره موافقه وکړه، خپل مخکنی مذهب به ئې پرېښود او نوی مذهب به ئې غوره کړ. دوی په دې نه پوهېدل چي بخاري یوازي هغه روایات راوړي چي د ده د رأیي او مسلک تأیید کوي، هغه روایات ئې پرېښي چي د ده له مسلک سره اړخ نه لگوي، د بخاري یوه لویه ستونزه همدغه ده، نورو کتابونو په امانت سره د دواړو لوریو د استناد وړ روایات راوړي، زموږ علماوو هم انفعالي موقف غوره کړی، خلکو ته یوازي دا وایي چي پام کوئ وهابي نه شئ او خپل پلرنی مذهب پرې نږدئ!! نه ئې په خپله د احنافو د رأیي اړوند احادیث وړاندي کولی شو او نه ئې د احادیثو په کوم کتاب داسي حواله ورکولی شوی چي خپل مخاطب پرې قانع کړي!! موږ په داسي حال کي چي د ټولو حقه مذاهبو درناوی کوو، د مسلمانانو یووالی غواړو، په فرعي فقهي مسائلو کي د مذاهبو تر منځ اختلاف د دې وړ نه گڼو چي مسلمانان سره بېل شي او یو د بل په ضد د دښمنۍ جبهه پرانېزي، مخصوصاً نن چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول کفري ځواکونه، مشرکين، منافقين او روافض په يوه صف کي د حقيقي مسلمانانو په ضد ودرېدلي. خو د دې لپاره چي د دغو فرعي اختلافاتو حقيقت څرګند شي دا بحث وړاندي کوو.

راشئ وګورو چي د لمانځه په تکبيرونو کي لاسونه لوړول د صحيح او معتبرو احاديثو موافق عمل دئ که مخالف؟ د احنافو رأيه د رسول الله ﷺ د سنت مطابق ده که د دوی د مخالفينو؟

بخاري د رفع اليدين لپاره دا ترجمة الباب ايښی:

باب رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِى التَّكْبِيرَةِ الأُولَى مَعَ الاِفْتِتَاحِ سَوَاءً

باب: له تکبير اولی سره د لاسونو پورته کول

او تر همدې عنوان لاندي ئې دا روايت راوړی:

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلاَةَ، وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا كَذَلِكَ أَيْضًا وَقَالَ « سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ». وَكَانَ لاَ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِى السُّجُودِ.

له عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دئ چي رسول الله ﷺ به د لمانځه په پيل او رکوع ته د تکبير ويلو په وخت کي خپل لاسونه تر اوږو پوري پورته کول، او له رکوع نه د سر پورته کولو په وخت کي به ئې همداسي لوړ کړل، او فرمايل به ئې (سمع الله لمن حمده، ربنا ولک الحمد)، خو په سجدو کي ئې داسي نه کول. يعني د سجدې په وخت کي به ئې لاسونه نه لوړول.

دا روايت ئې درې ځلي نور په دغو شمېرو راوړی: ۷۳۶، ۷۳۸، ۷۳۹، په داسي حال کي چي د دغو ټولو رواياتو راوي يو کس او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دئ خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفاظو کي ئې ډېر توپیرونه تر سترګو کېږي: په یوه کي کَانَ یرفع یدیهِ حذو منكبيهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ په بل کي إِذَا قَامَ فِی الصَّلَاةِ رَفَعَ یدیْهِ حَتَّى يَكُونَا حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ او په بل کي كَانَ إِذَا دَخَلَ فِی الصَّلَاةِ كَبَّرَ ورَفَعَ يَدَيْهِ په یوه کي وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ، وَإِذَا رفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا كَذَلِكَ أَيْضًا په بل کي وَكَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ حِينَ يُكَبِّرُ لِلرُّكُوعِ، وَيَفْعَلُ ذَلِكَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ په بل کي وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ فَعَلَ مِثْلَهُ په بل کي وَإِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ په بل کي وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ. رَفَعَ يَدَيْهِ په بل کي وَإِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ په یوه کي وَكَانَ لَا يَفْعَلُ ذَلِكَ فِی السُّجُودِ او په بل کي وَلَا يَفْعَلُ ذَلِكَ حِينَ يَسْجُدُ وَلَا حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ راغلي. مطلب ئې دا دئ چي رسول الله ﷺ به د سجدې له تکبیر نه پرته په نورو تکبیرونو کي لاسونه تر اوږو پوري لوړول، د سمع الله لمن حمده د ویلو په وخت کي به ئې هم دا کار کولو.

د بخاري کوم روایات چي پورتنۍ خبره کوي ټول ئې یوازي عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته منسوب دي، خو له ده نه بل روایت داسي دئ چي وايي: رسول الله ﷺ به یوازي په لومړي تکبیر کي لاسونه لوړول بیا ئې دا کار نه کولو. په نورو کتابونو کي له ابوهریره رضي الله عنه په دې اړه داسي روایت هم راغلی چي وايي: د سجدې په تکبیرونو کي به ئې هم لاسونه لوړول. د ابوهریره رضي الله عنه روایت دا دئ:

عَنْ أَبِی هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِیَّ ﷺ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ حِينَ يُكَبِّرُ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ وَحِينَ يَرْكَعُ وَحِينَ يَسْجُدُ. بخاري: ۶۳۰۷

د دغو دوو روایاتو په مقابل کي داسي روایات دي چي وايي: رسول الله ﷺ یوازي په لومړي تکبیر کي لاسونه لوړول بیا ئې دا کار نه کولو. بخاري دا روایات نه دي راوړي! روایات دا دي:

حدثنا أبو بكر قال حدثنا وكيع عن ابن أبي ليلى عن الحكم و عيسى عن عبد

(c) ketabton.com: The Digital Library
الرحمن بن أبي ليلى عن البراء بن عازب أن النبي ﷺ كان إذا افتتح الصلاة رفع يديه ثم لا يرفعها حتى يفرغ. رواه ابن ابي شيبه.

حدثنا وكيع عن أبي بكر بن عبد الله بن قطاف النهشلي عن عاصم بن كليب عن أبيه أن عليا كان يرفع يديه إذا افتتح الصلاة ثم لا يعود. رواه ابن ابي شيبه

حدثنا وكيع عن مسعر عن أبي معشر عن إبراهيم عن عبد الله أنه كان يرفع يديه في أول ما يستفتح ثم لا يرفعهما. ابن ابي شيبه

حدثنا ابن مبارك عن أشعث عن الشعبي أنه كان يرفع يديه في أول التكبير ثم لا يرفعهما. ابن ابي شيبه

رواه حماد بن سلمة عن حماد بن ابى سليمان عن ابراهيم عن ابن مسعود مرسلا موقوفا (وروى) أبو بكر النهشلي عن عاصم بن كليب عن ابيه عن على رضي الله عنه انه كان يرفع يديه في التكبيرة الاولى من الصلاة ثم لا يرفع في شئ منها. رواه البيهقي

٩١٩٥ - حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بن إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، "أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ شَيْءٍ، ثُمَّ لا يَرْفَعُ بَعْدُ". المعجم الكبير للطبراني

٥٠٩٦ - حدثنا محمد بن النعمان السقطي، حدثنا يحيى بن يحيى النيسابوري، حدثنا وكيع، عن سفيان، عن عاصم بن كليب، عن عبد الرحمن بن الأسود، عن علقمة، عن عبد الله، عن النبي ﷺ: « أنه كان يرفع يديه في أول تكبيرة، ثم لا يعود » وهذا مما لا اختلاف عن ابن مسعود فيه. وقد وافق هذا الحديث عن عبد الله بن مسعود فيه. مشكل الآثار للطحاوي

لكه چي گورئ پورتني روايات وايي چي براء بن عازب رضي الله عنه، علي رضي الله عنه، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه، عبدالله بن عمر رضي الله عنه او الشعبي وايي چي د رسول الله ﷺ سنت دا وو

(c) ketabton.com: The Digital Library
چي يوازي په تکبير اولی کي به ئې لاسونه لوړول او په نورو کي به ئې نه لوړول.

احنافو دغو رواياتو ته ترجيح ورکړې، دا ځکه چي هم د دغو رواياتو شمېر زيات دئ او هم ئې راويان تر عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د پاخه عمر خاوندان. د ده يو روايت بل نفي کوي، نو آخوا ته په بخاري کي يوازي يو روايت پاته کېږي چي په تکبيرونو کي د لاسونو د لوړولو خبره کوي، خو له هغه سره هغه خلک هم موافق نه دي چي په رفع اليدين باور لري، ځکه هغوی د سجدې په تکبيرونو کي د رفع اليدين قائل نه دي او د ابوهريره رضي الله عنه روايت د سجدو په تکبيرونو کي هم د لاسونو لوړولو خبره کوي.

ابن ابي شيبه چي په ۲۳۵ هجري کي وفات شوی، او تر امام بخاري هم د صحابه وو دور ته ورنږدې دئ او هم ئې خپل کتاب تر بخاري ډېر د مخه ليکلی، د رفع اليدين اړوند روايات ئې په امانت سره راوړي، د دواړو لوريو مستند روايات ئې رااخيستي، هغه هم چي د امام بخاري رحمه الله د رأيي تأييد کوي او هغه هم چي د دې رأيي خلاف دي او وايي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم يوازي په تکبير اولی کي لاسونه لوړ کړي. د انس رضي الله عنه هغه روايت ئې هم راوړی چي د ابوهريره رضي الله عنه روايت ته ورته دئ.

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه بل روايت د لومړني روايت خلاف راغلی او وايي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به يوازي په لومړي تکبير کي لاسونه لوړول بيا ئې دا کار نه کولو.

پوښتنه دا ده چي که رفع اليدين په تکبير پوري مربوط وي نو ولي د سجدې په تکبيرونو کي لاسونه نه پورته کوي، بيا خو په کار وه چي دوی د ابوهريره رضي الله عنه په روايت عمل کولی.

که دې موضوع ته له عقلي پلوه هم وګورو د احنافو رأيه دقيقه ده، په څو دلايلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام ابوحنيفه رحمه الله تابعي دئ، له صحابه وو نه ئې هم روايات اورېدلي، ده ته چي کوم روايات رسېدلي ډېر لاس په لاس شوي نه دي، هر څومره چي روايات زيات لاس په لاس شي او په خپلو اسنادو کي زيات راويان ولري يعني له څلورم او پنځم راوي نه چا ته رسېدلي وي په هغوی کي د توپير، تغيير او تحريف امکان تر هغو زيات وي چي له لومړي، دوهم يا درېيم راوي نه ترلاسه کېږي، امام بخاري اکثراً له پنځمي طبقې او نسل نه خپل روايات ترلاسه کړي، او امام ابوحنيفه له اول او دوهم نسل نه. امام ابوحنيفه رحمه الله د صحابه وو او تابعينو هغه اعمال په خپلو سترګو ليدلي چي له رسول الله ﷺ څخه په تواتر له يوه نه بل نسل ته انتقال شوي، دې ته محققين تواتر بالتعامل وايي چي اعتبار ئې تر ټولو رواياتو لوړ دئ، خو امام بخاري رحمه الله ته داسي څه په لاس نه دي ورغلي.

له دې نه علاوه لمونځ له ګڼ شمېر ډېرو مهمو او با مقصده حرکاتو نه جوړ شوی چي هر يو ئې ځانګړی محرک، علت او حکمت لري. لومړی حرکت، له لومړي تکبير سره د دواړو لاسونو پورته کول دي.

تاسو پوهېږئ چي د دنيا په ګوټ ګوټ کي د ټولو انساني ټولنو ترمنځ دا عادت او دود دئ چي کله يو بل ته تسلمېږي او د هغه په خلاف له جګړي لاس اخلي نو لاسونه پورته کړي. د لاسونو دا راز پورته کول له جګړي د لاس اخستلو او د تسليمۍ نښه ده. ته د لمانځه په پيل کي، د الله جل شأنه په وړاندي، پدې حرکت سره له بغاوت نه لاس اخلې او له الله جل جلاله او د ده له سننو سره له جګړي نه خپل برائت او بيزاري او د الله جل جلاله په مقابل کي خپله کامله تسليمي او انقياد اعلانوې. ښايي تا به په کومي جګړي کي، کوم کس داسي ليدلی وي چي د بل په وړاندي ئې لاسونه اوچت کړي وي او د ده له دې حرکت نه ته ښه پوهېدلی يې چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې سره هغه مقابل طرف ته څه پیغام لیږل غوښتل او د ځان له خوا ئې هغه ته د کومې خبرې اطمینان ورکولو. خو ما ته ووایه: آیا کله د لمانځه په ابتدا کې، د تکبیر تحریمه او الله اکبر په ویلو او د لاسونو د پورته کولو په دوران کې، ستا په زړه کې دا خبره راګرځېدلې چې زه د الله په وړاندې له هر راز بغاوت نه لاس اخلم او خدای ته خپله کامله تسلیمي اعلانوم؟ که له دې شعور او احساس سره تا خپل لاسونه نه وي پورته کړي نو ماته ووایه چې لدې حرکت نه ستا مقصد څه وو؟ هسې یو تقلیدي، بې روحه او بې مقصده حرکت؟

عجیبه ده چې ځیني پدې خبره خپلو منځونو کې په شدید اختلاف کې لوېږي چې له تکبیر تحریمه سره باید لاسونه ترغوږونو پورې اوچت شي او که د غوږونو او اوږو ترمنځ او که تر اوږو پورې؟ حال دا چې د هر یوه لپاره د پیغمبر علیه السلام په عمل استناد شوی. خو پدې خبرې نه فکر کوي او نه بحث چې د دې حرکت اصلي مقصد څه دئ؟ محرک ئې څه او باید د کوم احساس او شعور مظهر وي؟

دې حرکت ته یوازې د لمانځه په پیل کې ضرورت وو، له هغه وروسته نور حرکات داسې دي چې د لاسونو اوچتول نه ایجابوي، رکوع د تعظیم مظهر ده، سجده د مسجود پښو ته د لوېدو مظهر ده، د دغو دواړو په شروع کې تکبیر ویل دا مطلب افاده کوي چې زما رب تر دې هم ډېر ستر دئ چې زه ورته سر ټیټوم یا تندی پر زمکه ږدم، دلته له تکبیر سره متصل یو ستر بامقصده حرکت ترسره کېږي، د تسلیمي تر اعلانه هم ستر ستر حرکات، له دې سره د لاسونو د لوړولو نه یوازې ضرورت نشته بلکې هم د مفاهیمو د خلط باعث کېږي او هم په یوه اعلان سره دوه حرکات ترسره کول، حال دا چې یو اعلان باید د یوه حرکت لپاره وي نه د دوو لپاره، که په ټول لمانځه کې نور تکبیرونه د یوه حرکت لپاره وي نو په رکوع کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولي په استثنايي توګه د دوو حرکتونو لپاره وي، له رکوع نه مخکي تکبير به يا د لاس لوړولو لپاره وي او يا د رکوع لپاره، له قومې نه وروسته تکبير به يا د سجدې لپاره وي يا د لاس لوړولو لپاره، نه د دواړو لپاره، د دې لپاره هيڅ معقوله توجيه نشو موندلی!! غوره او ارجح رأيه دا ده چي لاسونه يوازي په لومړي تکبير کي لوړ شي.

ځيني دا اعتراض کوي چي احناف ولي د وتر او عيدينو په لمونځونو کي له اضافي تکبيرونو سره لاسونه لوړوي؟ دوی ته عرض کوو چي موږ د لمانځه په هغو تکبيرونو کي د رفع اليدين مخالف يو چي د رکوع او سجدې لپاره ويل کېږي، په دې عقيده يو چي د لمانځه هر تکبير له يوه ځانګړي حرکت سره توأم وي، تکبير به يا د رکوع او سجدې لپاره وي او يا د لاس لوړولو لپاره، داسي نه چي له يوه تکبير سره هم رکوع يا سجده وشي او هم لاسونه لوړ کړی شي، د وتر او د عيدينو د لمانځه اضافي تکبيرونه هر يو د يوه حرکت لپاره ويل کېږي نه د دوو لپاره.

# آيا په امام پسي د مقتدي قرائت جائز دئ؟

د مذاهبو تر منځ يوه اختلافي موضوع دا ده چي آيا مقتدي به په امام پسي په جهري يا خفيه لمونځونو کي قرائت کوي که نه؟ آيا دا ادعاء صحيح ده چي د فاتحې سوره لوستل هم پر امام فرض ده او هم پر مقتدي؟ که يوازي پر امام؟ آيا لوستل ئې فرض دي که غوره؟ آيا له فاتحې پرته لمونځ صحيح کېږي؟ په دې اړه قرآن څه حکم کوي او احاديث څه وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشئ لومړی دا وګورو چي قرآن په لمانځه کي د قرائت په اړه څه حکم کوي؟

قرآن د قرائت په اړه موږ ته څو لارښووني لري:

- دوه ځلي امر کوي چي یوه آسانه برخه د قرآن په خپلو لمونځونو کي ووایئ: (فَاقْرَءُوا مَا تَيَسرَ مِنَ الْقُرْءَانِ) او (فَاقْرَءُوا مَا تَيسرَ مِنْهُ).
- موږ ته امر کوي چي کله قرآن لوستل کېږي نو غوږ ورته ونیسئ او پټه خوله اوسئ: وَ إِذَا قُرِئَ الْقُرْءَانُ فَاستَمِعُوا لَهُ وَ أَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ * الاعراف: ۲۰۴.
- پیغمبر علیه السلام ته امر کوي چي کله فرشته تا ته قرآن دراوروي نو له ځان سره ئې مه وایه او تلوار مه پرېږ کوه: وَ لا تَعْجَلْ بِالْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضى إِلَيْك وَحْيُهُ... طه: ۱۱۴: تر هغه د مخه چي تا ته د قرآن وحي بشپړه شي پر قرائت ئې تلوار مه کوه.

د دغو دریو آیتونو معنی دا ده چي: ۱- په لمانځه کي یوازي د قرآن یوه آسانه برخه لوستل فرض دي، دا ځکه چي په قرآن کي دا امر نشته چي په لمانځه کي به د فاتحې سوره لولئ، په احادیثو کي راغلي چي څوک په لمانځه کي د فاتحې سوره ونه لولي لمونځ ئې ناقص دئ. ۲- د امام د قرائت په وخت کي له ځان سره قرآن ویل او شونډې پرې خوزول، او غوږ نه نیول د قرآن د صریح حکم خلاف عمل دئ.

که موږ ته داسي دوه متعارضي رأيي یا متضاد روایات مخي ته راشي چي یو ئې وایي: د امام قرائت د مقتدي قرائت هم دئ، مقتدي به د امام د قرائت په وخت پټه خوله وي او قرائت به نه کوي او بل ئې وایي: مقتدي به هم د امام تر څنګ د فاتحې سوره له ځان سره لولي، نو موږ له ځنډ نه پرته ویلی شو چي دا دوهمه رأیه له قرآن سره تعارض لري او لومړی رأیه له قرآن سره په بشپړه توګه توافق لري.

اوس راشئ د هغو خلکو رأیه وڅېړو چي په لمانځه کي د فاتحې سوره لوستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرض ګڼي، دا وګورو چې دوی په کومو روایاتو استناد کوي او څه دلیل لري؟ دوی په دغه روایت استناد کوي:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ (لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ).

له عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت دئ چې رسول الله ﷺ فرمایلي: (څوک چې فاتحه (الحمد لله) ونه لولي، لمونځ ئې لمونځ نه دئ)

دا روایت په بخاري کې یو ځل راغلی.

د دې روایت په تعبیر کې د محدثینو او فقهاوو تر منځ اختلاف دئ، ځیني ئې داسې تعبیروي چې ګواکې په لمانځه کې د فاتحې سوره لوستل فرض وي، له دې پرته لمونځ نه صحیح کېږي، هم د جماعت په لمانځه کې او هم په انفرادي لمونځونو کې، هم په جهر لمونځونو کې او هم په خفیه لمونځونو کې، هم د مقتدي لمونځ او هم د امام لمونځ، په جهر لمونځونو کې هم باید مقتدي له امام نه وروسته دا سوره ووایي، که نه نو لمونځ ئې صحیح نه دئ!! د دې لپاره چې په دې اړه صحیح رأیه معلومه کړو باید لاندې ټکي په پام کې ولرو:

- په قرآن کې د لمانځه د ترکیب په اړه څو خبري شوې دي: د لمانځه په پیل کې د الله نوم یادول (و ذکر اسم ربه فصلی)، قبلې ته مخ کول (فَوَلِّ وَجْهَک شطرَ الْمَسجِدِ الْحَرَامِ)، قیام (إذا قمتم الی الصلوة)، قرائت (فاقرأوا ما تیسر من القرآن)، (و قرآن الفجر)، رکوع، سجده (يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا ارْكَعُوا وَ اسجُدُوا. په قرآن کې د دې لپاره شاهد نه مومو چې په لمانځه کې د فاتحې د سورې لوستل ترې معلوم شي. بلکې په مکرره توګه ویل شوي چې د قرآن کومه آسانه برخه تلاوت کړئ.
- الله تعالی موږ ته امر کوي چې د قرآن د تلاوت په وخت کې ساکت وو او غوږ ونیسو، د دې معنی دا ده چې د امام د قرائت په وخت کې به غوږ نیسو او له څه ویلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

به ډېره کوو.

- رسول الله ﷺ فرمايلي چي د امام قرائت د مقتدي قرائت دئ: من صلى خلف الامام فان قراءة الامام له قراءة: څوک چي په امام پسي لمونځ کوي نو د امام قرائت د ده قرائت هم دئ.
- که څوک امام په رکوع کي ونيسي نو بشپړ رکعت ئې نيولی دئ او د دغه رکعت اعاده ورباندي لازمه نه ده، که څه هم نه ئې فاتحه اورېدلې ده او نه ئې ويلې ده, په دې اړه د ټولو فقهاوو اجماع ده.

دغو خبرو ته په پام سره ويلی شو چي:

- په جهر لمونځونو کي او هغه مهال چي امام قرائت کوي د فاتحې سوره يا د قرآن نور آيتونه لوستل د قرآن د صريح حکم خلاف عمل دئ. څوک چي د امام د قرائت په وخت کي له ځان سره قرائت کوي، شونډې خوزوي، په عجله او تلوار سره قرائت کوي، دا کار ئې د قرآن او سنت خلاف دئ، ځکه الله تعالى خپل پيغمبر له داسي کولو منعه کړی، رسول الله ﷺ به د بعثت په لومړيو کي د وحي د نزول پر مهال او د فرشتې د قرائت په دوران کي همدا کار کولو چي الله تعالى ترې منعه کړ!!
- اورېدل د لوستلو ځای ناستی دئ، څوک چي قرآن اوري داسي دئ لکه چي په خپله ئې لولي، ډېر ځلي د اورېدو اغېز تر لوستلو هم زيات وي، که اورېدل او لوستل يو شان نه وی نو په هغه چا به د قرائت سجده نه لازمېده چي د سجدې آيت ئې اورېدلی!!
- په خفيه لمونځونو کي په امام پسي قرائت داسي دئ لکه له قرائت نه پرته نور تکبيرات او تسبيحات ويل، نه يوازي د ممانعت لپاره ئې د منلو وړ دليل او توجيه نشته بلکي د جهري قرائت اړوند حکم په غلطه توگه تعبيرول او خفيه قرائت ته ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزول دي.

- که له فاتحې پرته لمونځ لمونځ نه وی نو د هغه مقتدي لمونځ به صحیح نه ګڼل کېدو چي له قرائت نه وروسته او په رکوع کي ئې امام نیولی.
- فرض هغه دئ چي الله تعالی ئې د کولو حکم کړی وي، نه د فاتحې د ویلو په اړه په قرآن کي کوم حکم مومو؛ نه صریحاً او نه اشارتاً؛ او نه د رسول الله ﷺ له حدیث نه داسي معلومېږي چي ویل ئې فرض وي، ځکه د رسول الله ﷺ ګڼ شمېر احادیث داسي مومو چي په نورو امورو کي ئې دې ته ورته الفاظ کارولي، لکه (لا دین لمن لا عهد له)، (لا ایمان لمن لا امانة له)، آیا د دې معنی دا ده چي که څوک یو ځل له چا سره خپله ژمنه ماته کړي له اسلامه ووت؟ که څوک په یوه واړه امانت کي یو ځل خیانت وکړي ایمان ئې حبط شو؟ لکه دلته چي کمال د اسلام او ایمان مراد دئ په هغه روایت کي کمال او حسن د ښه لمانځه مراد دئ، نه دا چي له فاتحې پرته لمونځ هیڅ اعتبار نه لري.

د جَمعي په لمانځه کي د فاتحې د لوستلو او نه لوستلو په اړه ځیني روایات یو څه وایي او ځیني بل څه.

له عبدالله بن شداد رضی الله عنه، جابر رضی الله عنه او عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه راغلي روایات وایي چي د امام قرائت د مقتدي قرائت هم دئ. روایات دا دي:

عن عبد الله بن شداد قال رسول الله ﷺ من کان له امام فان قراءة الامام له قراءة السنن الکبری للبیهقي

عن جابر قال: قال رسول الله ﷺ: « من صلی خلف إمام، فإن قراءة الإمام له قراءة المعجم الأوسط للطبرانی

عن جابر، عن النبي ﷺ قال: « من کان له إمام فإن قراءة الإمام له قراءة » مسند عبد

(c) ketabton.com: The Digital Library

بن حميد

عن جابر قال: صلى رسول الله ﷺ ورجل خلفه يقرأ فنهاه رجل فلما انصرف تنازعا حتى بلغ رسول الله ﷺ فقال رسول الله ﷺ من صلى خلف إمام فإن قراءة الإمام له قراءة    رواه البيهقي

عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما: « كان إذا سُئِل: هل يقرأ أحد خلف الإمام ؟ قال: إذا صلى أحدُكم خلف الإمام فحسبُه قراءةُ الإمام، وإذا صلى وحدَه فليقرأْ، قال: وكان ابنُ عمر لا يقرأ خلف الإمام » أخرجه الموطأ.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ فِى الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الإِمَامِ تَكْفِيكَ قِرَاءَةُ الإِمَامِ. ۱ /۴۰۳ سنن الدارقطني

**خو بل لوري ته له عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه، ابوهريره رضي الله عنه او ابو امامه رضي الله عنه نه راغلي روايات وايي چي له فاتحې نه پرته لمونځ يا ناقص دئ يا اصلاً لمونځ نه دئ.**

**روايات دا دي:**

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهُ ﷺ قَالَ:« كُلُّ صَلاَةٍ لاَ يُقْرَأُ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَهِىَ خِدَاجٌ ». رواه البيهقي

عن أبى أمامة قال قال رسول الله ﷺ : من لم يقرأ خلف الإمام فصلاته خداج. رواه البيهقى. خو دا په مشخصه توگه د فاتحې يادونه نه كوي.

عن ابن عمرو بن ميمون بن مهران عن أبيه من لم يقرأ بأم القرآن فى صلاته فهى خداج. رواه الطبرانى فى الأوسط

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ:« مَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَلاَ صَلاَةَ لَهُ ». سنن الدارمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

عن ابى هريرة رضي الله عنه قال امرني رسول الله ﷺ ان انادى لا صلوة الا بقرآن بفاتحة الكتاب. سنن الكبرى للبيهقي

سنن الدارقطني كي دوه روايات راغلي چي دواړه ئې ضعيف ګڼلي، يو ئې ابن عباس رضي الله عنهما ته منسوب شوى چي الدارقطني ئې د اعتبار وړ نه ګڼي، روايت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِىِّ ﷺ قَالَ « يَكْفِيكَ قِرَاءَةُ الإِمَامِ خَافَتَ أَوْ جَهَرَ ». عَاصِمٌ لَيْسَ بِالْقَوِىِّ وَرَفْعُهُ وَهَمٌ.

بل ئې محمد بن عبدالله بن عمير روايت کړى چي ضعيف ئې ګڼلى:

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ « مَنْ صَلَّى صَلاَةً مَكْتُوبَةً أَوْ تَطَوُّعًا فَلْيَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ مَعَهَا فَإِنِ انْتَهَى إِلَى أُمِّ الْكِتَابِ فَقَدْ أَجْزَأَ وَمَنْ صَلَّى صَلاَةً مَعَ إِمَامٍ يَجْهَرُ فَلْيَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فِى بَعْضِ سَكَتَاتِهِ فَإِنْ لَمْ يَفْعَلْ فَصَلاَتُهُ خِدَاجٌ غَيْرُ تَمَامٍ ». مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ ضَعِيفٌ.

دې ته مو پام وي چي د يوې رأيي پلويانو دغو رواياتو ته صحيح ويلي او د بلي رأيي پلويانو مخکنيو ته، د اسنادو له مخي د دغو رواياتو د صحت او عدم صحت په اړه وروستۍ پرېکړه که محال نه وي نو ډېره ګرانه ده، دومره چي د امت محققينو په تېرو څوارلسو پېړيو کي ونشوى کړى. خو که د قرآن په رڼا کي د دې رواياتو په اړه قضاوت وکړو نو ويلى شو:

- څوک چي په امام پسي لمونځ کوي د امام قرائت ورته کافي دئ.
- په جهر لمونځونو کي او هغه مهال چي امام قرائت کوي د فاتحې سوره يا د قرآن نور آيتونه لوستل د قرآن د صريح حکم خلاف عمل دئ.
- په خفيه لمونځونو کي په امام پسي قرائت داسي دئ لکه له قرائت نه پرته نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکبيرات او تسبيحات ويل.

- که څوک په رکوع کي امام وومومي رکعت ئې بشپړ ګڼل کېږي او اعاده وربانديي نشته، ځکه د لمانځه ټولي هغه برخي ئې بشپړي کړې دي چي په قرآن کي ورته اشاره شوې: تکبير تحريمه، قيام، رکوع او سجده، يوازي قرائت ترې پاته شوی او دا نقيصه هم په دې سره رفعه شوې چي د امام قرائت د ده قرائت ګڼل شوی.

دا خبره هم په پام کي ولرئ چي ځيني وايي: د الحجر په سورې کي د ۸۷ آيت معنی دا ده چي د فاتحې سوره د قرآن په نامه ياده شوې، آيت دا دئ:

وَ لَقَدْ ءَاتَيْنَكَ سبْعاً مِّنَ الْمَثَانِى وَ الْقُرْءَانَ الْعَظِيمَ * الحجر:۸۷

خو دا لويه اشتباه ده، دلته له سبعاً من المثانی نه مراد د فاتحې سوره ده او له القرآن العظيم نه ټول قرآن، دا تعبير په بشپړه توګه غلط دئ چي څوک د دې آيت په استناد د فاتحې سوره د ټول قرآن په نامه ياده کړي. که د فاتحې سورې ته د قرآن نوم ورکړی شي نو بيا خو به د فاقرءوا ما تيسر من القرآن معنی دا وي چي د فاتحي يوه آسانه برخه ولولئ!! او په لمانځه کي به د دې سورې يوه برخه ويل هم کافي شمېرل کېده!! خو هيڅوک د دې خبري جسارت نه کوي!!

د بخاري له مخکني روايت نه وروسته چي کوم روايت زموږ مخي ته راځي ښيي چي د فاتحې لوستل فرض نه دي ځکه رسول الله ﷺ يوه سړي ته د لمانځه په اړه د نورو لارښوونو په ضمن کي وويل: بيا له قرآنه داسي آسانه برخه ولوله چي حفظ دي وي، که فاتحه فرض وی نو رسول الله ﷺ به ورته ويلي وو چي لومړی فاتحه ولوله او بيا يوه آسانه برخه د قرآن!!

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصلَّى فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فَرَدَّ وَقَالَ « ارْجِعْ فَصَلِّ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ ». فَرَجَعَ يُصَلِّى كَمَا صَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ

(c) ketabton.com: The Digital Library
عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ « ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ » ثَلاَثًا. فَقَالَ وَالَّذِى بعثك بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَهُ فَعَلِّمْنِى. فَقَالَ « إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاَةِ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، وَافْعَلْ ذَلِكَ فِى صَلاَتِكَ كُلِّهَا ».

له ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دئ چي رسول الله ﷺ جومات ته راغی، پدې وخت کي یو سړی هم جومات ته راغی او لمونځ ئې وکړ، (دا شخص خلاد بن رافع زرقي رضی الله عنه وو)، بیا ئې پر رسول الله ﷺ سلام واچاوو، رسول الله ﷺ ئې د سلام ځواب ورکړ او ورته وئې فرمایل: (لاړ شه، لمونځ وکړه ځکه تا لمونځ نه دئ کړی)، هغه ولاړ او د مخکي په شان ئې لمونځ وکړ، بیا راغی او پر رسول الله ﷺ ئې سلام واچاوو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: (لاړ شه، لمونځ وکړه، ځکه تا لمونځ نه دئ کړی) دا کار درې ځلي تکرار شو، هغه سړي وویل: قسم په هغه ذات چي ته ئې په حقه رالیږلی یې ما خو تر دې ښه لمونځ زده نه دئ، نو را وئې ښیه؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: (کله چي لمانځه ته پاڅېدلې، نو تکبیر ووایه، بیا له قرآنه داسي آسانه برخه ولوله چي حفظ دي وي، بیا رکوع وکړه، تر هغه په رکوع کي پاته شه چي ډاډه او آرام شې، بیا پورته شه او سم صحیح ودرېږه، بیا سجده وکړه ښه په آرامۍ سره بیا له سجدې نه پورته شه او ښه آرام کښېنه، دا کار دي په ټول لمانځه کي کوه).

**له دې روایت نه معلومېږي چي د فاتحې لوستل فرض نه دي، که فرض وی نو رسول الله ﷺ به حتماً دې سړي ته د هغې یادونه کړې وه!! ځوک چي وایي دا حدیث په بل نسخه شوی د خپلي ادعاء لپاره هیڅ موجه دلیل نه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا په لوړ ږغ آمین ویل جائز دي؟

یوه بله فرعي موضوع چي ځینو غرضي او مرضي کړیو د اختلاف وسیله ترې جوړه کړې دا ده چي آیا مقتدي او امام به آمین په لوړ غږ وایي که په ټیټ غږ؟ راشئ وګورو چي صحیح رأیه کومه ده او زموږ درنو ائمه وو او فقهاءو په کوم دلیل یوه رأیه ترې غوره کړې.

ځیني کسان د بخاري په دې روایت استناد کوي او وایي چي امام او مقتدي به په لوړ ږغ آمین وایي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِىَّ ﷺ قَالَ « إِذَا أَمَّنَ الإِمَامُ فَأَمِّنُوا فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ». (بخاری:۷۸۱)

له ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دئ چي: رسول الله ﷺ فرمایلي: (کله چي امام آمین وایي، نو تاسي هم آمین ورسره وایئ، ځکه که د چا آمین د ملائکو سره برابر شي، نو تېر ګناهونه ئې ورته بخښبل کېږي).

دا روایت د سند له مخي ډېر غریب دئ، په صحابه وو کي یو، په تابعینو کي دوه او په تبع تابعینو کي یو راوي لري، د دې په مقابل کي نور روایات داسي دئ چي وایي: کله چي امام و لا الضالین ووایي تاسو آمین ووایئ: إِذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّالِّينَ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَقُولُوا: آمِينَ.

له ابو هريره رضی‌الله‌عنه نه دا روايت هم راغلی چي وايي: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی‌الله‌علیه‌وسلم: (إِذَا قَالَ الْإِمَامُ وَلَا الضَّالِّينَ، فَقُولُوا: آمِينَ)

عن أبي صالح عن أبي هريرة عن النبي صلی‌الله‌علیه‌وسلم قال: إذا قال الإمام (و لا الضالين فقولوا آمين).

د مدينې فقهاءو د أبو هريرة رضی‌الله‌عنه يوه روايت ته ترجيح ورکړې، خو امام ابو حنيفه او امام مالک بل روايت ته. دوی او نور ائمه چي وايي آمين دي په ټيټ ږغ ويل کېږي په دې روايت هم استناد کوي:

عن سلمة بن كهيل عن حجر أبي العنبس عن علقمة بن وائل عن أبيه: أن رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم لما بلغ (غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال: آمين وأخفى صوته.

علقمه بن وائل له خپل پلار نه روايت کوي چي وايي: کله چي رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم (غير المغضوب عليهم ولا الضالين) ته ورسېدو نو آمين ئې په ټيټ ږغ ووايو.

امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چي په څلورو ځايونو کي به امام خپل ږغ ټيټوي: سبحانک اللهم، تعوذ، بسم الله او آمين.

د مرقاة المفاتيح مصنف وايي: حمل أئمتنا ما ورد من رفع الصوت على أول الأمر للتعليم ثم لما استقر الأمر عمل بالإخفاء والله أعلم.. ثم إن الأصل في الدعاء الإخفاء لقوله تعالى: (ادعوا ربكم تضرعا وخفية) ولا شك أن آمين دعاء، فعند التعارض يرجح الإخفاء بذلك وبالقياس على سائر الأذكار والأدعية: زموږ ټول أئمه په دې نظر دي چي په جهر سره آمين ويل په لومړيو کي او خلکو ته د ښووني او تعليم لپاره وو، بيا کله چي کار مستقر شو (خلک پرې پوه شول) نو په خفيه ويلو ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمل پيل شو،... له دې نه علاوه په دعاء کي اخفا او په ټيټ رږغ دعاء کول اصل دئ ځکه چي الله تعالی فرمايي: (خپل رب ته په زاريو او ټيټ رږغ سره دعاء وکړئ)، په دې کي شک نشته چي آمين دعاء ده، نو د تعارض په صورت کي په آمين ويلو کي اخفا او ټيټ رږغ غوره دئ، له نورو اذکارو او دعاګانو سره په قياس).

متأسفانه اوس داسي خلک راپيدا شوي چي د بخاري په دغه غريب روايت به عمل کول داسي ګڼي لکه په کوم صريح آيت، لکه چي آمين ويل تر فرض هم اوښتي وي!! په داسي حال کي چي نه پوهېږي د دې روايت وزن او اعتبار څومره دئ، ولي د امام ابو حنيفه او امام مالک په څېر سترو سترو فقهاوو هغه ته يا اعتبار نه دئ ورکړی او يا ئې د ابتدائي دور مربوط ګڼلی او د دې پر ځای ئې هغه روايت معتبر ګڼلی چي د خفيه آمين سپارښتنه کوي، دې ته هم اعتناء نه لري چي امام ابو حنيفه ته له صحابه وو نه روايات رسېدلي او امام بخاري ته له پنځم نسل نه!! دوی ته تر ټولو مهم مسائل همدا آمين بالجهر، رفع اليدين، قرائت خلف امام، لاس پر سينه يا پر نامه اېښودل، په قيام کي پښې څومره لري لري اېښودل اساسي مسايل برېښي، تر فرايضو هم مهم، هغه هم نه د دې لپاره چي دا رأيه ئې پر بلي مضبوطه او مستدله موندلې بلکي د مادي اغراضو او له بهرنيو عربو هېوادو نه د زهر زقوم ترلاسه کولو لپاره!! موږ له هغو خلکو څخه نه ګيله لرو او نه اعتراض پرې کوو چي يو روايت تر بل ورته غوره او ارجح معلوم شوی او عمل پرې کوي، خو له هغو خلکو کرکه لرو چي له دغو فرعي مسايلو نه د اختلاف وسيله جوړوي او په ډېرو حساسو شېبو کي د اختلاف راولاړولو په موخه دا فرعي قضايا عنوانوي!! له دوی نه به هيڅکه وانه ورئ چي د عربو د اوسنيو فرعونانو او ابوجهلانو په ضد څه ووايي، د دغو هيوادو د حکامو فساد، ظلم، عياشي د پرديو په وړاندي ذلت او د خپلو ولسونو په وړاندي بې رحمي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظلم ته گوته ونيسي، په عربو هېوادو کي د امريکايانو د نظامي اډو يادونه وکړي، پر افغانستان او عراق د صليبي ځواکونو يرغلونه وغندي، خو د امام ابو حنيفه په ضد به په ډېر جسارت او سپين سترگتوب سره بد ورد وايي او د احنافو مذهب به د حديث خلاف گڼي، دا په داسي حال کي چي د قرآن يو آيت به سم نشي ژباړلی، د يوه حديث له سمي او دقيقي ترجمې نه به عاجز وي، د بخاري د رواياتو تر منځ توپيرونه او تعارضات به نشي درک کولی او د متعارضو رواياتو له منځ نه د يوه د انتخاب استعداد به نه لري، خو داسي به مغرور وي چي د امت فقهاءو او ائمه وو ته به په سپکه سترگه گوري، د کوم جومات په کنج کي به ئې څو مظلوم طالب العلمان راغونډ کړي وي، د دوی په نامه به له خلکو پيسې راټولوي، همدا به ئې د معيشت د تأمين ذريعه وي، خو د همدغو مظلومانو له ايمان او عقل سره به لوبي کوي او د مذاهبو په ضد به ئې پاروي.

## آيا له طاق رکعتونو وروسته لنډه ناسته ضروري ده؟

ځيني داسي گمان کوي چي دوهم او څلورم رکعت ته له پاڅېدا د مخه او د مخکني رکعت له وروستۍ سجدې وروسته بايد لنډه ناسته وشي، دوی د دې ادعاء لپاره د بخاري په يوه داسي روايت استناد کوي چي د سند له مخي ډېر زيات غريب دئ، روايت داسي دئ:

عَنْ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ اللَّيْثِيُّ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ يُصَلِّي، فَإِذَا كَانَ فِي وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لَمْ يَنْهَضْ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا. (بخاري:۸۲۳)

**له مالک بن حويرث ﵁ نه روايت دئ چي رسول الله ﷺ ئې پداسي حال کي په لمانځه ليدلی چي په طاق رکعت يعني اول او درېيم رکعت کي به تر هغه پوري له سجدې نه قيام ته نه لوړېدو چي ښه به نه وو ناست. يعني له کښېناستو وروسته به قيام ته پورته شو.**

**دا روايت د سند له مخي تر مطلق غريب اوښتی او په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري، محققين غريب روايات د احکامو په اړه حجت نه ګڼي، مګر دا چي د تأييد لپاره ئې کوم شاهد وموندل شي، د متن له پلوه له هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي: له سجدې نه راپورته کېدا به په تکبير سره وي، که په طاق رکعتونو کي له وروستۍ سجدې وروسته ناسته وشي نو له ناستي وروسته ولاړېدا بل تکبير ايجابوي، دا ځکه چي د لمانځه هر حرکت له يوه ږغ او وينا سره توأم وي، دا حرکت به ولي په استثنائي توګه له کومي وينا او ږغ پرته ترسره کېږي؟!! ښايي مالک بن حويرث به د رسول الله ﷺ داسي ناسته په کوم استثنايي حالت کي ليدلې وي، لکه د بيمارۍ يا د زنګنو د درد په حالت کي. نه له بل صحابي نه داسي روايت شته او نه رسول الله ﷺ د داسي کولو امر کړی.**

**که تاسو د تشهد لپاره د کښېناستلو اړوند روايت ته ځير شئ درته جوته به شي چي کله کله راوي د بل چا له کوم حرکت نه ناسمه انتباه اخلي، هغه د بيمارۍ او کوم مشکل په وجه استثنايي حرکت کړی وي او دې راوي داسي انتباه ترې اخيستې وي چي ګواکي دا ئې دائمي عادت دئ!! روايت داسي دئ:**

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ كَانَ يَرَى عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ ﵄ يَتَرَبَّعُ فِي الصَّلَاةِ إِذَا جَلَسَ، فَفَعَلْتُهُ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ حَدِيثُ السِّنِّ، فَنَهَانِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ وَقَالَ إِنَّمَا سُنَّةُ

(c) ketabton.com: The Digital Library
الصَّلاَةِ أَنْ تَنْصِبَ رِجْلَكَ الْيُمْنَى وَتَثْنِيَ الْيُسْرَى. فَقُلْتُ إِنَّكَ تفعلُ ذلِك. فقال إِنَّ رِجْلَيَّ لاَ تَحْمِلاَنِي. (بخاری:۸۲۷)

**د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما له زوی عبدالله رضي الله عنه نه روایت دئ چي وايي: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ئې ليدو چي په لمانځه کي د کښېناستلو په وخت به ئې پلتۍ وهله، ما هم دا کار وکړ، زه دا مهال کم عمره وم، نو زه ئې له دې کاره منعه کړم او وئې ويل: د لمانځه سنت دا دئ چي په ناستي کي خپله ښۍ پښه ودروې او کيڼه پښه دي تاو کړې (او ورباندي کښېنې)، ما ورته ويل: ته خو داسي کوې!! وئې ويل: زما پښې (کمزورې دي او) زما دروندوالی نه شي زغملی.**

**له دې روايت نه دوه خبري معلومېږي: ۱- په تشهد کي د ناستي سنت دا دئ چي سړی ښۍ پښه ولاړه وساتي او کيڼه پښه څملوي او پرې کښېني، احنافو د نارينه وو لپاره دغه صورت ته ترجيح ورکړې، او د ښځينه وو لپاره هغه صورت ته چي پر کوناټي کښېني او پښې ښي لوري ته کږې کړي. ۲- ښايي مالک بن حوريث رضي الله عنه هم رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسي کوم استثنايي حالت کي ليدلی.**

**د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما له وينا دوه خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي: ۱- په دواړو جلسو کي به ناسته پر کيڼې پښې وي، که داسي نه وی نو هغه به ورته ويلي وو چي په يوې جلسې کي داسي او په بلې کي داسي کښېنه، ۲- ناسته به په کيڼې پښې وي ځکه هغه دا عذر وړاندي کړی چي زما پښه دا نشي تحمل کولی، که ناسته پر کوناټي وی نو د دې خبري کولو ته ضرورت نه وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جمع صلاتین

یوه بله اختلافي موضوع دا ده چي آیا په سفر کي جمع صلاتین (دوه لمونځونه په یو وخت اداء کول) جائز دي؟ آیا په قرآن کي د دې د جواز لپاره کوم شاهد او دلیل موږ؟ راشئ وګورو چي په قرآن کي او د رسول الله ﷺ په احادیثو کي په دې اړه څه لارښوونه شوې. قرآن فرمایي:

[illegible]

[illegible]

او کله چي په زمکه سفر کوئ، نو په دې کي پر تاسو کومه ګناه نشته چي لمونځ رالنډ کړئ، که دا وېره مو وه چي کافران به مو په فتنه کي واچوي، بې شکه چي کافران ستاسو ښکاره دښمنان دي.

د دې مبارک آیت لارښووني دا دي: د سفر په حالت کي او هغه وخت چي له دښمن نه مو څه وېره وي، نو کولی شئ خپل لمونځ رالنډ کړئ، څلور رکعته مو دوه رکعته، رکوع او سجده مو مختصر او قرائت او تسبیحات مو رالنډ کړئ. په قصر کي نوري آسانتیاوي هم شاملي دي چي یوه برخه ئې د البقرې د سورې په ۲۳۹ آیت کي توضیح شوې، آیت دا دئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Þfù ÇÌÑÈ ûüFÏ»% ﺃ {qÐq®r 4 ÜÕ°êæ$Íq¢Á 9$r ÏN°q=Á 9$ ’ ?ã #qÃÿ»m**

**ÞÑ9 $B Nà6 J=æ $J. ® $(rãà2 6$Ì ÈãÑB& #Ìfù $Ê7øâ ¢& w$_Ìù ÕÕgÅ**

**ÇÌÌÈ šc qßÈè? {qÇqã?**

د ټولو لمونځونو او د هغه غوره ئې ښه حفاظت کوئ او الله لره قانت (غاړه اېښودونکي او منقاد) ودرېږئ. خو که وېرېدلئ نو بيا يا پلي او يا سپاره، خو کله چي د امنيت احساس وکړئ نو الله همغسي ياد کړئ لکه چي تاسو ته ئې درښودلی، همغه څه چي نه وربانديي پوهېدئ.

دلته له (الصلوة الوسطی) نه مراد هغه لمونځ دئ چي په ټولو شرائطو برابر وي او په قنوت، خشوع او خضوع او د زړه او حواسو په حضور تر سره شي، داسي لمونځ د خطر او سفر په وخت کي نشي ترسره کېدی، د همدې لپاره الله تعالی وفرمايل چي د خطر په وخت کي کولی شئ چي په تلو تلو کي، که پلی وئ يا سپاره، لمونځ اداء کړئ، په اشاره، د اصل لمونځ نيمايي او د قبلې په لوري له مخ کولو پرته، له لنډ قرائت او مختصرو تسبيحاتو سره. خو د امن په وخت کي به همغسي لمونځ کوئ چي الله درښودلی. دا مطلب هم بايد واضح کړو چي دلته (وسطی) په هغه معنی راغلی چي د همدې سورې په ۱۴۳آيت کي راغلی: وَ كَذَلِك جَعَلْنَكُمْ أُمَّةً وَسطاً: لکه دلته چي له وسطی نه زماني او مکاني وسط مراد نه دئ همداراز له الصلوة الوسطی نه هغه لمونځ مراد نه دئ چي د وخت له پلوه د نورو لمونځونو په منځ کي وي، د آيت وروستۍ برخه په ډېر صراحت سره دا مطلب په ګوته کوي چي له الصلوة الوسطی نه غوره لمونځ مراد دئ، هغه چي د خطر او سفر په وخت کي ئې ترسره کول ګران

(c) ketabton.com: The Digital Library
وي. له دې نه د مازديګر لمونځ اخيستل داسي توجيه ده چي له ټول آيت او مخصوصا له وروستۍ برخي سره ئې هيڅ اړخ نه لګوي.

دلته څو پوښتنو ته بايد ځواب ومومو:

په سفر کي د قصر حکم له دغه آيت څخه اخيستل شوی که بله مرجع لري؟

دلته قصر د سفر په وجه جائز شوی که د خوف او خطر په وجه؟

له قصر نه مراد يوازي د رکعتونو په شمېر کي قصر دئ که د لمانځه په هيئت او کيفيت کي هم او مخکي، وروسته کول ئې هم؟

دغو پوښتنو ته د ځواب موندلو په کار کي لاندي خبري مرسته کوي:

له دې آيته وروسته چي کوم آيت راځي له هغه معلومېږي چي دلته د خوف او خطر په وجه د قصر اجازه ورکړې شوې.

له همدې وروستي آيته معلومېږي چي له قصر نه د لمانځه په کيفيت او هيئت کي قصر کول هم مراد دي، ځکه دلته په لمانځه کي له يوه ځايه بل ځای ته د خوځېدو ذکر او د هغه اجازه راغلې.

پېغمبر عليه السلام په سفر کي په لمونځونو کي قصر کړی، تل ئې څلور رکعته نيمايي کړي، په داسي حال کي هم چي د هيڅ خطر وېره نه وه.

د قصر په اړه له دې پرته بل آيت نه مومو.

له دغو خبرو په ډاګه معلومېږي چي د سفر قصر هم له دې آيته اخيستل شوی او د خوف قصر هم او په قصر کي هم د رکعتونو قصر شامل دئ او هم د هيئت او کيفيت قصر.

د احزابو په جنګ کي چي له سفر پرته د خوف او خطر حالت وو، د قصر دوه صورتونه ګورو: ۱- له جَمعي پرته يوازي يوازي لمونځ، ۲- او ځنډول ئې او قضائي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې اداء کول.

په مخکني آیت کي په دې اړه په ډېر صراحت سره ویل شوي وو چي د سفر او خوف په حالت کي قصر کولی شئ، خو دا نه وه واضح شوې چي په بې خوفه سفر کي به قصر کوئ که نه؟ خو د ۱۰۳ آیت له فحوی معلومېږي چي په سفر کي به هم قصر کوئ، دا ځکه چي د پوره لمانځه لپاره ئې د اطمئنان شرط وضع کړی، که یوازي د خوف منتفي کېدل مراد وی نو د (اطمئنان) پر ځای به ئې د (امن) لفظ راوړ، د خوف په مقابل کي د امن لفظ راځي، لکه د بقرې د سورې په ۱۹۶ آیت کي چي د خوف منتفي کېدو لپاره د امن لفظ راغلی. او ویل شوي: که په امن کي شوئ نو بیا تر حج مخکي د عمرې د اداء کولو حکم دا دئ. په سفر کي که هرڅومره آرام او بې تکلیفه سفر وي خو انسان په کي لالهانده او پرېشانه وي او زړه ئې نامطمئن. آیت دا دئ:

ŅçŸRÙJÔ$#Œfù Nà6 Îqãã 4?ãr #Šqãèr $VJ»Šî ©$$(rãà2 ØÉ$ o¢Á 9$$DÉŞÒ% #Œfù

ÇÎÌÈ $Y%qè¤B $Y7FÏ šú üZBs9$$’?ã MR%. o¢Á 9$$b) o¢Á 9$$(qßJŠÏ'ù

النساء: ۱۰۳

خو کله چي لمونځ اداء کړئ، نو الله په ولاړه، ناسته او پر اړخ ملاسته کي یادوئ، بیا کله چي مطمئن شئ نو همغه لمونځ اداء کړئ، بې شکه چي دا لمونځ پر مؤمنانو له مهال وېش سره سم فرض شوی.

یعني د لمانځه لپاره اوقات ټاکل شوي، هر لمونځ په خپل خپل وخت اداء کول فرض دئ. مخکنی رخصت د یوه ضرورت له مخي موقت رخصت وو، په عادي حالاتو کي به هر لمونځ په خپل ټاکلي وخت ترسره کوئ. خو د سفر او خوف په حالت کي به دا له خپل ټاکلي وخت نه لمونځ مخکي یا وروسته کول څنګه وي؟ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې اړه دوه رأيي دي: د ماسپښين او مازديگر لمونځونه، يو ځای او په يوه وخت کي، يو په بل پسي، په يوه آذان او دوه اقامته اداء کول او د ماښام او ماخستن لمونځونه همداسي، لکه څنگه چي د حج په دوران کي، په عرفات کي د ماسپښين او مازديگر لمونځونه يو ځای او په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمونځونه يو ځای اداء کېږي، دوهمه رأيه دا ده چي له حج پرته په نورو سفرونو کي د دوو لمونځونو يو ځای کول بايد داسي وي چي يو په خپل آخري وخت کي او بل په خپل لومړني وخت کي همداسي يو ځای اداء شي، دې ته صوري او شکلي جمع صلاتين وايي، دا د احنافو رأيه ده، له احنافو پرته نور ټول مخکنی صورت غوره گڼي او له دې لحاظه د حج او نورو سفرونو ترمنځ په توپير باور نلري، د دې لپاره څو دلائل وړاندي کوي: ۱- د لمونځونو صوري جمع تر دې ډېر گران کار دئ چي هر لمونځ په خپل خپل وخت او بېل بېل اداء شي، دوه لمونځونه په دې توگه يوه وخت ته رابرابرول او هغه هم په سفر کي گران کار دئ، قصر او جمع صلاتين خو د تخفيف لپاره دي، د هر لمانځه لپاره پراخ وخت ټاکل شوی، صوري جمع دا پراخوالی او سهولت له منځه وړي او په يوه محدود وخت کي ئې راخلاصه کوي. ۲- په سفر کي لمونځ رامخکي کول يا وروسته کول داسي دئ لکه چي د مسافر او مريض لپاره دا رخصت ورکړی شوی چي روژه بل وخت او د کال نورو ورځو ته وځنډوي، روژه د لمانځه په څېر ثابت وخت لري خو د مسافر او مريض لپاره ئې دا سهولت ورکړی. ۳- د حج په موسم کي دوه جمع صلاتين لرو، يو ئې په عرفات کي د ماسپښين او مازديگر لمونځ د ماسپښين په لومړي وخت کي او بل ئې په مزدلفه کي د ماښام او ماخستن لمونځ د ماخستن په وخت کي، که د حج په حالت کي او د عرفات او مزدلفې په مقام کي جائز وي نو په نورو وختونو کي خو په اولی درجه جائز دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احناف هم جمع صلاتین جائز ګڼي خو داسي چي مخکنی لمونځ به په خپل آخري وخت کي او ورپسې لمونځ به په لومړي وخت کي یو په بل پسي اداء کېږي، دې ته جمع صوري وایي، نور مذاهب جمع حقیقي جائز ګڼي.

په داسي حال کي چي د لمانځه د توقیت په اړه دا آیت ډېره واضح لارښوونه کوي او په داسي حال کي چي د پېغمبر علیه السلام سنت زموږ مخي ته پروت دئ، هغه مبارک نږدې اتلس زره لمونځونه په مدینه منوره کي کړې، د مدینې په سلګونو او په زرګونو اوسېدونکو پنځه وخته آذان اورېدلی، د پېغمبر علیه السلام په امامت کي ئې د جماعت لمونځ لیدلی، د آذان او اقامت الفاظ ئې اورېدلي، د ده او اصحابو د لمانځه کیفیت ئې لیدلی او دا ټول د مدینې مسلمانانو یو په بل پسي له یوه نه بل نسل ته انتقال کړي، خو سره له دې ګورو چي ځیني ټول لمونځونه په یوه وخت کي کول هم جائز ګڼي، له سفر او خطر پرته په عادي حالت کي د ورځي پنځه لمونځونه په درې وختونو کي ترسره کول هم جائز ګڼي، ځان ته د آذان خاص الفاظ او د لمانځه خاص ترتیب او ترکیب لري او د خپل مسلک په اړه هومره تعصب لري چي په بل کیفیت او هیئت کي لمونځ ورته لمونځ نه ښکاري، د بل مسلک په امام پسي لمونځ کول جائز نه ګڼي، د هغه په آذان روژه نه ماتوي او حتی هغه مسلمان نه ګڼي. ای کاش ټول امت لږ تر لږه په دغسي واضح مسایلو کي له اختلافه لري پاته شوی وی، د قرآن صریح نص، د پېغمبر واضح سنت او د مدینې د مسلمانانو د لمانځه هیئت او کیفیت ئې د ملاک په توګه منلی وی. متأسفانه دا اختلاف هم له متعارضو روایاتو رولاړ شوی.

د جمع صلاتین په اړه د بخاري روایت دا دئ:

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ دَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مِنْ عَرَفَةَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نَزَلَ فَبَالَ، ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ. فَقُلْتُ الصَّلاَةَ يَا رَسُولَ اللَّه. فَقَالَ " الصَّلاَةُ أَمَامَكَ ". فَرَكِبَ، فَلَمَّا جَاءَ الْمُزْدَلِفَةَ نَزَلَ فَتَوَضَّأَ، فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلاَةُ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ، ثُمَّ أَنَاخَ كُلُّ إِنْسَانٍ بَعِيرَهُ فِي مَنْزِلِهِ، ثُمَّ أُقِيمَتِ الْعِشَاءُ فَصَلَّى وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا. (بخاری:۱۳۹)

له اسامه بن زيد ﵁ نه روايت دئ چي وايي: رسول الله ﷺ له عرفاته راوګرځېد، کله چي يوې درې ته ورسېد، کوز شو او د اودس ماتي لپاره صحرا ته تېر شو، بيا ئې لاسونه ومينځل خو اودس ئې بشپړ نه کړ، ما وويل: يا رسول الله! د لمانځه وخت دئ! وئې فرمايل: (لمونځ دي وړاندي دئ)، بيا سپور شو او کله چي مزدلفې ته ورسېد، کوز شو، اودس ئې وکړ، خو اودس ئې بشپړ کړ، بيا د لمانځه لپاره اقامت وويل شو او د ماښام لمونځ ئې وکړ، بيا هر چا خپل اوښ په خپل خپل ځای کي چو کړ، ورپسې د ماخستن د لمانځه اقامت وويل شو او لمونځ ئې وکړ، د دواړو ترمنځ ئې بل لمونځ ونکړ.

دا روايت په بخاري کي څلور ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۸۱، ۱۶۶۷، ۱۶۶۹، ۱۶۷۲له دغو توپيرونو سره: په يوه کي دَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مِنْ عَرَفَةَ په بل کي لَمَّا أَفَاضَ مِنْ عَرفَةَ، په يوه کي حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ او په بل کي عَدَلَ إِلَى الشِّعْبِ، او په بل کي حَيْثُ أَفَاضَ مِنْ عَرَفَةَ مَالَ إِلَى الشِّعْبِ، او په بل کي فَلَمَّا بَلَغَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ الشِّعْبَ الأَيْسَرَ الَّذِي دُونَ الْمُزْدَلِفَةِ أَنَاخَ، په يوه کي فَبَالَ او په بل کي فَقَضَى حَاجَتَهُ، په يوه کي ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ، په بل کي فَتَوَضَّأَ وُضُوءًا خَفِيفًا، په بل کي فَصَبَبْتُ عَلَيْهِ الْوَضُوءَ او په بل کي فَجَعَلْتُ أَصُبُّ عَلَيْهِ وَيَتَوَضَّأُ، په يوه کي فَقُلْتُ الصَّلاَةَ يَا رَسُولَ اللَّهِ او په بل کي يَا رَسُولَ اللَّهِ أَتُصَلِّي په يوه کي الصَّلاَةُ أَمَامَكَ او په بل کي الْمُصَلَّى أَمَامَكَ راغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې توپيرونو سره سره د رواياتو مطلب او مفهوم سره ورته دئ، مطلب ئې دا دئ چې: رسول الله ﷺ له عرفات نه د راګرځېدو پر مهال؛ په يوې درې کې له سورلۍ کوز شوی، اودس ماتي ته تېر شوی، لاسونه ئې مينځلي، بشپړ اودس ئې نه دئ کړی، د ماښام د لمانځه وخت وو، خو دلته ئې لمونځ نه دئ کړی، مزدلفې ته د ماخستن مهال رسېدلی، هلته ئې لومړی د ماښام لمونځ په بېل اقامت سره کړی او بيا ئې لږ دمه کړې او بيا ئې د ماخستن لمونځ په بېل اقامت کړی، د دې دواړو لمونځونو تر منځ ئې بل لمونځ نه دئ کړی.

دې ته مو بايد پام وي چې رسول الله ﷺ د ماسپښين او مازديګر لمونځ په عرفات کې په ګډه او د ماسپښين پر مهال يو په بل پسې په دوه اقامتونو کړی او د ماښام او ماخستن لمونځ ئې همداسې خو د ماخستن په وخت په مزدلفه کې کړې، لومړني ډول جمع صلاتين ته جمع تقديم او دوهم ډول ته ئې جمع تأخير ويل کېږي، له دې نه معلومېږي چې دا دواړه ډوله جمع په هر سفر کې جائز دي، د دې لپاره نه کوم نقلي دليل موندلی شو او نه عقلي دليل چې په حج کې دي جائز وي او په نورو سفرونو کې ناجائز، زموږ ځينو درنو فقهاوو چې ويلي په نورو سفرونو کې داسې جمع صلاتين جائز دئ چې يو ئې د خپل وخت په آخري برخې او بل ئې په لومړۍ برخي کې ترسره شي، په دې کې د رخصت او سهولت مصلحت فوت کېږي، دا تر دې هم ډېر ګران دئ چې هر هر لمونځ په خپل خپل وخت کې وشي، ځکه په خپل وخت لمونځ کولو کې ډېر پراخوالی شته، د هر لمانځه لپاره تر يوه ساعت زيات وخت لري، خو په داسې جمعي کې يوازې څو دقيقې فرصت لري. د قرآن هغه مبارک آيت چې وايي: (... إِنَّ الصَلَوةَ كانَت عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَباً مَّوْقُوتاً * النساء: ۱۰۳)؛ بې شکه چې دا لمونځ پر مؤمنانو له مهال وېش سره سم فرض شوی. که په

(c) ketabton.com: The Digital Library
دي کي د هيڅ استثناء مجال نه وی نو بيا خو به په عرفات او مزدلفه کي هم دوه دوه لمونځونه يو په بل پسي په دوو وختونو کي نه وو جائز، په سفر کي د قرآن د صريح آيت له مخي قصر جائز دئ، په قصر کي دا هم شامل دي چي لمونځ مخکي يا وروسته کړئ، دا ځکه چي ورپسې ويل شوي چې د قصر د حالت له ختمېدو وروسته او کله چي مطمئن شوئ نو بيا مکمل لمونځ په خپل خپل وخت کي اداء کړئ. له دې نه په څرگنده معلومېږي چي د جمع صلاتين رخصت (د دوو لمونځونو په يوه وخت اداء کولو جواز) هم له دې آيت نه اخيستل شوی.

په سفر کي لمونځ رامخکي کول يا وروسته کول داسي دئ لکه چي د مسافر او مريض لپاره دا رخصت ورکړی شوی چې روژه بل وخت او د کال نورو ورځو ته وځنډوي، روژه د لمانځه په څېر ثابت وخت لري خو د مسافر او مريض لپاره ئې دا سهولت ورکړی.

دلته يوه بل ټکي ته هم توجه په کار ده او هغه دا چي امام بخاري رحمه الله دا روايت د اودس د تخفيف او بشپړوالي تر عنوان لاندي راوړی، د لاري په اوږدو کي وضوء ئې د خفيف وضوء په معنی اخيستی، خو دا په دې معنی نه دئ چي رسول الله ﷺ هلته يو ډول اودس کړی او په مزدلفه کي بل ډول، بلکي هلته ئې يوازي لاسونه مينځلي، ځکه د راوي له وينا معلومېږي چي هلته ئې د لمانځه اړوند وضوء (اودس) نه دئ کړی، که داسي وی نو هغه به دا نه ورته ويل چي د لمانځه وخت دئ، يعني تا خو بشپړ اودس ونه کړ حال دا چي د لمانځه وخت دئ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جومات ته د ښځو تګ

په دې اړه ټول مسلمانان متفق دي چې د رسول الله ﷺ په زماني کي او د هغه تر رحلت پوري ښځې جومات ته تلې او د جَماعت په لمونځونو کي ئې له نارينه وو سره يو ځای برخه اخيسته، داسي چې مخکي به نارينه، ورپسې ماشومان او د صفوفو په وروستۍ برخي کي به ښځې ودرېدېدې، د اختر په لمونځونو کي به ئې هم برخه اخيسته، او کله کله به رسول الله ﷺ د دوی لپاره بېله غونډه جوړوله او دوی ته به ئې ځانګړې موعظه اوروله. نه يوازي دا چې مسجد ته تلې او د جماعت په لمونځونو کي به ئې شرکت کولو بلکي ګڼ شمېر مېرمنو د امهات المؤمنين په شمول په غزواتو کي هم شرکت کړی. په دې اړه روايات دومره زيات او دومره صريح دي چې هيڅوک ترې انکار نشي کولی. راشئ وګورو چې قرآن په دې اړه څه حکم کړی، آيا په قرآن کي داسي لارښووني مومو چې جومات ته د ښځو د تلو جواز ترې استنباط شي؟ رسول الله ﷺ په دې اړه څه لارښووني کړې؟

که قرآن ته ځېر شو نو په دې خبري پوهېدا به راته ګرانه نه وي چې قرآن مؤمنانو ته په جماعت د لمونځ کولو سپارښتنه کوي.

وَ أَقِيمُوا الصلَوةَ وَ ءَاتُوا الزَّكَوةَ وَ ارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ * البقره: ۴۳

او لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ او له رکوع کوونکو سره رکوع وکړئ.

په دې مبارک آيت کي د بې لارو او منحرفو دين پلورو يهودي علماوو څو نوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړتیاوي بیانېږي: له الله سره ئې تعلق ضعیف او کمزوری وو، لمونځ ئې یا پرېښی او یا له حقیقي روح نه عاري او په شکلیاتو لګیا ول، د دې پر ځای چې زکات ورکړي د زکات ترلاسه کول ئې عادت شوی وو، له عام ولس سره ئې هم اړیکي سستي شوې وې، له نورو سره ئې یو ځای عبادت هم پرېښی وو، د همدې لپاره دوی ته د دغو څو خبرو امر شوی: لمونځ وکړئ، زکات ورکړئ او له نورو رکوع کوونکو سره یو ځای رکوع وکړئ، ستاسو د ټولو انحرافاتو علاج په همدې کي دئ. دا آیت ښیي چې له نورو لمونځ کونکو سره یو ځای لمونځ کول یوه الهي وجیبه ده.

قرآن د جنګ میدان ته څېرمه او د خطر په حالت کي هم د جماعت سپارښتنه کوي او فرمایي:

وَ إِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصلَوةَ فَلْتَقُمْ طائفَةٌ مِّنهُم مَّعَك وَ لْيَأْخُذُوا أَسلِحَتَهُمْ فَإِذَا سجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِن وَرَائكُمْ وَ لْتَأْتِ طائفَةٌ أُخْرَى لَمْ يُصلُّوا فَلْيُصلُّوا مَعَك وَ لْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَ أَسلِحَتَهُمْ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسلِحَتِكُمْ وَ أَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً وَ لا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن كانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضى أَن تَضعُوا أَسلِحَتَكُمْ وَ خُذُوا حِذْرَكُمْ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ لِلْكَفِرِينَ عَذَاباً مُّهِيناً * النساء: ۱۰۲

او که ته (اې پیغمبره!) له دوی سره وې او په لمانځه ورته ودرېدې، نو د دوی یوه ډله دي له تا سره ودرېږي او خپلي وسلې دي ورسره واخلي، نو کله چې ئې سجده وکړه بیا دي له تاسو نه تر شا شي او هغه بله ډله چې لا ئې لمونځ نه دئ کړی هغه دي راشي او له تا سره دي لمونځ وکړي او خپل احتیاطي تدابیر دي ونیسي او اسلحه دي ورسره واخلي، کافران دا خوښوي چې تاسو له خپلو وسلو او مال متاع غافل شئ نو په یوواري درباندي رامات شي، خو که له بارانه ځوریدئ یا بیمار وئ نو څه ګناه درباندي نشته چې خپله وسله کېږدئ، خو احتیاطي تدابیر مو ونیسئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې شکه چې الله د کافرانو لپاره سپکوونکی عذاب تیار کړی.

په دې آیت کې د صلوة خوف په اړه لاندې لارښوونې شوې.

- د لمانځه لپاره به خلک په دوو ډلو وېشل کېږي، یوه به په امام پسې اقتداء کوي او بله به پیره کوي.
- لومړۍ ډله به یو رکعت لمونځ وکړي او له سجدې وروسته به د پیرې لپاره تر شا شي. د لمانځه په وخت کې به خپله وسله له ځان سره لري.
- دوهمه ډله به راشي، اقتداء به وکړي او خپل لمونځ به پوره کړي. دوی ته ویل شوي چې هم به وسله له ځان سره لري او هم به احتیاطي تدابیر مراعاتوي، دا ځکه چې د پیرې کار بل ته حواله کول د احتیاط تقاضاء کوي، هلته باید لمانځه ته راشي چې نورو د پیرې کار پیل کړی وي.
- لومړۍ ډله به هغه وخت خپل پاته لمونځ تکمیل کړي چې دوهمه ډله له لمانځه فارغه شي او د دوی ځای ونیسي.
- لمونځ هم په دوو برخو وېشل شوی او یوازې یو رکعت ئې یوه برخه ګڼل شوې، له دې معلومېږي چې د سفر او خطر په وخت کې د قصر لمونځ څلور رکعته نه دئ، یا دوه رکعته دئ یا درې. پېغمبر علیه السلام هم په سفر کې یوازې د ماښام لمونځ درې رکعته او د نورو وختونو دوه دوه رکعته لمونځ کړی.

دلته د خوف متوسط او منځنی حالت بیان شوی، په کم خطر کې یو ځای جماعت کېدی شي او په زیات خطر کې جماعت پرېښودی شي، یوازې یوازې او حتی د قضاء کولو او وروسته اداء کولو اجازت شوی.

په دې حالت کې یوازې په هغه صورت کې له ځانه د وسلې لرې کولو اجازه شوې چې یا له ورښت نه په تکلیف وئ او یا دومره بیمار وئ چې د وسلې له حمل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاجز وئ.

په جمع د لمانځه دا سپارښتنه عامه ده، ټولو مؤمنانو ته راجع ده، يوازي د نارينه وو لپاره نه ده، د قرآن بل آيت په دې ګواهي ورکوي چي ښځي هم په دې سپارښتني کي شاملي دي، ځکه قرآن د مريم عليها السلام په اړه فرمايي:

يَمَرْيَمُ اقْنُتِى لِرَبِّكِ وَ اسجُدِى وَ ارْكَعِى مَعَ الرَّكِعِينَ* آل عمران: ٤٣

اې مريمې! خپل رب لره تسليم اوسه، سجده کوه او له رکوع کوونکو سره يو ځاى رکوع کوه.

د مريمي عليها السلام يادونه د دې لپاره راغلې چي وښيي يوه مؤمنه مېرمن بايد څنګه وي، مريم عليها السلام ته د عالم پر ټولو ښځو فضيلت ورکړى شوى، قرآن هغه د مؤمنو مېرمنو لپاره د غوره مثال او بېلګي په توګه معرفي کوي او فرمايي:

وَ ضرَبَ اللَّهُ مَثَلاً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا امْرَأَت فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَت رَب ابْنِ لى عِندَك بَيْتاً فى الْجَنَّةِ وَ نجِّنى مِن فِرْعَوْنَ وَ عَمَلِهِ وَ نجِّنى مِنَ الْقَوْمِ الظلِمِينَ * وَ مَرْيَمَ ابْنَت عِمْرَانَ الَّتى أَحْصنَت فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَ صدَّقَت بِكلِمَتِ رَبهَا وَ كُتُبِهِ وَ كانَت مِنَ الْقَنِتِينَ * التحريم: ١١-١٢

او الله د مؤمنانو لپاره د فرعون د مېرمني مثال بيانوي چي وئې ويل: اې زما ربه! ما ته په خپلي خوا کي په جنت کي يو هستوګنځي جوړ کړه او له فرعون او د ده له عمله مي وژغوره او له دغو ظالمانو مي وژغوره. او د عمران لور مريمي (مثال) چي د خپل فرج ساتنه ئې وکړه، نو موږ له خپلي روح نه څه په کي پو کړل، د خپل رب ويناوي ئې رښتيني وګڼلې او د الله کتابونه ئې هم، او له غاړه اېښودونکو څخه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مریم علیها السلام روزنه په مدرسه او جومات کې شوې او هغه ستر شخصیت ترې جوړ شوی چې د انساني تاریخ له پیل تر پای پورې هیڅ ښځه د هغې مقام ته نشي رسېدی، دې ته له نورو لمونځ کوونکو سره د لمونځ کولو سپارښتنه نه ځانګړې او خصوصي سپارښتنه ده او نه منسوخ شوی سپارښتنه. البته ښځو ته دا لارښوونه د نارینه وو له اړوند سپارښتني نه یوازې دومره توپیر لري چې نارینه جومات ته پر تلو مکلف شوی او ښځو ته دا رخصت ورکړې شوی چې کولی شي جومات ته ولاړې نشي او په خپل کور کې لمونځ وکړي، خو که ئې وغوښتل جومات ته ولاړه شي هیڅوک ئې د مخنیوي حق نه لري. دا د رسول الله ﷺ داسې مکرره سپارښتنه ده چې د حجة الوداع په تاریخي او مهمي خطبې کې ئې هم د نورو سترو سترو او مهمو امورو تر څنګ یو ځل بیا تکرار کړه.

راشئ هغه روایات هم له نظره تېر کړو چې په دې اړه راغلي.

عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ. قَالَتِ النِّسَاءُ لِلنَّبِيِّ ﷺ غَلَبَنَا عَلَيْكَ الرِّجَالُ، فَاجْعَلْ لَنَا يَوْمًا مِنْ نَفْسِكَ. فَوَعَدَهُنَّ يَوْمًا لَقِيَهُنَّ فِيهِ، فَوَعَظَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ، فَكَانَ فِيمَا قَالَ لَهُنَّ " مَا مِنْكُنَّ امْرَأَةٌ تُقَدِّمُ ثَلاَثَةً مِنْ وَلَدِهَا إِلاَّ كَانَ لَهَا حِجَابًا مِنَ النَّارِ ". فَقَالَتِ امْرَأَةٌ وَاثْنَيْنِ فَقَالَ " وَاثْنَيْنِ ". (بخاري:۱۰۲)

له ابو سعید خدري رضي الله عنه نه روایت دئ چې وایې: ښځو؛ رسول الله ﷺ ته وویل: ستا په اړه نارینه پر موږ برلاسي شوي (ستا د ویناوو په اورېدو کې دوی پر موږ وړاندي دي)، نو له خپل لوري موږ ته یوه ورځ ځانګړې کړه، نو د دوی لپاره ئې د ملاقات یوه ورځ وټاکله، (په هغه ورځ ئې) دوی ته وعظ وکړ او په خاصو امورو ئې وګمارلې، د هغو خبرو په ضمن کې چې دوی ته ئې وکړې دا هم وه چې: (له تاسي نه چې د هرې ښځې درې اولادونه ترې ومري، دا به له اور نه ورته پرده شي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې ښځې وويل: که د چا دوه اولادونه ترې ومري؟ وئې فرمايل: که دوه ئې ومري هم.

دا روايت په بخاري کي دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۱۲۴۹، ۷۳۱۰ له دغو توپيرونو سره: په يوه کي غَلَبنَا عَلَيکَ الرِّجَالُ او په بل کي ذَهَبَ الرِّجَالُ بِحَدِيثِکَ، په يوه کي فَاجْعَلْ لَنَا يَوْمًا مِنْ نَفْسِکَ، په بل کي فَاجْعَلْ لَنَا مِنْ نَفْسِکَ، يَوْمًا نَأْتِيکَ فِيهِ تُعَلِّمُنَا مِمَّا عَلَّمَکَ اللَّهُ، په يوه کي فَوَعَدَهُنَّ يَوْمًا لَقِيَهُنَّ فِيهِ او په بل کي فَاجْتَمَعْنَ، په يوه کي فَوَعَظَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ او په بل کي فَعَلَّمَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَهُ اللَّهُ ثُمَّ قَالَ، په يوه کي تُقَدِّمُ ثَلاَثَةً مِنْ وَلَدِهَا او په بل کي تُقَدِّمُ بَيْنَ يَدَيْهَا مِنْ وَلَدِهَا ثَلاَثَةً او، په يوه کي دا الفاظ هم شته فَأَعَادَتْهَا مَرَّتَيْنِ ثُمَّ قَالَ " وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ وَاثْنَيْنِ " خو، په بل کي نشته. په دغو کي ۷۳۱۰ روايت تر نورو جامع دئ.

د ابوهريره رضي الله عنه په يوه روايت کي راغلی چي: (هغه مېره شوي اولادونه ئې لابالغ شوي نه وي).

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ إِذَا تَبَرَّزْنَ إِلَى الْمَنَاصِعِ- وَهُوَ صَعِيدٌ أَفْيَحُ- فَكَانَ عُمَرُ يَقُولُ لِلنَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم احْجُبْ نِسَاءَكَ. فَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَفْعَلُ، فَخَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ زَوْجُ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي عِشَاءً، وَكَانَتِ امْرَأَةً طَوِيلَةً، فَنَادَاهَا عُمَرُ أَلاَ قَدْ عَرَفْنَاكِ يَا سَوْدَةُ. حِرْصًا عَلَى أَنْ يَنْزِلَ الْحِجَابُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الْحِجَابِ. (بخاري:١٤٦)

له عائشې رضي الله عنها نه روايت دئ چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم مېرمني رضي الله عنهن به د شپې له مخي د ضرورت رفع کولو لپاره بيدياوو ته چي پراخ او ارت ميدان وو وتلې، عمر رضي الله عنه به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ويل: مېرمني دي په حجاب وگماره، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم داسي نه کول، يوه شپه ماختستن د رسول الله صلى الله عليه وسلم مېرمن سودة

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنت زمعه رضي الله عنها چي يوه دنگه او لوړه مېرمن وه بهر ووتله، عمر رضي الله عنه پرې غږ کړ چي اې سوده! ومي پېژندلې، دا د هغي تلوسې له امله چي د حجاب د حکم نازلېدو په اړه ئې درلودو، نو الله تعالی د حجاب آيت نازل کړ.

دا روايت هم په بخاري کي په تکرار سره په دغو شمېرو۱۴۷، ۴۷۹۵، ۵۲۳۷، ۶۲۴۰ او له دغو توپيرونو سره راغلی: په يوه کي فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الْحِجَابِ او په بل کي بَعْدَ مَا ضُرِبَ الْحِجَابُ، په يوه کي کُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ او په بل کي قَدْ أُذِنَ أَنْ تَخْرُجْنَ فِي حَاجَتِكُنَّ، او په بل کي قَدْ أَذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَوَائِجِكُنَّ "راغلي.

لکه چي گورئ په دې رواياتو کي شديد تعارض دئ: يو وايي چي دا پېښه د حجاب د حکم له نازلېدو مخکي رامنځته شوې او د همدې لپاره د حجاب آيت نازل شو او بل ئې وايي چي د حجاب آيت لا د مخه نازل شوی وو او سوده رضي الله عنها په حجاب کي د وتلو په سبب پېژندل شوې وه، يو وايي چي د حجاب آيت دغه مهال نازل شو او بل وايي چي دغه مهال رسول الله ﷺ ته وحي وشوه او مېرمنو ته ئې د حاجت لپاره بهر ته د وتلو اجازه ورکړی شوه!!

امام بخاري رحمه الله له دغو متعارضو او متناقضو رواياتو نه د يوه د انتخاب په اړه هيڅ نه دي ويلي، خو که د قرآن په رڼا کي ئې وڅېړو نو په بشپړ يقين سره ويلی شو چي د حجاب اړوند آيت قطعاً په دې ارتباط نه دئ نازل شوی، قرآن په ډېر صراحت سره وايي چي د جلباب (پړوني) حکم په دې خاطر نازل شو چي منافقينو، مرجفينو او مفسدينو به هغه مېرمني ځورولې چي د لمانځه يا بل دې ته ورته ضروري کار لپاره به بهر ته وتلې، دوی ته ويل شوي چي پړونی پر ځان واچوي تر څو وپېژندل شي چي دا پاک لمني او پرهيزگاري مېرمني دي او لوچکان ئې ونه ځوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حجاب د شپې لپاره نه دئ، بلکي د ورځې لپاره دئ، د شپې له لوري او هغه هم ماخستن مهال نه څوک بې حجابه پېژندل کېږي او نه له حجاب سره، يوازي د قد او ونې د لوړوالي له مخې د يو چا په اړه گمان کېدی شي، د عمر ﵁ له شأن نه ډېره لرې ده چې د شپې له لوري او هغه هم په دغه حالت کې د پيغمبر عليه السلام پر مېرمنې غږ وکړي.

دې ته مو هم بايد پام وي چې په کليوال ژوند کې او هغه مهال چې د کورونو منځ کې بيت الخلاوې نه وې نو د سړو لپاره به بېل لوری او د ښځو لپاره بېل لوری غوره کېدو، نه به نارينه د ښځو لوري ته وتل او نه به ښځې د نارينه وو لوري ته، او معمولاً به ښځې په گډه سره وتلې.

څه چې ويل ئې ممکن دي يوازې دا دي چې ښايي عمر ﵁ غوښتل چې د پيغمبر عليه السلام مېرمنې هيڅکله له کوره بهر ونه وځي، خو الله تعالی هغوی ته له جلباب سره د وتلو اجازه ورکړه، ځکه نو په روايت کې ويل شوي چې الله تعالی دوی ته د ضرورت لپاره د وتلو اجازه ورکړه، په قرآن کې هم يوازې دغه د وتلو اجازې آيت مومو، د نه وتلو حکم او آيت نشته، نه صراحتاً او نه اشارتاً، هغه آيت چې د رسول الله ﷺ مېرمنو ته وايي: (و قرن فِي بيوتكن و لا تبرجن تبرج الجاهلية الاولى: او په خپلو کورونو کې تم شئ او د مخکني جاهليت په څېر ځان له سينگار سره مه څرگندوئ). د دې آيت معنی هيڅکله دا نه ده چې له کوره هيڅ مه وځئ، که داسې وی نو امهات المؤمنين به جومات ته نه تللې، جهاد ته به نه وتلې، حج ته به نه تللې، د پيغمبر عليه السلام د موعظو اورېدو ته به نه ورتلې.

په دغو متعارضو رواياتو کې دا روايت غوره او ارجح برېښي:

عَنْ عَائِشَةَ- ﵂- قَالَتْ خَرَجَتْ سَوْدَةُ بَعْدَ مَا ضُرِبَ الْحِجَابُ لِحَاجَتِهَا، وَكَانَتِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

امْرَأَةً جَسِيمَةً لاَ تَخْفي عَلَى مَنْ يعْرِفُهَا، فَرَآهَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فقال يا سودة أما واللَّهِ مَا تَخْفَيْنَ عَلَيْنَا، فَانْظُرِي كَيْفَ تَخْرُجِينَ، قَالَتْ فَانْكَفَأَتْ رَاجعَةً، وَرَسُولُ اللَّهِ ﷺ فِي بَيْتِي، وَإِنَّهُ لَيَتَعَشَّى. وَفي يَدِه عَرْقٌ فَدَخَلَتْ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي خَرَجْتُ لِبَعْضِ حَاجَتِي فَقَالَ لِي عُمَرُ كَذَا وَكَذَا. قَالَتْ فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ ثُمَّ رُفِعَ عَنْهُ وَإِنَّ الْعَرْقَ فِي يَدِهِ مَا وَضَعَهُ فَقَالَ " إِنَّهُ قَدْ أُذِنَ لَكُنَّ أَنْ تَخْرُجْنَ لِحَاجَتِكُنَّ ". بخاري: ٤٧٩٥

له عائشي رضي الله عنها روايت دئ چي د حجاب له لازمېدو وروسته، سوده رضي الله عنها (په حجاب کي) د کوم ضرورت لپاره بهر ووتله، هغه دنگه مېرمن وه، چا چي پېژندله نو پرې پټه نه پاته کېده، عمر رضي الله عنه وليده او ورته وئې ويل: اې سوده! والله چي پر موږ پټه نه پاته کېږې، وگوره څنگه وځې! وايي: هغه بېرته راستنه شوه، په داسي حال کي چي رسول الله ﷺ زما په کور کي وو او ماښامنی ئې خوړلو او په لاس کي ئې غوښين هډوکی وو، هغه راغله او وئې ويل: يا رسول الله! زه د ځينو اړتياوو لپاره بهر ووتلم او (عمر رضي الله عنه) دا دا راته وويل، (عائشه رضي الله عنها) وايي: الله تعالی هغه ته وحي وکړه، بيا په داسي حال کي ترې لوړه شوه چي هغه غوښين هډوکی ئې لا په لاس کي وو او وئې فرمايل: يقيناً چي تاسو ته د خپلو حاجتونو او اړتياوو لپاره د وتلو اجازه درکړی شوې.

د دې روايت له مخي دوه خبري کولی شو: لومړی دا چي مخکنی روايت ناقص دئ، د پېښي په اړه ئې وينا دقيقه نه ده او دوهم دا چي د توجيه وړ نه برېښي چي عمر رضي الله عنه به د رسول الله ﷺ د دې وينا له اورېدو وروسته هم په خپلي رأيي ټينگار کړی وي!! او ښځي به ئې جومات ته له تلو منعه کړې وي.

حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَيُّوبَ قَالَ سَمِعْتُ عَطَاءً قَالَ سَمِعْتُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ أَشْهَدُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ - أَوْ قَالَ عَطَاءٌ أَشْهَدُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ خَرَجَ وَمَعَهُ بِلَالٌ، فَظَنَّ أَنَّهُ لَمْ يُسْمِعِ النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ، وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ، فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُلْقِي الْقُرْطَ وَالْخَاتَمَ، وَبِلَالٌ يَأْخُذُ فِي طَرَفِ ثَوْبِهِ. (بخاري: ۹۸)

له ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دئ چي: یو ځل رسول الله ﷺ په داسي حال کي (د نارینه وو له لیکو یا منځ نه) ووت چي بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ورسره وو (ښځو ته ورغی) گمان ئې وکړ چي ښځو د ده وعظ او نصیحت نه دئ اورېدلی، نو هغوی ته ئې وعظ وکړ، د صدقې ورکولو امر ئې ورته وکړ، نو ښځو خپلي لښتۍ او گوتې د صدقې په توگه اچولې او بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپلي لمن کي راټولولې.

دا روایت په تکرار سره په دغو شمېرو۹۶۲، ۹۶۴، ۹۷۵، ۹۷۷، ۹۷۹، ۹۸۹، ۱۴۳۱، ۱۴۴۹، ۴۸۹۵، ۵۲۴۹، ۵۸۸۰، ۵۸۸۱، ۵۸۸۳، ۷۳۲۵ او له دغو توپیرونو سره راغلی: په پورتني کي دا نه دي ویل شوي چي ښځو ته له وعظ نه مخکي لمونځ شوی، بیا خطبه ورکړی شوې، خو په ځینو نورو کي دا مطلب ویل شوی، په دې کي دا هم نه دي ویل شوي چي د بلال په څادر یا لمن کي به ئې خپلي گاڼې غورځولې خو په نورو کي دا مطلب هم راغلی، په یوه کي یوازي دومره ویل شوي چي د عید لمونځ مي له رسول الله ﷺ، ابوبکر، عمر او عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره کړی ټولو به له خطبې مخکي لمونځ کاوو.، په یوه کي دا هم ویل شوي چي رسول الله ﷺ د الممتحنه د سورې دا آیت ولوستو: (یَا أَیُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَکَ الْمُؤْمِنَاتُ یُبَایِعْنَکَ) الآیَةَ کله چي ترې فارغ شو نو وئې فرمایل: آیا تاسو همدا بیعت کوئ؟ یوې ځواب ورکړ چي هو؛، په یوه کي ویل شوي چي د کمکي اختر لمونځ ئې وکړ او په بل کي راوي شک کوي چي د کمکي اختر که د لوی اختر لمونځ.

د دې روایت په اړه څو خبري توجه غواړي: د دې روایت په اصلي مطلب هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library
سم پوهېدی شو چي نور روایات هم وګورو، د نورو روایاتو په رڼا کي راته جوته کېږي چي دا د اختر لمونځ وو، پیغمبر علیه السلام لومړی لمونځ کړی، بیا ئې خطبه ویلې، بیا د خلکو له منځه تېر شوی او د ښځو د لمانځه ځای ته ورغلی، هغوی ته ئې بیا وعظ کړی، د صدقې ورکولو ته ئې هڅولې او هغوی خپلي ګانې صدقه کړې.

دا او دې ته ورته ګڼ شمېر روایات ښیي چي د پیغمبر علیه السلام په دوران کي ښځو د جماعت په لمونځونو کي شرکت کولو، د ودرېدو ځای ئې بېل او د نارینه وو تر شا وو، پیغمبر علیه السلام د هغوی روزني ته خاصه توجه کوله، د اختر په لمانځه کي له عامي خطبې وروسته د ښځو خوا ته ورغلی او هغوی ته ئې بیا وعظ کړی. خو متأسفانه اوس حالت داسي دئ چي ښځي مېلو، ودونو، زیارتونو ته تلی شي، نه خاوندان او خپلوان پرې اعتراض کوي او نه واعظان، خو جومات ته ئې تګ ممنوع دئ!! څوک چي وايي اوس د فساد او فتنو دور دئ نو ځکه جومات ته د ښځو تګ ښه نه دئ!! هغوی ته وایو:

- له فساد او فتنو نه د ښځو د مخنیوي لار خو دا ده چي هغه جومات ته راشي او وعظ واوري.
- څوک وايي چي د پیغمبر علیه السلام په وخت کي تر نن نه فتنې لږي وې؟! دا خبره یوازي هغه څوک کولی شي چي له حقایقو بې خبر وي، په مدینه کي ښځي هغه مهال جومات ته تللې چي محدود شمېر کسانو ایمان راوړی وو، قرآن وايي چي ډېر ځلي به منافقینو، مرجفینو او د بیمارو زړونو خاوندانو هغه ښځي ځورولې چي جومات ته به تلې، د دغو مفسدینو له امله ئې ښځي جومات ته له تلو منعه نه کړې بلکي امر ئې ورته وکړ چي له جلباب سره جومات ته ولاړي شي.
- آیا څوک دا حق لري چي ووايي: اوس د فتنې دور دئ نو ښځي دي حج نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، یا د حج په دوران کي دي مخ او لاسونه هم پټوي؟ که دا حق نه لرو نو له جومات نه ئې څنګه منعه کوو؟ رسول الله ﷺ خو د خپل مبارک ژوند په وروستیو شپېو او په خپلو وروستنیو خطبو کي فرمایلي: که ستاسو ښځې غواړي چي په جومات کي لمونځ وکړي نو مخنیوی ئې مه کوئ!!!

- څوک چي وایي د عمر رضی الله عنه په وخت کي دا پرېکړه وشوه چي ښځې دي جومات ته نه ځي! هغوی ته وایو: دا نه د یوه حکم د تغییر په معنی اخیستی شو او نه د تعطیل په معنی، یوازي دومره ویلی شو چي که دا ادعاء صحیح وي نو دا پرېکړه هغه مهال د خاصو ظروفو او شرایطو په وجه شوې، داسي نه ده چي د دې پرېکړې مخالفت حرام او ناجائز وي او نن چي د اسلام او مسلمانانو مصلحت دا تقاضاء او غوښتنه کوي چي د ښځو دیني او اخلاقي روزني ته لازیاته توجه وشي او له نورو خواوو ئې مخ جومات ته واړوو نو دا کار حرام او ناروا وګڼو!! حرام هغه دي چي الله تعالی او د هغه رسول حرام کړي.

ځیني وایي: کاش اوس داسي جوماتونه او داسي واعظان وی چي د ښځو روزنه وکړی شي،... د کومي فتنې له مخي چي د ښځو لمونځ په کور کي غوره ګڼل شوی کېدی شي هغه په جومات کي د ننه احتمالي فتنه وي نه د لاري په اوږدو کي. د دوی په ځواب کي باید ووایو: که رسول الله ﷺ ښځو ته ویلي وی چي ستاسو لمونځ تر جومات نه په کور کي غوره دئ نو یوه ښځه به هم جومات ته نه وه تللې، د ښځو له عمل او د رسول الله ﷺ له ویناوو معلومېږي چي د پیغمبر علیه السلام تر رحلت پوري ښځې جومات ته راتلې، او رسول الله ﷺ په خپلي وروستۍ خطبې کي دا سپارښتنه کړې ده چي که ښځو غوښتل جومات ته ولاړي شي مخنیوی ئې مه کوئ، رسول الله ﷺ حتی د عمر رضی الله عنه دا مطالبه ونه منله چي ویل ئې: یا رسول الله! خپلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمني دي بهر ته له وتلو منعه کړه، رسول الله ﷺ له څه ځنډ نه وروسته وفرمايل: ما ته وحي شوې چې دوی منعه نه کړم. موږ يوازي د دومره څه ويلو حق لرو چې ووايو: جوماتونه بايد داسي جوړ شي چې هم د ښځو د لمانځه ځای بېل وي او هم ئې د تګ راتګ لاره بېله وي، خو هغه حلال کار نشو حرامولی چې رسول الله ﷺ نه دئ تحريم کړی. د عمر رضي الله عنه په اړه په رواياتو کي راځي چې هغه له کوره د ښځو له وتلو او د جومات ته تلو سره موافق نه وو، خو عملاً ئې حالت داسي وو چې دی به مخکي جومات ته روان وو او مېرمن به ئې ورپسې وه خو هغه ئې منعه کولی نشوی.

عن أُمِّ عَطِيَّةَ انها سَمِعت النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ " يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ، أَوِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، وَيَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ الْمُصَلَّى ". قَالَتْ حَفْصَةُ فَقُلْتُ الْحُيَّضُ فَقَالَتْ أَلَيْسَ تَشْهَدُ عَرَفَةَ وَكَذَا وَكَذَا. (بخاري:٣٢٤)

له ام عطيه رضي الله عنها نه روايت دئ چې وايي: له رسول الله ﷺ نه مي اورېدلي چې وئې فرمايل: (نوې رسېدلې ښځې، او ستري يا په پرده کي ناستي ښځې، او حائضې ښځې دي وځي او د خير په کارونو (د عيد لمونځ) او د مسلمانانو په دعاء کي دي ګډون کوي، خو حائضې ښځې دي له مصلی نه ګوښه ودرېږي، حفصه وايي: ومي ويل: آيا حائضې ښځې هم؟ دې وويل: آيا حايضې ښځې عرفات او...او... ته نه حاضرېږي؟!

دا روايت هم شپږ ځلي نور په دغو شمېرو ٣٥١، ٩٧١، ٩٧٤، ٩٨٠، ٩٨١، ١٦٥٢او له دغو توپير سره په بخاري کي راغلی: په يوه کي يَخْرُجُ الْعَوَاتِقُ وَذَوَاتُ الْخُدُورِ، أَوِ الْعَوَاتِقُ ذَوَاتُ الْخُدُورِ وَالْحُيَّضُ، وَلْيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُؤْمِنِينَ، په بل کي أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ وَذَوَاتِ الْخُدُورِ، فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِينَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَدَعْوَتَهُمْ او په بل کي کُنَّا نُؤْمَرُ أَنْ نَخْرُجَ يَوْمَ الْعِيدِ، حَتَّى نُخْرِجَ الْبِكْرَ مِنْ خِدْرِهَا، حَتَّى نُخْرِجَ الْحُيَّضَ فَيَكُنَّ خَلْفَ النَّاسِ، فَيُكَبِّرْنَ بِتَكْبِيرِهِمْ، وَيَدْعُونَ بِدُعَائِهِمْ يَرْجُونَ بَرَكَةَ ذَلِكَ الْيَوْمِ وَطُهْرَتَهُ، په يوه کي دا هم راغلي قَالَتِ امْرَأَةٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ. قَالَ لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا، لکه چي گورئ په دغو روايتونو کي ويل شوي چي مورږ ته به امر کېدو چي د عيد د لمانځه لپاره ووځو، پيغلي، زړې او حتى حائضې به هم وتلې، په خپل ټاکلي ځای کي به ودرېدې، په لمانځه کي به ئې برخه اخيستله، حائضې به له مصلى بهر په يوه گوښه کي وې او دا صحنه به ئې ليدله، يوې مېرمني له رسول الله ﷺ نه پوښتنه کړې وه چي که څوک جلباب ونه لري او د همدې لپاره د عيد لمانځه ته ونه وځي څه گناه پرې شته؟ ورته وئې فرمايل: خپلي خورلړي دي جلباب ورواغوندي.

په دې کي ډېر لوی حکمت دئ، له داسي غونډو نه انسان ډېر زيات متأثره کېږي، د همدې لپاره رسول الله ﷺ مېرمنو ته امر کاوو چي په دغو غونډو کي برخه واخلي. ډېره عجيبه ده چي د داسي څرگندو نصوصو په شته والي کي ځيني خلک جومات ته د ښځو تلل ناروا گڼي!! حفصه بنت سيرين وايي زما د خور مېړه له رسول الله ﷺ سره په دولسو غزواتو کي برخه اخيستي وه چي په شپږو کي ئې زما خور هم ورسره وه، هغوی به مريضان او زخميان تداوي کول.

عَنِ عَائِشَةَ قَالَتْ لَقَدْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يُصَلِّي الْفَجْرَ، فَيَشْهَدُ مَعَهُ نِسَاءٌ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ مُتَلَفِّعَاتٍ فِي مُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ. (بخاري: ۳۷۲)

له عائشې رضي الله عنها نه روايت دئ چي وايي: رسول الله ﷺ به چي د سهار لمونځ کاوو يو شمېر مسلماني مېرمني به هم په داسي حال کي چي ځانونه به ئې پخپلو ټکريو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي نغښتي وو لمانځه ته راتللې، له لمانځه وروسته به بېرته خپلو کورونو ته تللې او هيچا به نه پېژندلې چي څوک دي.

دا روايت هم درې ځلي نور په دغو شمېر ۵۷۸، ۸۶۷، ۸۷۲ او له دغو توپيرونو سره راغلی: په يوه کي مُتَلَفِّعَاتٍ فِي مُرُوطِهِنَّ، په بل کي مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، په يوه کي ثُمَّ يَرْجِعْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، په بل کي يُصَلِّي الصُّبْحَ بِغَلَسٍ فَيَنْصَرِفْنَ نِسَاءُ الْمُؤْمِنِينَ، لاَ يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ، أَوْ لاَ يَعْرِفُ بَعْضُهُنَّ بَعْضًا او په بل کي فَيَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ، مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ او په بل کي مَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ، له دې توپيرونو سره سره د رواياتو مطلب يو دئ او هغه دا چي مسلماني مېرمني به جومات ته تللې، د سحر په لمانځه کي به ئې هم برخه اخيسته، رسول الله ﷺ به د سحر لمونځ په داسي وخت کي کاوو چي تر لمانځه وروسته به هم لا دومره تياره وه چي مېرمني به نه پېژندل کېدې.

له دې روايت نه دوه تعبيرونه شوي: يو دا چي مېرمني به په ټکريو کي داسي پټي وې چي چا به نه پېژندلې او بل دا چي دومره تياره به وه چي دوی به نه پېژندل کېدې، لومړی تعبير په دې دليل کمزوری او ناسم دئ چي خبره د سحر د تيارې (غلس) ده؛ نه په جامه کي د پټېدو څرنگوالی، له دې روايته نه يوازې دا مطلب نشي اخيستل کېدی چي د ښځو مخونه به پټ وو بلکي په خلاف د دې ښيي چي د دوی مخونه به لوڅ وو خو د تيارې په وجه به نه پېژندل کېدې. لومړی ادعاء به په هغه صورت کي صحيح گڼل کېده چي د (غلس: تياره) يادونه نه وی شوې يا د سحر له لمانځه پرته د ټولو لمونځونو يا د ورځې د کوم لمانځه يادونه شوې وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حجاب او شرعي لباس

له هر هغه مسلمان سره چي غواړي د ژوند په ټولو برخو کي د شريعت له حکم او غوښتنو سره سم عمل وکړي دا پوښتنه راولاړېږي چي د نارينه او ښځينه شرعي او ضروري لباس په اړه د اسلام حکم څه دئ؟ د نارينه لباس به څنګه او د ښځو جامه به څنګه وي؟ آيا هغه جامه چي ښځي او سړي ئې د حج په دوران کي پر اغوستو مکلف شوي، نه به څه ترې کموي او نه به څه پرې زياتوي، آيا په نورو حالاتو کي همدومره جامه کافي ده؟ متأسفانه د نارينه او ښځينه شرعي لباس او د حجاب په اړه هم په امت کي د اختلاف شاهد يو، ځيني خاص لباس ته د سنت په سترګه ګوري، د نارينه لپاره سر لوڅول او د ښځو لپاره مخ لوڅول هم ګناه ګڼي، د نارينه او ښځينه فرضي لباس په اړه بېل بېل حدود لري او بېل بېل معيارونه کاروي. راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه حکم کوي او رسول الله ﷺ موږ ته څه لارښوونه کړې. قرآن فرمايي:

[illegible]

[illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ﻧﺭ ÆÎ ŷĝ9qãç äŝ/#ä ﻧﺭ ÆÎ ŷĝl$/#ä ﻧﺭ ÆÎ ŷĝl9qãç ŵĵ £ĝF^ƒ‡ šú ï‰Ťã

ﻧﺭ £ĝyl°q z Ûĺ/ ﻧﺭ ÆÎ ŷĝl°q ž Ĵ Ûĺ/ ﻧﺭ £ĝyl°q ž Ĵ ﻧﺭ ÆÎ ŷĝ9qãç ä$Ÿå ﻧﺭ ÆÎ ŷĝl$Ÿå

ﺭ É‰ `ŀ9$ `Ï þ/ö̈ŷM$ 'îré Îöî šú üëÎ»F9$ ﺭ £ĝãJ ﺭ ŐM3=B $B ﻧﺭ £ĝl$¡Î

$B N=èä £ĝlã õÎ ûøŏ„ ŵr ä$¡Ÿ9$ÏN°'ŏã 4?ã {rãgâƒ Ó9 šú ï‰$Èŷè9$

ÇÌÈ šc qßÎŷê‡ß=è9 šc qäß$B3$mƒ $èšÏd «$'<Ĵ {ÿqçêr £ĝl^ƒ‡ `Ï ûüŸÿå

النور: ۳۰-۳۱

مؤمنانو ته ووایه چي د خپلو سترګو (کارول) راکم کړي او خپل عورت وساتي، دا ورته ډېر غوره دئ، یقیناً چي الله په هغه څه ښه خبر دئ چي دوی ئې کوي. او باایمانه ښځو ته ووایه چي د خپلو سترګو (کارول) راکم کړي، او خپل فروج وساتي او خپله ګاڼه ښکاره نه کړي، مګر هغه ئې چي ښکاره وي او خپل ټکري دي په خپل ګرېوان واچوي او خپله ګاڼه دي له خپلو مېړونو، خپلو پلرونو، د خپلو مېړونو له پلرونو، خپلو زامنو، د خپلو مېړونو له زامنو، خپلو وروڼو، ورېرونو، خورییو، خپلو ښځو، خپلو وینځو، هغو ترلاس لاندي سړو چي بې شهوته دي او له هغو ماشومانو پرته چي د ښځو په عورت خبر نه دي بل چا ته نه ښکاروئ او خپلي پښې دي داسي (پر زمکه) نه وهي چي هغه ګاڼه ئې معلومه شي چي پټوي ئې او اې مؤمنانو! ټول د الله لوري ته رجوع او توبه وکړئ چي بریالي شئ.

په دغو دواړو آیتونو کي په لږ دقت سره دا نتایج ترلاسه کولی شو:

- که په حجاب کي مخ شامل وی نو په دېرشم آیت کي دې حکم مورد نه درلود

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي مؤمنانو ته ووایه: خپلي سترګي ټيټي واچوي، دا حکم خو په هغه صورت کي وارد دئ او مجال لري چي د ښځو مخ لوڅ وي.

- د سترګو ټيټ اچول غوره کار دئ؛ له ګناه نه د مخنيوي وسيله دئ، کتل خو پرېږدئ حتی له زنا مخکي ټول ناروا کارونه په صغيره ګناهونو کي راځي.
- د ښځو لپاره د سترګو ټيټ اچول همغه حکم لري چي د نارينه وو لپاره ئې لري، په دې دواړو کي په تفکيک او امتياز باور درلودل د دې آيتونو د روحيې خلاف خبره ده.
- له ( $g¥B •gß $B žvĵ £gF^ƒÎ šú ïY‰ãŸwr ) نه په څرګنده توګه معلومېږي

چي له زينت نه مراد ګاڼه ده، ځکه د آيت په دغي فقرې کي ( Ẅr „ û£Ø ö'Î ãĩ£ĝ ) په ډېر وضاحت سره همدا مطلب توضيح شوی، په

( N=ëå $B ûüÿ£ã `Ï £ĝF^ƒÎ ) مخکني کي ما ظهر منها او په دې کي ما يخفين من زينتهن ويل شوي، په زمکه د پښو په کلکو وهلو سره د ګاڼې غږ اورېدل کېږي، د نامحرم توجه جلبوي، که دلته زينت له ګاڼې پرته په بله معنی نه شو اخيستی نو په مخکنيو کي ئې هم په بله معنی اخيستل بې دليله خبره ده. دا داسي ده لکه د يوسف د سورې په ۴۲ آيت کي چي ويل شوي (فَأَنساهُ الشيْطنُ ذِكرَ رَبِّهِ) او ورپسې په ۴۵ آيت کي ويل شوي (وَ قَالَ الَّذِى نجَا مِنهُمَا وَ ادَّكَرَ بَعْدَ أُمَّةٍ) وروستی (وادکر) ښيي چي (فانساه الشيطان) هم دغه غلام ته راجع دئ نه يوسف عليه السلام ته، دلته هم که له (ما يخفين) څخه مراد ګاڼه وي نو له (ما ظهر منها) څخه هم له ګاڼې پرته بل څه مرادول اشتباه ده. که څه هم زينت له ګاڼې علاوه په نورو معانيو هم راغلی.

موږ په هغه صورت کي ادعاء کولی شوی چي مخ هم په خمار سره پټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضروري دي چي تر (جيوبهن) نه مخکي د وجوههن ذکر راغلی وی، که مراد د مخ پټول وی نو دوه خبري ضروري وې: ۱- باید په صراحت سره د مخ (وجوههن) یادونه شوې وی، ۲- د مخ لپاره باید د غطاء لفظ راغلی وی نه د یضربن.

له ما ظهر منها څخه نه مراد مخ دئ او نه جامه، بلکي هغه ګاڼه ده چي ښځي ئې په مخ او لاسونو کي کاروي، لکه ګوتې یا ټیک. البته د ګاڼې له نه ښکاره کولو نه په اصل کي مراد د وجود هغه برخه نه ښکاره کول دي چي د تزئین لپاره ئې ګاڼه کارول کېږي، لکه غاړه، سینه، غوږونه. د آیت له دې برخي نه دا هم معلومېږي چي که ښځو خپل مخ سینګار کړی وي، سترګي ئې توري او شونډي ئې سرې کړې وي ورته روا نه دي چي لوڅ ئې کړي، ځکه چي د زینت له ښکاره کولو نه منعه کړی شوې دي. او زینت په اصل کي د دې لپاره وي چي د بل توجه ځان ته جلب کړي، هر هغه کار چي ښځي ئې د نامحرم د توجه راجلبولو لپاره وکړي ناروا دئ.

د مخ پټول په هغه صورت کي فرض ګڼلی شو چي: ۱- د پټولو په اړه ئې د نص الفاظ صراحت ولري، ۲- که دا فرض وی نو د حج په دوران کي به ښځي د یوه فرض په ترک کولو نه مکلف کېدې. ځوک چي حج ته د استثنایي حالت نوم ورکوي اشتباه کوي، په حقیقت کي حج معیاري حالت دئ، څه چي په حج کي جایز وي په بل وخت کي په اولی درجه جایز دي.

که ځوک ډېره غلو کوي نو دومره دي ووایي چي مخ پټول مستحب دي، نه دا چي فرض او واجب ئې وګڼي، هغه هم محیط ته په پام سره.

د نارینه او ښځي لپاره د فرض حجاب حد همغه دئ چي په حج کي باید مراعات شي، تر دې زیات ئې په مستحباتو کي راځي.

دې ته باید متوجه وو چي د نارینه او ښځي لپاره د احرام لباس یو داسي معیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دئ چي ښيي مسلمان نارينه او مسلمانه ښځه په همدومره لباس مکلف دي، تر دې زيات ئې نه فرض دي او نه واجب، بلکي مستحب دي او د دوی خوښي او ظروفو ته پرېښودل شوي، که د حج په څېر ستر عبادت کي، د بيت الله خوا ته، د لکونو خلکو په منځ کي دومره لباس کافي وي؛ نو په نورو وختونو کي خو په اولی درجه کافي دئ، څوک چي وايي نارينه د سر په پټولو او ښځه د مخ او لاس په پټولو مکلف دي په دين کي غلو او بې ځايه سختي کوي او خلک په هغه څه مکلف کوي چي الله تعالی نه دي پرې ګمارلي، که د ښځي لپاره مخ او لاسونه پټول ضروري وی نو الله تعالی به د حج په دوران کي پرې مکلفه کړې وه او که د نارينه لپاره سر پټول ضروري وی نو الله تعالی به په حج کي پرې مکلف کړی وو. ښځي به په دې نه ګمارل کېدې چي د حج په دوران کي به نه مخ پټوي او نه به دستکشونه په لاس کوي، نارينه به پر دې نه ګمارل کېدل چي سر به نه پټوي او داسي بوټونه به نه پښو کوي چي تر پښو ئې زياتي پښې ورپټي کړي، په لوڅ سر، له پکول، خولۍ، پټکي او لونګۍ سره لمونځ کول يو برابر دي، او حتی ويلی شو چي که څوک د الله تعالی په وړاندي د خپل عجز او انکسار ښودلو لپاره لوڅ سر ودرېږي نه يوازي ګناه ئې نه ده کړې بلکي د ثواب داسي کار ئې کړی چي د حج په دوران کي ئې کوي. د احنافو د فقهاوو رأيه همدا ده، متأسفانه داسي کسان هم شته چي ځان ته اهل حديث وايي خو عملاً د هغو احاديثو هم مخالفت کوي چي بخاري ئې صحيح ګڼي، وايي: د حج په دوران کي ښځي بايد نقاب پر مخ راکش کړي خو داسي چي له مخ سره به ئې نه لګېږي!! ګواکي په دې سره ئې هم پر حديث عمل کړی او هم ئې پر خپل مذهب!! ځيني ئې وايي چي په لوڅ سر لمونځ کول مکروه دي!! که پوښتنه وکړو چي د کوم نص په استناد؟ قرآن خو دا خبره نه ده کړې، په احاديثو کي خو دا خبره نه ده شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله صلی الله علیه و سلم خو هم د حج په دوران کي لوڅ سر لمونځ کړی او هم په ځینو نورو وختونو کي، تاسو د څه په استناد دا خبره کوئ؟! داسي څه به ترې واورې چي حیران به شې، وایي: الله تعالی فرمایلي: خذوا زینتکم عند کل مسجد، د دې آیت ترجمه هم داسي کوي: هر جومات ته د تلو په وخت کي خپل زینتي لباس واغوندئ، خو نه د دې آیت ترجمه دغسي ده او نه ئې مطلب دا دئ چي پګړۍ یا خولۍ په سر کړئ، ځکه دلته مسجد د اسم زمان په توګه راغلی نه د اسم مکان، مراد ئې د سجدې او لمانځه وخت دئ نه جومات، او مقصد ئې دا دئ چي د هغو خلکو غلطه عقیده تردید کړي چي وایي په زړو، ځیرو، خیرنو، پینه شوو، وړینو، کرباسي او ملنګي جامو کي لمونځ کول ډېر ثواب لري!! الله تعالی فرمایي چي تر ټولو ښکلې جامې مو د لمانځه لپاره واغوندئ، الهي شریعت موږ ته وایي چي جومات ته د تلو په وخت کي ښې جامې واغوندئ، عطر ووهئ، که مو داسي څه خوړلي وو چي له خولې مو بد بوی تلو یا د ډېرو خولو په سبب بد بوی درنه تلو جومات ته له تللو ډډه وکړه، ځان پاکیزه او ستره کړه بیا جومات ته ولاړ شه. د خذوا زینتکم معنی او مراد دا دئ، نه د خولۍ او پګړۍ په سر کول.

د محرم (حج کوونکي) د لباس د څرنګوالي په اړه د بخاري روایت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ. وَعَنِ الزُّهْرِيِّ عَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ فَقَالَ " لاَ يَلْبَسِ الْقَمِيصَ وَلاَ الْعِمَامَةَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ ثَوْبًا مَسَّهُ الْوَرْسُ أَوِ الزَّعْفَرَانُ، فَإِنْ لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ ". (بخاری: ١٣٤)

له ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دئ چي: یوه سړي له رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چي مُحرِم (چا چي احرام تړلی وي) به څه اغوندي؟ وئې فرمایل: نه به کمیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغوندي، نه پټکي، نه پرتوګ، نه چپنه، او نه داسي جامه چي عطر او زعفران پرې وهل شوي وي، او که پڼې (څپلکي) ونه مومي نو موزې دي واغوندي؛ خو داسي دې پرې کړي چي تر ښنګريو (بجړيو) لاندي شي.)

دا روايت په بخاري کي لس ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۶۶، ۱۵۴۲، ۱۸۳۸، ۱۸۴۲، ۵۷۹۴، ۵۸۰۳، ۵۸۰۵، ۵۸۰۶، ۵۸۴۷، ۵۸۵۲، په دوی کي دا توپيرونه تر ستر ګو کېږي: په ځينو کي د مفرد په صيغه راغلي لاَ يَلْبَسُ الْقَمِيصَ وَلاَ السَّرَاوِيلَ وَلاَ الْبُرْنُسَ وَلاَ ثَوبًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ وَلاَ وَرْسٌ او په ځينو کي د جمع په صيغه لاَ يَلْبَسُ الْقُمُصَ وَلاَ الْعَمَائِمَ وَلاَ السَّرَاوِيلاَتِ وَلاَ الْبَرَانِسَ وَلاَ الْخِفَافَ، إِلاَّ أَحَدٌ لاَ يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ په ځينو کي وَلاَ تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ أَوْ وَرْسٌ او په ځينو کي أَنْ يَلْبَسَ الْمُحْرِمُ ثَوبًا مَصْبُوغًا بِوَرْسٍ أَوْ بِزَعْفَرَانٍ، په ځينو کي دا هم راغلي لاَ تَتَنَقَّبِ الْمُحْرِمَةُ وَلاَ تَلْبَسِ الْقُفَّازَيْنِ: ښځې دي نه پر مخ نقاب اچوي او نه دي دستکشي په لاس کوي، په ځينو کي حَتَّى يَكُونَا تَحْتَ الْكَعْبَيْنِ په ځينو کي حَتَّى يَكُونَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ. د مفهوم او معنی له پلوه ټول سره ورته دي، خو ځيني ئې مختصر او ځيني ئې جامع دي. تر ټولو جامع ئې ۱۸۳۸ روايت دئ چي په هغه کي د ښځو په اړه هم لارښوونه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جنازې په لمانځه کې فاتحه لوستل!!

په مسلمانانو کې یوه بله اختلافي مسئله دا ده چې ځینې د جنازې په لمانځه کې د فاتحې لوستل، هغه هم په لوړ غږ سره، نه یوازې سنت ګڼي بلکې د فرض په سترګه ورته ګوري. دوی د بخاري پر دې حدیث استناد کوي:

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ سَعْدٍ عَنْ طَلْحَةَ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما. ح حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما عَلَى جَنَازَةٍ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ قَالَ لِيَعْلَمُوا أَنَّهَا سُنَّةٌ. (بخاری:۱۳۳۵)

له طلحه نه روایت دئ چې وایي: د ابن عباس رضي الله عنهما په اقتداء کې مې د یوې جنازې لمونځ وکړ چې فاتحه (الحمدالله) ئې پکې ولوستله بیا ئې وویل: لدې امله مې فاتحه ولوستله چې خلک پوه شي دا یو سنت دئ.

د دې روایت په اړه باید څو خبرې په پام کې ولرو:

دا روایت د سند له مخې تر مطلق غریب اوښتی، په څلورو طبقو کې یو یو راوي لري، د متن له مخې له هغو روایاتو سره تعارض لري چې وایي د جنازې په لمانځه کې قرائت نشته.

له صحابه وو څخه عمر بن الخطاب، علي بن أبي طالب، ابن عمر او أبو هریرة

(c) ketabton.com: The Digital Library

رَضِيَ اللهُ عَنْهُم او له تابعينو نه عطاء، طاؤس، سعيد بن المسيب، ابن سيرين، سعيد بن جبير، الشعبي او الحكم په جنازې کې قرائت مکروه ګڼلو.

د بخاري په دې روايت کې دا نه دي ويل شوي چې قرائت په جهر سره وو که خفيه، لمونځ د شپې شوی که د ورځې، ځکه څوک چې په قرائت قائل دي هغوی هم وايي چې که د جنازې لمونځ په ورځ کې وشي بايد قرائت په جهر سره نه وي، داسې لکه د ماسپښين او مازديګر په لمونځونو کې چې قرائت په جهر سره نه وي.

د بخاري له دغه روايت نه هم معلومېږي چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دا کار هسې د تعليم لپاره کړی، خلک ترې خبر نه وو، معمول دا وو چې قرائت به نه کېدو، له دې نه هم د هغې وينا تأييد ترلاسه کېږي چې وايي په جنازه کې قرائت نشته. د جنازې په لمانځه کې نه قرائت شته، نه سجده شته، نه رکوع او نه ناسته، دا په اصل کې د مړي لپاره دعاء ده، د قرآن لارښوونه دا ده چې دعاء بايد په ټيټ ږغ او زاريو سره وشي.

له دې روايت نه يوازې دا انتباه اخيستی شو چې کېدی شي فاتحه د دعاء په توګه ولوستل شي نه د تلاوت په توګه.

يادونه: د روسانو په ضد د جهاد په دوران کې د يوه مجاهد د جنازې لمانځه د امامت لپاره يو افغان ملا چې نوی سلفي شوی وو مخکې شو، په لمانځه کې ئې نه يوازې په جهر سره د فاتحې لوستل پيل کړل بلکې ډېر نور داسې څه ئې وکړل چې په افغانانو کې تر هغې ورځې چا نه وو ليدلي، ځينو لمونځ پرېښود، ځينو زړه نا زړه لمونځ ته دوام ورکړ، په پای کې لويه لانجه رامنځته شوه، چې ډېرې ورځې ئې دوام وکړ!! نه پوهېږم هغه ولې دا کار وکړ، آيا د بخاري دا روايت ئې لوستلی وو او ګمان ئې دا وو چې دا سنت دئ او غوښتل ئې پر يوه سنت عمل وکړي او که غوښتل ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربي مرستندویه ټولنو ته وښیي چي دی یو زړه ور سلفي دئ!! خو دې ته ئې پام نه وو چي رسول الله ﷺ په امت کي اختلاف راولاړول نه خوښوي، په ځانګړې توګه په فرعي مسایلو باندي، رسول الله ﷺ خو په فرعي مسایلو د لانجو له راولاړولو نه حتی په داسي امورو کي هم اجتناب وکړ چي د کعبي په څرنګوالي پوري تړلي دي، هغه غوښتل چي کعبه ونړوي او بېرته ئې په ابراهیمي اساس جوړه کړي خو دا کار ئې له دې امله ونه کړ چي خلک لا د دین په حقیقت سم نه دي پوه شوي او حساسیت به وښیي!!

# د شهید جنازه

ځینو له دې نه هم په افغانانو کي د اختلاف راولاړولو وسیله جوړه کړې چي آیا پر شهیدانو د جنازې لمونځ جائز دئ که ناجائز، رسول الله ﷺ د احد د شهیدانو لمونځ کړی که نه؟ دوی د بخاري پر دغه روایت استناد کوي او وایي چي رسول الله ﷺ د احد د شهداوو د جنازې لمونځ نه دئ کړی:

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِى ابْنُ شِهَابٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضي الله عنهما قَالَ كَانَ النَّبِىُّ ﷺ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِى ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَقُولُ « أَيُّهُمْ أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ ». فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِى اللَّحْدِ وَقَالَ « أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلاَءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ». وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ فِى دِمَائِهِمْ، وَلَمْ يُغَسَّلُوا وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ. (بخاری:۱۳۴۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دئ چي وايي: رسول الله ﷺ د احد شهيدان دوه، دوه په يوه جامه (کفن) کي پټول، بيا به ئې فرمايل: د کوم يوه ئې قرآن ډېر زده وو؟ نو له دواړو نه چي هر يوه ته به گوته ونيول شوه هغه به ئې په لحد کي وړاندي اېښودو، او فرمايل به ئې: (زه به د قيامت په ورځ د دوی شاهد يم). او امر ئې وکړ چي له وينو سره دي دفن شي، نه غسل ورکړل شو او نه ئې د جنازې لمونځ ورباندي وکړ.

دا روايت په بخاري کي اوه ځلي راغلی په دغو شمېرو: ۱۳۴۵، ۱۳۴۶، ۱۳۴۷، ۱۳۴۸، ۱۳۵۳، ۴۰۷۹

ټول د معنی او الفاظو له پلوه سره ورته دي، يوازي دومره توپير سره لري چي په يوه کي فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِى اللَّحْدِ او په بل کي فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى رَجُلٍ قَدَّمَهُ فِى اللَّحْدِ قَبْلَ صَاحِبِهِ راغلي.

دا روايت د سند له پلوه داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري او د متن له پلوه داسي دئ چي دوه ستونزي لري: لومړی دا چي له يوې خوا وايي کفن نه دئ ورکړی شوی او په خپلو جامو کي دفن شوي خو له بلي خوا وايي چي دوه دوه په يوه جامه کي کفن شوي، له بلي خوا وايي چي په دوو کي به ئې هغه تر بل وړاندي لحد ته کوزولو چي قرآن به ئې تر بل زيات حفظ کړی وو!! په يوه کفن کي د دوو کسانو له منځه يو کس تر بل څنگه لحد ته وړاندي کوزېدی شي؟ ځينو له روايت نه د دفاع په موخه ويلي چي له يوې جامې نه مراد يو قبر دئ، چي دا په هيڅ توگه د منلو وړ توجيه نه ده!! دوهمه ستونزه ئې دا ده چي دا روايت له هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي: د احد د شهيدانو د جنازې لمونځ شوی. روايات دا دي:

عن ابن عباس قال أتى بهم النبي يوم أحد فجعل يصلي على عشرة عشرة وحمزة

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهو كما هو يرفعون وهو كما هو موضوع.

**له ابن عباس ﵄ نه روايت دئ چي وايي: د احد شهيدان د رسول الله ﷺ مخي ته راوړل شول، د لسو لسو د جنازې لمونځ ئې کولو، د حمزه ﵁ جنازه به همداسي پر خپل ځای پرته او نور به ترې پورته کېدل.**

**بل روايت وايي چي رسول الله ﷺ له رحلت نه لږ مخکي يو ځل بيا د احد د شهيدانو جنازه کړې ده، روايت دا دئ:**

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ أَنَّ النَّبِىَّ ﷺ خَرَجَ يَوْمًا فَصَلَّى عَلَى أَهْلِ أُحُد صَلاَتَهُ عَلَى الْمَيِّت، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ « إِنِّى فَرَطٌ لَكُمْ، وَأَنَا شَهِيدٌ عَلَيْكُمْ، وَإِنِّى وَاللَّهِ لأَنْظُرُ إِلَى حَوْضِى الآنَ، وَإِنِّى أُعْطِيتُ مَفَاتِيحَ خَزَائِنِ الأَرْضِ- أَوْ مَفَاتِيحَ الأَرْضِ- وَإِنِّى وَاللَّهِ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِى، وَلَكِنْ أَخَافُ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنَافَسُوا فِيهَا ». (بخاري: ١٣٤٤)

**له عقبه بن عامر ﵁ نه روايت دئ چي وايي: رسول الله ﷺ يوه ورځ ووت او د احد پر شهيدانو ئې د مړي د جنازې لمونځ ته ورته لمونځ وکړ، بيا منبر ته را تاو شو او وئې فرمايل: زه ستاسو لپاره مخکي تلونکی يم، او زه پر تاسو گواه يم، او والله چي زه همدا اوس خپل حوض وينم، او ما ته د زمکي د خزانو کلي گاني يا د زمکي کلي گاني راکړی شوې، او والله چي زه له دې نه پر تاسو نه وېرېږم چي له ما نه وروسته به شرک وکړئ، خو له دې نه وېرېږم چي په دې کي (د دنيا مال متاع کي) به تنافس او سيالي وکړئ.**

**دا روايت هم په بخاري کي پنځه ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۵۹۶، ۴۰۴۲، ۴۰۸۵، ۶۴۲۶، ۶۵۹۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چي ګورئ بخاري د احد د شهیدانو د جنازې په اړه دوه متعارض روایات راوړي، یو ئې اوه ځلي او بل ئې شپږ ځلي، یو روایت ئې دا انتباه انسان ته ورکوي چي شهید به د جنازې له لمانځه پرته دفن کېږي او بل ئې وایي څو کاله وروسته هم پر شهید د جنازې لمونځ کېدی شي، خو بخاري دا نه دي ویلي چي په دغو متعارضو روایاتو کي کوم یو ئې صحیح او د عمل وړ دئ!!

دې ته مو پام وي چي په پورتني روایت کي له خزائن الارض نه مراد هغه د حجاز، عراق، شام، روم، فارس او هند خزائن دي چي د مسلمانانو په لاس کي پرېوتې، پیغمبر علیه السلام ته په رؤیاء کي ښودل شوي وو چي دا به د مسلمانانو په لاس کي پرېوځي، د همدې لپاره ئې دوی ته وویل: له دې وېره نه لرم چي تاسو به بېرته مخکني شرک ته واوړئ بلکي له دې وېرېږم چي دا خزائن ستاسو لاس ته درشي او بیا په خپلو کي تنافس وکړئ، ومو لیدل چي همداسي وشول، عیاش او ظالم اموي او عباسي واکمنان د دغو خزانو پر سر داسي په خپلو کي ونښتل چي د زرګونو مؤمنانو او د ډېرو صحابه وو او تابعینو وینې په کي توی شوې. دا خبره ځکه ضروري ده چي یوه خرافي او د شرک په ډنډ کي پرېوتې ډله وایي چي رسول الله ﷺ ته د زمکي د هر څه واک ورکړی شوی، د الله تعالی د ټولو خزانو کلیاني ده ته ورکړی شوې، د وېش واک ئې د ده په لاس کي دئ، او دا هغه څه چي د قرآن له ګڼ شمېر آیتونو سره په بشپړه توګه تضاد او تعارض لري، له هغو آیتونو سره چي وایي: پیغمبر علیه السلام نه یوازي نورو ته د ګټې او تاوان رسولو واک نه لري بلکي ځان ته د ګټې رسولو او ضرر دفع کولو اختیار هم نه دئ ورکړی شوی.

دغو روایاتو ته په پام سره ویلی شو د دې لپاره هیڅ نقلي او عقلي موجه دلیل نه مومو چي پر شهید د جنازې لمونځ کول دي ناجائز وي، دا ډېره کمزورې خبره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي شهيد يا لمانځه او دعاء ته ضرورت نه لري يا هغه ژوندى دئ او پر ژوندي د جنازې لمونځ صحيح نه دئ!! که پر پيغمبر عليه السلام او پر ماشومانو د جنازې لمونځ کېږي نو پر شهيد به ولي نه کېږي؟!!

## آيا الله تعالى د خداى په نامه يادولى شو؟

هجرت که له يوې خوا مور، ته ډېري گټي درلودې له بلي خوا ئې ډېري ستونزي راته زېږولې دي، له دغو ستونزو نه يوه ئې دا وه چي ځينو خپل مخکنى مذهب پرېښى او د هغه چا مذهب ئې خپل کړى چي له مجاهدينو او مهاجرينو سره د مرستو په نامه راغلي خو خپل مذهب او فرهنگ ئې هم له ځان سره راوړى او د هغه د خورولو هڅه ئې کړې، ځينو د دغو مرستو ترلاسه کولو لپاره او ځينو د ډېري کمعقلۍ او بې علمۍ په وجه خپل مخکنى مذهب او اخلاق پرېښي او د نورو په رنگ کي رنگ شوي، دغو دين او مذهب خرڅوونکو يوازي په دې کار اکتفاء نه ده کړې چي خپل مذهب ئې د نورو په پښو کي غورځولى بلکي ځينو د خپل پلار پر ږيري او د مور پر ټکري باندي خندلي او ځينو د خپل پلار نيکه پر دين او مذهب ملنډي وهلې، ځينو خپلي ژبي ته سپک کتلي او د پرديو په ژبه خبري کول ئې د ترقي او پرمختگ نښه گڼلې، له دغو نه يوه ډله ئې هغه ده چي وايي: الله د خداى په نامه يادول حرام دي!! د خپلي ادعاء لپاره د قرآن په دې آيت استناد کوي چي فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$B b‑"ô ã™ ¾ïí»Jõ& þî šc r%Åùãûï%$(rãŒr $kí ççãš$ ó_ó çø$ãt ôR{ $-r

ÇÑÈ bqèJè/ {qç.

او الله لره غوره نومونه دي نو په دغو نومونو سره ئې دروبلئ او هغه کسان پرېږدئ چي د ده په نومونو کي الحاد کوي (په کږه ځي)، حتماً به د خپلو کړنو له امله سزا ورکړی شي. الاعراف: ۱۸۰

مخکي له دې چي د دې آيت د تفسير په اړه څه ووايو بايد دا واضح کړو چي آيا الله تعالی د خدای په نامه يادول جائز دي؟ آيا له آدم عليه السلام نه تر نن پوري په ټولو الهي کتابونو کي خدای د الله په نامه ياد شوی؟ آيا له آدم عليه السلام نه تر عيسی عليه السلام پوري ټولو پيغمبرانو او د دوی امتونو خدای د الله په نامه ياد کړی؟ آيا د دوی ژبه عربي وه، او پر دوی نازل شوي کتابونه په عربي ژبي نازل او الله تعالی ئې په همغو نومونو ياد کړی چي په قرآن کي ياد شوی؟ دې پوښتنو ته د ځواب لپاره بايد ووايو:

هر پيغمبر چي په کوم قوم کي مبعوث شوی نو پر هغه نازل شوی کتاب او صحيفه هم د ده د قوم په ژبه وو او الله تعالی په هغو نومونو ياد شوی چي دغو خلکو د الله تعالی لپاره د کتاب له نازلېدو مخکي وضع کړي وو او په دغو کتابونو کي الله تعالی په هغو صفاتو ستايل شوی چي دا قوم پرې پوهېدو او په دوی کي معمول ول، نه د الهي کتاب کوم لفظ ورته نامأنوس او پردی وو او نه د الله تعالی کوم نوم او صفت.

آدم عليه السلام او تر ده وروسته له ټولو پيغمبرانو لکه: نوح، ابراهيم، اسحاق، يعقوب، يوسف، موسی، هارون، يونس، داؤد، سليمان او عيسی عليهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام نه هيڅ يوه خدای جل شأنه د الله په نامه نه دئ ياد کړی، او په هغو صفاتي نومونو ئې نه دئ ستايلی چي الله تعالی په قرآن کي پرې ستايل شوی. بلکي هم ئې الله تعالی د خپل خپل قوم د ژبي په نومونو ياد کړی او هم ئې د الله تعالی صفتونه او صفاتي نومونه د خپلي ژبي له قاموس نه غوره کړي.

که الله تعالی په پښتنو کي کوم پيغمبر مبعوث کړی وی او پر هغه ئې کتاب نازل کړی وی نو دا کتاب به پښتو وو او الله تعالی به د خدای په نامه يادېدو او صفتونه به ئې دې ته ورته ول: پالونکی، ساتونکی، څارونکی، بخښونکی، خاوند، څښتن، او ټول هغه نومونه به په پښتو کي وو چي اوس په عربي کي ورته راغلي. که دا کار شوی وی، هم پيغمبر پښتون وی او هم د الله له لوري لېږل شوی کتاب او هم د الله تعالی نومونه، او بيا چا ويلي وی چي خدای به يوازي د پښتو په نومونو يادوو او په پښتو صفتونو به ئې ستايو او خدای د الله په نامه يادول او په هغو صفاتو ئې ستايل چي اوس په عربي کي پرې ستايل کېږي حرام او ناروا کار دئ!! نو ووايئ چي د دې کس وينا به څومره صحيح وه؟! او ديني او علمي ارزښت به ئې څومره وو؟ په دې کي هيڅ شک نشته چي دا ادعاء خوشې، بې بنسټه او له خپله ځانه جوړه شوې ده، يوازي کمعقله او کمعلمه خلک به دا خبره کوي چي الله تعالی د خدای په نامه يادول حرام دي!! له عربو پرته هيڅ قوم، هيڅ پيغمبر او هيڅ الهي کتاب خدای د الله په نامه نه دئ ياد کړی. الله تعالی د خدای په نامه يادول نه يوازي جائز دي بلکي د الله تعالی ټول نومونه او صفات له عربي نه بلي ژبي ته ژباړل ضروري دي او له دې پرته بله چاره نشته، که دا کار ونه شي نو له عربو پرته به هيڅوک نه خدای پېژندی شي او نه د هغه صفات. څنگه به يوه چينايي، روسي، انگرېز او نورو ته ښيو چي الله يعني څه، د رب، مالک، غفار، قهار، رحمان، رحيم، کريم،... معنی څه ده؟ آيا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړي پرته بله چاره شته؟!

که څوک ووايي چي خدای د الله په نامه يادول غوره دي، په دې خبري هيڅ اعتراض نه لرو، خو که ووايي چي الله د خدای په نامه يادول حرام دي نو دا د هغه چا خبره ګڼو چي ډېر کمعقله او بې علمه وي او له ځانه حلال او حرام جوړوي، که څوک ووايي چي مأثوره دعاګاني غوره دي؛ ورسره موافق يو، خو که ووايي چي په پښتو او له عربي پرته په بله ژبه دعاء کول ناروا دي؛ خبره ئې واهي او چټي ده او هيڅ ارزښت نه لري. څوک چي په عربي نه پوهېږي نو په خپلې ژبي ئې دعاء کول تر دې ډېر غوره دي چي په هغو الفاظو دعاء وکړي چي په معنی ئې نه پوهېږي.

په کوم آيت چي دوی استناد کوي په هغه کي موږ ته لارښوونه شوې چي د دعاء په وخت کي بايد الله تعالی په خپلو غوره نومونو سره ياد کړو او د هغو کسانو په څېر نشو چي د الله تعالی په نوموني کي په کږو لارو درومي. دغه مطلب د الاسراء د سورې په ۱۱۰ آيت کي داسي راغلی:

öğ㎰B Ÿr 4_óțø$ãJÖ™Ŗ$ã#ù (qãβ? $B $ƒw `»Hq9$$(qãŠ$ŕ& ©$(qãŠ$È@è

Ç∰È Wx‹Î™ 7Ï9ºŒ ûü÷/ Æ÷tGö/$$kÍ Mö$ƒB Ÿr 7ÏX|ÁÎ

ووايه! يا الله دروبولئ يا رحمن ته دعاء وکړئ، "له دغو نه ئې" چي په هر نوم دروبولئ "صحيح ده" ده لره ښايسته او غوره نومونه دي او مه دي دعاء په لوړ آواز کوه او مه ئې پټوه، (بلکي) د دواړو ترمنځ وسط لاره غوره کړه.

دغه آيتونه دا مطالب بيانوي:

- الله تعالی نېک او غوره نومونه لري، بايد په همدغو نومونو ئې ذکر وشي او دعاء ورته وشي، په هري دعاء کي ئې هغه نوم ياد شي چي له سوال سره مناسبت

(c) ketabton.com: The Digital Library
ولري، د مثال په توګه یا رحمن ارحمني: اې مهربانه ربه پر ما رحم وکړې، یاحفیظ احفظني: اې ساتونکې ربه ما وساتې.

- بایدپه اسماء الله کې له انحراف او له ځانه د اسماوو او صفاتو له ایښودلو نه ډډه وکړو.
- د الله تعالی په وړاندې دعاء کې باید هغه طریقه غوره کړو چې دین راښودلې، لکه دا آیت چې امر کوي: نه به په ډېر لوړ غږ دعاء کوو او نه په ډېر ټیټ، بلکې د دواړو ترمنځ به متوسطه لاره غوره کوو.

رسول الله ﷺ فرمايي:

أيها الناس أربعوا على أنفسكم، فإنكم ما تدعون أصم ولا غائباً، إنما تدعون سميعاً بصيراً إن الذي تدعون أقرب إلى أحدكم من عنق راحلته. رواه احمد

اې خلکو! پرخپل ځان نرمي وکړئ "او په لوړ غږ د دعاء لپاره پر ځان زیاتی مه کوئ" ځکه تاسې نه کوڼ ته دعاء کوئ او نه غائب ته، بلکې هغه چا ته دعاء کوئ چې اورېدونکی او لیدونکی دئ، تاسې چې کوم ذات ته سوال کوئ هغه ستاسو هر یوه ته د خپلې سورلۍ تر غاړې نه ډېر درنږدې دئ.

قرآن موږ ته هغه نومونه راښودلي چې باید خپل رب پرې یاد کړو، د الله تعالی هر نوم د یوه الهي صفت ښوونه کوي، موږ د الله تعالی نومونه او صفات د هغه کتاب له لارې پېژندلی شو چې الله تعالی نازل کړی او رسول ﷺ ته ئې د هغه علم ورکړی، له دې نه پرته د الله تعالی د نومونو او صفاتو د پېژندلو بله صحیح لاره نشته. خو تاسو پوهېږئ چې الهي کتابونه د مختلفو قومونو په ژبه نازل شوي او په هر یوه کې الله تعالی په بېلو بېلو نومونو یاد شوی، که څه هم په دغو الهي کتابونو کې د الله تعالی د نومونو الفاظ مختلف دي، خو معنی او مفهوم ئې یو دئ، دا نومونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قرآنکريم، تورات، انجيل او زبور کي په يوه ډول الفاظو ندي ياد شوي، لدې نه معلومېږي چي پدغو نومونو کي ترټولو د پام وړ خبره هغه صفات دي چي دا نومونه ئې په ګوته کوي.

په قرآنکريم کي له ذکر شوو نومونو نه علاوه، الله تعالی نور نومونه هم لري چي يا ئې په نورو آسماني کتابونو کي ذکر کړي دي او يا ئې له ځان سره ساتلي او هيڅ څوک ئې ندی پرې خبر کړی، لکه چي رسول الله ﷺ فرمايي:... اَسْأَلُکَ بِکُلِ اسم هوَ لک سميْتَ به نفسک اوعلمْته احداً مِنْ خلقک اوانزلْته في کتابک اوْ اسْتأثرتَ به في عِلمِ الغيْب عندک* رواه احمد

الهي! په هر هغه نوم دي سوال درته کوم چي ځان دي پرې نومولی، يا دي خپل کوم مخلوق ته ورښودلی او يا دي په خپل کتاب کي نازل کړی او يا دي په خپل علم غيب کي چي له تاسره دئ ځانته ځانګړی او خاص کړی.

لدې مبارک حديث نه دا څرګندېږي چي د الله تعالی نومونه محدود ندی، يو شمېر ئې پدې کتاب کي ذکر شوي او نور ئې په نورو کتابو کي راغلي دي، ځيني ئې پيغمبرانو عليهم السلام ته ورښودلي او ځيني ئې الله تعالی له خپل ځان سره ساتلي او هيچا ته يی ندي ښودلي، دا ټول نېک او پاک نومونه داسي صفات په ګوته کوي چي الله تعالی ورباندي متصف دئ. د مثال په توګه السميع، يعنی هغه ذات چي اورېدونکي دئ، البصير: هغه ذات چي ليدونکي دئ، الرحمن: هغه ذات چي ډېر مهربان دئ. خو هغه نومونه چي د ده په علم غيب پوري منحصر بلل شوي دا نومونه د الله تعالی داسي صفات افاده کوي چي انسان پرې نه پوهېږي.

خو دا چي د الله تعالی په نوموني کي له کوروالي نه مراد څه دئ؟ آيا په قرآن او حديث کي له راغلو عربي نومونو نه پرته په بل نامه د الله تعالی يادول الحاد دئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني خلک په دې اړه زياته غلو کوي او الله تعالی له عربي نومونو پرته په بل نامه يادول او بلې ژبې ته د الله تعالی د نومونو ژباړه حرام او ناروا ګڼي!! حال دا چې الله تعالی په داسي نومونو يادول حرام دي چې له ده سره نه ښايي، د ده صفت نشي منعکس کولی، غلطه او ناقصه معنی ورکوي، په غلطو مواردو کې کارول کېږي لکه: معشوق، جانان، نګار، صنم، ساقي، پيرمغان او دې ته ورته نومونه، هغه نومونه چې مختلف قومونه ئې د الله تعالی لپاره کاروي لکه خدای او GOD، او له عربي نه نورو ژبو ته د الله تعالی د نومونو ژباړه لکه د مالک په ځای څښتن يا خاوند، د رب په ځای پالونکی، د حفيظ په ځای ساتونکی نه يوازي څه مانع نه لري بلکې د الله تعالی د نومونو او صفاتو په حقيقي معنی د ښه پوهېدو لپاره ضروري او ګټور دي، الله تعالی په خپله دا کار کړی، په تورات، زبور او انجيل کې چې کوم نومونه راغلي وو، په قرآن کې ئې هغه مورږ ته په عربي ژبې کې بيان کړي. که قرآن په پښتو نازل شوی وی نو د الله تعالی ټول نومونه به په پښتو کې وو، بيا به پښتنو اهل ظاهرو ويل: له پښتو نه عربي ته د الله تعالی نومونه ژباړل او څښتن تعالی د الله او مالک په نامه يادول منعه دي!!

## آيا الله تعالی انسان ته ورته صورت لري؟

د انسان يوه لويه ستونزه دا ده چې پر غيبي شيانو باور کول ورته ګران وي، هغه شی ژر مني چې په خپلو حواسو سره ئې احساس کړي، په خپلو سترګو ئې وګوري او په غوږونو ئې واوري، يوازي د عقل په مرسته د يوه حقيقت منل ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

گران وي، غيبي شيانو ته هم داسي انځورونه په خپل ذهن کي جوړوي چي په سترګو ليدلو شيانو ته ورته وي، بني اسرائيلو موسی عليه السلام ته وويل: ستا بلنه يوازي هغه مهال منلی شو چي خدای په خپلو سترګو وګورو!! له مصر نه د وتلو په مهال له داسي سيمي تېرېدل چي بتان ئې لمانځل، موسی عليه السلام ته ئې وويل: موږ ته هم داسي معبود جوړ کړه چي په سترګو ئې وينو او خوا ته ئې عبادت کوو، په بايبل کي ئې وليکل چي خدای آدم د ځان په څېر پيدا کړ، دواړه سره ورته دي؛ تفاوت ئې يوازي په دې کي دئ چي هغه خدای دئ او دا انسان، د خدای انځور ئې د آدم عليه السلام د انځور په څنګ کي جوړ کړ، دواړه يو رنګ، آدم پر زمکه پروت او خدای د فرشتو پر وزرونو سپور او آدم ته د خپلي ګوتي له لاري روح ورکوي، دا انځور تر ننه د دوی په موزيم کي پروت دئ، په کليساوو کي ئې تر سترګو کېږي، ټولو مشرکو قومونو خپل معبودان د انسان په څېره کي جوړ کړي، کله ئې د کوم انسان په اړه ويلي چي همدا خدای وو چي له آسمانه زمکي ته راکوز شوی وو، څه موده زموږ خوا ته پاته شو او بېرته خپل اصلي ځای آسمانونو ته ولاړ، کله ئې د کوم انسان په اړه ويلي: دی د خدای زوی، نازولی، د خدايي کورنۍ غړی او د خدای ځای ناستی دئ.

په مسلمانانو کي هم داسي کمعقله، شرک وهلې او جهل ځپلې ډله راپيدا شوه چي د اهل کتابو او مشرکينو تر اغېز لاندي ئې الله تعالی انسان ته ورته وګڼلو، همغه خبره ئې وکړه چي هغوی به کوله، وئې ويل: الله تعالی انسان د ځان په څېر پيدا کړی، الله تعالی په بشپړه توګه داسي دئ لکه انسان، دوه پښې لري، دوه لاسونه، شی او کيڼ، لاسونه او پښې ئې پنځه پنځه ګوتي لري، پښې ئې پونډۍ لري، دوه سترګي لري، څادر او پرتوګ لري... هر څه ئې د انسان په څېر؛ تفاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې يوازي دومره دئ چي هغه خدای دئ او دا انسان!!! د دغه شيطاني او شرکي تصور او انگېرني لپاره ئې هڅه کړې چي داسي دلايل له قرآن او حديث نه راپيدا کړي چي د دوی د جاهلانه دريځ ملاتړ وکړي!! دې ته څه اهميت نه ورکوي چي قرآن په صريحو او پرېکنده الفاظو ورته وايي: په دې پراخ عالم کي هيڅ څه الله تعالی ته ورته نه دي، نه په ذات کي، نه په صفاتو کي او نه په افعالو کي، پام کوئ چي د الله تعالی لپاره مثالونه بيان نه کړئ، الله تعالی مثال نه لري، د هغه لپاره مثال نشئ موندلی، په دې عالم کي داسي څه نشته چي په کوم صفت کي له الله تعالی سره ورته والی ولري، پيغمبر عليه السلام ورته وايي: د الله تعالی د ذات په اړه فکر مه کوئ؛ د نعمتونو په اړه ئې فکر وکړئ، خو دا شرک وهلې ډله د دغو ټولو نصوصو مخالفت ته ملا تړلې او د الله تعالی په اړه داسي څه وايي چي له هغه نه انسان ته ورته خدای جوړوي!! د بحث مهمه موضوع ئې هم دا وي: د خدای لاسونه څنگه او څو دي، پښې ئې څنگه او څو دي، گوتي ئې څو دي، سترگي ئې څو دي، پر عرش باندي ئې استوی څنگه ده، د اوسېدو ځای ئې چېري دئ!!! نعوذ بالله من ذالک!!

راشئ هغو دلايلو ته لږ ځير شو چي دا ډله پرې استناد کوي: د دوی يو مستند دا روايت دئ:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ ﷺ قَالَ « إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْتَنِبِ الْوَجْهَ وَلاَ يَقُلْ قَبَّحَ اللَّهُ وَجْهَكَ وَوَجْهَ مَنْ أَشْبَهَ وَجْهَكَ فَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ عَلَى صُورَتِهِ ». رواه احمد

له ابو هريره ﷺ نه روايت دئ چي وايي: رسول الله ﷺ فرمايلي: که چا بل څوک وهلو نو بايد پر مخ ئې ونه وهي او داسي ونه وايي چي الله تعالی دي ستا او تا ته د ورته کس مخ تور کړي، ځکه الله تعالی؛ آدم عليه السلام د ده په بڼه او شکل کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا کړ.

پدې مبارک حدیث کي چي مفهوم ئې ډېر روښانه دئ او د صافو زړونو خاوندانو ته په هغه کي د هیڅ اشتباه او سوء تفاهم ځای او مجال نشته، خو اهل ظاهر او هغه کسان چي رنځور زړونه لري لدې حدیث نه داسي څه راباسي او داسي ترجمه او تفسیر ئې کوي چي په ډېرو خطرناکو نتائجو منتج کېږي، هغوی وایي: په (صورته) کي ضمیر الله تعالی ته راجع دئ، گواکي الله تعالی آدم علیه السلام خپل ځانته ورته پیدا کړ!!! او وایي: دا هم د الله تعالی لپاره یو ثابت صفت دئ؛ خو لدې قید سره چي د الله تعالی له شأن سره مناسب صورت!!! بې شکه چي دا خلک د خطاء او اشتباه په ډېري ژوري کندي کي پرېوتي، په خطرناکه فتنه کي لوېدلي، زړونه ئې رنځور دي، روښانه حقیقت سرچپه ویني او له څرگندو الفاظو نه داسي تعبیر اخلي چي د رنځورو زړونو له خاوندانو پرته بل چا ته د منلو نه دئ، هغوی که هر څه فکر کوي خو واقعیت دا دئ چي پدې ډول تصور سره الله تعالی له مخلوق سره تشبیه کوي.

لنډ پورتني حدیث ته ځیر شئ، دلته د دوو کسانو ترمنځ شخړي ته اشاره شوې، رسول الله ﷺ دا حکیمانه لارښوونه کوي چي د جگړي په وخت کي یو بل په مخ مه وهئ، داسي مه وایئ چي الله تعالی دي ستا او تا ته ورته کس مخ تور او قبیح کړي، ځکه چي الله تعالی، آدم علیه السلام هغه ته په ورته شکل او صورت کي پیدا کړی. په دې پوهېږو چي د دښمنۍ او جگړي په وخت کي هر انسان د مقابل لوري له مخ او څېرې نه په خپل زړه کي د نفرت،کینې او کرکي احساس کوي، د مقابل طرف د نفرت او کرکي آثار هم د هغه په څېرې او مخ کي راڅرگند شي، په سترگو کي ئې د قهر او غصې نښي راښکاره شي، نو ځکه د ده غصه او کرکه د مقابل لوري او دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ او سترګو ته متوجه کېږي، همدې برخې ته پام اړوي او خپل داخلي قهر داسي اظهاروي: سترګي دي راباسم، پزه دي پرې کوم، مخ دي تور، سترګی دي ړندی شه، دا مردار مخ دي داسي او داسي شه، پدې الفاظو هم اکتفا نه کوي بلکي لاس پورته کوي او غواړي په مخ ئې يوه کلکه څپېړه ورکړي، خوله ئې په سوک ورماته کړي. حکيم رسول الله ﷺ په جګړه د اخته وو افرادو روحي حالت ته په پام سره او د دوی د قهر او غضب د سړولو لپاره فرمايي: الله تعالی خپل بنده او ستاسو ټولو پلار آدم عليه السلام پداسي څېرې او شکل کي پيدا کړی وو لکه دا ستا مقابل لوری، دا له تاسره په جګړه او شخړه بوخت ستا ورور، خپل پلار ته د احترام په دود بايد هغه پر مخ ونه وهې او د مخ په اړه ئې سپکي خبري ونه کړې، داسي مه وايه چي ستا مخ دي تور وي او د هغه چا هم چي تا ته ورته مخ لري، په دې سره خو ته خپل پلار آدم عليه السلام ته هم بد و رد وايې!! که د رسول الله ﷺ دا حکيمانه لارښووني مراعات شي او د شخړو او مشاجرو په وخت کي په پام کي ونيول شي، نو د ډېرو فتنو او جګړو مخنيوی به وشي. نه پوهېږم اهل ظاهر ولي دا څرګند حقايق نه شي درک کولی؟ او ولي څرګند مفاهيم غلط تعبيروي؟ او ولي داسي توجيهات پکي کوي چي خبره تشبيه او تمثيل ته رسوي؟

امام ابن حبان د دې روايت په اړه د ابو حاتم وينا رااخلي او ليکي: قال أبو حاتم رضي الله عنه: « يريد به صورة المضروب، لأن الضارب إذا ضرب وجه أخيه المسلم ضرب وجها خلق الله آدم على صورته »: ابوحاتم وويل: له دې نه د وهل شوي کس صورت مراد دئ، ځکه کله چي وهونکی خپل مسلمان ورور پر مخ وهي نو په حقيقت کي ئې هغه مخ وهلی چي الله تعالی آدم عليه السلام ته دې ته ورته مخ ورکړی وو.

د دوی بل دليل دغه روايت دئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَن أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ طُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا فَلَمَّا خَلَقَهُ قَالَ اذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولَئِكَ النَّفَرِ مِنْ الْمَلَائِكَةِ جُلُوسٌ فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقَالُوا السَّلَامُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللَّهِ فَزَادُوهُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ فَكُلُّ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ آدَمَ فَلَمْ يَزَلْ الْخَلْقُ يَنْقُصُ بَعْدُ حَتَّى الْآنَ. صحيح البخاري: ۵۸۷۳

له ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دئ چي وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالی آدم (عليه السلام ) په خپل صورت پيدا کړ، جگ والی ئې شپېته گزه وو، کله چي ئې پيدا کړ ورته وئې ويل: ولاړ شه پر هغو فرشتو سلام واچوه چي هلته ناستي دي او واوره چي د سلام څه ځواب درکوي، همدا به ستا او ستا د اولاد سلام او ځواب ئې وي، نو وئې ويل: السلام عليکم، هغوی ورته وويل: السلام عليک و رحمة الله، رحمة الله ئې پرې اضافه کړ. هر څوک چي جنت ته ننوځي نو د آدم عليه السلام په څېر به وي، د هغه له پيدايښت نه تر نن پوري مخلوقات کمی مومي (لوړوالی ئې راکمېږي).

د دې روايت معنی هم کاملاً واضح ده، او هغه دا چي الله تعالی آدم عليه السلام داسي پيدا کړی وو چي صورت ئې همدا د ده د زامنو صورت وو خو لوړوالی ئې شپېته گزه وو، دا لوړوالی ورو ورو کم شوی او اوسنی حالت ئې غوره کړی، د قيامت په ورځ به د آدم عليه السلام ټول مسلمان اولاد په خپلي اصلي او لومړنۍ بڼې جنت ته ورومي. ډېر ناپوه او غرضي او مرضي انسان به له دې روايت نه بل مطلب اخلي. يوازي هغه څوک به له دې روايت نه بل تعبير وړاندي کوي چي د کلام تحريفولو ته ئې ملا تړلې وي.

دغه ډله د خپلي غلطي ادعاء د اثبات لپاره دا دليل وړاندي کوي او وايي: دا دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قرآن کي الله تعالی ته سترګي، لاسونه، مخ او ساق منسوب شوي!! نو ځکه موږ وايو چي د الله تعالی صورت انسان ته ورته دئ!!!

دوی ته وایو: تاسو دروغ وايئ چي په قرآن کي الله تعالی ته ساق (پونډۍ) منسوب شوې، د قرآن په کوم آيت کي چي د ساق يادونه شوې هغه د کافرانو ساق دئ، نه د الله تعالی ساق، او مطلب ئې دا دئ چي د قيامت له هيبته به کافران داسي تښتي چي پيڅې به ئې بډوهلې وي، پونډۍ به ئې لوڅي او تښتي به، ډېر ناپوه او مرضي انسان به الله تعالی ته ساق منسوبوي، الله تعالی له دې نه منزه دئ چي غړي ولري، پونډۍ ولري، پونډۍ ئې په جامو پټې وي، او د قيامت په ورځ به د ده پونډۍ وربربنډې شي.

په قرآن کي خو الله تعالی ته نه خوله منسوب شوې، نه پښې، نه سر، نه وېښتان، نه سينه، نه غوږونه، نه پزه، او نه نور غړي، که له سترګو او لاسونو نه مراد غړي نيسئ نو بيا خو دا هم ووايئ چي: الله تعالی يو لاس لري که دوه که ډېر، ځکه دا ټول په قرآن کي راغلي، ولي د دوی له منځه دوه انتخابوئ، په قرآن کي عين، عينان او اعين (يوه سترګه، دوې سترګي او ډېري سترګي) راغلې، ولي يوازې دوې سترګي ورته منسوبوئ؟!! په کومو ځايونو کي چي د دغو غړو يادونه شوې هلته مراد دا نه دئ چي د الله تعالی د ذات څرنګوالی معرفي شي، بلکي د الله تعالی يوه صفت ته اشاره کوي، د مثال په توګه (بيده الملک)، له دې نه مراد دا نه دئ چي الله تعالی يو لاس لري او پاچايي د کوم توپ په څېر داسي کوم شی دئ چي الله تعالی په خپل لاس کي نيولی، بلکي مراد ئې دا دئ چي الله تعالی مالک الملک دئ، واکمني د ده په واک کي ده.

همداراز الله تعالی بصير (ليدونکی) دئ خو الله تعالی د ليدو په صفت کي هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library
مخلوق ته ورته نه دئ، په مخلوقاتو کي ځيني يوه سترګه لري، ځيني دوه، ځيني په سلګونو سترګي (لکه د شاتو مچۍ) او ځيني داسي دي چي د خپل بدن په ټول پوستکي سره هر لوري ته ليدل کولی شي (لکه آميب)، قرآن موږ ته وايي چي الله تعالی په دې صفت کي هم هيڅ يوه ته ورته نه دئ. په مخلوقاتو کي ځيني په دوو پښو تګ کوي، ځيني په څلورو، ځيني پر سينه، ځيني پر وزرونو، د برق او نور تګ له دې ټولو توپير لري، په نغلو کي د سويچ له وهلو سره سم د کابل لري سيمي ته همغه شېبه برق ورسېږي، خو الله تعالی په دې صفت کي هيڅ يوه ته ورته نه دئ. همداسي په ټولو نورو صفاتو کي.

دا ډله دې ته هم پام نه کوي چي د قرآن ځيني آيتونه متشابه دي، په هغوی کي غير مرئي شيان له مرئي شيانو سره تشبيه شوي، هغه څه چي انسان نه ليدلي او نه په خپل قاموس کي ورته کوم نوم لري، په داسي الفاظو بيان شوي چي انسان د مرئي شيانو لپاره وضع کړي، په دې آيتونو کي راغلي دا الفاظ په متبادره معنی نشو اخيستی، قرآن موږ ته وايي چي په اصلي معنی ئې له الله تعالی پرته هيڅوک نه پوهېږي، عرش، استوی علی العرش، يد، عين، وجه، په هغه معنی نشو اخيستی چي موږ ئې د مخلوق لپاره کاروو، که دا غلطي مو وکړه نو الله تعالی مو له مخلوق سره تشبيه کړی، که څه هم له دې وينا وروسته سل ځله ووايو چي بلاتشبيه او بلاتکييف، دا د خولې بلاتشبيه موږ ته هيڅ ګټه نه رسوي او موږ له هغي ډلي څخه نه باسي چي مشبهه نومېږي او الله تعالی له مخلوق سره تشبيه کوي. سبحان الله عما يصفون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آيا الله تعالی په هر ځای کي له موږ سره دئ؟

دا هم یوه بله اختلافي موضوع ده چي الله تعالی چېري دئ؟ آیا په هر ځای کي له بندګانو سره دئ که له آسمانانونو نه بر پر عرش؟ صحابه وو او زموږ سلف صالح په دې اړه له بحث نه ډډه کوله، د قرآن هغه آیتونه ئې هم منل او هم لوستل چي وايي الله تعالی په هر ځای کي له خپلو بندګانو سره دئ او هغه هم چي وايي الله تعالی پر عرش استوی کړې، خو پرته له دې چي معیت (ملتیا) او استوی (برابرېدا) تأویل کړي او مزید څه ووايي، خو وروسته په مسلمانانو کي داسي ډله راپیدا شوه چي وايي: الله تعالی له مخلوقاتو نه بېل او لري دئ او پر عرش ئې استوی کړې. کوم آیتونه چي له بندګانو سره د الله تعالی معیت او قرب ته اشاره کوي، هغه تأویلوي، او د ملتیا او نږدېوالي په معنی ئې نه اخلي. راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه وايي او د یوه مؤمن او موحد انسان عقیده باید څنګه وي. لاندي آیتونو ته ځیر شئ:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى السمَوَتِ وَ مَا فِى الأَرْضِ مَا يَكونُ مِن نجْوَى ثَلَثَةٍ إِلا هُوَ رَابِعُهُمْ وَ لا خَمْسةٍ إِلا هُوَ سادِسهُمْ وَ لا أَدْنى مِن ذَلِك وَ لا أَكْثرَ إِلا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كانُوا ثمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيَمَةِ إِنَّ اللَّهَ بِكلِّ شىْءٍ عَلِيمٌ * المجادله: ٧

آیا پام دي نه دئ چي الله تعالی په هر هغه څه پوهېږي چي په آسمانونو او په زمکه کي دي، نه داسي نجوی شته چي د دريو ترمنځ وي او دی ئې څلورم نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نه د پنځو ترمنځ چي دی ئې شپږم نه وي او نه تر دې کم یا زیات مگر دا چي دی ورسره وي، هرچېري چي وي، بیا به ئې د قیامت په ورځ په خپلو اعمالو خبر کړي، بې شکه چي الله په هرڅه پوه دئ.

لکه چي گورئ په دې آیت کي په ډېر صراحت او وضاحت سره ویل شوي چي که تاسو درې وئ نو څلورم مو خدای دئ او که پنځه وئ شپږم مو خدای دئ، که تر دې لږ یا ډېر وئ خدای درسره دئ په هر ځای کي چي وئ، څوک چي پر قرآن ایمان لري هیڅکه به د دې جسارت ونه کړي چي د الله تعالی د دې صریح کلام په خلاف کومه وینا په خوله راوړي او ووایي چي الله تعالی په هر ځای کي له موږ سره نه دئ!!

هُوَ الَّذِی خَلَقَ السمٰوٰتِ وَ الأَرْضَ فی سِتَّةِ أَیَّامٍ ثمَّ استَوَی عَلی الْعَرْشِ یَعْلَمُ مَا یَلِجُ فِی الأَرْضِ وَ مَا یخْرُجُ مِنهَا وَ مَا ینزِلُ مِنَ السمَاءِ وَ مَا یَعْرُجُ فِیهَا وَ هُوَ مَعَکمْ أَیْنَ مَا کُنتُمْ وَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِیرٌ * الحدید: ٤

الله تعالی هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کي پیدا کړل، بیا ئې پر عرش استواء وکړه، په څه چي په زمکه کي لاندي کوزېږي او څه چي ترې راوزي او څه چي له آسمانه راکوزېږي او څه چي ورته پورته کېږي، په ټولو پوهېږي، هرچېري چي وئ هغه له تاسو سره وي، الله تعالی ستاسو د کړو لیدونکي دئ.

په دې مبارک آیت کي هم په ډېر وضاحت سره ویل شوي چي الله تعالی له تاسو سره دئ په هر ځای کي چي وئ. دا په داسي حال کي چي د آیت په لومړۍ برخي کي ویل شوي چي الله تعالی د آسمانونو او زمکي له پیدا کولو وروسته پر عرش استوی وکړه، د دې معنی دا ده چي پر عرش استوی د دې منافي نه ده چي الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی په هر ځای کي له موږ سره هم دئ. په یوه آیت کي د دواړو خبرو یادونه همدا مطلب په ګوته کوي، یعني الله تعالی د مخلوق په څېر نه دئ چي په خاص مکان پوري محدود وي، یو ځای وي او بل ځای نه، دا د مخلوق ځانګړتیا ده چي په یوه وخت کي یوازي یو ځای کي وي.

څوک چه قدیر او عظیم خدای په مخلوق قیاس کړي او د خالق په هکله یی هم په خپل ذهن کي مخلوق ته ورته تصویر جوړ کړی وي، دا کسان مجبورېږي د قرآنکریم الفاظ تأویل کړي او له هر لفظ نه داسي معنی راوباسي چي د دوی له ذهن او تصور سره برابره وي، دلته هم د آیت یوه برخه مني او بله برخه ئې تأویلوي او داسي معنی ترې راباسي چي ونښيي الله تعالی په هر ځای کي له موږ سره نه دئ، بلکي یوازي د عرش په محدوده کي محدود دئ.

وَ لَقَدْ خَلَقْنَا الانسنَ وَ نَعْلَمُ مَا تُوَسوِس بِهِ نَفْسهُ وَ نحْنُ أَقْرَب إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيدِ*
ق: ١٦

او یقیناً چي انسان مو پیدا کړ او په هغو وسوسو پوهېږو چي د ده نفس ئې ورته کوي، او موږ ده ته د غاړي تر رګ ډېر ورنږدې یو.

فَلَوْ لا إِذَا بَلَغَتِ الحُلْقُومَ * وَ أَنتُمْ حِينَئذٍ تَنظرُونَ * وَ نحْنُ أَقْرَب إِلَيْهِ مِنكُمْ وَ لَكِن لا تُبْصِرُونَ * الواقعه: ٨٣- ٨٥

او کله چي سا ستوني ته راورسېږي او هغه مهال تاسو ورته ګورئ، او موږ هغه ته تر تاسو ډېر ورلنډ وو خو تاسي نه وینئ. (نو ولي ئې بېرته نشئ ستنولئ).

په دې آیتونو کي هم ویل شوي چي الله تعالی ژوندي انسان ته هم او هغه بنده ته هم ډېر ورنږدې دئ چي سا ئې د ختلو په حال کي وي او تاسو ئې خوا ته راټول وئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چي ګورئ په دغو آيتونو کي د معيت او ملتيا پر ځای د اقرب: تر ټولو ډېر نږدې صيغه راغلې او په پرېکنده توګه وايي چي الله تعالی بنده ته ډېر ورنږدې وي خو تاسو ئې نه ګورئ. خو اهل ظاهر دلته هم تأويل کوي او اقرب د اعلم په معنی اخلي، د دې ډلي يو تن ليکي: "ای نحن اعلم منه ما ظهر وما بطن" يعنی موږ د هغه په ظاهر او باطن پوره علم لرو!! موږ له دې جناب نه پوښتنه کوو:

- د "اقرب" لپاره دي د "اعلم" ترجمه په کوم کتاب او د عربي ژبي په کوم قاموس کي ليدلې ده؟
- آيا الله تعالی نه شوی کولی ووايی: "ونحن اعلم به منکم" موږ د هغه په رابطه تر تاسو ډېر علم لرو، ولي ئې د اعلم پر ځای د اقرب صيغه راوړې؟
- د آيت په پای کي د "لاتبصرون" جمله د اقرب له لفظ سره سمون خوري؛ او له اعلم سره قطعاً اړخ نه لګوي،که د اعلم لفظ راغلی وی نو بايد په پای کي يی "وانتم لاتعلمون" ويل شوي وی.
- نه پوهېږو څه شي له دې نه منعه کړي يئ چي له کوم تحريف او تأويل نه پرته ووايئ: الله تعالی له نورو نه زيات خپل بنده ته نږدې دئ، د دې نږدېوالي کيفيت الله تعالی ته وسپارئ او عقيده ولرئ چي دا تقرب نه د مخلوق له تقرب سره شباهت لري او نه د الله تعالی د علو له صفت سره منافات؟!

څوک چي رب العالمين له مخلوق سره تشبيه کړي، هغه داسي انګېري چي الله تعالی خو په خپل عرش استواء کړې ده، نو له بنده سره ئې تقرب محال دئ. دا ځکه چي ويني د يوه مخلوق له بل سره د تقرب تقاضا دا ده چي هغه خپل لومړی ځای هرومرو پرېږدي، مخکي درومي او هغه بل ته ورنږدې کېږي، دا شخص له مخلوق سره د الله تعالی تقرب هم د مخلوقاتو په تقرب قياسوي او دا ډول قياس بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عرش د استواء منافي بولي، نو بناءً مجبورېږي د قرآنکريم الفاظ تأويل کړي. خو که دا شخص پدې عقيده وي چې په موجوداتو کې هيڅ شی له الله تعالی سره شباهت نه لري، د الله تعالی تقرب د مخلوقاتو له تقرب سره ورته والی نه لري او داسې نه دئ چې د حرکت، نقل او ترک مکان غوښتونکی وي،که دا ډول عقيده خپله کړي نو بيا به نه بې ځايه تأويل ته اړ وي او نه به له هغه څه نه انکار ته اړ کېږي چې الله تعالی په خپله په قرآن کې بيان کړي.

دی دوستانو ته وايو: که دا لمر، چې د الله تعالی له مخلوقاتو نه يو مخلوق دئ، پداسې حال کې چې له موږ نه په زرگونو ميله فاصله لري، په خپل مسير کې خوځي، کولی شي له همغي لرې فاصلې نه، په خپلې رڼا او حرارت سره، له موږ سره او په هرحالت کې، د توقف يا حرکت په حالت کې زموږ ملگری وي او وينو چې په ځينو ځايونو کې راته رالنډ او تجلي او حرارت ئې زيات او په ځينو نورو سيمو کې رانه لرې او اثرات ئې کم وي، د لمر چې دا حال وي نو په کوم دليل له بندگانو سره د الله تعالی معيت او تقرب، د هغه تعالی له شأن سره برابر او لايق تقرب، محال او ناممکن شمېرئ؟ پداسې حال کې چې هغه د ټولو رب دئ، هغه عظيم دئ، په هرڅه محيط دئ، ټول عالم د ده د عظمت په وړاندې داسې دئ لکه د خردل يوه دانه.

بايد په ياد ولرو چې له الله تعالی سره زموږ رابطه يوازې دا نده چې هغه موږ ويني او له لرې نه زموږ غږ اوري او زموږ په هر څه علم لري، بلکې له دې نه علاوه هغه پر موږ او زموږ په ټولو حالاتو او افعالو احاطه لري، د هر کار د کولو قدرت هغه راکوي، توفيق د هغه له لورې دئ، زموږ اراده د ده د ارادې تابع ده، اراده ئې زموږ پر ارادې او افعالو حاکمه او مسلطه ده، هغه څه کېږي چې هغه ئې وغواړي او د کولو توفيق ئې راکړي او هغه څه نشي کېدی چې دی ئې ونه غواړي او د کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

توفيق ئې رانکړي. دغو مفاهيمو ته په پام سره بايد پر عرش د استواء، قرب او معيت تر منځ ځانګړې رابطه ولټوو، نه داسې چې په يوه ايمان ولرو او له بل نه انکار وکړو. د دې مفاهيمو تر منځ تلفيق د هغه چا لپاره ګران کار دئ چې الله تعالی له مخلوق سره تشبيه کوي او استواء، تقرب او معيت په هغه معنی اخلي چې د انسانانو تر منځ متداوله ده.

د يوه مثال په ترڅ کې دا مطلب توضيح کوم: که ستاسو په رغوي کې د رېدنو څو وړې دانې وي، او تاسو ته څوک ووايي: تاسو د دې دانو کوم لوري ته يئ؟ لاندې، باندې، ښي او کيڼ لوري، شا يا مخې ته؟ ستا ځواب به څه وي؟ ستا صحيح ځواب به يوازې دا وي چې زه د رېدنو هرې خوا ته يم، زه پرې محيط يم، له دې پرته که بل څه ووايې نو اشتباه دې کړې. همدا راز دا عالم، آسمانونه او زمکه، ستوري او ستور ليکې ټول د الله تعالی په وړاندې داسې دي لکه د رېدنو څو دانې د يوه انسان په لاس کې. د همدې لپاره قرآن وايي: أين ما تولوا فثم وجه الله: هر لوري ته چې مخ واړوئ الله هملته دئ. څوک چې الله تعالی له مخلوق سره تشبيه کوي ګمان ئې دا وي چې الله تعالی به د مخلوقاتو په څېر د مکان او زمان تابع وي، مخلوق داسې دئ چې په يو وخت کې يوازې يو ځای کې وي، يا د بام پر سر يا ترې لاندې، خو د الله تعالی په اړه دا خبره نشو کولی، الله تعالی په داسې حال کې چې پر عرش ئې استوی کړې له موږ هر يوه سره په هر ځای کې هم شته، د همدې لپاره ګورو چې پر عرش استوی او له خپلو بندګانو سره په هر ځای کې اوسېدا په يوه آيت کې راغلي. دوی د خپلو غلطو انګېرنو د اثبات لپاره هڅه کوي چې په نصوصو کې داسې الفاظ ولټوي چې د دوی مستمسک شي، کله وايي: دا دئ په فلان آيت کې د فوق کلمه راغلې، کله وايي: دا دئ په فلان روايت کې راغلي چې ګوته د آسمان لوري ته ونيول شوه!! دې جنابانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته وايو: د دواړو په اړه ستاسو انتباه غلطه او ناقصه او له نورو نصوصو سره متعارضه ده. لاندي آيت ته ځير شئ:

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ * الانعام: ۱۸

او هغه پر خپلو بندګانو باندي برلاسی دئ او هغه ښه باخبره حکيم دئ.

دلته دري مهم مطالب بيان شوي:

- ټول بندګان ئې تر حکم او سلطې لاندي دي، مؤمنان هم او کافران هم، هيڅوک داسي څه نشي کولی چي ده ئې اجازه نه وي ورکړې، د زور او ځواک خاوندان دي دا ګمان نه کوي چي د ټولواک رب د پرېکړو مخي ته ودرېدی شي، په هغه مهلت دي نه مغروره کېږي چي الله تعالی ئې د خپل خاص حکمت له مخي باغي بندګانو ته ورکوي.
- الله تعالی د خپلو بندګانو له هر حالته ښه خبر دئ، پوهېږي چي څوک د کومي معاملې مستحق دئ.
- له بندګانو سره ئې هره معامله په حکمت ولاړه معامله ده.

اهل ظاهر د (فوق) لفظ په داسي توګه تعبيروي چي د دې آيت له اصلي مفهوم سره هيڅ تعلق نه لري، په داسي حال کي چي دلته بحث له قهر (سلطې او برلاسي) څخه دئ نه د الله تعالی له فوقيت او موقعيت څخه، خو دوی ئې د الله تعالی د مکاني موقعيت او فوقيت په معنی نيسي، دوی آيت داسي ژباړي: او هغه په خپلو بندګانو (قاهر: برلاسی) او (فوق: اوچت) دئ، حال دا چي دا ترجمه صحيح نه ده، ځکه د (او) لپاره په متن کي لفظ نشته، دقيقه ترجمه ئې دا ده: پر خپلو بندګانو (باندي) (برلاسی) دئ. دا هم بايد په پام کي ولرو چي فوق او تحت نسبي مفاهيم دي، يوازي د مخلوق په اړه صدق کوي، څه ته چي دا اوس زه تحت وايم د امريکا اوسېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته فوق وايي او څه ته چي همدا اوس دوی تحت وايي موږ ورته فوق وايو، که زه په افغانستان کي او يو امريکايي په امريکا کي د آسمان په لوري ګوته نيسو نو زما او د هغه د ګوتو د استقامت تر منځ يو سل اتيا درجې توپير وي، فوق او تحت د الله تعالی په وړاندي مطرح نه دي، که څوک فوق د مکان په معنی ونيسي، دا تعبير به ئې د قرآن د ګڼ شمېر هغو آيتونو او احاديثو تکذيب ته اړ کوي چي وايي الله تعالی خپلو يندګانو ته د غاړي تر رګ ورنږې دئ. که څوک له دې انکار وکړي چي الله تعالی په هر ځای کي له موږ سره دئ، نو د قرآن له داسي څرګندو آيتونو څخه ئې انکار کړی چي د هيڅ ډول تأويل مجال په کي نشته. دوی په دې نه پوهېږي چي د الله تعالی په وړاندي مکان او زمان، فوق او تحت، ماضي او مستقبل، شاهد او غائب مطرح نه دي، دا ټول نسبي مفاهيم دي چي يوازي د مخلوق په اړه صدق کوي.

دا ډله په دغو آيتونو کي تأويل کوي او معيت او قرب د علمي معيت او قرب په معنی نيسي او وايي چي الله تعالی د خپلو مخلوقاتو له حاله داسي خبر دئ لکه چي دوی سره وي!! وايي: هو علی العرش مباين عن خلقه!! الله تعالی پر عرش باندي او له خپلو مخلوقاتو بېل او جلا دئ!! حال دا چي دا خبره هيڅ علمي ارزښت نه لري، د يوه کس ذاتي خبره ده، له ځانه ئې جوړه کړې ده، نه ئې الفاظ د قرآن او حديث دي او نه ئې مفهوم، دقيقه خبره دا ده چي الله تعالی هم پر عرش استوی کړې او هم له خپلو بندګانو سره دئ.

دوی وايي چي په ذاتي معيت او قرب باندي باور درلودل د وحدت الوجود او حلول په عقيدې منتج کېږي، حال دا چي د حلول او وحدت الوجود خرافي عقايد د الله تعالی په اړه د غلطي انګېرني يوه انتهاء ده او الله تعالی د مخلوقاتو په څېر په مکان او زمان مقيد ګڼل، او د همدې غلطي عقيدې په حکم له بندګانو سره د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی له معیت او قرب نه انکار کول بله انتهاء ده. دوی ځکه دا خبره کوي چې مخلوق ئې داسي موندلی چې په یو ځای کي وي نو په بل ځای کي نه وي، که د بام پر سر وي نو تر بام لاندي نه وي، اول او آخر لري، د پیدایښت نېټه لري، له دې نېټې مخکي نه وو، د مرگ نېټه لري له هغې وروسته نشته، د زمان تابع دئ، الله تعالی په مخلوق قیاسوي او د همدې لپاره وايي: الله تعالی په آسمانونو کي او د عرش له پاسه دئ، په زمکي کي نشته!! دوی ته وایو: کوم منطق اجازه درکوي چې اقرب د اعلم په معنی ونیسئ؟ الله تعالی فرمایي چې زه له خپلو بندگانو سره یم، د غاړي تر رگ ورنږدې یم، ته وايي: نه؛ ورنږدې نه دئ بلکي په حال ئې پوه دئ!!! که د دې آیتونو مراد دا وئ چې الله تعالی د بندگانو له حاله خبر دئ، په هر حال او هر ځای کي پرې پوهېږي، نو د دې لپاره خو به حتماً د خبیر او علیم الفاظ راتلل نه د قرب او معیت، قرآن خو هیڅکله داسي الفاظ نه کاروي چې د شک او ریب باعث شي، یوازي یو متعصب انسان کولی شي اقرب د اعلم په معنی ونیسي.

# عرش او پر عرش استوی

عرش څه دئ؟ پر عرش د الله تعالی د استوی معنی څه ده؟ الله تعالی تر عرش مخکي چېري وو؟ دا هغه پوښتني دي چې په صحابه وو کي نه چا له رسول الله ﷺ څخه داسي پوښتني کړې دي او نه ئې پر داسي قضایاوو د بحث ضرورت احساس کړی، هغوی په سترو سترو عملي چارو بوخت ول، د الله په لار کي او د مظلومانو او بې وزلو د ژغورني لپاره جهاد، د اسلامي نظام قائمول، د شر او فساد له ځواکونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره پر له پسې نښتي، په خپله، په خپلي کورنۍ کي، په خپلي ټولني کي او په ټولي نړۍ کي د شريعت حاکمول او نړۍ والو ته د قرآن پيغام رسول، د لفظي مناقشاتو، له بل او خپل سره په بې ګټي جدل کي د ځان مصروفولو لپاره ئې نه وخت درلود او نه ئې غوښتل چي په داسي خبرو خپل وخت ضايع کړي، خو هغه مهال چي مسلمانانو خپلو سترو سترو الهي مسئوليتونو ته شا کړه، جهاد ئې پرېښود، دښمن ئې هېر کړ، نه ئې د هغه څه کولو همت درلود چي صحابه وو کول، نه ئې د الله په لار کي د وخت، سر او مال قرباني کولو جذبه او شوق، نو خپلمنځيو مناقشاتو او جدلونو ته ئې مخه کړه، که پرون به هر مسلمان غوښتل چي د کفر، شرک، ظلم او فساد په ضد د جهاد اتل شي نن ئې غوښتل چي د خپلمنځيو بېهوده او بې فايده جدلونو او مناقشاتو د ميدان اتل شي، دغه مهال پر دغو قضاياوو د بحث او مناقشې بازار تود شو، که تاسو د دغو لفظي مناقشاتو تاريخ وڅېړۍ نو هرومرو به دې نتيجې ته ورسېږئ چي دا لړۍ هغه مهال پيل شوې چي مسلمانانو په سياسي، فکري او نظامي محاذونو کي د دښمن په وړاندي ماتي خوړلې، تېر برم او عظمت ئې له لاسه ورکړی، په کورنيو شخړو کي ښکېل شوي، د دښمن برلاسي ته تسليم شوي، ظالم، بې رحمه او مفسد واکمنان پرې مسلط شوي او کورني او بهرني دښمن غوښتي چي دوی په دغسي بحثونو او مناقشاتو کي مصروف وساتي.

صحابه وو له عرش او پر عرش له استوی نه يوازي دا تعبير درلود چي الله تعالی د عالم ټولواک دئ، د عالم د ټولو چارو واګي د ده په واک کي دي، دلته د ده حکم نافذ او اراده ئې حاکمه ده او هر څه د ده په حکم او اراده ترسره کېږي.الله تعالی هم د عالم خالق دئ او هم مالک، لکه څنګه چي د يوه چا د پاچا کېدو په اړه ويل کېږي چي د پاچايۍ پر تخت کښېناست؛ همدا راز د استوی علی العرش معنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ده چي الله تعالی د ټولواک په توګه د دې عالم د ټولو چارو واګي په خپل واک کي ونیولې.

راشئ د قرآن ځیني هغه آیتونه له نظره تېر کړو دا موضوع په کي څېړل شوې:

’?ã 3‘ qGŏ$ Šê Q$ƒ& þGÅ ’Î Ú ŏR$ ÏN°q»J¡9$ ,={ “Ï%©$ ª!$ Nä3/‘ žc Î)

ÏN°•q ¡ã Pqã Z9$r •J)$r § ôJ±9$r $ZWÏm ½çŠ ‘$k]9$ Ÿ@ø‹©$ ÓÅ óã Ą óé$

ÇÎÍÈ ûüÏ>»èø9$ >‘ ª!$ 8‘$6? âøF$r ß,ù=sƒ:$ ã& ýíÏD‘Î

الاعراف: ٥٤

یقیناً چي ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کي پیدا کړل، بیا ئې پر عرش استوی وکړه، شپه پر ورځ راکاږي (پرې پټوي ئې)، داسي چي په تلوار ئې لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، په دې پوه شه چي هم خلقت (یعني پیدایښت) ده لره دئ او هم امر (یعني چاري سمبالول)، د عالمونو پالونکی الله چي برکتناک دئ.

قرآن په دې مبارک آیت سره څو ډېري مهمي او اساسي لارښووني د خپل مخاطب په وړاندي ږدي:

- ستاسو رب هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو (مرحلو) کي پیدا کړل.
- د دوی له پیدایښته وروسته ئې د ټول عالم د ادارې، ساتني او پالني چاري په خپل اختیار کي واخیستې او د مطلق ټولواک په توګه ئې د عالم د سلطنت پر عرش استوی وکړه.
- دا د ده د ټولواکۍ نښه او بېلګه ده چي شپه پر ورځ راکاږي، داسي چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلوار ئې لټوي.

- دا هم د ده د ټولواکۍ بله بېلګه ده چې لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، همغه کار کوي او په همغه لار درومي چې الله تعالی ئې امر ورته کړی.
- په دې پوه شه چې هم خلقت يعني پيدايښت ده لره مختص دئ، په دې کي بل شريک نه لري او هم امر يعني چاري سمبالول چې په دې کي هم هيڅ شريک نلري.
- الله تعالی مبارک او د عالمونو پالونکی او ساتونکی دئ.

د دې مبارک او ډېر مهم آيت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

- په دې مبارک آيت کي د يوم، استواء او عرش الفاظ ګورو چې په اصل کي انسانانو د ښکاره او څرګندو شيانو لپاره وضع کړي، خو په دې آيت کي د دې مطلب د افادې لپاره راغلي چې دا زمکه او آسمان په شپږو مرحلو کښې پيدا شوي، الله تعالی د هر څه مالک او ټولواک دئ او هر څه ئې تر واک او عرش لاندي دي، د استوی علی العرش معنی په خپله په دې آيت کي او له همدې فقرې نه وروسته راغلې او هغه دا چې: [illegible] [illegible])، خو لکه څنګه چې دلته (يوم) د هغي ورځې په معنی نه شو اخيستی چې دولس ساعته کېږي، همداراز عرش او استوی هم په متبادره معنی نشو اخيستی، قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د الله تعالی په وړاندي کله ورځ له زرو کلونو سره برابره وي او کله له پنځوسو زرو کلونو سره، دا ئې هسي دوه مثالونه دي، هدف دا دئ چې د انسان واړه معيارونه د الله تعالی په اړه صدق نه کوي، دلته شپږ ورځې داسي شپږ مرحلې په ګوته کوي چې له الله تعالی سره ښايي.

د قرآن دا وينا په حقيقت کي د بايبل د هغي غلطي ادعاء ترديد کوي چې وايي: الله تعالی په شپږو ورځو کي ټول مخلوقات پيدا کړل، په دې کار سره ستومانه شو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اومه ورځ ئې آرام وکړ، د بایبل د پیداینبت د باب دوهم فصل په دې خبري پیل کېږي: (په دې ترتیب آسمانونه، زمکه او څه چي په دوی کي دي تکمیل شول، د اومي ورځي په رارسېدو سره خدای د پیدایښت کار تمام کړ او له کاره ئې لاس واخیست، خدای اومي ورځي ته برکت ورپه برخه کړ او هغه ئې مقدسه وبلله، دا ځکه چي دا هغه ورځ وه چي خدای د پیدایښت د کار له بشپړولو وروسته آرام وکړ. په دې توګه آسمانونه او زمکه پیدا شول)!!

بایبل په دې وینا سره له خدایه داسي څوک جوړ کړی چي په خپل ټول عمر کي ئې شپږ ورځي کار کړی، په همدغو شپږو ورځو کي ئې د پیدایښت کار بشپړ کړی او د اومي ورځي په رارسېدو سره له خپله کاره فارغ شوی، د زمکي او آسمانونو ټول کارونه ئې خپلي مخي ته پرېښي! او ده د خپلي سترړیا رفع کولو لپاره آرام کړی، بایبل دا هم نه وایي چي دا آرام یوازي د همدغي ورځي دولس ساعته وو که تر ننه دوام لري، د بیان له الفاظو خو داسي معلومېږي چي د خدای کار په شپږو ورځو کي بشپړ شوی، له کاره ئې لاس اخیستی، داسي کوم کار نه دئ پاته چي د بایبل خدای ئې د کولو لپاره راپورته شي او خپله رخصتي پای ته ورسوي!!

دوی خدای په انسان قیاس کړی، لکه څنګه چي انسان د خپلي سترړیا رفع کولو لپاره په اونۍ کي یوې ورځي رخصتۍ ته ضرورت لري؛ همداراز د بایبل خدای هم باید انسان ته ورته وي، شپږ ورځي ئې کار کړی او اومه ورځ آرام!! آیا کوم عقلمن انسان به هغه څوک د خدای په توګه ومني چي سترړی کېږي او آرام ته ضرورت لري؟!

موږ خو عملاً ګورو چي د پیدایښت لړۍ په مسلسل او پر له پسې توګه روانه ده، یوه شېبه په کي توقف نه راځي، د دې عالم هري خوا ته چي مخ اړوو، ګورو چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څه له هيڅ پيل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلي ارتقاء او کمال آخري پوړي ته ورسول شي، يو ضروري او لازم کار وربانديي ترسره شي، يو ضرورت وربانديي رفع کړی شي، يوه تشه او خلا پرې ډکه کړی شي، بيا ئې زوال پيل شي، په زړښت او مرگ محکوم شي او ځای ئې بل ته تش کړی شي، زوړ او کمزوری ختم شي او ځوان او ځواکمن ته خپل ځای پرېږدي، دا کار هره شېبه، هري خوا ته تکرارېږي، د دې مظاهرو تر شا خو موږ ته د خالق او پيدا کوونکي ذات د مسلسل تصرف، ربوبيت او پالني نښي او آثار په نظر راځي، د بايبل پلويان دي موږ ته ووايي چي دا کارونه څوک کوي؟ په خپله ترسره کېږي، که ئې الله تعالی ترسره کوي؟

تاسو د بايبل دا کچه وينا د قرآن له دې وينا سره مقايسه کړئ چي د الله تعالی په اړه فرمايي:

* 5ل© ’Îqè Bôü @ä ÇÚ öΓ $ Ñºq»K¡ 9$ ’Î ` B ¼ã&é ó„ الرحمن:۲۹

د آسمانونو او زمکي هر څه ده ته خپلي غوښتني وړاندي کوي (له ده نه د خپلو غوښتنو ترسره کېدل غواړي)، دی هره ورځ په يوه کار کي لگيا دئ (يعني هغه هره شېبه په چارو کي د تصرف په حال کي دئ)

يعني الله تعالی د زمکي او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتياوو ته په خپله ځواب وايي، دی ئې ضرورتونه رفع کوي او اړتياوي ئې پوره کوي. د دې عالم هر کار، هره شېبه، په خپله مالک الملک خدای ترسره کوي، الله تعالی داسي نه دئ چي د دنيا کارونه ئې خپلي مخي ته پرېښي وي او دی هيڅ تصرف په کي نه کوي، بلکي هر کار، که ستر وي او که ووړ، د ده په اراده، إذن، حکم، قدرت او مخامخ تصرف سره ترسره کېږي، هغه يوه شيبه هم د عالم د چارو له ادارې، پالني او ساتني څخه نه

غافله کېږي،

همدا راز د البقرې سورې په ۲۵۵ آيت کي فرمايي:

:* Ðšàè%$·íè%$qèr $K$Ýÿm ¼ç$që Ÿr Ú óF$ Ñºq»J¡ 9$ç·Åöä ì År

(د قدرت او واکمنۍ) کرسۍ ئې پر آسمانونو او زمکي حاوي ده او د دوی دواړو (زمکي او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه کوي او هغه ستر لوړ ذات دئ

بايبل په بل ځای کي ليکي: د سبت ورځ په ياد لره او سپېڅلې ئې گڼه... په دې ورځ به هيڅ کار نه کوئ... دا ځکه چي خدای په شپږو ورځو کي آسمان، زمکه او... راپيدا کړل او په اومه ورځ ئې له کاره لاس واخيست... نو ده دا ورځ د استراحت ورځ ونوموله...

خو قرآن د بايبل د دې غلطې خبري په ځواب کي فرمايي چي الله تعالی د آسمانونو او زمکي له پيدا کولو وروسته د چارو واگي په خپل لاس کي ونيولې، د ټول کائنات د سلطنت پر عرش ئې استوی وکړه، هغه هم خالق دئ او هم ټولواک، لکه څنگه چي د مخلوقاتو پيداېښت د ده ځانگړتيا ده، همداراز واکمني او د عالم د چارو سمبالول د ده کار دئ، شپه او ورځ د ده په امر ځي راځي، لمر، سپوږمۍ او ستورې دی اداره کوي، الله تعالی هم خالق دئ او هم پالونکی او ساتونکی.

گورئ چي قرآن دا عالم داسي معرفي کوي چي د الله تعالی ملک دئ، دی ئې واکمن دئ، هر څه د ده په امر او حکم ترسره کېږي، که لمر راخېژي او لوېږي، که ورېځي په آسمان کي خوځي، باران او واوره ترې ورېږي، که ونه او بوټی له زمکي راټوکېږي او دانه او مېوه ورکوي، که ژوي پيدا کېږي، ستر کېږي او مري، هر څه او هرکار الله تعالی کوي، د ده په امر او توفيق ترسره کېږي. د بايبل دا خبره له بنسټه ردوي چي الله تعالی د عالم له پيداېښته وروسته د نوي پيداېښت لړۍ متوقف

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، ستومانه شو او آرام ئې وکړ!! ګورئ چې د الله تعالی په اړه د بايبل وينا څومره ناقصه او د واقع خلاف ده او د قرآن وينا څومره جامع او د حقيقت مطابق، آيا يو عقلمن انسان به هغه خدای ومني چې ستومانه کېږي او آرام کولو ته اړ کېږي او د خپل ملک چاري او واګي خپلي مخي ته پرېږدي؟!!

الله تعالی په اونۍ کي يوه ورځ د دې لپاره د تعطيل او رخصتۍ ورځ نه ده ګرځولې چي ده په خپله عالم په شپږو ورځو کي پيدا کړ او اومه ورځ ترې وزګار شو او آرام ئې وکړ!! الله تعالی عالم پيدا کړی او له پيدا کولو وروسته ئې د دې عالم چاري په خپل واک کي نيولې، د عالم تر پيدا کولو د دې عالم ساتل او پالل که ګران کار نه وي نو آسان خو په هيڅ توګه نه دئ، قرآن فرمايي چي الله تعالی هم د دې عالم خالق دئ او هم ئې ټولواک، مالک او حاکم، په دې سره د بايبل د دغي غلطي وينا ترديد شوی چي الله تعالی په انسان قياسوي، ستومانه کېږي او استراحت ته ضرورت لري!! د انسان لپاره په اونۍ کي يوه ورځ د عبادت لپاره مختص شوې، د يهودانو لپاره هفته، د مسيحيانو لپاره يکشنبه او د مسلمانانو لپاره جمعه، پر مسلمانانو د جمعې لمونځ فرض شوی، په دې ورځ به ټول په جومات کي راغونډېږي، په جَماعت سره به لمونځ کوي او د جمعې د ورځي هغه خطبه به اوري چي د امام او د هغه د نائب له لوري ورکول کېږي او په هغې کي د تېري اونۍ ټولي مهمي او اساسي مسئلې څېړل کېږي. په دې ورځ به يوازي د لمانځه لپاره خپل کارونه متوقف کوي، له لمانځه وروسته خپل کارونه د نورو ورځو په څېر کولی شي!!

راشئ دا هم وګورئ چي بايبل د خدای، عرش او د عرش د حمله وو په اړه څه وايي؟ بايبل د حزقيال په کتاب کي او د حزقيال د رؤيا په ضمن کي ليکي: (... بيا د لوخړو له منځه څلور عجيب موجودات چي انسان ته ورته ول راڅرګند شول، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر يوه څلور مخونه او دوه جوړې وزرونه درلودل، پښې ئې هم د انسان پښو ته ورته وې، خو ګوتي ئې د سخونـدر نوک ته ورته وې او د ځلانده فلز په څېر ځلېدلې، د هر وزر لاندي مې انسان ته ورته لاسونه ليدل، د وزرونو پای ئې سره وصل وو، مخامخ به ئې تګ کاوو پرته له دې چي راوګرځي!! هر يوه څلور مخونه درلودل: مخکنی ئې د انسان د مخ په څېر، ښی ئې د زمري په څېر، کيڼ ئې د غوايي په څېر او شاتنی ئې د عقاب په څېر!! هر يوه دوه جوړې وزرونه درلودل، چي يوه جوړه ئې پرانستلې وه او د بل موجود د وزرونو څوکو ته به رسېدل او بلي جوړې د دوی بدن پوښلی وو، کوم ځای ته چي به د دوی روح تله په همغه لوري به تلل، له دې پرته چي بل لوري ته کاږه شي!! د دغو موجوداتو په منځ کي د بلو سکروټو په څېر شيان خوځېدل، چي له منځه ئې برېښنا راوته، دا ژوندي موجوات هم د برق په څېر تېز تېز مخکي شا ته خوځېدل،... څلور څرخونه مي وليدل، تر هر يوه لاندي يو څرخ، د زبرجدو په څېر ځلېدل او يو بل ته ورته ول، د هر څرخ منځ کي بل څرخ وو، د همدې لپاره په دې توانېدل چي په هر لوري وخوځېږي، پرته له دې چي راوڅرخي، څرخونو داسي پرې درلودې چي له سترګو ډکي وې،... کله چي به دغه موجودات خوځېدل نو څرخونه به هم ورسره خوځېدل، چي له زمکي به پورته کېدل نو څرخونه به ورسره پورته کېدل او چي ودرېدل به نو څرخونه به هم ودرېدل، دا ځکه چي د دغو څلورو موجوداتو روح په څرخونو کي هم وه، نو دا موجوات او څرخونه د خپلي روح تر حکم لاندي ول،... د هر يوه د سر له پاسه صفحې ته ورته څه خور وو چي د شيشې په څېر به ځلېدو او انسان به ئې وېراوو، د دغي صفحې لاندي د دوی وزرونه داسي پرانيستي وو چي د يوه وزر به د بل وزر ته رسېدو،... کله چي به الوتل نو غږ به ئې داسي وو لکه د ساحل د څپو غږ، يا د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزِ یا د یوه لوی لښکر چیغې، کله چې به ودرېدل نو وزرونه به ئې راټيټ کړل، له هر ودرېدو سره به د صفحې له سر نه یو غزِ اورېدل کېدو، د صفحې په سر د یوه ښکلي پاچایۍ تخت په څېر یو شی تر سترګو کېدو، داسې لکه چې له شنو یاقوتو جوړ شوی وي او د دې تخت له پاسه داسې ذات ناست وو چې انسان ته ورته وو، له ملا پورته داسې برېښېدو لکه په اور کې سور شوی فلز او له ملا لاندې لکه د اور ځلاندې لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو او په دې نور کې د بوډۍ د ټال (قوس قزح) ټول رنګونه تر سترګو کېدل، د خدای پرتمین حضور داسې ما ته راڅرګند شو، کله چې ما دا صحنه ولیده، په سجده پرېوتم، )

دلته بایبل د تل په څېر خدای له انسان سره تشبیه کړی، له انسان سره ئې توپیر یوازې په دې کې دئ چې (له ملا پورته داسې برېښېدو لکه په اور کې سور شوی فلز او له ملا لاندې لکه د اور ځلاندې لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو...)، عرش ئې د پاچایانو ښکلي تخت ته ورته، د عرش حمله ئې داسې څلور فرشتې چې هر یو ئې څلور سرونه او څلور وزرونه لري، یو سر ئې انسان ته، بل ئې زمري ته، بل ئې غوایي ته او بل ئې عقاب ته ورته دئ!!! یو پیغمبر خو پرېږده هیڅ مؤمن انسان به د الله تعالی په هکله نه داسې خوب وګوري او نه به په خپل ذهن کې داسې غلط او ناقص انځور جوړ کړي!!

ما ته د بایبل دا وینا داسې برېښي لکه چې د انسان د سر په یوه وېښته باندې ناست یو ویروس بل ته ووایي: خدای زموږ په څېر دئ، همداسې ګرد مرد، نه سر لري نه پښې، ځان ته ئې کتلي او موږ ئې د خپل ځان په څېر جوړ کړي یو، تر موږ ښاېسته او ښکلی مخلوق به چېرې وي چې خدای به هغه د ځان په څېر جوړ کړی وي؟! آیا خدای به د دغه لوی او بې عقله ځناور (انسان) په څېر وي چې موږ ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېښته په سر ناست یو، یوې خوا بلې خوا ته ځغلو او هغه پرې خبرېږي هم نه؟!!
سترګي ئې دومره کمزورې دي چې موږ نه ویني، غوږونه ئې دومره درانه دې چې زموږ غږ نه اوري!! دا به د ډایناسور په څېر له منځه ځي!! بې شکه چې خدای به زموږ په څېر وي او تخت به ئې هم زموږ د پاچا تخت ته ورته، چې وزر لرونکي بکتریا به ئې له یوه ځایه بل ځای ته په خپلو اوږو وړي!!! له موږ نه د خدای توپیر یوازي په دې کي دی چې هغه خدای دئ او موږ ویروس، د هغه بدن ځلېږي او زموږ نه ځلېږي!!!

د کوم احمق انسان عقل به په دې قانع شي چې ستر خدای، د دې ستر عالم خالق، ټولواک، ساتونکی او پالونکی رب، د وړوکي انسان په څېر دئ، د پاچایانو په څېر تخت باندي ناست دئ، دا تخت ئې څلور، څلور سري فرشتې په اوږو وړي؟!!!

د بایبل لیکونکي اورېدلي چې خدای اورېدونکی او لیدونکی دئ، هر څه ویني او هر څه ګوري، خپلو پیغمبرانو ته ئې وحي لېږلې، دوی ته ئې لارښووني کړې، خپل احکام ئې ورته بیان کړي،... د تورات او انجیل له دغو اظهاراتو ئې دا انتباه اخیستې چې خدای حتماً د انسان په څېر دئ، همداسي دوه سترګي، دوه غوږونه، دوه لاسونه او دوه پښې لري، نو ځکه ئې مخکي هم ویلي چې خدای انسان د ځان په څېر پیدا کړ او دلته د حزقیال په رؤیا کي هم خدای انسان ته ورته ګڼي!! ده اورېدلي چې خدای د عرش خاوند دئ، نو ځکه ئې دلته د خدای عرش د زمکي د پاچایانو له تخت سره تشبیه کړی!! هغه په دې نه پوهېږي چې په اصلي تورات او انجیل کي د الله تعالی د عرش یادونه د دې مطلب د افادې او بیانولو لپاره شوې چې الله تعالی د عالم ټولواک دئ او هر څه د ده په حکم تر سره کېږي!! ده د تورات او انجیل دا خبره اورېدلې چې الله تعالی فرمایي: که تاسو ایمان او تقوی ولرئ زه به مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازي نه پرېږدم، له تاسوه سره به وم او ستاسو مرسته او ملاتړ به کوم، هغه له دې وينا دا نظريه رااېستلې چې خدای له اسرائيليانو سره دئ، په دوی کي اوسېږي، چې چېري دوی ځي خدای ورسره ځي، نو کله چې دوی په بېديا کي په خېمو کي اوسېدل خدای ته ئې هم د ځان په څېر خو ډېره ښکلې او قيمتي خېمه او په خېمې کي خاص ځای د قدس الاقداس په نامه جوړ کړ او کله چې په فلسطين کي ځای په ځای شول نو مجلل کور ئې، د پرېمانه سرو او سپينو زرو په کارولو سره ورته جوړ کړ، له دې وروسته خدای له آسمان نه راکوز شو او پرېکړه ئې وکړه چې د تل لپاره به په دغه کور کي د اسرائيليانو خوا ته اوسېږي!!! په مجازي توګه کارول شوي الفاظ ئې په اصلي معنی ونيول او د الهي کتابونو آيتونه ئې غلط تعبير او تفسير کړل!! دا همغه کار وو چې زموږ کمعقلو هم د دوی تر اغېز لاندي وکړ، عرش ئې د پاچايانو له تخت سره او پر عرش د الله تعالی استوی ئې پر کوم تخت د انسان له کښېناستا سره تشبيه کړ.

د تورات او انجيل په شمول په ټولو الهي کتابونو کي د الله تعالی د صفاتو او د عرش په څېر د داسي شيانو په اړه هم بحث شوی چې د انسان له نظره پټ دي او انسان په خپل قاموس کي د هغه لپاره نوم نه لري، دا ځکه چې انسان په خپل قاموس کي يوازي د هغو شيانو لپاره نوم لري چې دی ئې پېژني او په خپلو سترګو ئې ګوري او د غيبي شيانو لپاره نومونه نه لري، که څوک وغواړي د انسان په ژبه دا غيبي شيان معرفي کړي نو له دې پرته بله لار نه لري چې د تشبيه له فن نه کار واخلي او د انسان د قاموس موجود الفاظ وکاروي، په الهي کتابونو کي دغه تشبيه او مجاز کارول شوی او په دې سره انسان ته د عالم غيب په اړه نسبي پوهه ورکړی شوې، کمعقلو او غرضي خلکو دغه تشبيه او په هغه کي کارول شوي الفاظ په اصلي معنی اخيستي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي لکه چي د بايبل ليکونکي د الله تعالی له عرش نه د پاچا ښکلی تخت جوړ کړی، خپل خدای ئې د يوه پاچا په څېر وربانديږ کښېنولی او له فرشتو ئې څلور سرې موجودات جوړ کړي، چي دا تخت پر اوږو وړي او خدای له يوه ځای بل ځای ته لېږدوي!! د بايبل ليکونکي هڅه کړې چي په دې بيان سره د مسيحيانو او يهودانو دې پوښتني ته ځواب ووايي چي خدای څنگه له يوه ځايه بل ځای ته ځان رسوي!! دا دئ هغه پياوړې فرشتې ئې له يوه ځايه بل ځای ته رسوي چي هم د انسان هوښيارتيا لري، هم د عقاب وزرونه، هم د غوايي زور، هم د زمري مضبوطي پښې او هم خدايي روح!!

له انسان سره د الله تعالی په اړه يوه پوښتنه دا ده چي خدای چېري دئ؟ څه کوي؟ له دې عالم سره ئې تعلق څنگه دئ؟ که څوک وغواړي چي دغه پوښتنه ځواب کړي او په دې ئې پوه کړي چي الله تعالی دا عالم اداره کوي، ساتنه او حفاظت ئې کوي، دلته هر څه د ده په حکم تر سره کېږي... د دغه مطلب د افادې تر ټولو غوره او يوازنۍ طريقه دا ده چي هغه ته ووېل شي: خدای د دې عالم ټولواک، پاچا او حاکم دئ، لکه څنگه چي د يوه چا د پاچا کېدو په اړه وايي: د پاچايۍ پر تخت کښېناستو، يعني د دې ملک او هېواد ټولواک او پاچا شو او له دې وروسته به ټول کارونه د ده په امر ترسره کېږي، په الهي کتابونو کي دغه استعاره (پر عرش استوی) د دغه مطلب د افادې لپاره کارول شوې، چي الله تعالی د دې عالم ټولواک دئ، امور ئې د ده په واک کي دي او د دې عالم د پاچايي پر عرش ئې استوی کړې!! عرش او پر عرش استوی هغه الفاظ دي چي انسان ئې د يوه پاچا د واکمنۍ او قدرت ته د رسېدو لپاره کاروي، په کومو آيتونو کي چي د الله تعالی لپاره داسي الفاظ راځي، دا متشابه آيتونه دي چي په هغه کي د تشبيه فن کارول شوی، د الله تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library
عرش چي د انسان له درک او فهمه اوچت، فوق مشهود او غائب مفهوم دئ او انسان په خپل قاموس کي بل ځانګړی او خاص لفظ او نوم ورته نه لري، په داسي لفظ معرفي شوی چي په اصل کي د انسان له لوري د یوه مشهود او ملموس شي لپاره وضع شوی، د تشبیه له لاري د انسان ذهن او فهم ته نږدې کړی شوی، په دا ډول آیتونو کي راغلي الفاظ په متبادره او متداوله معنی نه شو اخیستی، داسي نه چي د الله تعالی له عرش نه هغه تصور او انګېرنه ولرو چي د زمکي پر سر د کوم تخت او عرش په هکله ئې لرو!! الله تعالی د مخلوق په څېر مکان ته اړ او محتاج نه دئ، د عالم هیڅ څه په ذات او افعالو کي الله تعالی ته ورته نه دي، نه ئې عرش د زمکي د کوم عرش او تخت په څېر دئ او نه پر عرش استوی ئې داسي لکه په کوم تخت د کوم مخلوق ناسته!! کله چي د عرش او په عرش باندي د الله تعالی د استوی خبره کوو باید دا مطلب مو په پام کي وي چي نه د عالم کوم څه الله تعالی ته ورته دئ او نه الله تعالی په کوم څه کي له مخلوق سره شباهت لري. پام کوه چي د فرشتو په ذریعه د الله تعالی د عرش حمل کېدا داسي ونه ګڼئ لکه چي په دنیا کي څوک کوم تخت پر اوږو وړي، که داسي تصور دي په ذهن کي راولاړ شو، اشتباه دي کړې او الله تعالی دي له خپل مخلوق سره تشبیه کړی. دا هغه غلطي ده چي د بایبل لیکونکي او منونکو وکړه!!

پیغمبر علیه الصلاة و السلام دا مطلب د یوه حدیث په ترڅ کي څومره ښایسته او دقیق انځور کړی هلته چي فرمایي:

عن أبي هريرة قال: قال رسول الله ﷺ: إن الله أذن لى اَن اُحَدّثَكُم عَن ملك قد مرقت رجلاه الارض السابعة السفلى و العرش على منكبه و هو يقول سبحانك انت أين كنت و أين تكون. مسند ابو يعلى

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ابوهريره ﵁ روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً چي الله اجازه راکړه له داسي يوې فرشتې مو خبر کړم چي پښې ئې له اومي ښکتنۍ زمکي تېري شوې او عرش ئې پر اوږو دئ او هغه وايي: پاکي تا لره ده اې ربه! چي چېري وې او چېري يې!!

ګورئ چي هغه باعظمته فرشته چي قامت ئې له اوو آسمانونو او زمکي تېر شوی او د عرش حامل ده د الله تعالی د ذات له درکه عاجزه او په عرش ئې د استوی له څرنګوالي بې خبره ده!! او په دې هکله خپل کامل عجز په دې الفاظو بيانوي: پاکي تا لره ده چي هر ځای وې او يې!!

که د عرش په هکله د پيغمبر عليه الصلاة و السلام دا وينا د بايبل له وينا سره مقايسه کړو همدا کافي ده چي ووايو: د الله تعالی او د هغه د عرش په اړه د بايبل وينا د هغه چا وينا ده چي خدای نه پېژني او د هغه له عظمته خبر نه دئ او د زمکي پر سر له يوه پاچا سره ئې ورته ګڼلی!!

متأسفانه په مسلمانانو کي هم يوه داسي کمعقله ډله راپيدا شوه چي د الله تعالی، عرش، د عرش حمله او پر عرش د الله تعالی د استوی په هکله بايبل ته ورته انګېرنه لري، هغوی هم وايي چي خدای انسان د ځان په څېر پيدا کړ، دوه سترګي، دوه غوږونه، دوه لاسونه، هر لاس ئې پنځه ګوتي، دوه پښې، پنډۍ، ردا او پرتوګ لري!!! خو وايي: خدای دوه سترګي لري بلاتشبيه، دوه (ښی او کيڼ) لاسونه لري بلا تشبيه، هر لاس ئې پنځه ګوتي لري بلا تشبيه، دوه پښې او پنډۍ لري بلا تشبيه، پر عرش ناست دئ بلاتشبيه، د قيامت په ورځ به خپلي پنډۍ لوڅي کړي بلاتشبيه.... يعني مُتَشٰبهاً وَ غَيرَ مُتَشٰبِهٍ!! هم سره ورته او هم نه ورته!! دوی هم له الله تعالی نه کټ مټ يو انسان جوړوي، د الله تعالی عرش همغسي ګڼي لکه د کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا تخت او پر عرش د الله تعالی استوی همغسي لکه پر تخت د یوه پاچا ناسته، له دې څرګندي او قبیح تشبیه وروسته د بلاتشبیه او بلاتکییف لفظ راوړل هیڅ ګټه او معنی نه لري،

همدا راز چېري چي په قرآن کي د استوی علی العرش ذکر راغلی، ورپسې متصل ویل شوي چي د چارو واګي د الله تعالی په واک کي دي، یدبر الامر، یغشي اللیل النهار، له الخلق و الامر او دې ته ورته مطالب راغلي او دا ښیي چي په استوی علی العرش سره قرآن موږ ته دا لارښوونه کوي چي الله تعالی د دې عالم ټولواک دئ، ډېر بې عقله انسان به له دې نه هغه انتباه اخلي چي د بایبل لیکونکي اخیستې او خپل خدای ئې د یوه داسي تخت په سر کښېنولی چي څلورسري فرشتې ئې حمل کوي!! د قرآن له نظره څوک چي له عرش نه د پاچایانو د تخت په څېر تخت جوړوي او له استوی نه په تخت کښېناستل، د ده په زړه کي کوږوالی دئ، مؤمن انسان به وایي: استوی علی العرش یوه استعاره ده چي انسانان ئې د چا د پاچایۍ لپاره کاروي، الله تعالی موږ ته په دغو الفاظو سره ښیي چي دی د عالم ټولواک دئ او ټولي واګي ئې د ده په واک کي دي، نه ئې عرش کوم تخت ته ورته شی دئ او نه ئې استوی د انسان استوی ته ورته کوم فعل!! د عرش او استوی په تأویل له الله تعالی پرته هیڅوک نه پوهېږي.

بایبل دا هم لیکي چي خدای وفرمایل: زه د انسان په لاس جوړ شوي کور کي نه اوسېږم، آسمان مي تخت او ځمکه مي ترپښو لاندي کرسۍ ده!! تاسو به څنګه ما ته کور جوړ کړی شئ؟ او څنګه به زه په دې کور کي اوسېږم؟ آیا دا آسمان او زمکه ما نه دي پیدا کړي؟ عجیبه ده چي څوک د دې وینا ترڅنګ هغه بله وینا هم کوي، د چا چي ټول آسمان تخت وي، څنګه به بل وړوکی تخت هم لري؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه به وي چي د دې رأيي لږ نور وضاحت وکړم، په داسي الفاظو سره چي ښايي د هر چا سر ژر پرې خلاص شي: که له ما څوک پوښتنه وکړي چي الله تعالی عرش لري؟ ورته وايم: هو؛ يقيناً چي الله تعالی عرش لري، که راته ووايي: الله تعالی پر عرش استوی کړې؟ ورته وايم: هو؛ يقيناً چي الله تعالی پر عرش استوی کړې، که راته ووايي: لږ مخکي ولاړ شه او مزيد وضاحت راته وکړه، ورته وايم: پر عرش د استوی مراد دا دئ چي الله تعالی د عالم ټولواک دئ، امور ئې د ده په واک کي دي، دا عالم د ده ملک او دی ئې ټولواک دئ، که مزيد وضاحت رانه وغواړي ورته وايم: که څه هم د عرش متبادره معنی تخت او د استوی برابرېدا ده خو دا الفاظ د مخلوق لپاره په حقيقي معنی راځي او د الله تعالی په اړه په مجازي معنی، د الله تعالی په اړه ئې په متبادره معنی نشو نيولی، د عرش او استوی په څرنگوالي له الله تعالی پرته هيڅوک نه پوهېږي، له دې آخوا زما او زما په څېر انسانان د څه ويلو توان نه لري، نه په دې پوهېدی شي چي عرش څه دئ او نه په دې چي پر عرش استوی څنگه ده؟ او دا همغه وينا ده چي قرآن ئې کوي: لايعلم تأويله الا الله، مزيد ورته وايم: څوک چي عرش داسي گڼي لکه کوم تخت او استوی داسي گڼي لکه څوک چي پر کرسۍ کښېني، هغه غلطي کړې، بې ځايه جسارت ئې کړی، د تأويل او تشبيه مرتکب شوی، د ټولو صحابه وو او سلف صالح مخالفت ئې کړی او په دې سره ئې په مسلمانانو کي فتنه راولاړه کړي، قرآن د دغو خلکو په اړه ويلي: فَأَمَّا الَّذِينَ فِى قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشبَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَ ابْتِغَاءَ تَأْوِيلِه وَ مَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلا اللَّهُ : نو هغه کسان چي په زړونو کي ئې کوږوالی دئ په متشابه پسي ئې درومي، د فتنې په لټه کي او د تأويل په لټه کي، په داسي حال کي چي په تأويل ئې له الله پرته هيڅوک نه پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عرش په اړه د قرآن بل آیت دا دئ:

[illegible]

[illegible]

[illegible] هود: ۷

او دی هغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کي پیدا کړل، او عرش ئې پر اوبو وو، تر څو تاسو وآزمویي چي کوم یو مو د عمل له مخي تر ټولو غوره دئ، او که ته ووایې چي تاسو به له خپلي مړیني وروسته هرومرو راپاڅئ نو هغه چي کفر ئې کړی حتماً به ووایي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!!

په دې مبارک آیت کي ویل شوي چي الله تعالی آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کي پیدا کړل په داسي حال کي چي عرش ئې پر اوبو وو. د دې آیت په تفسیر کي د درنو مفسرینو تر منځ ژور اختلاف تر سترګو کېږي، هم په دې اړه چي آیا له شپږو ورځو همدا زموږ اوسنۍ ورځې مراد دي او که شپږ تکویني مرحلې؟ او هم په دې اړه چي د دې فقرې معنی څه ده چي د آسمانونو او زمکي د پیدایښت پر مهال د الله عرش پر اوبو وو؟ آیا عرش او اوبه د زمکي او آسمانونو له پیدایښته مخکي پیدا شوي؟ آیا عرش داسي شی دئ چي د بل څه پر سر ولاړ وي همغسي لکه د زمکي کوم تخت؟ او که معنی ئې دا ده چي هغه مهال یوازي اوبه د الله تعالی تر واکمنۍ لاندي وې او نور څه نه وو؟ آیا له اوبو نه مراد همدا زموږ اوسنۍ د څښلو اوبه دي که دا چي هغه مهال آسمانونه او زمکه د اوبو په څېر (ویلي او مایع) وو؟

د دې مبارک آیت په اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

دلته د الله تعالی په اړه د (عرش) او (ورځې) یادونه شوې، انسانانو دا دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومونه د خاصو شیانو لپاره وضع کړي، کله چي دې ته ورته نومونه د الله تعالی په اړه راځي نو موږ ئې په هغه معنی نشو اخیستی چي انسانان ئې ورته کاروي، نه عرش داسي شی دئ چي د زمکي کوم تخت ته ورته وي او نه دا ورځ هغه موده ده چي زموږ له دولسو ساعتونو سره برابره وي، په کومو آیتونو کي چي داسي الفاظ د غیبي امورو لپاره راشي هغوی ته متشابه آیتونه ویل کېږي، په هغوی کي داسي غیبي شیان چي انسان ورته نوم نه لري په داسي الفاظو یاد شوي چي انسان د لیدل کېدونکو شیانو لپاره وضع کړي، په دې سره موږ ته د غیبي شیانو په اړه نسبي معلومات راکول کېږي، د دې یو مثال همدا د (ورځ) اصطلاح ده چي قرآن ئې یو ځای د داسي مودې لپاره راوړي چي زموږ له زرو کلونو سره برابره ده، او بل ځای ئې د پنځوسو زرو کلونو اوږدې مودې لپاره کارولې، نو دا شپږ ورځي هم دا زموږ شپږ ورځي نه دي چي نږدې دو اویا ساعتونه کېږي بلکي شپږ تکویني مراحل دي چي اوږدوالی ئې یوازي الله تعالی ته معلوم دئ. د دې تفصیل د قرآن پلوشې په تفسیر کي د الاعراف د سورې د ۵۴ آیت په تفسیر کي ولولئ.

د آیت د دې فقرې (وکان عرشه علی الماء) په اړه درنو مفسرینو بېل بېل آراء وړاندي کړي، د ځینو له تعبیر نه داسي معلومېږي چي ګواکي د الله تعالی عرش د زمکي د سر کوم تخت ته ورته شی وي او پر اوبو باندي ئې اوسېدا همغسي وه لکه د اوبو پر سر د کوم تخت ودرېدا!! په داسي حال کي چي نه د الله تعالی عرش د زمکي کوم تخت ته ورته دئ او نه ئې پر اوبو اوسېدا داسي ده لکه پر اوبو د زمکي د کوم تخت ودرېدا، نه عرش ازلي شی دئ او نه اوبه، نه د دغو الفاظو مراد او معنی دا ده چي د الله تعالی عرش د اوبو له پاسه وو او نه د الله تعالی عرش داسي شی دئ چي د ودرېدو لپاره کومي آواري سطحي ته ضرورت لري، الله تعالی دا آسمانونه له کومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستني پرته ودرولي نو عرش به ئې څنګه داسي څه ته اړ وي؟! دا غلطي انګېرني او ناسم تصورات د هغه چا د تنګ او تیاره ذهن زېږنده دي چي الله تعالی او عرش ئې د زمکي د سر له مخلوقاتو سره تشبیه کوي، د آیت معنی دا نه ده چي د آسمانونو او زمکي د پیدایښت پر مهال د الله تعالی عرش د اوبو پر سر داسي ولاړ وو لکه د زمکي کوم تخت چي پر اوبو ولاړ وي!! ځوک چي د دې آیت په تعبیر کي دغه غلط اسلوب غوره کوي له داسي پوښتنو سره مخامخ کېږي چي هیڅ ځواب ورته نشي موندلی، لکه دا چي: عرش له اوبو نه مخکي چېري وو او پر څه ولاړ وو؟ الله تعالی له عرش نه مخکي چېري وو او پر څه ئې استوی کړې وه؟

د یوه آیت په اصلي مطلب هغه مهال ښه پوهېدی شو چي وګورو په کوم مناسبت راغلی؟ د بحث اصلي موضوع ئې څه ده؟ تر هغه مخکي او وروسته څه ویل شوي؟ که دلته لږ ځیر شو نو راته جوته کېږي چي دا آیت له مخکني آیت سره ژور ارتباط لري، په مخکني کي ویل شوي چي د ټولو ژوو او ساکښو روزي د الله تعالی پر ذمه ده، همغه الله چي د دوی د پیدایښت او مړیني له نېټې خبر دئ، ورپسې ویل شوي چي الله همغه ذات دئ چي آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړي، تاسو پوهېږئ چي د رزق او روزي اصلي اسباب آسمان او زمکه دي چي له یوه باران راورېږي او زمکي ته ربا او تودوخه ورکوي او بله ئې دانه او مېوه راشنه کوي، او بیا په آسمان او زمکي کي د رزق تر ټولو مهم او اساسي توکی اوبه دي چي ورېدا، ذخیره کیدا، د زمکي پر سر روانېدا ئې د الله تعالی په حکم دي، چي خبره داسي ده نو باید پوه شې چي واقعاً الله تعالی د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وار دئ، او دا همغه مطلب دئ چي په همدې توګه د العنکبوت په سوره کي په دې بڼه راغلی:

ûÈr ÇÏÈ âÎè$$B‹Ü¡ 9$qèr Nä$fÎr $g%õ ª! $$g%ó @ÜtB ž p7#Š `B ûÉY2 r

(c) ketabton.com: The Digital Library

4‾ù ª! $£ãqà‹9 •J)ãr § ôã9$•¤ ™r Ú õΤ$ Ñºq»J¡¡ 9$ ,={ ôB Nõ‰™

ãó« èãÎ ®$bÎ ÿã ã‰ )r ¾íŠ$7ã ôB ã±„ `Jï -ãh$ã Ýó ª! $ÇÏÈ bqãùsã

‰è/ .`B Ú õΤ$ ìÎ $Šôn'ù §$B ä$J¡¡ 9$ šÆ B A"R `B Oõ‰™ ûÎ!r ÇÏÈ ÒŠÎæ

ÇÏÈ bqãÉè/ Ÿw óãŸò2 ‹ ô/ ‡ ‰ô s $ãè ª! $£ãqà‹9 $gïqB

العنکبوت: ۶۰-۶۳

او څومره ژوي داسي دي چي خپله روزي نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم، او هغه پوه اوربدونکی دئ، او که ئې وپوښتې چي آسمانونه او زمکه چا پیدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووایي: الله؛ نو څنګه دوکه کېږئ، دا خو الله دئ چي له خپلو بندګانو نه ئې چا ته چي ئې وغواړي روزي ورته پراخه کړي او یا ئې ورته محدوده او تنګه کړي، یقیناً چي هغه پر هر څه ښه پوه دئ، او که ئې وپوښتې چي له آسمانه څوك اوبه راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلي مړیني وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووایي: الله؛ ووایه: ستاینې ټولي الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

په دې آیتونو کي هم ګورئ چي لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بیا د آسمانونو او زمکي د پیدایښت، د لمر سپوږمۍ د تسخیر (چي شپه او ورځ په ګوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)، بیا له آسمانه د اوبو راورېدا او بیا په زمکي کي د ژوندون پیلېدا ته اشاره شوې او په دې توګه موږ ته ویل شوي چي رزق او وسایل او اسباب ئې د الله له لوري پیدا شوي او ذمه وار ئې الله تعالی دئ، هغه دا پرېکړه کوي چي چا ته څومره رزق او روزي ورکړي. که لږ ځیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شئ نو درته جوته به شي چي د دغو دواړو سورتونو په دغو آیتونو کي بشپړ ورته والی او یو د بل شرح او تفسیر دئ.

دې ته مو هم باید پام وي چي لکه په (علی الله رزقها) کي (علی) د فوقیت او بروالي په معنی نشو اخیستی او داسي نه شو ویلی چي رزق ئې د الله د پاسه دئ بلکي وایو رزق ئې د الله پر (ذمه) دئ، همداسي په (کان عرشه علی الماء) کي نه شو ویلي چي عرش ئې د اوبو له پاسه ولاړ وو، بلکي باید ووایو: اوبه د الله تعالی د واکمنۍ تر عرش لاندي وې. ځکه دلته د بحث اصلي موضوع همدا ده چي د رزق او روزي وسایل د الله تعالی په واک کي دي.

دې ته مو هم باید پام وي چي که دا آیت په بل ځای کي راغلی وی او هلته د بحث موضوع د عرش څرنګوالی وی نو قرآن موږ ته وایي چي د متشابه آیتونو د الفاظو داسي تأویل چي د مجازي معنی په ځای ئې په حقیقي معنی د پوهېدا هڅي او لټې ته ورته وي د هغه چا کار دئ چي زړونه ئې بیمار وي، د ایمان او علم خاوندان د دغو آیتونو د الفاظو له تأویل نه ډډه کوي او وایي چي په تأویل ئې له الله تعالی پرته هیڅوک نه پوهېږي، هیڅوک نه پوهېږي چي د عرش او پر اوبو ئې د ودرېدا کیفیت څنګه دئ، خو دلته په حقیقت کي په دې الفاظو سره موږ ته د هغه حالت کیفیت نه دئ انځور شوی بلکي دا مطلب ویل شوی چي د آسمانونو او زمکي له پیدایښته وروسته د الله تعالی په ملک کي او د ده د واکمنۍ تر عرش لاندي لومړی پیدا شوې ماده هغه اوبه دي چي انسانان او نور ژوي ترې پیدا شوي (ځکه قرآن وایي چي هر ژوی مو له اوبو پیدا کړی: و جعلنا من الماء کل شیء حی)، تر دې مخکنی آیت هم د ژوو د پیدایښت او مرګ او رزق په اړه بحث کوي او دا آیت هم د ټول عالم پیدایښت ته اشاره کوي، او تاسو پوهېږئ چي اوبه د ژوو د رزق تر ټولو مهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه ده، دانه، مېوه او واښه هم په اوبو راټوکېږي، په دې آيت سره موږ ته لارښوونه شوې چې الله تعالی د ژوو له پيداينښته مخکي د دوی روزي پيدا کړې، داسي لکه د ماشوم له پيدا کېدو مخکي چې د مور په تي کي شيدې ورته پيدا کوي.

ځينو درنو مفسرينو ويلي چې دا عالم د آسمانونو او زمکي له پيداينښته مخکي د مايع (اوبو) په څېر وو، که څه هم دا تعبير تر يوه حده د پام وړ دئ، خو دا تعبير به يوازي په هغه صورت کي د منلو وړ وو چې د بحث اصلي موضوع د عرش د څرنګوالي بيانول وی، نه ژوو ته روزي ورکول.

دا يو له هغو آيتونو څخه دئ چې اهل ظاهر او هغه خلک ئې له فهم، تفسير او واضح تعبير نه عاجز دي چې په متشابه نصوصو کي راغلي الفاظ د مجازي معنی پر ځای په حقيقي معنی نيسي، د دوی د مسلک له مخي بايد د دې آيت دا فقره (و کان عرشه علی الماء) داسي تعبير کړي چې ګواکي د آسمانونو او زمکي له پيدا کېدو مخکي د الله تعالی عرش (تخت) د اوبو پر سر پروت وو!! که پوښتنه وشي چې آيا عرش او اوبه ازلي دي؟ دا عرش د اوبو تر پيداينښت د مخه چېري او د څه د پاسه وو؟ آيا دلته له اوبو نه همدغه زموږ د څښلو اوبه دي چې دا خو د آسمانونو او زمکي له پيداينښته ډېر وروسته پيدا شوې او که مراد ترې دا دئ چې دا عالم د مايع او اوبو په څېر ويلي وو؟ د دې الفاظو معنی څه ده چې عرش ئې پر اوبو وو؟!! دغو پوښتنو ته هيڅ ځواب نشي ويلی.

دا آيت موږ ته دا خبره هم کوي چې د ټول عالم د خلقت او پيداينښت اصلي او تر ټولو ستره موخه د انسان آزموينه او د دې آزمېښت له لاري د هغه انسان راڅرګندېدا ده چې د عمل له مخي تر ټولو مخلوقاتو غوره دئ. دا ښيي چې په الهي معيارونو کي د صالح انسان ارزښت څومره لوړ دئ، دا ټول عالم، آسمانونه او زمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library
د همدې انسان د راخرگندېدو لپاره پيدا شوي.

د آيت په پای کې ويل شوي چې له دې ستر حقيقت نه منکر انسان داسې دئ چې کله ورته وواېي: له خپلې مړينې وروسته به هرومرو راپاڅئ نو حتماً به وواېي: دا له څرگند جادو پرته بل څه نه دئ!! هغه په دې حقيقت له پوهېدو عاجز دئ او څوک چې دا خبره کوي يا ئې مني نو هغه ته داسې برېښي لکه چې کوډې پرې شوې وي.

# آيا صحيح ده چې الله تعالی د زمکې آسمان ته راکوزېږي؟

د مسلمانانو تر منځ د اختلاف يوه بله موضوع د هغه روايت له بېلو بېلو تعبيرونو نه راولاړ شوی چې وايي: الله تعالی د شپې په وروستۍ درېيمې کې د دنيا آسمان ته راکوزېږي او وايي: څوک شته چې دعاء راته وکړي او زه ئې دعاء قبوله کړم، څوک شته چې څه رانه وغواړي او زه ئې ورکړم، څوک شته چې بخښنه رانه وغواړي او زه ئې وبخښم). روايت دا دئ:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ « يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ يَقُولُ مَنْ يَدْعُونِى فَأَسْتَجِيبَ لَهُ مَنْ يَسْأَلُنِى فَأُعْطِيَهُ مَنْ يَسْتَغْفِرُنِى فَأَغْفِرَ لَهُ ». (بخاری:١١٤٥)

له ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دئ چې وايي: رسول الله ﷺ فرمايلي: (زموږ رب الله تعالی هره شپه د شپې په وروستۍ درېيمې کې د دنيا آسمان ته راکوزېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي: څوک شته چي دعاء راته وکړي او زه ئې دعاء قبوله کړم، څوک شته چي څه رانه وغواړي او زه ئې ورکړم، څوک شته چي بخښنه رانه وغواړي او زه ئې وبخښم).

دا روايت په بخاري کي درې ځلي راغلی، د سند له پلوه غريب دئ، په صحابه وو کي يو، په تابعينو کي دوه او په تبع تابعيو کي يو راوي لري، د تابعينو دوه راويان د ابوهريره دوه دوستان دي، چي په ځينو کي د يوه نوم او په ځينو کي د دواړو نوم راغلی، د متن له پلوه داسي دئ چي نه يوازي په قرآن کي کوم شاهد ورته نه مومو، بلکي د قرآن له هغو آيتونو سره تعارض لري چي وايي: الله تعالی بنده ته ډېر نږدې دئ، د غاړي تر رګ هم ورنږدې دئ، په هر ځای کي ورسره دئ، که يوازي وي او که له نورو سره يو ځای، همداراز په قرآن کي د الله تعالی د نزول او راکوزېدو انګېرنه مشرکينو ته منسوب شوې لکه چي فرمايي:

هَلْ يَنظرُونَ إِلا أَن يَأْتِيَهُمُ اللَّهُ فى ظلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَ الْمَلَئكَةُ وَ قُضىَ الأَمْرُ وَ إِلى اللَّهِ تُرْجَعُ الأُمُورُ * البقره: ۲۱۰

آيا دوی له دې پرته د بل څه انتظار نه لري چي الله تعالی او فرشتې د ورېځو په سيوري کي ورته راشي او کار پای ته ورسېږي؟ حال دا چي کارونه ټول الله ته محول کېږي.

هَلْ يَنظرُونَ إِلا أَن تَأْتِيَهُمُ الْمَلَئكَةُ أَوْ يَأْتىَ رَبُّك.... الانعام: ۱۵۸

آيا له دې پرته بل انتظار نه لري چي فرشتې او ستا رب ورته راشي؟

دا او دې ته ورته آيتونه د بايبل هغه وينا ردوي چي وايي: الله تعالی د ورېځو په لړو کي راغی او موسی عليه السلام ته ئې ځان وروښود!!

په نورو رواياتو کي هم دې ته ورته مطلب نه تر سترګو کېږي، که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

عباده بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته داسي يو روايت منسوب شوی خو په سند کي ئې ضعف دئ.

دې ته مو پام وي چي الله تعالی نه په زمان مقيد دئ او نه په مکان محدود، دا د مخلوق ځانګړتيا ده چي د زمان او مکان تابع وي، نه د زمان له قيد نه وتلی شي او نه د مکان له محدوديت نه، په يوه وخت کي يوازي په يوه ځای کي وي، نه په دوو ځايونو کي او نه په هر ځای کي، که په بل ځای کي راڅرګندېږي نو مخکنی ځای بايد پرېږدي، خو الله تعالی د مخلوق په څېر نه دئ، نه ئې نزول د مخلوق په څېر دئ چي له لوړ نه لاندي راکوزېږي، نه په خاص مکان مقيد او محدود دئ چي يو ځای وي او بل ځای نه، نه لري والی او نږدي والي د هغه په اړه مطرح دئ، داسي چي نږدې او لري ليدل او اورېدل ورته توپير ولري.

متأسفانه ځيني خلک دلته هم د دې پر ځای چي د نزول کلمه د نورو مواردو په څېر په مجازي معنی ونيسي هغه په حقيقي معنی نيسي او ګمان کوي چي الله تعالی له عرش نه د دنيا آسمان ته راکوزېږي، داسي لکه کوم مخلوق چي له کومي لوړي نه لاندي ځای ته راکوزېږي!! دوی ته وايو: ۱- الله تعالی خو په هر ځای کي له بنده سره دئ، د غاړي تر رګ ورنږدې دئ، ټيټ او جګ ږغ ئې يو شان اوري، هره دعاء ئې قبلوي، نو د دنيا آسمان ته راکوزېدل يعني څه؟ په دې دواړو کي به کومه خبره منو؟ له موږ سره يو ځای دئ که له لومړي آسمان نه زموږ ږغ اوري؟ ۲- د شپې دريمه خو تل د زمکي پر سر موجوده وي، دا ګړۍ دلته، بله ګړۍ په ايران کي، بله ګړۍ په سعودي کي... همداسي تر هغه د نړۍ په ګوټ ګوټ کي پاته وي چي څلرويشت ساعته وروسته بيا پر موږ راشي، نو ستاسو د تعبير له مخي خو د دې معنی دا شوه چي الله تعالی څلرويشت ګنټې له عرش نه لري په لومړي آسمان کي وي!! نو د نزول مصداق به څه وي؟ ۳- د الله تعالی په اړه متشابه الفاظ په هيڅ مورد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي په متبادره معنی نشو اخیستی، که دا غلطي مو وکړه نو الله تعالی به مو له مخلوق سره تشبیه کړی وي او له داسي پوښتنو سره به مخامخ کېږو چي ځواب ئې نشو ویلی.

که ومنو چي ښایي رسول الله ﷺ به دا خبره کړې وي نو معنی او مراد ئې دا دئ چي الله تعالی د هغه بنده دعاء ژر قبلوي چي د شپې په درېیمي برخي کي الله تعالی ته دعاء کوي.

ما له تحقیق نه مخکي پر دې روایت ډېر ځلي استناد کړی، خو اوس او له تحقیق نه وروسته دې نتیجي ته رسېدلی یم چي له دې وروسته به هیڅکله پرې استناد نه کوم، له دې وېري چي مبادا رسول الله ﷺ ته داسي څه منسوب نه کړم چي هغه نه دي ویلي!!

دې ته مو پام وي چي اسلامي امت یو مهال له دې خطرناکي فتنې سره مخامخ شو چي قرآن شا ته وغورځول شو، د جعلي او موضوعي احادیثو بازار تود شو، کله به یوې ډلي د خپل دریځ په ګټه احادیث جوړول او کله به بلي ډلي د دغو موضوعي احادیثو په ځواب کي متضاد احادیث راپیدا کول، له علي ؓ نه په روایت شوي یوه حدیث کي دې فتنې ته داسي اشاره شوې:

عن الحارث الأعور قال: مررت فى المسجد فإذا الناس يخوضون فى الأحاديث فدخلت على علي فقلت يا أمير المؤمنين ألا ترى الناس قد خاضوا فى الأحاديث قال أو قد فعلوها قلت نعم قال أما إنى سمعت رسول الله ﷺ يقول ألا إنها ستكون فتنة فقلت ما المخرج منها يا رسول الله قال كتاب الله فيه نبأ ما قبلكم وخبر ما بعدكم وحكم ما بينكم هو الفصل ليس بالهزل من تركه من جبار قصمه الله ومن ابتغى الهدى فى غيره أضله الله وهو حبل الله المتين وهو الذكر الحكيم وهو الصراط

(c) ketabton.com: The Digital Library

المستقيم هو الذى لا تزيغ به الأهواء ولا تلتبس به الألسنة ولا تشبع منه العلماء ولا يخلق عن كثرة الرد ولا تنقضى عجائبه هو الذى لم تنته الجن إذ سمعته حتى قالوا {إنا سمعنا قرآنا عجبا يهدى إلى الرشد فآمنا به} من قال به صدق ومن عمل به أجر ومن حكم به عدل ومن دعا إليه هدى إلى صراط مستقيم خذها إليك يا أعور رواه ابن أبى شيبة، والدارمى، والترمذى

**له حارث الاعور نه روايت دئ چي وايي: په يوه جومات تېر شوم، خلک مي وليدل چي د احاديثو په اړه لگيا دي، نو علي بن ابي طالب ﷺ ته ورغلم او ورته ومي ويل: اې امير المؤمنينه! آيا نه گورې چي خلک په احاديثو کي په بحثونو لگيا دي؟ وئې ويل: آيا همداسي ئې کړي؟ ومي ويل: هو؛ وئې ويل: خو ما له رسول الله ﷺ نه اورېدلي چي فرمايل ئې: دا به يوه فتنه وي (په بل روايت کي داسي راغلي: له ما نه وروسته به داسي احاديث راڅرگند شي چي ويونکي به ئې وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل، له رسول الله ﷺ نه مي واورېدل، دا ټول به زما په اړه تور او افتراء وي، قسم په هغه ذات چي زه ئې په حقه سره رالېږلی يم زما امت به د خپل اصلي دين او جماعت په اړه په دوه اويا فرقو ووېشل شي، ټول به هم په خپله بې لاري وي او هم به د نورو بې لاري کوونکي وي، چي د دوزخ لوري ته به بلنه ورکوي، که داسي وشول نو پر تاسو لازمه ده چي د الله تعالی پر کتاب منگولي ولگوئ،) علي ﷺ وايي: ما ورته وويل چي له دې فتنې د وتلو لار کومه ده؟ وئې فرمايل: د الله کتاب، چي په هغه کي د مخکنيو قومونو قصې دي او د راتلونکو قومونو په اړه خبر، ستاسو تر منځ (د شخړو او منازعاتو په اړه) حکم او پرېکړه، هغه فيصله کوونکی دئ (د حق او باطل تر منځ پرېکنده حکم)، هسي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېهوده وينا نه ده، هر جابر چي هغه پرېږدي الله تعالی به ئې مات کړي، ځوک چي له ده پرته په بل ځه کي هدايت ولټوي الله تعالی به ئې بې لاري کړي، همدا د الله تعالی مضبوطه رسۍ ده، همدا له حکمته ډک پند او ذکر دئ، همدا مستقيمه لار ده، همدا هغه ځه دئ چي نه ئې هوی او هوس کږولی شي او نه ئې ژبي ګډوډولی شي، نه علما پرې مړېدلی شي او نه په ډېرو لوستلو سره زوړوالی مومي، نه ئې عجايب پای ته رسي، دا همغه کتاب دئ چي کله پېريانو واورېدو نو له دې ئې ډډه ونه کړه چي ووايي: موږ عجيب قرآن واوريد، د کمال لوري ته بلنه ورکوي نو ايمان مو پرې راوړ، ځوک چي د قرآن له مخي څه ووايي نو رښتيا ئې ويلي، چا چي عمل پرې وکړ نو اجر ئې په برخه شو، چا چي حکم پرې وکړ عدالت ئې وکړ، او چا چي (نورو ته) د ده لوري ته بلنه ورکړه په خپله مستقيمي لاري ته هدايت شو...

که څه هم ترمذي د دې روايت د سند په اړه څه ملاحظات لري خو د روايت متن ډېر ښکلی او دقيق دئ او په هغه کي چي د قرآن په اړه څه ويل شوي ټول ئې د قرآن له آيتونو نه اخيستل شوي مطالب دي. حقيقت دا دئ چي ډېر خلک په دې فتنې اخته شوي، قرآن ته ئې شا کړې او په ضعيفو او د قرآن خلاف رواياتو باندي نښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# معراج

د معراج د څرنګوالي په اړه هم په امت کي د شديد اختلاف شاهد يو، دا اختلاف هم له متعارضو رواياتو راولاړ شوی، قرآن د معراج په اړه څو مختصر آيتونه لري، غوره دا ده چي د بحث په پيل کي دغه آيتونه په دقت سره له نظره تېر کړو. قرآن فرمايي:

سبْحَنَ الَّذِى أَسرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسجِدِ الْحَرَامِ إِلى الْمَسجِدِ الأَقْصا الَّذِى بَرَكْنَا حَوْلَهُ لِنرِيَهُ مِنْ ءَايَتِنَا إِنَّهُ هُوَ السمِيعُ الْبَصِيرُ * الإسراء: ۱

پاکي ده هغه ذات ته چي يوه شپه ئې خپل بنده له مسجدالحرام نه تر هغه مسجد الاقصی پوري بوت چي مور ئې شاو خوا ور برکتي کړې، تر څو ځيني خپل آيتونه وروښيو، يقيناً چي هغه ښه ليدونکی اورېدونکی دئ.

وَ إِذْ قُلْنَا لَك إِنَّ رَبَّك أَحَاط بِالنَّاسِ وَ مَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتى أَرَيْنَك إِلا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ وَ الشجَرَةَ الْمَلْعُونَةَ فى الْقُرْءَانِ وَ نخَوِّفُهُمْ فَمَا يَزِيدُهُمْ إِلا طغْيَاناً كَبِيراً * الإسراء: ۶۰

او کله چي مو درته وويل: يقيناً چي ستا رب پر دغو خلکو احاطه کړې، او هغه رؤيا (خوب) چي تا ته مو دروښود؛ هغه مو فقط د خلکو لپاره يوه آزموينه ګرځولې، او په قرآن کي (ياده شوې) هغه لعنت شوې ونه او وېروو ئې، نو (دغو خبرو) يوازي د دوی ستر طغيان لازيات کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغو دواړو آیتونو کې د معراج اړوند دا لاندې زموږ مخې ته ایښودل شوې:

- دا سفر په شپه کې ترسره شوی.
- له مسجدالحرام نه تر مسجد الاقصی پورې بېول شوی.
- د سفر موخه دا وه چې الله تعالی خپل آیتونه وروښيي.
- په دې اړه چې خلکو څه ویلي الله تعالی اورېدلي.
- په دې سفر کې چې پر رسول الله ﷺ څه تېر شوي الله تعالی لیدلي.
- دا هر څه فقط یوه رؤیا وه چې رسول الله ﷺ ته په خوب کې ښودل شوې.
- خلکو ته دا رؤیا یوه آزموینه وه، ځینو ته ئې منل ګران وو، ځینو هغه له ځانه جوړه شوې قصه وګڼله، ځینو د تبلیغاتو لپاره وکاروله او ویل به ئې دا دئ دا پیغمبر اوس ادعاء کوي چې په یوه شپه کې تر مسجدالاقصی پورې تللی، د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام امامت ئې کړی، تر اوم آسمان پورې رسېدلی، په هر آسمان کې ئې یو یو پیغمبر لیدلی، جنت او دوزخ ئې په خپلو سترګو لیدلي او... دا رؤیا د دوی لپاره داسې فتنه وه لکه په قرآن کې چې د دوزخیانو په اړه یادونه وشوه چې خوراک به ئې د زقوم هغه تریخ بوټی وي چې د دوزخ په تل کې به راټوکېږي، یا د قرآن هغه وینا چې الله تعالی کافران احاطه کړي، داسې څه نشي کولی چې الله تعالی ئې د کولو توان او توفیق ورنه کړي، او یا د قرآن دا وینا چې الله تعالی به داسې څه وکړي چې ستا دښمنان به پرې ووېروي، لکه چې قریشو د قرآن پر دغو خبرو ملنډې وهلې او هغه ئې د منلو وړ نه ګڼلې ستا د دغه رؤیا په اړه هم همدا کار کوي!!

د النجم په سوره کې په دې اړه مزید وضاحت کوي او فرمايي:

أَفَتُمَرُونَهُ عَلَى مَا يَرَى * وَ لَقَدْ رَءَاهُ نَزْلَةً أُخْرَى * عِندَ سِدْرَةِ الْمُنتَهَى * عِندَهَا جَنَّةُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

الْمَأْوَى * إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى * مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَ مَا طَغَى * لَقَدْ رَأَى مِنْ ءايَتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى * النجم: ۱۲ - ۱۸

نو آیا د هغه څه په اړه ورسره شخړه کوئ چي دی ئې ويني؟!! په داسي حال کي چي هغه ئې يو ځل بل هم ليدلی وو، د سدرة المنتهی (وروستۍ بېري) خوا ته، چي هغې ته څېرمه جنت المأوی (د جنت هستوګنځی) دئ، هغه مهال چي سدرة المنتهی ځانګړي شي پوښلې وه، نه سترګي کاږه ليدل کړي او نه تېروتې، يقيناً د خپل رب ځيني ستر ستر آيتونه ئې وليدل.

دا آيتونه ښيي چي:

- قريشو د دغي رؤيا له امله له رسول الله ﷺ سره سخته شخړه او مجادله پيل کړې. هغه څه ئې نه منل چي رسول الله ﷺ په دې رؤيا کي ليدلي وو.
- رسول الله ﷺ په دې رؤيا کي جبرئيل عليه السلام په خپل اصلي بڼه کي ليدلی او دا د ده دوهم ځل ليدل وو.
- دا ليدنه په سدرة المنتهی کي شوې، د سدرة المنتهی له نامه نه معلومېږي چي دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، دا داسي وګڼئ لکه چي د يوه جګ غره په ډډه کي د ونو ځنګل وي، دا وني تر هغه ځايه راټوکېدلې وي چي تر هغه لوړ د هوا د سوړوالي او د آکسيجن د کموالي له امله نه بوټي راشنه کېږي او نه وني، د دې ځنګله د وروستۍ وني په يادولو سره همدا مطلب افاده کېږي چي تر دې آخوا نوري وني نشته، سدرة المنتهی همداسي ده.
- د قرآن د وينا له مخي جنت المأوی هم دلته دئ، نو رسول الله ﷺ هم اوه آسمانونه ليدلي او هم جنت المأوی. رسول الله ﷺ تر دغه ځايه تللی او همدلته ئې دا روحاني سفر پای ته رسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سدرة المنتهی داسي ځه پوښلې وه چي د انسان په قاموس کي د هغه د تشريح لپاره الفاظ نشته.
- په دې رؤيا کي ئې د الله تعالی نور ستر ستر آيتونه هم ليدلي.

د قرآن صريح آيتونه موږ ته لارښوونه کوي چي پيغمبر عليه السلام دوه ځلي جبرئيل عليه السلام په خپلي اصلي څېرې کي ليدلی، يو ځل داسي چي د آسمان افق پرې ډک وو، خو ده ته ډېر (د قاب قوسين په اندازه) ورنږدې شوی او د الله تعالی وحي ئې وررسولې، او بل ځل په سدرة المنتهی کي او د معراج په شپه.

د مفسرينو تر منځ په دې اړه اختلاف دئ چي له جنت المأوی نه مراد همغه جنتونه دي چي په آخرت کي به د مؤمنانو په برخه کېږي که هغه جنت چي اوس او تر آخرت مخکي د شهداوو ارواح په کي اوسي، په سلف کي هم ځيني يوه رأيه لري او ځيني بله، قتاده رحمه الله په دوهمي رأيي دئ او ابن عباس رضي الله عنهما هم دغه رأيه لري او دا پرې اضافه کوي چي د آخرت جنت به په زمکي کي وي نه په آسمان کي، حسن بصري رحمه الله وايي چي جنت المأوی همغه جنت دئ چي مؤمنان به په آخرت کي ورننوځي.

راشئ وګورو چي د معراج په اړه په رواياتو کي څه راغلي، د معراج په اړه روايات متعدد او تر ډېره حده متعارض دي، د بخاري ځيني روايات وايي چي دا سفر په خوب کي تر سره شوی او د سفر په پای کي رسول الله صلى الله عليه وسلم له خوبه راويښ شوی، خو له نورو رواياتو ئې داسي معلومېږي چي دا سفر په ويښه کي ترسره شوی!! امام بخاري رحمه الله نه دي ويلي چي کوم روايت ئې تر نورو غوره، دقيق او صحيح دئ، هغه له بېلو بېلو راويانو چي څه اورېدلي په امانت سره ئې رانقل کړي، له دې پرته بله چاره نه لرو چي له دغو متعارضو رواياتو به يو غوره کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بخاري يو روايت دا دئ:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِك قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّه ﷺ قَالَ " فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِى وَأَنَا بِمَكَّةَ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ فَفَرَجَ صَدْرِى، ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ، ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا، فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِى ثُمَّ أَطْبَقَهُ، ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِى فَعَرَجَ بِى إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ. قَالَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ. قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِى مُحَمَّدٌ ﷺ. فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ. فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا، فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ، إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَسَارِهِ بَكَى، فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالاِبْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ لِجِبْرِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا آدَمُ. وَهَذِهِ الأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ، فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ، وَالأَسْوِدَةُ الَّتِى عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ، فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ، وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى، حَتَّى عَرَجَ بِى إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ. فَقَالَ لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الأَوَّلُ فَفَتَحَ ". قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمَوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ- صَلَوَاتُ اللَّهِ عَلَيْهِمْ- وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ، غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا، وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ. قَالَ أَنَسٌ فَلَمَّا مَرَّ جِبْرِيلُ بِالنَّبِيِّ ﷺ بِإِدْرِيسَ قَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. فَقُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِدْرِيسُ. ثُمَّ مَرَرْتُ بِمُوسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالأَخِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا مُوسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِعِيسَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا عِيسَى. ثُمَّ مَرَرْتُ بِإِبْرَاهِيمَ فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالاِبْنِ الصَّالِحِ. قُلْتُ مَنْ هَذَا قَالَ هَذَا إِبْرَاهِيمُ ﷺ ". قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الأَنْصَارِىَّ كَانَا يَقُولاَنِ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

" ثُمَّ عُرِجَ بِی حَتَّی ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًی أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ ". قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ " فَفَرَضَ اللَّهُ عَلَى أُمَّتِی خَمْسِينَ صَلاَةً، فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِينَ صَلاَةً. قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ. فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا. فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ، فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا، فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ، فَإِنَّ أُمَّتَكَ لاَ تُطِيقُ ذَلِكَ، فَرَاجَعْتُهُ. فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهْىَ خَمْسُونَ، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَىَّ. فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ. فَقُلْتُ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي. ثُمَّ انْطَلَقَ بِی حَتَّى انْتَهَى بِی إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى، وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لاَ أَدْرِی مَا هِيَ، ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ، فَإِذَا فِيهَا حَبَايِلُ اللُّؤْلُؤِ، وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ ". (بخاري:۳۴۹)

**له انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دئ چي وايي: ابوذر رضی الله عنه به ويل چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (په داسي حال کي چي زه په مکه کي وم؛ د کور چت مي پرانيستل شو، جبريل (عليه السلام) راکوز شو، زما سينه ئې پرانيسته، او د زمزم په اوبو ئې ومينځله، بيا ئې د سرو زرو طشت راوړ چي له حکمت او ايمان نه ډک وو او زما په سينه کي ئې تش کړ، بيا ئې سينه راته بنده کړه، بيا ئې له لاسه ونيولم او لومړي آسمان ته ئې وخېژولم، کله چي لومړي آسمان ته ورسېدم، جبريل (عليه السلام) د آسمان خازن (ساتونکي) ته وويل: دروازه پرانېزه، هغه وويل: څوک يې؟ وئې ويل: زه جبريل يم، هغه وويل: آيا بل څوک درسره شته؟ جبريل (عليه السلام) وويل: هو، محمد ﷺ راسره دئ. هغه (خازن) وويل: آيا په هغه پسي څوک ليږل شوی (بلل شوی)؟ جبريل (عليه السلام) وويل: هو، او کله چي ئې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه پرانیستله نو لومړي آسمان ته پورته شوو، ګورو چي یو سړی ناست دئ، ښي اړخ ته ئې سړي دي او کیڼ اړخ ته ئې هم سړي دي، کله چي ښی خوا ته وګوري وخاندي او چي کیڼ اړخ ته وګوري نو وژاړي، ما ته ئې وویل: صالح پیغمبر او صالح زوی ته هرکلی وایم، ما جبریل (علیه السلام) ته وویل: دا څوک دئ؟ هغه وویل: دا آدم (علیه السلام) دئ او دا چي ښي او کیڼ اړخ ته ئې ګورې دا ئې د اولاد ارواح دي، هغه چي ښي اړخ ته ئې دي هغوی جنتیان دي او هغه چي کیڼ اړخ ته ئې دي هغوی دوزخیان دي، نو کله چي ښی خوا ته ګوري خاندي او چي کیڼې خوا ته ګوري ژاړي، بیا ئې دوهم آسمان ته پورته کړم، خازن ته ئې وویل: پرانېزه! دې خازن هم د لومړي خازن په څېر خبره وکړه، بیا ئې دروازه پرانیستله. انس ﷛ وایي چي ابوذر ﷛ وویل: رسول الله ﷺ په آسمانونو کي آدم، ادریس، موسی، عیسی او ابراهیم (علیهم السلام) لیدلي، خو د هغوی ځایونه ئې نشوی تثبیتولی، یوازي دومره ئې په یاد وو چي رسول الله ﷺ په لومړي آسمان کي آدم (علیه السلام) او په شپږم آسمان کي ابراهیم (علیه السلام) ولید. انس ﷛ وایي: کله چي محمد ﷺ له جبریل (علیه السلام) سره ادریس (علیه السلام) ته ورسېد، هغه ورته وویل: صالح پیغمبر او صالح ورور ته هرکلی وایم. محمد ﷺ وایي: (ما وویل: دا څوک دئ؟) جبریل (علیه السلام) وویل: دا ادریس (علیه السلام) دئ بیا موسی (علیه السلام) ته ورغلم، هغه وویل: صالح نبي او صالح ورور ته هرکلی وایم، ما وویل: (دا څوک دئ؟) جبریل (علیه السلام) وویل: دا موسی (علیه السلام) دئ. بیا عیسی (علیه السلام) ته ورسېدم، هغه وویل: صالح ورور او صالح نبي ته هرکلی وایم. ما وویل: (داڅوک دئ؟) جبریل (علیه السلام) وویل: دا عیسی (علیه السلام) دئ. بیا ابراهیم (علیه السلام) ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغلم هغه وويل: صالح نبي او صالح زوی ته هرکلی وایم. ما وويل: (دا څوک دئ؟) جبريل (عليه السلام) وويل: دا ابراهيم (عليه السلام) دئ.

ابن شهاب وايي چي ابن حزم راته ويلي: ابن عباس ﵄ او ابو حبة انصاري ﵁ به ويل: رسول الله ﷺ وفرمايل: (بيا لوړ بېولی شوم او هغه ځای ته پورته شوم چي د (ملائکو) د قلمونو آواز مي اورېدو). انس بن مالک ﵁ وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: (بيا الله تعالی زما پر امت (هره ورځ) پنځوس لمونځونه فرض کړل، زه له همدې حکم سره راوګرځېدم، ترهغه چي موسی (عليه السلام) ته ورسېدم، هغه راته وويل: الله تعالی ستا پر امت څه فرض کړل؟ ما وويل: پنځوس لمونځونه ئې فرض کړل. موسی (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نلري، زه بېرته وروګرځېدم، نو يوه برخه ئې ترې کم کړل، بېرته چي موسی (عليه السلام) ته ورغلم، ورته ومي ويل: الله تعالی يوه برخه ترې ساقطه کړه، موسی (عليه السلام) وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ستا امت د دې توان نلری، زه بېرته وروګرځېدم، الله تعالی ئې يوه برخه راته ساقطه کړه، بيا موسی (عليه السلام) ته ورغلم، هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته رجوع وکړه، ستا امت د دې توان او وس نلري، ما بيا الله تعالی ته مراجعه وکړه، هغه راته وفرمايل: دا پنځه دي خو پنځوس شمېرل کېږي، (په شمېر پنځه او ثواب ئې د پنځوسو)، لاَ يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ: زما خوا ته وينا بدلېدونکې نه ده، زه بيا موسی (عليه السلام) ته ورغلم هغه راته وويل: بېرته خپل رب ته ورشه، ما وويل: زه له خپل رب نه حياء کوم، بيا جبريل (عليه السلام) روان کړم تر هغه چي (سدرة المنتهی) ته ئې بوتلم، او دا ځای داسي رنګونو پوښلی وو چي توصيف ئې نه شم کولی، بيا جنت ته داخل کړی شوم، په جنت کي د ملغلرو مزي ول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوره ئې له مشکو نه وه).

دا روایت په بخاري کي په دغو شمېرو اوه ځلي نور په تکرار سره راغلی: ۱۶۳۶، ۳۳۴۲، ۳۵۷۰، ۴۹۶۴، ۵۶۱۰، ۶۵۸۱، ۷۵۱۷، چي په هغوی کي دا توپیرونه تر سترګو کېږي: دوه روایتونه وایي چي دا عروج په خوب کي وو، په ۳۵۷۰ روایت کي راغلي حَتَّى جَاءُوا لَيْلَةً أُخْرَى، فِيمَا يَرَى قَلْبُهُ، وَالنَّبِيُّ ﷺ نَائِمَةٌ عَيْنَاهُ وَلاَ يَنَامُ قَلْبُهُ وَكَذَلِكَ الأَنْبِيَاءُ تَنَامُ أَعْيُنُهُمْ وَلاَ تَنَامُ قُلُوبُهُمْ، فَتَوَلاَّهُ جِبْرِيلُ ثُمَّ عَرَجَ بِهِ إِلَى السَّمَاءِ او په ۷۵۱۷ روایت کي راغلي وَاسْتَيْقَظَ وَهُوَ فِي مَسْجِدِ الْحَرَامِ په نورو کي ئې دا برخه نه ده راغلي او پر ځای ئې د دې خلاف دوه خبري شوې: یوه دا چي د مسجد الحرام پر ځای په مکه کي د رسول الله ﷺ د کور یادونه شوې ګواکي له خپل کور نه بېول شوی او بل دا چي دا د وینښي بېول وو!!

د احادیثو په نورو کتابونو کي هم په دې اړه ګڼ شمېر روایات راغلي، ټول پنځه ویشت روایات دي، خو تر منځ ئې ډېر توپیرونه او ژور تعارض تر سترګو کېږي، د دغو متعارضو روایاتو له لیدو سره به تاسو ته دغه پوښتني راولاړېږي: آیا معراج په وینښه وو که په خوب کي؟ پر براق که بې له براقه؟ د رسول الله ﷺ له کور نه که له مسجدالحرام نه؟ مستقیماً د آسمان په لور که لومړی بیت المقدس ته او بیا له هغه ځایه آسمان ته؟ آیا لمونځ تر دې د مخه فرض شوی وو که له دې وروسته؟ په آسمانونو کي د رسول الله ﷺ لیدنه له پیغمبرانو علیهم السلام سره په کوم ترتیب ترسره شوې، په لومړي، دوهم، درېیم، څلورم، پنځم، شپږم او اوم آسمان کي ئې څوک څوک لیدلي؟ په لومړي آسمان کي ئې آدم علیه السلام لیدلی که عیسی علیه السلام؟ ابراهیم علیه السلام ئې په شپږم آسمان کي لیدلی که په اوم کي؟ موسی علیه السلام ئې په اوم کي لیدلی که ابراهیم علیه السلام؟ هارون علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library
السلام ئې لیدلی که نه؟ په دغو متعارضو روایاتو کي کوم یو صحیح دئ؟ سدرة المنتهی چیري ده؟ هلته ئې جبریل علیه السلام لیدلی که الله تعالی؟ الله تعالی ئې په خپلو سترګو لیدلی که نه؟ په هري مراجعې کي پنځه پنځه لمونځونه کم شوي که لس لس او که ځیني؟ د دې معنی څه ده چي هر ځل د الله تعالی په پریکړي کي بدلون راغلی خو سره له دې ویل شوي: ما یبدل القول لدی؟ آیا دا آیت په قرآن کي په همدې ارتباط راغلی؟ قرآن د معراج په اړه څه وایي؟ آیا په قرآن کي د دې روایاتو لپاره څه شاهد موندلی شو؟ د معراج په اړه د متعارضو روایاتو له منځ نه به یو څنګه انتخابوو؟ کوم یوه ته به په کوم دلیل صحیح وایو او بل به یوې خوا ته ږدو؟ دا هغه پوښتني دي چي نه امام بخاري رحمه الله ځواب ورته ویلی، نه ئې د بخاري په روایاتو کي ځواب موندلی شو او نه په نورو روایاتو کي. له دې پرته بله چاره نه لرو چي دا روایات به د قرآن په تله تلو او هغه به ئې صحیح ګڼو چي له قرآن سره تطابق ولري یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري. په دې اړه څو خبري په پام کي ولرئ:

قرآن د الاسراء په سوره کي وایي چي دا سفر د شپې له لوري ترسره شوی:

سبْحَنَ الَّذِى أَسرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسجِدِ الْحَرَامِ إِلى الْمَسجِدِ الأَقْصا...)

او د همدې سورې په ۶۰ آیت کي وایي چي دا یوه رؤیا او خوب وو:

(وَ مَا جَعَلْنَا الرُّءْيَا الَّتى أَرَيْنَك إِلا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ... )،

یعني دا یو روحاني سفر وو نه جسماني سفر، نو هغه روایت د قرآن له دې آیت سره اړخ نه لګوي چي وایي دا سفر په ویښه ترسره شوی او جسماني سفر وو. څوک چي رؤیا له خوب نه پرته په بله معنی تعبیروي او د ویښي لیدنه ئې ګڼي لویه اشتباه حتی د قرآن په اړه جسارت کوي، ځکه قرآن اوه ځله دا کلمه (رءیا) راوړې چي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو کي ئې معنی د خوب رؤیا ده، دا به ډېر جسارت او حتی د قرآن آیتونه د یوه ناسم تصور لپاره تحریفول وي چي څوک د دې کلمې اصلي معنی پرېږدي او د ویښي رؤیا ئې وګڼي. دا په داسي حال کي چي له روایاتو نه هم ځیني وایي چي دا یو خوب وو او د دغو روایاتو په پای کي راغلي چي رسول الله ﷺ له خوبه راویښ شو. د بخاري دوه روایتونه همدا خبره کوي. انسان داسي دئ چي په ویښه په تیاره کي او د شپې له لوري څه نشي لیدلی خو په خوب کي ئې لیدی شي، کله کله ئې په خوب کي لیدنه دومره دقیقه، جامع او وسیع وي چي د ویښي لیدا ئې ورسره مقایسه کېدی نشي، په خوب کي په داسي اسرارو پوهېدی شي چي په ویښه ورته ممکنه نه وي، د خوب لیدا ډېره سریع وي، په لنډ وخت کي دومره څه لیدلی شي چي په ویښه ئې په اوږدې مودې کي هم نشي لیدلی، هغه خلک چي د رؤیا لیدني ته په ټیټه سترګه ګوري او خاص اهمیت نه ورکوي په دې خبري باور کول ورته ګران برېښي چي د رسول الله ﷺ د معراج سفر د رؤیا سفر وګڼي، خو څوک چي رؤیا ته د قرآن له مخي ګوري هغه پوهېږي چي داسي سفر یوه انسان ته یوازي په رؤیا کي ممکن دئ نه په ویښه. که دا د ویښي سفر وي نو حتماً به د ورځي له لوري وو، ځکه انسان په ویښه د شپې له لوري او په تیاره کي څه نشي لیدلی، کله چي د انسان روح د کالبد په قید کي وي نو د سترګو لري لید ئې دومره کمزوری وي چي څو کیلو متره لري لوی لوی شیان هم نشي لیدی، د نری پردې له شا څه نشي لیدی، له رڼا پرته څه نشي لیدی، د شپې په تیاره کي څه نه ویني، خو کله چي د کالبد له قید او محدودې نه آزاده شي نو له پرېړو پرېړو حجابونو واوړي هم د ماضي له پېښو خبرېږي او هم د مستقبل له اسرارو، نه ئې تیاره مخه نیولی شي او نه حجابونه، هم د زمان له محدودې ووځي او هم د مکان، د شپې په تیاره کي داسي ویني لکه د ورځي په رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي.

قرآن وايي چې دا روحاني سفر له مسجدالحرام نه تر مسجد الاقصی پورې وو، قرآن په دې سوره کې په دې اړه مزيد څه نه دي ويلي چې له مسجد الاقصی نه وروسته څه شوي، خو د النجم په سوره کې د دې سفر نوري برخې هم بيان شوې، د دې معنی دا ده چې هغه روايات د منلو وړ نه دي چې وايي: د معراج سفر د رسول الله ﷺ له کور نه مخامخ د آسمان په لور پيل شوی.

څوک چې وايي د الاسراء په سوره کې له ياده شوې رؤيا نه مراد د حديبيې د سفر اړوند رؤيا ده سخته اشتباه کوي، دا ځکه چې د الاسراء سوره په مکه کې او د بعثت يولسم کال شاوخوا نازله شوې او د حديبيې پېښه له دې نه نږدې اته کاله وروسته وه او اړوند خوب ئې د حديبيې له پېښې لږ د مخه ليدل شوی، او هغه خوب ته د الفتح په سورې کې اشاره شوې. په الاسراء کې ياد شوی خوب د معراج اړوند خوب دئ، دا قطعاً غلطه خبره ده چې دا د حديبيې اړوند خوب گڼي.

قرآن وايي چې په دې روحاني سفر کې رسول الله ﷺ ته ستر ستر آيتونه ښودل شوي، جبريل عليه السلام ئې يو ځل بيا په خپلې اصلي بڼې کې ليدلی، سدرة المنتهی ته رسېدلی، د سدرة المنتهی له نامه نه معلومېږي چې دا د آسمانونو پای او انتهاء ده، له دې آخوا نه لوړه شته او نه مخلوق شته، د قرآن د وينا له مخې جنتونه هم دلته دي، نو رسول الله ﷺ هم اوه آسمانونه ليدلي او هم جنت. هغه روايات صحيح نه دي چې وايي: رسول الله ﷺ دلته الله تعالی په خپلو سترگو ليدلی، دا خبره هم له قرآن سره په بشپړه توگه تعارض لري او هم له گڼ شمېر هغو رواياتو سره چې وايي: انسان نشي کولی په دنيا کې او په دغو سترگو الله تعالی وگوري، پيغمبر عليه السلام د يو چا په ځواب کې فرمايي چې الله تعالی نور دئ نو څنگه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليدل کېږي؟! جبريل عليه السلام د رسول الله ﷺ د دې پوښتنې چې آيا الله تعالی دې ليدلی؟ په ځواب کې وايي: زما او الله تعالی تر منځ د نور اويا زره حجابونه دي، که لاندنی حجاب ته ورنږدې شم وزرونه مې سوزي!! قرآن دلته وايي چې هغه ئې يو ځل مخکې هم ليدلی وو، له دې نه په صراحت سره معلومېږي چې دا جبريل عليه السلام وو چې تر دې د مخه ئې هم ليدلی وو چې دې ليدنې ته د التکوير د سورې په۲۳ آيت کې داسې اشاره شوې: ÇËÌÈ Èûî7çS$sÈè(VÎ/ çm#uä ‘ ô‰s)s9ur او بې شکه چې هغه ئې په افق کې په ښکاره توګه ليدلی. دې دوهم ځل ليدنې ته په احاديثو کې هم اشاره شوې چې په خپل ځای کې به ئې وګورئ. عائشه رضي الله عنها وايي: که چا درته وويل: رسول الله ﷺ خپل رب ليدلی نو پوه شه چې هغه دروغ وايي.

د قرآن کوم آيت چې وايي: ما يبدل القول لدي... دا د (ق) د سورې د ۲۹ آيت يوه فقره ده، چې د قيامت په ورځ د دوزخيانو تر منځ د شخړې په اړه راغلې او مطلب ئې دا دئ چې د الله تعالی پرېکړې پرېکنده او تغيير نه منونکې دي او هغه پر خپلو بندګانو ظلم نه کوي، هر چا ته به عادلانه سزا ورکوي، دا آيت له يوې خوا د معراج له سفر سره هيڅ تړاو نه لري له بلې خوا د روايت له هغې برخې سره په بشپړه توګه تعارض لري چې وايي الله تعالی د لمانځه په اړه خپله پرېکړه څو څو ځلې بدله کړې ده!!

د الاسراء سوره له ډېرو هغو سورتونو نه وروسته نازله شوې چې په هغوی کې هم د لمانځه امر راغلی او هم د لمانځه وختونو ته اشاره شوې، خو له دې رواياتو داسې معلومېږي چې ګواکې لمونځونه د معراج په سفر کې فرض شوي!! دا خبره له قرآن سره قطعاً اړخ نه لګوي، په ډېر يقين سره ويلی شو چې د معراج له سفر نه مخکې هم لمونځونه فرض شوي وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو. د کوثر، المدثر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

المزمل، هود، طه، العنکبوت، الانعام، الحجر، الحج، الروم، په سورتونو کي د لمانځه امر شوی، د هود په سوره کي داسي راغلي:

7ÿ‰Œ ÏN$«ŏ¡ 9$ûüЖlõã ÏM»Z¡ tø$Ïb) È@ø‹©9$# `ÏiB $Zÿs9ã—ur Í‘$k]9$# Çû•Û ο4qn=¢Á9$# ÉΟÏ%r&r

Ç⁄íÈ šú ïÌÅ2º¤#Ï9 3“•ø.ÏŒ: او د ورځي په دواړو خواوو کي او (ورپسي نژدي) د شپې ځيني برخي کي لمونځ کوه، يقيناً چي ښېګڼي بدي له منځه وړي، دا د پند اخستونکو لپاره پند دئ.

د آيت له الفاظو داسي معلومېږي چي له (طرفي النهار) څخه مراد د ورځي دواړه خواوي دي، له غرمې مخکي او وروسته برخي ئې، چي په دې سره د ګهيځ، ماسپښين او مازديګر لمونځونو ته اشاره شوې او له (زلفا من الليل) نه مراد د شپې هغه لومړنۍ برخه مراد ده چي ورځي ته نژدې وي، چي په دې سره د ماښام او ماخستن لمونځونو ته اشاره شوې.

د الاسراء په سوره کي هم د لمانځه او اوقاتو په اړه ئې لارښوونه شوې او وايي:

أَقِمِ الصلَوٰةَ لِدلُوكِ الشمْسِ إِلى غَسقِ الَّيْلِ وَ قُرءَانَ الْفَجْرِ إِنَّ قُرءَانَ الْفَجْرِ كانَ مَشهُوداً * وَ مِنَ الَّيْلِ فَتهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّك عَسى أَن يَبْعَثَك ربُّك مَقَاماً محْمُوداً *

الاسراء: ۷۸- ۷۹

په دغو مبارکو آيتونو کي رسول الله ﷺ ته د پنځه وخته فرض لمونځ او د تهجد د لمونځ سپارښتنه شوې، که د الاسراء له سورې نه مخکي د لمانځه او د هغه د وختونو هيڅ يادونه نه وی شوې نو ويلی مو شوی چي لمونځ د معراج د روايت له مخي فرض شوی، خو خبره د دې عکس ده، تر معراج نه ډېر د مخه هم لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرض شوی وو او هم ئې اوقات ټاکل شوي وو.

ام هاني ﵂ وايي چې رسول الله ﷺ د معراج په شپه زما په کور کې وو، د ماخستن لمونځ ئې وکړ، ویده شو، سحر پاځېد او له لمانځه وروسته ئې د دې سفر په اړه موږ ته وينا وکړه... له دې روايت نه څو خبري معلومېږي:

- لمونځونه د معراج له سفر نه مخکې فرض شوي وو، ځکه په دې روايت کې د ماخستن او سحر د لمانځه يادونه شوې.
- د معراج روحاني سفر په هغه شپه تر سره شوی چې رسول الله ﷺ د ام هاني ﵂ په کور کې ويده شوی، په همدې شپه ئې دا خوب ليدلی چې له مسجدالحرام نه مسجدالاقصی ته او له هغه ځايه د آسمانونو په لور بېول شوی. په دې توجيه سره هغه تعارض هم له منځه ځي چې آيت وايي د معراج سفر له مسجد الحرام نه د مسجد الاقصي په لوري وو او روايت وايي چې دا د رسول الله ﷺ له کور څخه پيل شوی.

که د پيغمبرانو عليهم السلام مقام او منزلت ته د قرآن په رڼا کې ځير شو نو ويلی شو چې په دوی کې پنځه پيغمبران عليهم السلام تر ټولو لوړ مقام لري: محمد عليه السلام، ابراهيم عليه السلام، موسی عليه السلام، عيسی عليه السلام او نوح عليه السلام، د يوسف عليه السلام او ادريس عليه السلام مقام او منزلت تر دوی رالاندي دئ، نو ويلي شو چې په آسمانونو کې د پيغمبرانو عليهم السلام د ليدو ترتيب به داسي وو چې په لومړي آسمان کې آدم عليه السلام، بيا ادريس، يوسف، نوح، عيسی، موسی او ابراهيم عليهم السلام، هغه روايت دقيق ګڼلی شو چې دا ترتيب په کې مراعات شوی.

شيعه هم د معراج په اړه ځانته روايات لري، د رواياتو څرنګوالی ئې له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library
قیاس کولی شئ چي وايي: فاطمه ﵄ د هغي جنتي مېوې له نطفې څخه پیدا شوې چي رسول الله ﷺ ته د معراج په سفر کي جبرئیل علیه السلام ورکړه، هغه څلوېښت ورځي له ځان سره وساتله، په دې موده کي ئې له خدیجې ﵄ سره نږدېکت ونه کړ، او په څلوېښتمه شپه ئې دا مېوه وخوړه او بیا ئې له هغې سره نږدېکت وکړ او په همدې سره او همغه شپه د فاطمې ﵄ نطفه خلق شوه!! دا په داسي حال کي چي د معراج واقعه له هجرت نه یو کال مخکي او هغه مهال شوې چي خدیجه ﵄ لا څو کاله د مخه وفات شوې وه او فاطمه ﵄ پېغلتوب ته رسېدلې وه!! دغسي مسخره روایاتو په امت کي د خرافي افکارو او غلطو مذاهبو راولاړېدو ته لار آواره کړې او امت ئې ټوټې ټوټې کړی.

# د قبر عذاب

د مسلمانانو د مختلفو مذهبي فرقو تر منځ په دې اړه هم اختلاف دئ چي د قبر عذاب څنګه دئ؟ آیا مړی د برزخ د ژوند راحت او عذاب په قبر کي ګوري که په علیین او سجین کي؟ آیا له بدن نه د روح له وتلو وروسته د انسان بدن احساس لري او راحت او عذاب احساسوي؟ آیا روح له بدن نه بهر عذاب او راحت احساسولی شي؟ راشئ دا موضوع د قرآن او حدیث په رڼا کي وڅېړو.

په قرآن کي یوازي یو آیت داسي دئ چي د برزخ د ژوند عذاب ته په کي اشاره شوې ده، آیت دا دئ:

النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيهَا غُدُوًّا وَ عَشِيًّا وَ يَوْمَ تَقُومُ الساعَةُ أَدْخِلُوا ءَالَ فِرْعَوْنَ أَشدَّ

(c) ketabton.com: The Digital Library

الْعَذَابِ* غافر:٤٦

هغه اور چي سبا او ماښام به پرې وړاندي کېږي او د قيامت په ورځ به وويل شي: فرعونيان تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ.

دا آيت ښيي چي تر قيامت نه مخکي به فرعونيان په پر له پسې توګه له عذاب سره مخامخ کېږي.

که څه هم بخاري دوه نور آيتونه هم په دې اړه ګڼي خو له هغوی نه د قبر عذاب نه ثابتېږي، آيتونه دا دي:

... وَ لَوْ تَرَى إِذِ الظَّلِمُونَ فِى غَمَرَتِ الْمَوْتِ وَ الْمَلَئِكَةُ بَاسِطُوا أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنفُسَكُمُ الْيَوْمَ تجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيرَ الحَقِّ وَ كُنتُمْ عَنْ ءَايَتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ * الانعام: ٩٣

دا د روح قبضېدو حالت ته اشاره لري نه د قبر عذاب ته، له هيڅ برخي ئې د قبر عذاب نه ثابتېږي.

وَ مِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ الْأَعْرَابِ مُنَفِقُونَ وَ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ مَرَدُوا عَلَى النِّفَاقِ لا تَعْلَمُهُمْ نحْنُ نَعْلَمُهُمْ سَنُعَذِّبهُم مَّرَّتَينِ ثمَّ يُرَدُّونَ إِلى عَذَابٍ عَظِيمٍ* التوبه:١٠١

دا په دنيا کي د منافقينو مکرر عذاب او په آخرت کي د دوی ستر عذاب ته اشاره کوي نه د قبر عذاب ته.

دا مطلب په لاندي روايت کي داسي راغلی:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ « إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ، فَيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ». (بخارى:١٣٧٩)

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دئ چي وايي: رسول الله ﷺ فرمايلي: (له تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه چي څوک مړ شي هستوګنځی ئې سهار او ماښام ورښودل کېږي، که جنتي وي د جنتيانو ځای او که دوزخي وي د دوزخيانو ځای او ورته ويل کېږي: دا ستا ځای دئ، تر هغه چي الله تعالی دي د قيامت په ورځ راژوندي کوي.

دا روايت په بشپړ وضاحت سره ښيي چي د برزخ راحت او عذاب يو حقيقت دئ. خو په دې اړه د محققينو تر منځ اختلاف شته چي له سبا او ماښام نه مراد زموږ د شپې ورځې سبا او ماښام دئ، که بل څه، مړو ته خپل هستوګنځی يو ځل ورښودل کېږي که مکرر، د مړی جسد ئې ګوري او که د ده روح؟، دلته څو خبري بايد په پام کي ولرو:

د قبر عذاب حق دئ، هم د قرآن له وينا معلومېږي او هم ګڼ شمېر روايات دا خبره کوي.

دا خبره يقيني ده چي احساس د روح کار دئ نه د جسد، که په جسد کي روح نه وي د درد او عذاب احساس نشي کولی، حتی هغه مهال هم درد نه احساسوي چي د بدن د دردمني برخي رابطه له دماغ سره قطع شي، نه يوازي په دې حالت کي هيڅ څه نشي درک کولی بلکي ګورئ چي د عصبي مزو په بې حسه کېدو سره درد نه احساسوي، پښه ترې اره کېږي خو دی پرې نه پوهېږي، نس ئې څيري کېږي د درد احساس هم نه کوي، د عملياتو په دوران کي نه پوهېږي چي جراح له ده سره څه کوي!!

کله چي روح له کالبوته ووځي نو يا عليين ته وړل کېږي يا سجين ته، نو پوښتنه دا ده چي مړی د قبر راحت او عذاب څنګه احساسوي؟ آيا دا معامله د ده له روح سره کېږي که د ده له بدن سره که له دواړو سره؟ له دواړو سره خو يوازي په هغه صورت کي ممکنه ده چي د روح رابطه له بدن سره پاته وي، که د عصب د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزي په قطعه کېدو یا بې حسه کېدو سره زموږ روح د اړوند غړي درد او عذاب نشي احساسولی نو له ټول بدنه د روح د وتلو په صورت کي به عذاب څنګه درک کوي؟ اما روح له بدنه پرته هم درد او خوشحالي احساسوي، د انسان خوب ئې یوه بېلګه ده، په خوب کي د انسان روح لري لري سفرونه کوي، له ښکلو منظرو نه خوند اخلي او له بدو ځورېږي، هیبتناکي او وېرونکې منظرې ئې دومره وارخطا کړي چي زړه ئې په چاودېدو شي، او خوشحالوونکي منظرې ئې دومره ښاد کړي چي په جامو کي نه ځائېږي او زړه ئې غواړي والوزي، خو بدن ئې په خپلي خوا کي او د بړستني څنګ ته ډېر جریانات نه احساسوي. د دې معنی دا ده چي روح له بدن نه لري او بېل هم احساس لري خو بدن له روح پرته له احساس نه محروم شي.

د انسان بدن د روح لپاره فقط یو کالبوت دئ، له مرګ نه وروسته بدن وروست شي، په خاورو کي تجزیه شي، د بدن برخي ئې د نورو ژوو، حیواناتو او نباتاتو خوراک شي، خو روح ئې سالمه او روغه پاته وي، رسول الله ﷺ فرمایي چي د شهید روح ته د شنو مرغانو په څیر کالبوت ورکړی شي، جنت ته ورومي او مېوې ئې خوري، له دې نه معلومېږي چي د مؤمنانو او کافرانو روح ته هم داسي مناسب کالبوت ورکول کېږي چي د قبر راحت او عذاب احساس کړي.

قرآن په دغو آیتونو کي موږ ته دا حقیقت داسي انځور کړی:

أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَى قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَى عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّى يُحْيِي هَذِهِ اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ قَالَ لَبِثْتُ يَوْماً أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ قَالَ بَلْ لَبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانظُرْ إِلَى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ وَانظُرْ إِلَى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِلنَّاسِ وَانظُرْ إِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْماً فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ البقره:۲۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا لکه هغه چي په یوه داسي کلي تېر شو چي په خپلو بامونو راپرېوتی وو، وئې ویل: الله به دا له خپلي داسي مړیني نه وروسته څنگه بیاراژوندي کوي، نو الله هغه په سل کلن مرگ مړ کړ، بیا ئې بېرته راژوندی کړ، ورته وئې ویل: څومره وځنډېدې، وئې ویل: یوه ورځ ځنډېدلی یم او یا خو د یوې ورځي یوه برخه، وئې فرمایل: داسي نه ده، بلکي سل کاله ځنډېدلی یې، نو خوراک او څښاک ته دي وگوره چي نه دي گنده شوي او خره ته دي وگوره او دا د دې لپاره چي تا د خلکو لپاره یوه نښه وگرځوو او هډوکو ته ځیر شه چي څنگه ئې خوځوو او بیا ئې په غوښي پټوو، نو کله چي ورته څرگنده شوه، وئې ویل: (اوس) ښه پوهېږم چي الله په هر څه ښه قادر دئ.

دا د الله یو مؤمن بنده وو، (که څه هم په یوه روایت کي عزیر گڼل شوی، هغه چي یهودانو د الله زوی گڼلو) په سفر روان وو، د خوراک او څښاک لپاره څه توښه ورسره، په یوه وران او نسکور شوي زاړه کلي تېرېدو، هرې خوا ته ئې د کلیوالو وراسته هډوکي تر سترگو شول، ناڅاپه ئې دا خبره په زړه کي ورتېره شوه چي الله تعالی به دا وراسته هډوکي څنگه بیا راژوندي کوي، الله تعالی غوښتل هم د ده دا پوښتنه ځواب کړي او هم د ده په واسطه هغه خلک قانع کړي چي بیاژوندون ئې نه منلو، د همدې لپاره ئې هغه په سل کلن مرگ محکوم کړ، سل کاله وروسته ئې بیا راژوندی کړ، پوښتنه ئې ترې وکړه، دلته څومره وځنډېدې؟ ځواب ئې ورکړ: نه پوهېږم، ښایي یوه ورځ یا خو د یوې ورځي یوه برخه، الله تعالی ورته وفرمایل: نه دلته سل کاله ځنډېدلی یې، د سورلۍ ورستو هډوکو ته وگوره، خو خوراک او څښاک ته دي سترگي واړوه چي روغ رمټ پاته دي، وگوره چي څنگه دا وراسته هډوکي خوځوم، غوښه وربان‌دي راټوکوم او بیا ئې راژوندی کوم، دغه مؤمن بنده د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې صحنې په ليدو سره د خپلې پوښتنې ځواب ترلاسه کړ او وئې ويل: اوس ښه پوه شوم چې الله په هر څه قادر دئ.

په دې قصې کې د بياژوندون او برزخ په اړه څو بنيادي او اساسي خبرو ته ځواب ويل شوی دئ:

يوه له هغو خبرو نه چې د بيا ژوندون په اړه د انسان ذهن تر خپل سيوري لاندي نيسي او باور کول ورته ګرانوي، د اوږدې زمانې تېرېدل دي، که په يوه مړي يوه دوه ورځې تېرې شوې وي بياژوندی کېدل ئې ورته دومره ګران نه برېښي لکه د هغه چې اوږده موده ورباندي تېره شوې وي، د دغي قصې په ترڅ کې ويل شوي چې زمانه نسبي امر دئ، له يوه نه تر بل او له يوه حالت نه تر بل ئې وضع بدلېږي، ويښ او ويده، مړ او ژوندی، لټ او تېز ته يو شان نه وي، هغه زمانه چې يوه ته په يوه حالت کې بې انتهاء برېښي بل ته د څو ثانيو او دقيقو وي، کومه فاصله چې مېږي ته بې انتهاء برېښي د يوې مرغۍ لپاره د څو ثانيو وي، که په يوه اطاق کې له يوه ويده او ويښ نه چې ټوله شپه ئې په خوب او ويښه تېره کړې، پوښتنه وکړئ، ويښ به درته وايي: ډېره اوږده شپه وه، لټ په لټ اوښتم، سخته راباندې تېره شوه او ويده به درته وايي زه نه يم پوهېدلی چې شپه څنګه تېره شوه او څومره خوب مي کړی، دې مؤمن بنده ته عملاً وښودی شو چې سل کاله ورته يوه ورځ او حتی تر هغه هم کم، د يوې ورځې څو ګنټې معلوم شول، قرآن همدغه حقيقت ته په څو نورو مواردو کي هم اشاره کړې او فرمايي: د الله لپاره يوه ورځ هومره ده لکه ستاسو پنځوس زره کاله، دا تاسو يئ چې کلونه او پېړۍ درته اوږده زمانه برېښي او په واړه ذهن مو د دې سيوری پروت دئ چې په مړو باندي د اوږدې مودې له تېرېدو وروسته به څنګه بيا راژوندي کېږي. د نسبيت په هکله د قرآن دغه خبره دولس

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېړۍ وروسته، د المان يوه ساينس پوه انشټين، د ساينس په ژبه وکړه او په دې سره ئې د فزيک د پلار نوم وګاټو.

دوهم څه چي په دې اړه د انسان ذهن ته راځي هغه دا دئ چي په مرګ سره د انسان ټول بدن په خاورو بدل شي، د اوږدې زمانې په تېرېدو سره ئې له غوښې او هډوکو نه هيڅ اثر پاته نشي، دا به څنګه بېرته راژوندی کېږي؟ په دې قصې کي هغه مؤمن بنده ته وښودی شو چي د انسان وجود دوه برخي لري، جسد او روح، په مرګ سره ئې يوه برخه له منځه ځي خو بله برخه ئې روغه رمټه پاته کېږي، دا داسي وګڼه لکه (ستا سورلۍ) او (خوراک څښاک) يو ختم شوی وو خو بل روغ رمټ پاته وو، ستا جسد د روح لپاره داسي دئ لکه ستا دغه سورلۍ او ستا روح داسي لکه دا خوراک څښاک او ستا د قوت او ځواک منبع، په مرګ سره ستا هر څه له منځه نه ځي، يوه برخه روغه رمټه پاته کېږي، روح له منځه نه ځي، يوازي د روح سورلۍ خپل حالت بدل کړي، غوښه او هډوکي ئې په خاوره کي تجزيه شي، دا بياژوندون داسي وګڼئ لکه چي په مني کي ټول نباتات ومري، وراسته او په خاوره بدل شي، په خاوره کي مونږ ته د دوی هيڅ اثر په نظر نه راځي، ټول ژمی ورباندي تېر شي، خو په پسرلي کي په يوه باران سره له زمکي سر رااوچت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قبرونو زيارت

د قبرونو د زيارت په اړه هم په مسلمانانو کي د اختلاف شاهد يو، ځيني وايي رسول الله ﷺ په لومړي سر کي د قبرونو له زيارت نه ممانعت کړی وو خو وروسته ئې اجازه ورکړه، ګواکي لومړی حکم په دوهم حکم سره منسوخ شوی!! ځيني وايي نارينه وو ته اجازه شته او ښځو ته نه، ځيني د قبرونو زيارت شرک ګڼي خو د قصرونو عبادت او طواف ته نه د شرک خطاب کوي او نه ئې په اړه د څه ويلو جسارت کوي، مړه بُتان غندي خو د ژونديو بُتانو په ضد هيڅ نه وايي!! دا په داسي حال کي چي په ټول قرآن کي د قبرونو د زيارت او نه زيارت په اړه هيڅ نه دي ويل شوي خو طاغوت ته د تحاکم لپاره تګ او ظالمو حکامو ته خپلي شخړي او منازعات راجع کول د ايمان منافي عمل ګڼل شوی او د داسي کس په اړه وايي چي نه يوازي ايمان ئې هيڅ اعتبار او وزن نه لري بلکي شيطان سخت بې لاري کړی. ځيني داسي هم شته چي وايي: ښځي د دې لپاره هدېرو ته له تلو منعه شوې دي چي د مړو سترګي ډېري تيزي وي او د جامو تر شا د انسان بدن هم ګوري!! حال دا چي قرآن پيغمبر عليه السلام ته فرمايي چي ته مړو ته هيڅ څه اورولی نشې، دا څکه چي مړي څه نه اوري!! راشئ وګورو چي په دې اړه صحيح عقيده کومه يوه ده؟ بخاري په دې روايت استناد کوي او وايي قبر ته تګ نه د ښځو لپاره څه مانع لري او نه د نارينه وو لپاره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِك ﵁ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ بِامْرَأَة تَبْكِي عِنْدَ قَبْرٍ فقال « اتَّقِي اللَّه وَاصْبِرِي ». قَالَتْ إِلَيْكَ عَنِّي، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِي، وَلَمْ تَعْرِفْهُ. فَقِيلَ لَهَا إِنَّهُ النَّبِيُّ ﷺ. فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ ﷺ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ فَقَالَتْ لَمْ أَعْرِفْكَ. فَقَالَ « إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى ». (بخاري:۱۲۸۳)

له انس بن مالک ﵁ نه روایت دئ چي وايي: رسول الله ﷺ یوه ښځه ولیده چي په یوه قبر باندي ژاړي نو وئې فرمایل: له الله تعالی نه ووېرېږه او صبر کوه، هغي ښځي چي رسول الله ﷺ ئې نه پېژاندو وویل: له ما درتم شه (پرې مي ږده)، ته زما په مصیبت نه یې اخته شوی، ورته وویل شول چي دا خو نبي ﷺ وو، نو د رسول الله ﷺ دروازې ته راغله او هلته ئې پیره داران او ساتونکي ونه لیدل، وئې ویل: ما ونه پېژندې، وئې فرمایل: صبر هغه دئ چي د مصیبت په لومړي سر کي وي.

دا روایت په بخاري کي درې ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی: ۱۲۵۲، ۱۳۰۲، ۷۱۵۴

مطلب ئې دا دئ چي رسول الله ﷺ یوې ښځي ته چي د قبر خوا ته ئې ژړل وفرمایل: له الله تعالی نه ووېرېږه او صبر کوه، هغې نه پېژندو او ورته وئې ویل: ته له هغه مصیبته فارغ یې چي زما په برخه شوی، پیغمبر علیه السلام ترې ولاړ او چا دې ښځي ته وویل چي دا خو رسول الله ﷺ وو، نو دا ئې کور ته ورغله او وئې لیدل چي د کور په دروازه کي ئې ساتونکي نشته، رسول الله ﷺ ته ئې وویل چي ما ونه پېژندې، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: صبر هغه دئ چي د مصیبت په لومړي سر کي وي. وروسته خو غم په خپله ورو ورو هېر شي، د صبر ثواب هغه مهال د انسان په برخه کېږي چي د مصیبت په پیل کي له بې صبرۍ ځان وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې روایت په اړه څو خبرو ته پام کوئ:

بخاري دا روایت د دې لپاره راوړی چې وښیي د قبر لیدو ته د ښځو ورتګ جائز دئ، ځکه رسول الله ﷺ د دغې ښځې په دې کار اعتراض ونکړ.

رسول الله ﷺ د دعوت په لومړیو کې د قبرونو له زیارت نه مسلمانان منعه کړي وو، د رسالت په وروستیو کلونو کې ئې اجازه ورکړه، ځیني وروستی حکم د لومړي حکم ناسخ ګڼي، چې دا یوه اشتباه ده، حقیقت دا دئ چې لومړی حکم په یوې مرحلې پورې تړلی دئ او دوهم حکم په بلې مرحلې پورې، هغه مهال چې پر قبرونو ګنبدې ولاړې وې، مجاورین ئې درلودل، خلک به د خپلو حاجتونو لپاره قبرونو ته تلل، شرک او خرافاتو پر ټولنې تور وزر خور کړی وو نو رسول الله ﷺ قبرونو ته له تلو نهي او ممانعت وکړ، خو هغه مهال چې دا حالت ختم شو، نه نور پر قبرونو ګنبدې وې، نه زیارتونه، نه ئې خوا ته مجاورین، د شرک او خرافاتو ټغر ټول شوی وو، اسلامي نظام حاکم وو، خلک د توحید په مدرسه کې ښه روزل شوي وو، نو قبرونو ته په دې موخه د ورتلو اجازه ورکړی شوه چې مرګ ورپه یاد کړي، پند ترې واخلي او مړو ته د مغفرت او بخښنې دعاء وکړي. د اسلامي امت اوسنی حالت داسې دئ لکه د رسالت د لومړیو کلونو حالت، اوس باید هر مفتي او عالم خلکو ته همغه څه ووایي چې رسول الله ﷺ د رسالت په لومړیو کلنو کې ویلي وو، زیارت ته له تلو نه هم نارینه منعه کړي او هم ښځې، یوازې هغه مهال اجازه ورکړي چې ډاډه وي د قبر خوا ته د ګناه او شرک ارتکاب نه کوي. عجیبه ده چې ځیني جومات ته د ښځو تګ حرام ګڼي خو زیارتونو، میلو، ودونو او بازارونو ته ئې پر تګ اعتراض نه لري او پر داسې روایاتو استناد کوي او وایي چې د نه تګ مخکنی حکم منسوخ شوی!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کافرانو ماشومان به دوزخ ته ځي که جنت ته؟!

په مسلمانانو کي يوه بله اختلافي مسئله دا ده چي د مؤمنانو او کافرانو ماشومان به جنت ته درومي که دوزخ ته، دوی خو نه ښه عمل کړی او نه بد، او نه پر ايمان مکلف شوي، له بلوغ نه مخکي د مړيني په حالت کي به ولي دوی مکافات يا مجازات کېږي؟! د مؤمنانانو د ماشومانو په اړه خو زيات اختلاف نشته، خو په دې اړه اختلاف زيات دئ چي د کافرانو ماشومان به دوزخ ته درومي، که به جنت ته او که د جنت او دوزخ تر منځ دريېم ځای ته؟! راشئ په دې اړه رواياتو ته ځير شو او وگورو چي سمه او د قرآن او حديث مطابق عقيده کومه يوه ده. د بخاري دې روايت ته ځير شئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ- رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَ- قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَنْ أَوْلاَدِ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ « اللَّهُ إِذْ خَلَقَهُمْ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ ». (بخاری:١٣٨٣)

له ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دئ چي وايي: له رسول الله ﷺ نه د مشرکينو د اولادونو په اړه پوښتنه وشوه، نو وئې فرمايل: (کله چي الله تعالی هغوی پيدا کول په هغه څه ښه پوه وو چي دوی به ئې کوونکي وي).

دا روايت چي په بخاري کي له ځينو توپيرونو سره دوه ځلي راغلی، د سند له مخي داسي دئ چي په دريو طبقو کي يو يو راوي لري، د متن له پلوه له هغو رواياتو سره توپير لري چي په همدې اړه راغلي، له ابوهريره رضي الله عنه نه هم دې ته ورته روايت

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی، ځیني روایات وایي چې د مشرکینو اولاد به له دوی سره په دوزخ کې وي، ځیني وایي چې الله تعالی ښه پوهېږي چې دوی به د ژوندي پاته کېدو په صورت کې څه کول. ځیني روایات داسې دي چې وایي دوی به په جنت کې وي، هغه محققین چې دغو روایاتو ته ترجیح ورکوي، د پورتني روایت په اړه وایي چې له (اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ) څخه دا نه معلومېږي چې دوی به دوزخ ته ځي. د مقابل لوري په ځواب کې څو دلایل وړاندي کوي:

د دې مطلب لپاره چې د مشرکینو اولاد به دوزخ ته ځي نه یوازې په قرآن کې کوم شاهد نشو موندلی بلکې د قرآن له ډېرو صریحو لارښوونو سره تعارض لري. په هیڅ آیت کې نه دي راغلي چې د مشرکانو کمعمره اولاد به دوزخ ته ځي. قرآن وایي چې هر چا ته به د هغه د عمل له مخې بدله ورکول کېږي، ماشوم که ئې والدین مؤمن وي یا کافر داسې عمل ئې نه وي کړی چې د عذاب مستحق وګڼل شي، نو ولې به دوزخ ته ځي؟!

قرآن فرمایي چې د هر بني آدم (که کافر وي که مسلمان) اولاد له داسې فطري جوړښت سره پیدا کېږي چې پر الله تعالی ایمان ئې په خټه کې اېښودل شوی وي، له دې پلوه د مؤمن او کافر اولاد سره ورته دي، ولې به د مؤمن اولاد جنت ته درومي او د مشرک اولاد دوزخ ته؟!

رسول الله ﷺ فرمایلي چې هر ماشوم له روغ فطرت سره دنیا ته راځي، وروسته ئې والدین بې لارې کړي، د روغ فطرت خاوند به ولې دوزخ ته ځي؟!

همداراز په بل روایت کې راغلي:

عن خنساء بنت معاوية بن صريم عن عمتها قالت قلت يا رسول الله من في الجنة قال النبي في الجنة والشهيد في الجنة والمولود في الجنة والوئيد في الجنة رواه احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

إسناده حسن

**خنساء بنت معاويه له خپلي ترور نه روايت كوي چي وايي: رسول الله ﷺ ته مي وويل: يا رسول الله! څوک به په جنت کي وي؟ وئې فرمايل: نبي به په جنت کي وي، شهيد به په جنت کي وي، ماشوم به په جنت کي وي، ژوندۍ ښخه شوې ماشومه به په جنت کي وي.**

**بل روايت وايي:**

عن أنس مرفوعا سألت ربي اللاهين من ذرية البشر أن لا يعذبهم فأعطانيهم. رواه أبو يعلى إسناده حسن.

**له انس رضي الله عنه نه مرفوع حديث دئ چي وايي: رسول الله ﷺ فرمايلي: له خپل رب نه مي وغوښتل چي د بشر ماشومان تعذيب نه كړي نو دا ئې راپه برخه كړل (زما دا دعاء ئې قبوله كړه).**

**د يوه بل روايت په ترڅ كي داسي راغلي:**

فنهى رسول الله ﷺ، عن قتل الأطفال، ثم قال: « الله أعلم بما كانوا عاملين. معجم الاوسط للطبراني

**نو رسول الله ﷺ د ماشومانو له وژلو نه ممانعت وكړ او وئې فرمايل: الله تعالى په هغه څه ښه پوهېږي چي دوی به ئې كوي.**

**د دې معنى دا ده چي د مشركينو ماشومان له دې امله مه وژنئ چي ګواكي دوی به د خپلو پلرونو په څېر مشرک ستر شي، الله تعالى ښه پوهېږي چي دوی به څه كوي، له دې نه معلومېږي چي د دې وينا موخه د دوی نه وژل دي نه دا چي په دوزخ كي د دوی د پرېوتو وجه او توجيه وي.**

**په بل روايت كي ويل شوي چي رسول الله ﷺ په خپل خوب كي ابراهيم عليه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام له بې شمېره ماشومانو سره په جنت کي ليدلی، بيا ئې وفرمايل چي دا د مؤمنانو او کافرانو ماشومان ول.

دغو خبرو ته په پام سره په قاطع توگه ويلی شو چي ټول ماشومان به جنت ته ځي.

# آيا پېريان ليدل کېږي؟

په اسلامي امت کي په دې اړه هم جدي اختلاف تر سترگو کېږي چي آيا انسان کولی شي پيريان په خپلو سترگو وگوري؟ آيا پيريان کولی شي خپل شکل او بڼه بدله کړي او د بل مخلوق په بڼه کي څرگند شي؟ راشئ وگورو چي قرآن په دې اړه څه وايي او په دې اړه کومه عقيده صحيح گڼي.

د الاعراف په سوره کي لولو:

يَبَنِى ءَادَمَ لا يَفْتِنَنَّكُمُ الشيْطنُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُم مِّنَ الْجَنَّةِ يَنزِعُ عَنهُمَا لِبَاسهُمَا لِيرِيَهُمَا سوْءَتهِمَا إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَ قَبِيلُهُ مِنْ حَيْث لا تَرَوْنهُمْ إِنَّا جَعَلْنَا الشيَطِينَ أَوْلِيَاءَ لِلَّذِينَ لا يُؤْمِنُونَ * الاعراف:۲۷

اې د آدم اولاده! پام چي شيطان تاسو ونه غولوي، همغسي لکه چي ستاسو مور پلار ئې له جنته وايستل، جامه ئې ترې ايستله چي بدن ئې وروښيي (بدن ئې ورته ښکاره او لوڅ کړي)، دی او قبيله ئې تاسو په داسي توگه ويني چي تاسو ئې نشئ ليدلی، موږ شيطانان د هغو دوستان گرځولي چي ايمان نه راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې مبارک آیت کې څو اساسي خبري تر سترګو کېږي:

- انسانانو ته ویل شوي چې د شیطان وسوسو ته تسلیم نشي.
- شیطان د دې باعث شو چې د انسانانو لومړني پلار مور له جنته ووځي.
- دوی لومړی له جنته ایستل شوي بیا جامه ترې ایستل شوې.
- دا جامه یو ځلي نه ده ترې ایستل شوې بلکې ورو ورو ترې ایستل شوې، د ینزع صیغه همدا مطلب افاده کوي.
- د شیطان هدف دا وو چې انسان لوڅ او بربنډ کړي، دی پوهېدو چې د دې کار پایلي انسان ته څومره خطرناکي دي، له ده سره د خپلو شیطاني منصوبو په عملي کولو کي څومره مر سته کوي، څومره فتنې وربانديي راولاړولی شي، د انسان د بې لاري کولو لپاره له دې څومره استفادې کولی شي!!
- هغه مو داسي خطرناک دښمن دئ چې په هر ګام کي ئې تاسو ته کمین نیولی، تاسو ئې نه ګورئ او هغه موویني.
- هغه کسان له شیطان سره دوستي کوي او د وسوسو تر اغېز لاندي ئې ځي چې ایمان نه راوړي، مؤمنان له شیطان سره دوستي نه پالي او نه غواړي د وسوسو تر اغېز لاندي ئې راشي.

د دې آیت له دغي فقرې (إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَ قَبِيلُهُ مِنْ حَيْث لا تَرَوْنَهُمْ) نه د محققو علماوو انتباه دا ده چې انسانان نشي کولی شیطان او د ده قبیله په خپلو سترګو وګوري، دوی هغه آراء او روایات ضعیف او بې اعتباره ګڼي چې د شیطان په لیدل کېدو ترکیز کوي. د دې آیت الفاظ هومره صریح او واضح دي چې نه شک ته کوم مجال پرېږدي او نه بلي توجیه ته. په قاطع او پرېکنده توګه وايي چې تاسو شیطان او د ده قبیله نشئ لیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الجن په سوره کي لولو:

’<Ĵ ü‘ Ÿ‰ö ÇÈ $Ÿg” $R#äœè $Yèjœ $RĴ (þ‰$) ù Çý‰$ `B Ÿy R ì JGÖ $qR& ¥<Ĵ ÓÇréœè

الجن: ۱-۲ ÇÈ #%n& $ZĥÎ 8Îô `9r ¾ÏîÎ $ZB$«ù Ÿ‰ö$

روایه: راته وحي شوې چې د پېریانو یوه ډله ورته غوږ شول او وئې ویل: بې شکه چې مونږ عجیب قرآن واورېدو. ۲ـ د رشد او کمال په لوري لارښوونه کوي، ایمان مو پرې راووړ، او هیڅکله به څوک له خپل رب سره شریک نه کړو.

په دې آیتونو کې څو ظریف ټکي زمونږ توجه جلبوي:

الف: د وحي له لاري پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې د پېریانو یوې ډلې د قرآن تلاوت ته غوږ اینښی او دومره ئې تر اغېز لاندې راغلي چې نورو ته ئې ویلي: عجیب قرآن مو واوریدو، د کمال لوري ته لارښود، ایمان مو پرې راوړ او دا پریکړه مو وکړه چې له دې وروسته به هیڅکله د شرک مرتکب نه شو او د الله تعالی په څنګ کې به د بل چا او بل څه عبادت ونکړو، پیغمبر علیه السلام دا ډله نه ده لیدلې او د دې سورې تر نازلېدو له دې خبر نه وو چې دوی قرآن اورېدلی او غبرګون ئې دا وو او خپل قوم ته ئې دا وینا کړې. له ټول جریان نه د دې سورې په رڼا کې پوه شو. دا آیتونه هم په دغې خبري شهادت ورکوي او د احقاف د سورې دا آیت هم چې فرمایي:

وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ * الاحقاف: ۲۹

او هغه وخت چې د پېریانو یوه ډله مو ستا لوري ته راوګرځوله چې قرآن ته غوږ شي چې کله ورته حاضر شول وئې ویل: خاموش شئ، نو کله چې پای ته ورسېدو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، خبرداری ورکونکي.

دا دواړه آيتونه په ډېر صراحت سره وايي چې رسول الله ﷺ په تلاوت لګيا وو چې دا ډله راغلې، قرآن ئې اورېدلی، پرته له دې چې پيغمبر عليه السلام پرې پوه شي.

د قرآن دغه درې څرګند او محکم آيتونه په ډېر وضاحت سره وايي چې نه موږ پيريان ليدلی شو او نه رسول الله صلی الله عليه و سلم هغوی ليدلي. څوک چې پر قرآن ايمان لري نو هغه ته په کار ده چې که د نړۍ ټول خلک راغونډ شي او د قرآن د دغو صريحو آيتونو خلاف خبره وکړي نو هغه به نه د قرآن د وينا په اړه شک کوي او نه به د خلکو خبرو ته څه اهميت ورکوي.

- خو په دې هکله څو روايته زمونږ مخې ته راځي: يو ئې عبدالله بن عباس رضي الله عنه ته منسوب دئ او دوه ئې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته، د دغو دواړو جليل القدره صحابه وو د رواياتو تر منځ تعارض دئ، يو ئې د نه ليدو او بل ئې د ليدو خبره کوي، او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته منسوب روايتونه هم په خپلو کې تعارض لري، په يوه کې داسې راغلي چې مونږ يوه شپه پيغمبر عليه السلام ونه موند، ډېر پرېشانه شوو، دا وېره راسره پيدا شوه چې څه نه وي پرې شوي، سهار هغه رامعلوم شو او پوښتنه مو ترې وکړه چې چېرې تللی وې، هغه وفرمايل چې د پېريانو يوې ډلې ته مې قرآن اوراوو، په بل کې راغلي چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي: زه ئې په يوه ځای کې ودرولم او راته وئې ويل چې له دې ځايه مه خوځېږه او هغه لاړ او د پېريانو يوې ډلې ته ئې قرآن واوراوو. که څه هم ځينو د دې تعارض په اړه څه توجيهات کړي، خو په ډېر تکلف سره، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دوه روايات او د عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت ټول د يوې پېښې په اړه دي، خو دا دئ ګورئ چې تر منځ ئې څومره ژور

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعارض او تضاد تر سترګو کېږي!! څوک چي وايي د عبدالله بن مسعود روايات د دوو بېلو بېلو پېښو په اړه دي هغوی د تعارض رفعه کولو لپاره دا خبره کوي.

عجيبه ده چي څوک عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته منسوب دوه متعارض روايات په داسي حال کي صحيح ګڼي چي له قرآن سره هم جدي او ژور تعارض لري او په خپلو کي هم، خو بل لوري ته د عبد الله بن عباس رضي الله عنه دا قول ضعيف بولي چې وايي:

عن ابن عباس قال: ما قرأ رسول الله صلى الله عليه وسلم على الجن وما رآهم. رواه مسلم و الترمذي

له عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت دئ چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پيريانو ته د قرآن قرائت کړی او نه ئې دوی ليدلي.

حال دا چي دا وينا د قرآن له صريح آيت سره مطابقت لري!! په ټول قرآن کي صريحاً يا تلويحاً داسي څه نه ګورو چي وښيي پيغمبر عليه السلام پيريان په خپلو سترګو ليدلي، يا ئې بل څوک ليدی شي، اما دا چې سليمان عليه السلام ته پېريان مسخر وو، دا د سليمان عليه السلام ځانګړې معجزه وه، خو قرآن د دغي معجزې د بيان په لړ کي هم دا نه وايي چي هغه يا نورو پيريان په خپلو سترګو ليدل.

څوک چي وايي پيريان کولی شي خپله بڼه او شکل بدل کړي ادعاء ئې بې بنسټه او بې دليله ده، هيڅ مخلوق نشي کولی خپل شکل او خلقت بدل کړي، الله تعالی دا توان هيڅ مخلوق ته نه دئ ورکړی. د قرآن دا آيت په قاطع او پرېکنده توګه فرمايي چي د مخلوق فطرت او خلقت نشي بدلېدی:

فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفاً فِطرَتَ اللَّهِ الَّتِى فَطرَ النَّاسَ عَلَيهَا لا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَ لَكِنَّ أَكثرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ * الروم: ٣٠

نو خپل مخ دي په بشپړه توګه د دين لوري ته سم مخامخ کړه، همغه الهي فطرت ته چي خلک ئې پرې پيدا کړي، د الله په خلقت کي تبديلي نشي راتلی، همدا قيم

(c) ketabton.com: The Digital Library
دین دئ خو ډېری خلک نه پوهېږي.

- که انسان نشي کولی له ځانه پېری او فرشته جوړ کړي، په داسي حال کي چي هغه اشرف المخلوقات دئ نو پېریان به څنګه دا کار وکړی شي، پیریان له اوره پیدا شوي، په داسي مخلوق نشي بدلېدی چي هغه له خاوري پیدا شوی. هغه فرشتې چي د انسان په بڼه کي ځینو پیغمبرانو علیهم السلام ته لېږل شوې، یا مریمي علیها السلام ته د انسان په بڼه کي متمثل شوې، دا د دوی ذاتي کار نه وو، هره فرشته دا کار نشي کولی، همدغه خاصي فرشتې د الله تعالی په حکم او د دې لپاره د انسان په بڼه کي لېږل شوې چي انسان یوازي د انسان په وینا او خبري پوهېدی شي.

- څوک چي وایي آدم علیه السلام ته شیطان په داسي بڼې کي ورغلی چي لیدل کېدو؛ ادعاء ئې بې بنسټه او غلطه ده، آدم علیه السلام ته شیطان په داسي کیفیت کي ورغلی چي نن ئې اولاد ته ورځي، که هغه شیطان په خپلو سترګو لیدلی وی نو نن به موږ هم لیدلو، هغه زموږ جد دئ، هر څه ئې داسي وو لکه زموږ، شیطان چي څنګه د ده اولاد غولوي، ګناه ته ئې هڅوي، ګناه ورته ښایسته کوي، له ده سره ئې دې ته ورته معامله کړې، نه ئې د شیطان څېره لیدلې او نه ئې د هغه غږ اورېدلی، هغه ئې وسوسه کړی: فوسوس لهم الشیطان، همغسي ئې وسوسه کړی چي نن د ده اولاد وسوسه کوي!!

- دا هم ډېره عجیبه ده چي څوک د قرآن صریح وینا او د هغه مؤید صحیح روایات نه مني او په اوهامو او افسانو پسي درومو او وایي: ډېرو خلکو پېریان په خپلو سترګو لیدلي، که ورته واویې له دغو کسانو نه یو زموږ مخي ته ودروه چي پوښتنه ترې وکړو: پېری دي کله او چېري ولیدو؟ په کومي بڼې کي؟ څوک درسره وو؟ داسي څوک نشي راوستی، که احیاناً څوک په خپله په دې اړه څه وایي نو وبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورئ چي هر يوه ئې يوازي يوازي او د بل له ملګرتيا پرته، په شپه کي، په يوه تياره ځای کي، هلته چي سترګي سم ليدل نشي کولی، د ونو تر سيوري لاندي، په يوې کنډوالې کي او د ډېران خوا ته، يا د توري پشۍ په بڼه کي يا د تور سپي په شکل کي پېريان ليدلي!!! نه کوم شاهد لري او نه کوم عاقل او بالغ انسان ته قناعت ورکولی شي!! هيڅ يوه ئې دې پوښتني ته ځواب نه دئ ويلی چي: څنګه پوه شوې چي دا تور سپی، توره پشۍ او جګ سيوری پېری وو نه ستا واهمه؟ ځيني بيا وايي: دا د عقل خبري نه دي، دلته به د عقل نيلۍ نه ځغلوو، د خلکو رواياتو ته به اعتبار ورکوو!! هغوی ته وايو: که موږ د پېريانو په اړه د خپل عقل له مخي قضاوت کولی نو هغه قصې به مو هرو مرو منلې وې چي په هر کور کي د ووړ او زوړ په خوله تکرارېږي، انا خپل لمسيان پرې وېروي او د شپې له لوري، په تياره کي له کوره بهر وتلو ته ئې نه پرېږدي او ورته وايي چي پام کوه په ايرو پل کښېنږدې چي پېريان به دي ونيسي!! هر ناآشنا درب د پيريانو د پښو ترپا ګڼي!! خو موږ د قرآن او سنت تابع يو او همغه خبره کوو چي د صريح نص له مخي ثابته وي.

راشئ وګورو چي روايات په دې اړه څه وايي:

عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ - رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ وَكَّلَنِى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ، فَأَتَانِى آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ، وَقُلْتُ وَاللَّهِ لأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ. قَالَ إِنِّى مُحْتَاجٌ، وَعَلَىَّ عِيَالٌ، وَلِى حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ. قَالَ فَخَلَّيْتُ عَنْهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ النَّبِىُّ ﷺ « يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ ». قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالاً فَرَحِمْتُهُ، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ. قَالَ « أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ ». فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ لِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ إِنَّهُ سَيَعُودُ. فَرَصَدْتُهُ فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ لأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ. قَالَ دَعْنِى فَإِنِّى مُحْتَاجٌ، وَعَلَىَّ عِيَالٌ لاَ أَعُودُ، فَرَحِمْتُهُ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ لِى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ « يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، ما فعل أَسِيرُكَ ». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالاً، فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ. قَالَ « أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ ». فَرَصَدْتُهُ الثَّالِثَةَ فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ، فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ لأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ، وَهَذَا آخِرُ ثَلاَثِ مَرَّاتٍ أَنَّكَ تَزْعُمُ لاَ تَعُودُ ثُمَّ تَعُودُ. قَالَ دَعْنِى أُعَلِّمْكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللَّهُ بِهَا. قُلْتُ مَا هُوَ قَالَ إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِىِّ ( اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّومُ ) حَتَّى تَخْتِمَ الآيَةَ، فَإِنَّكَ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ وَلاَ يَقْرَبَنَّكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ. فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فَأَصْبَحْتُ، فَقَالَ لِى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ « مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ ». قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ زَعَمَ أَنَّهُ يُعَلِّمُنِى كَلِمَاتٍ، يَنْفَعُنِى اللَّهُ بِهَا، فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ. قَالَ « مَا هِىَ ». قُلْتُ قَالَ لِى إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِىِّ مِنْ أَوَّلِهَا حَتَّى تَخْتِمَ ( اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّومُ ) وَقَالَ لِى لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ وَلاَ يَقْرَبَكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ، وَكَانُوا أَحْرَصَ شَىْءٍ عَلَى الْخَيْرِ. فَقَالَ النَّبِىُّ ﷺ « أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ، تَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلاَثِ لَيَالٍ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ». قَالَ لاَ. قَالَ « ذَاكَ شَيْطَانٌ » بخاري: ۲۱۸۷

**ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ وايي: رسول الله ﷺ د روژې د صدقاتو په ساتني وگمارلم، يو راتلونکی راته راغی او هغه خوراکي توکي ئې سپړل، نو ومي نيوی او ورته ومي ويل: قسم دئ چي حتماً دي رسول الله ﷺ ته وړاندي کوم، وئې ويل: زه محتاج يم او بچيان راپه غاړه دي، او سخت اړ شوی يم، (ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ) وايي: نو هغه مي پرېښود، سبا رسول الله ﷺ راته وويل: اې ابوهريره! تېره شپه ستا اسير څه وکړل؟ وايي ورته ومي ويل: يا رسول الله! د شديد حاجت او بچيانو شکايت ئې راته وکړ، زړه مي پرې وسوزېدو او هغه مي پرېښود، وئې فرمايل: يقيناً چي هغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

درواغ درته ویلي او حتماً به بیا راشي، نو د رسول الله ﷺ وینا ته په پام سره پوه شوم چي هغه به حتماً بیا راشي، نو څارنه مې کوله، نو راغی او هغه خوراکي توکي ئې سپړل، نو ومي نیوی او ورته ومي ویل: قسم دئ چي حتماً دي رسول الله ﷺ ته وړاندي کوم، وئې ویل: ما پرېږده، زه محتاج یم او بچیان راپه غاړه دي بیا نه راځم، نو زړه مي پرې وسوزېدو او هغه مي پرېښود، سبا رسول الله ﷺ راته وویل: اې ابوهریره! تېره شپه ستا اسیر څه وکړل؟ وایي ورته ومي ویل: یا رسول الله! د شدید حاجت او بچیانو شکایت ئې راته وکړ، زړه مي پرې وسوزېدو او هغه مي پرېښود، وئې فرمایل: یقیناً چي هغه درواغ درته ویلي او حتماً به بیا راشي، نو درېم ځل ورته په څار کي شوم، نو راغی او هغه خوراکي توکي ئې سپړل، نو ومي نیوی او ورته ومي ویل: قسم دئ چي حتماً دي رسول الله ﷺ ته وړاندي کوم، او دا درېیم ځل دئ چي ته د بیا نه راتلو ژمنه کوې خو بیا راځې، وئې ویل: ما پرېږده، داسي کلمات به دروښیم چي الله تعالی ګټه پرې دررسوي، ورته ومي ویل: هغه څه دي؟ وئې ویل: کله چي څملې نو آیة الکرسي (اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ...) د آیت تر پایه لوله، چي په دې سره به تر سحره پر تا د الله تعالی له لوري یو ساتونکی ګمارل شوی وي او شیطان به نشي درنږدې کېدی، نو هغه مي پرېښود، سبا رسول الله ﷺ راته وویل: اې ابوهریره! تېره شپه ستا اسیر څه وکړل؟ ومي ویل: یا رسول الله! ژمنه ئې وکړه چي داسي کلمات به دروښیم چي الله تعالی ګټه پرې دررسوي، نو پرې مي ښود، وئې فرمایل: دا څه دي؟ ومي ویل: راته وئې ویل: کله چي څملې نو آیة الکرسي (اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ...) د آیت تر پایه لوله، چي په دې سره به تر سحره پر تا د الله تعالی له لوري یو ساتونکی ګمارل شوی وي او شیطان به نشي درنږدې کېدی، او دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خير په چارو کي ډېر حريص ول، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: خو هغه يقيناً رښتيا درته ويلي په داسي حال کي چي ډېر دروغجن دئ. اې ابوهريره! آيا پوهېږې په دغو دريو شپو کي له چا سره مخاطب وې؟ وئې ويل نه؛ وئې فرمايل: دا شيطان وو.

دا روايت په بخاري کي دوه ځلي نور هم په دغو شمېرو راغلی:. ۳۲۷۵، ۵۰۱۰، په لنډه توګه او له دې توپير سره چي په دې کي وَاللَّهِ لَأَرْفَعَنَّکَ راغلي او په هغوی کي يوازي لَأَرْفَعَنَّکَ.

دا روايت د سند له مخي داسي دئ چي په څلورو طبقو کي يو يو راوي لري او د متن له پلوه داسي دئ چي په څو برخو کي له قرآن سره تعارض لري:

- قرآن وايي چي پېريان نه ليدل کېږي او دا روايت وايي چي ابوهريره درې شپې سر په سر شيطان وليد او ټينګ ئې ونيولو!
- قرآن وايي چي رسول الله ﷺ په غيب نه پوهېدو او دا روايت وايي چي رسول الله ﷺ درې شپې سر په سر په غياب کي ليدل چي د ابوهريره رضي الله عنه او شيطان تر منځ څه تېرېدل!
- قرآن وايي چي شيطان انسان ته د فحشاء او منکر سپارښتنه کوي او غلطو کارونو ته ئې هڅوي خو دا روايت وايي چي شيطان ابوهريره رضي الله عنه ته د آية الكرسي فضايل وروښودل! دا په داسي حال کي چي قرآن په ټول تأکيد او د حصر په صيغه وايي چي شيطان ستاسو دښمن دئ او يوازي په دغو دريو کارونو تاسو ګماري: سوء، فحشاء او د الله په اړه هغه څه ويل چي نه پرې پوهېږئ.

إِنَّمَا يَأْمُرُكُم بِالسوءِ وَ الْفَحْشاءِ وَ أَن تَقُولُوا عَلى اللَّهِ مَا لا تَعْلَمُونَ * البقره:۱۶۹

يقيني خبره دا ده بله نه ده چي هغه تاسو په کرکجنو او قبيح کارونو ګماري او په

(c) ketabton.com: The Digital Library
دې چي د الله په اړه هغه څه ووايئ چي نهورباندي پوهېږئ.

• قرآن وايي چي د پيريانو خوراک اوبه دي، (وَ أَلَّوِ استَقَمُوا عَلى الطرِيقَةِ لأَسقَيۡنَهُم مَّاءً غَدَقاً * الجن: ۱۶خو دا روايت وايي چي شيطان د کجورو د غلا لپاره راغلى وو!!

• د دې روايت لپاره په قرآن کي هيڅ شاهد نه مومو.

• عقل وايي چي غل د غلا په وخت کي ځان پټوي او دا روايت وايي چي شيطان د غلا په وخت کي خپل اصلي شکل بدل کړى وو او د انسان په بڼه کي په ښکاره توګه د ابوهريره خوا ته ورغلى وو او هغه هم د غلا لپاره!

• عقل وايي چي هيڅ مخلوق نشي کولى خپل اصلي شکل بدل کړي او د بل مخلوق بڼه غوره کړي خو دا روايت وايي چي شيطان ابو هريره ته د انسان په بڼي کي ښکاره شوى وو!

• دا روايت وايي چي ابوهريره ﵁ درې ځلي په ډېر تأکيد سره لوړه کړې وه چي شيطان به ترلاس نيولى رسول الله ﷺ ته وروليږي خو هر ځل ئې خپله لوړه ماته کړې!!

• په دې روايت کي چي کومي خبري راغلې دي دا له ځينو جدي توپيرونو سره په نورو کتابونو کي بريدة او أبو أيوب الأنصاري ته منسوب شوې دي. خو هلته ويل شوي چي دوى به ناڅاپي توګه متوجه شوي چي له خوراکي توکو څخه څه کم شوي، رسول الله ﷺ ته ئې دا خبره کړې او ګواکي هغه ورته فرمايلي چي دا کار شيطان کوي او بيا د شيطان راتلو ته مترصد پاته شوي...

• د نسائي سنن الکبرى کي د ابوهريره دغه روايت په بل سند سره داسي راغلى چي له دې سره ژور توپيرونه او تعارضونه لري، هغه وايي چي ابوهريره په خپله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېري شپې جريان رسول الله ﷺ ته بيان کړی، نه دا چي رسول الله ﷺ هغه ته ويلي چي تېره شپه دي اسير څه وکړل!!

دغو خبرو ته په پام سره په بشپړ ډاډ او يقين سره ويلی شو چي نه انسان کولی شي پېريان وګوري او نه پېريان کولی شي خپل شکل بدل کړي

د پېريانو په اړه دغه ليکنه په شهادت کي خپره شوه، يوه محترم ورور په خپل ليک کي د دغي ليکني په اړه څو ملاحظات او پوښتني رالېږلې وې چي دوی ته په ځواب کي لاندي مطلب وليکل شو:

- ما د قرآن په دريو څرګندو او محکمو آيتونو استناد کړی چي وايي نه موږ پيريان ليدلی شو او نه رسول الله صلی الله عليه و سلم هغوی ليدلي. پر قرآن د ايمان تقاضاء دا ده چي که د نړۍ ټول خلک راغونډ شي او د قرآن د دغو صريحو آيتونو خلاف خبره وکړي نو د يوه مؤمن په توګه به د قرآن د وينا په اړه شک نه کوو او د خلکو خبرو ته به اهميت نه ورکوو.
- ما د قرآن د صريح آيت په استناد ليکلي وو چي هيڅ مخلوق نشي کولی په بل مخلوق ځان بدل کړي، الهي فطرت او د خلقت په اړه د الله تعالی سنن تغيير نه منونکي دي. دا د قرآن قاطع وينا ده، که انسان نشي کولی له ځانه پېری او فرشته جوړ کړي، په داسي حال کي چي هغه اشرف المخلوقات دئ؛ نو پېريان به څنګه دا کار وکړی شي، پيريان له اوره پيدا شوي، په داسي مخلوق نشي بدلېدی چي هغه له خاوري پيدا شوی. هغه فرشتې چي د انسان په بڼه کي ځينو پيغمبرانو عليهم السلام ته لېږل شوې، دا د دوی ذاتي کار نه وو، هره فرشته دا کار نشي کولی، همدغه خاصي فرشتې د الله تعالی په حکم او د دې لپاره د انسان په بڼه کي لېږل شوې چي انسان يوازي د انسان په وينا او خبري پوهېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په دې اړه روايات متعارض دي، تر منځ ئې شديد تعارض او حتى تضاد تر سترگو کېږي، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دوه روايات او د عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت ټول د يوې پېښي په اړه دي، خو تر منځ ئې شديد تعارض دئ، څوک چي وايي د عبدالله بن مسعود روايات د دوو بېلو بېلو پېښو په اړه دي هغوی د تعارض رفعه کولو لپاره دا خبره کوي.
- د ابو هريره رضي الله عنه بل روايت د همدې پېښي په اړه داسي دئ چي سحر ده په خپله رسول الله صلى الله عليه و سلم ته پېښه بيان کړې او هغه ورته ويلي چي دا شيطان وو!! هغه روايت دا خبره نه کوي چي رسول الله صلى الله عليه و سلم ورته ويلي: اسير دي تېره شپه څه وکړل؟! دوه نور روايات چي نورو ته منسوب شوي داسي دي چي وايي له غلې څه کمېدل، پرته له دې چي کموونکی ئې ليدلی وي، پېښه رسول الله صلى الله عليه و سلم ته ويل شوې او گواکي رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي چي دا کار شيطان کوي!! دا ټول روايات د سند له مخي غريب دي او په څو طبقو کي يو يو راوي لري. په داسي مهمي اعتقادي موضوع کي داسي غريب روايات منل او هغه هم په داسي حال کي چي له قرآن سره تعارض لري، ډېره عجيبه ده!!

دې ته مو پام وي چي جن هغه څه ته ويل کېږي چي د انسان له سترگو پټ وي او نه ليدل کېږي، طبري ليکي: وکل ما توارى عن أبصار الناس، فإن العرب تقول فيه:"قد جَنّ"، و"الجن" من ذلک لأنهم استجنُّوا عن أعين بني آدم فلا يرون. هر هغه څه چي د خلکو له سترگو پټ وي نو عرب د هغه په اړه وايي: "قد جَنّ"، او جن (پېرى) له همدې څخه دئ د دې لپاره چي د انسانانو له سترگو پټ شوي او نه ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خضر علیه السلام

یوه له جدي اختلافي مسائلو څخه له خضر علیه السلام سره د موسی علیه السلام د ملګرتیا قصه ده چې متصوفینو خپل ټول عقاید د همدغې قصې له ځینو برخو اخیستي دي، دین په شریعت او طریقت وېشل، علم په اکتسابي او لدني، ظاهري او باطني وېشل، اولیاء الله ته علم غیب ثابتول، او ځیني نور عقاید ئې له همدغې قصې مستنبط کړي!!

راشئ وګورو چې د دې قصې حقیقت څنګه دئ او الله تعالی د دې قصې په ترڅ کې موږ ته څه لارښووني کړې دي.

په قرآن کې د موسی علیه السلام او خضر علیه السلام په اړه دا آیتونه پر له پسې راغلي چې لومړی برخه ئې دا ده:

وَ إِذْ قَالَ مُوسى لِفَتَاهُ لا أَبْرَحُ حتى أَبْلُغَ مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضىَ حُقُباً * فَلَمَّا بَلَغَا مجْمَعَ بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتخَذَ سبِيلَهُ فى الْبَحْرِ سرَباً * فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ ءَاتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ لَقِينَا مِن سفَرِنَا هَذَا نَصباً * قَالَ أَ رَءَيْت إِذْ أَوَيْنَا إِلى الصخْرَةِ فَإِنى نَسِيت الحُْوت وَ مَا أَنسانِيهُ إِلا الشيْطنُ أَنْ أَذْكُرَهُ وَ اتخَذَ سبِيلَهُ فى الْبَحْرِ عجَباً * قَالَ ذَلِك مَا كُنَّا نَبْغِ فَارْتَدَّا عَلى ءَاثَارِهِمَا قَصصاً * فَوَجَدَا عَبْداً مِّنْ عِبَادِنَا ءَاتَيْنَهُ رَحْمَةً مِّنْ عِندِنَا وَ عَلَّمْنَهُ مِن لَّدُنَّا عِلْماً *

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کله چي موسی خپل زلمکي ته وويل: تر هغه به له تلو تم نشم چي مجمع البحرين (د دوو سيندونو يو ځای کېدو سيمي) ته ورسېږم يا به تر اوږدې مودې (کالونه کالونه) دروممم. نو کله چي د دواړو يوځای کېدو سيمي ته ورسېدل نو دواړو خپل کب هېر کړ، چي په عجيبه توگه ئې په سيند کي خپله لار ونيوله او ولاړ. نو کله چي تېر شول خپل زلمکي ته ئي وويل: غرمنی (خوراک) مو راته راوړه؛ په رښتيا چي له دې سفره مو ستړيا په برخه شوه (دې سفر ډېر ستومانه کړو)، وئې ويل: په ياد دي دي کله چي هغي لويي ډبري ته مو پنا يووړه؛ نو ما کب هېر کړ، هسي شيطان رانه هېر کړ چي يادونه ئې (درته) وکړم، او په عجيبه توگه ئې په سيند کي خپله لار ونيوله. وئې ويل: همدا هغه څه دئ چي موږ ئې غواړو، پر خپلو پلونو گام په گام په شا وگرځېدل، نو زما له بندگانو ئې داسي يو بنده وموند چي له خپل لوري مو پېرزوينه ورپه برخه کړې وه او له خپل لوري مو ځانگړی علم ورزده کړی وو.

له دې آيتونو څو خبري معلومېږي:

- موسی عليه السلام ته د يوه پوه او عالم شخصيت يادونه شوې، د اوسېدو ځای ئې مجمع البحرين ښودل شوی، ده اراده کړې چي دا کس حتماً وگوري، څه وخت ورسره پاته شي او څه ترې زده کړي. په همدې موخه خوځېدلی، يو کس ئې د خادم او ساتونکي په توگه له ځان سره کړی.
- دا سفر اوږد او ستونزمن وو، د ده دا وينا چي يا به مجمع البحرين ته رسم او يا خو به همداسي تر اوږدې مودې دروممم، همدا مطلب افاده کوي. د هغو خلکو انتباه صحيح نه ده چي وايي: موسی عليه السلام سحر خوځېدلی، د غرمې شاوخوا مهال داسي ځای ته رسېدلی چي ستړی او وږی شوی، هملته ئې ماهي ترې ورک شوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خضر علیه السلام ئې همله موندلی!! دا انګېرنه د قرآن له وینا سره په بشپړه توګه تعارض لري.

- دا سفر د دوبي په ګرمیو کي ترسره شوی، د تودوخي له امله ئې د غرمې مهال د یوې لویې ډبري سیوري ته پنا وړې وه.
- د موسی علیه السلام د سفر ملګری د (فتا: غلام او خادم) په نامه یاد شوی او له دې معلومېږي چي دا د هغه وخت قصه ده؛ او دا سفر هغه مهال ترسره شوی چي موسی علیه السلام د فرعون په کور کي او د شاهي کورنۍ د یوه غړي په توګه اوسېدو او ساتونکي او غلامان ئې په خدمت کي ول، دا ځکه چي قرآن د یوسف علیه السلام ساتونکي او خدمتګاران هم په دغه نامه یادکړي.
- موسی علیه السلام ته کب د نښي په توګه ټاکل شوی، د قرآن له وینا معلومېږي چي په سیند کي روان کب د ده لپاره د داسي نښي په توګه ټاکل شوی وو چي هر ځای ترې ورک شي او خپله لاره بدله کړي نو همله به مجمع البحرین وي او همله به هغه نېک سړی مومي.
- موسی علیه السلام خپل ملګری په دې ګمارلی وو چي په سیند کي روان کب به ترنظر لاندي نیسي، که ترې ورک شو نو ده ته به اطلاع ورکوي، خو کله چي دې کب خپل مسیر بدل کړی او په بل لوري تللی نو له ملګري ئې دا خبره هېره شوې او هغه مهال ئې موسی علیه السلام ته کړې چي هغه د خوراک غوښتنه ترې کړې.

که د مصر حالت ته ځیر شو نو په ټول مصر کي مجمع البحرین نشو موندلی، نیل له دوو سترو سیندونو (نیل الابیض او نیل الازرق) څخه جوړ شوی، دا دواړه د سودان په مرکز خرطوم کي سره یو ځای شوي، له مصر نه تر خرطوم پوري بل مجمع البحرین نه ترسترګو کېږي، او دا تر دوو میاشتو زیات پلي مزل غواړي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسی علیه السلام له وینا هم معلومېږي چي دی په اوږده سفر وتلی وو، د ده له دې وینا نه چي یا به د دوو سیندونو د یوځای کېدو ځای ته رسېږم او یا خو به تر اوږدې مودې همداسي درومم، په څرگنده توگه معلومېږي چي موسی علیه السلام په اوږده سفر وتلی وو، په لنډ سفر کي هیڅوک دا خبره نه کوي چي یا به آخري مزل ته رسېږم او یا خو به همداسي تر اوږدې مودي روان یم. د هغو مفسرینو رأیه دقیقه ده چي له مجمع البحرین څخه د نیل د دوو څانگو د یوځای کېدا محل اخلي، دلته له بحرین نه مراد دوه روان سیندونه اخلي نه دوه ولاړې اوبه، هغه رأیه کمزورې ده چي وایي له بحرونو نه مراد خلیج عقبه او خلیج سویس یا بحرالروم او بحر القلزم دي، دا ځکه چي د ولاړو اوبو لپاره د (مجمع بینهما) الفاظ کارول مناسب نه برېښي. همداراز که له دې نه دغه بحرونه او د دوی یو ځای کیدو سیمه مراد وی نو دا ځایونه نه کومي نښي ته ضرورت لري او نه ئې له موسی علیه السلام نه دومره اوږد سفر غوښتو چي ووایي: یا به مجمع البحرین ته رسېږم یا به کلونه کلونه (حقبا) مزل کوم. د خضر علیه السلام له وینا معلومېږي دا سیمه د فرعون له واکمنۍ بهر وه او بېل پاچا ئې درلود، ځکه هغه وایي: وړاندي ئې داسي پاچا دئ چي هره کښتۍ غصبوي، همداراز د قرآن له نورو آیتونو معلومېږي چي موسی علیه السلام له بعثت نه وروسته یوازي څلوېښت ورځي له بني اسرائیلو بېل شوی چي په همدې لنډې مودې کي سامري وغلول او د الله تعالی په ځای ئې د سخوندر عبادت ته تیار کړل.

په خپله مخه د کب تلل ښیي چي مجمع البحرین همدلته وو، کب خپله لاره بدله کړې او په هغه لوري تللی چي له بل اړخ نه بل سیند له نیل سره یو ځای شوی، نو ځکه موسی علیه السلام خپل ملگري ته وویل: موږ د همدغه ځای (مجمع البحرین) په لټه کي وو. دې ته مو هم باید پام وي چي هغه پلي نابلد مسافر ته چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی سیند په ژۍ بري خوا ته روان وي، دا ډېره ګرانه وي چي د دوو سیندونو د یو ځای کېدو ځای په دقیقه توګه تشخیص کړي، دا ځکه چي ډېر ځلي لوی سیندونه په یوه ځای کي ووېشل شي او په بل ځای کي ئې وېشل شوې ښاخګي بېرته سره یو ځای شي، دې ته مو هم باید پام وي چي الله تعالی کبان داسي پیدا کړي چي په ژمي کي تودو سیمو ته کوزېږي او په دوبي کي بېرته خپلو اصلي سړو سیمو ته درومي، کله کله د دوی دا ژمنی او دوبنی سفر سلګونه کیلومتره اوږد وي، د نیل کبان د دوبي (اوړي) په موسم کي له مصر نه د سودان او بیا په یوګندا او ایتوپیا کي د نیل د سرچینو په لوري درومي.

د قصې دوهمه برخه د موسی علیه السلام او خضر علیه السلام تر منځ د ملاقات څرنګوالی زموږ مخي ته ږدي او فرمایي:

قَالَ لَهُ مُوسى هَلْ أَتَّبِعُك عَلى أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْت رُشداً * قَالَ إِنَّك لَن تَستَطِيعَ مَعِىَ صبراً * وَ كَيْف تَصبرُ عَلى مَا لَمْ تحِط بِهِ خُبراً * قَالَ ستَجِدُنى إِن شاءَ اللَّهُ صابِراً وَ لا أَعْصى لَك أَمْراً * قَالَ فَإِنِ اتَّبَعْتَنى فَلا تَسئَلْنى عَن شىْءٍ حَتى أُحْدِث لَك مِنْهُ ذِكْراً *

موسی ورته وویل: آیا کېدی شي د دي لپاره ستا متابعت او ملګرتیا وکړم چي د هغه رشد او پوهي څه رازده کړې چي تا ته ئې علم درکړی شوی؟ هغه ورته وویل: ته زما په ملګرتیا کي صبر نشې کولی، څنګه به په هغه څه صبر وکړې چي پرې خبر نه یې؟ وئې ویل: إن شاء الله ما به صابر وموميې او په هیڅ کار کي به له تا سرغړاوی ونه کړم. وئې ویل: نو که زما متابعت کوې نو د هیڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چي په خپله ئې یادونه درته وکړم.

له دې آیتونو څو خبري په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library
موسی علیه السلام د دې لپاره د خضر علیه السلام خوا ته ورغلی وو چي څه ترې زده کړي، او دا ښيي چي دا ملاقات هغه مهال ترسره شوی چي لا موسی علیه السلام په پیغمبرۍ نه وو مبعوث شوی، ځکه له بعثت نه وروسته دی په خپله د نورو معلم او مرشد شو، دا ضرورت ئې نه وو چي له خضر علیه السلام یا له بل چا څه زده کړي. له دې وروسته نه په ټولي نړۍ کي تر ده ستر عالم وو او نه ستر مرشد، هیڅ عقلمن انسان دا خبره نشي منلی چي د موسی علیه السلام په څېر ستر او اولوالعزم پیغمبر به له بعثت نه وروسته له داسي چا د څه زده کولو لپاره دومره اوږد سفر کړی وي چي نه ئې تر ده مقام لوړ وو، نه دا معلومه ده چي هغه پیغمبر وو او حتی قرآن د ده نوم هم نه دئ یاد کړی!! دې خبري ته په پام سره په بشپړ یقین او اطمئنان سره ویلی شو چي دا سفر د موسی علیه السلام په ځوانۍ کي او له بعثت نه ډېر مخکي شوی!

کله چي موسی علیه السلام له خضر علیه السلام سره مخامخ شوی له هغه ئې غوښتي چي څه موده ئې له ځان سره د ملګري په توګه ومني او هغه څه وروښيي چي الله تعالی ده ته ورښودلي. هغه په ځواب کي دوه خبري ورته کړې: ۱- ته زما په ملګرتیا کي صبر نشې کولی، ښايي د ده حالت ته په پام سره ئې دا خبره ورته کړې، هغه ئې په سوکالۍ او رفاه کي ستر شوی زلمی موندلی او د ځان د ستونزمنو او خطرناکو سفرونو د ملګرتیا جوګه ئې نه دی ګڼلی؛ نو ځکه ئې دا خبره ورته کړې. او بیا ئې ورته ویلي: څنګه به په هغه څه صبر وکړې چي پرې خبر نه یې؟ ۲- او که سره له دې زما متابعت کوې نو د هیڅ څه په اړه تر هغه ما مه پوښته چي په خپله ئې یادونه درته وکړم. له دې نه معلومېږي چي خضر علیه السلام ډېر محتاط شخصیت وو، خپل نږدې د سفر ملګری ئې هم له خپلو اسرارو نه خبراوو، پر موسی علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام ئې دا شرط ومنلو چي د اسرارو پوښتنه به نه ترې کوي، مګر هغه مهال چي دی ئې په خپله یادونه وکړي. له دې نه دا هم معلومېږي چي خضر علیه السلام په سري مبارزې بوخت وو، د دې خبري حقیقت هغه مهال موږ ته لاښه جوت کېږي چي د دوی دواړو د ملګرتیا درې پېښي په دقت سره له نظره تېري کړو. د موسی علیه السلام مخکنی د سفر ملګري له ځان سره نه بېول هم دغه مطلب په ګوته کوي. موسی علیه السلام شرط مني او د صبر او اطاعت ژمنه کوي.

د قصې درېیمه برخه داسي ده:

فَانطلَقَا حتی إذَا رکِبَا فی السفِینَة خرَقَها قَالَ أ خرَقْتها لِتغْرِقَ أَهْلَها لَقَدْ جئْت شیْئاً إمْراً * قَالَ أ لَمْ أَقُلْ إنَّك لَن تَستَطِیعَ مَعِی صبراً * قَالَ لا تُؤَاخذْنی بمَا نَسِیت وَ لا تُرْهِقْنی مِنْ أَمْرِی عُسراً * فَانطلَقَا حتی إذَا لَقِیَا غُلَماً فَقَتَلَهُ قَالَ أ قَتَلْت نَفْساً زَکِیَّةَ بِغَیرِ نَفْسٍ لَّقَدْ جِئْت شیْئاً نُّکْراً * قَالَ أ لَمْ أَقُل لَّك إنَّك لَن تَستَطِیعَ مَعِی صبراً * قَالَ إن سأَلْتُك عَن شیْءِ بَعْدَهَا فَلا تُصحِبْنی قَدْ بَلَغْت مِن لَّدُنی عُذْراً * فَانطلَقَا حتی إذَا أَتَیَا أَهْلَ قَرْیَةِ استَطعَمَا أَهْلَها فَأَبَوْا أَن یُضیِّفُوهُمَا فَوَجَدَا فِیهَا جِدَاراً یُرِیدُ أَن یَنقَض فَأَقَامَهُ قَالَ لَوْ شِئْت لَتَّخَذْت عَلَیْهِ أَجْراً * قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَیْنی وَ بَیْنِك سأُنَبِّئُك بِتَأْوِیلِ مَا لَمْ تَستَطِع عَّلَیْهِ صبراً * أَمَّا السفِینَةُ فَکانَت لِمَسکِینَ یَعْمَلُونَ فی الْبَحْرِ فَأَرَدت أَنْ أَعِیبَهَا وَ کانَ وَرَاءَهُم مَّلِكٌ یَأْخُذُ کلَّ سفِینَة غَصباً * وَ أَمَّا الْغُلَمُ فَکانَ أَبَوَاهُ مُؤْمِنَینِ فَخَشِینَا أَن یُرْهِقَهُمَا طغْیَناً وَ کُفْراً * فَأَرَدْنَا أَن یُبْدِلَهُمَا رَبهُمَا خَیراً مِّنْهُ زَکَوةً وَ أَقْرَب رُحماً * وَ أَمَّا الجِْدَارُ فَکانَ لِغُلَمَینِ یَتِیمَینِ فی الْمَدِینَةِ وَ کانَ تحْتَهُ کَنزٌ لَّهُمَا وَ کانَ أَبُوهُمَا صلِحاً فَأَرَادَ رَبُّك أَن یَبْلُغَا أَشدَّهُمَا وَ یَستَخْرِجَا کَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّك وَ مَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِی ذَلِك تَأْوِیلُ مَا لَمْ تَسطِع عَّلَیْهِ صبراً * الکهف: ۶۰-۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دواړه وخوزېدل، حتی چي په هغي کښتۍ کي سپاره شول چي سورۍ ئې کړه، وئې ویل: آیا د دې لپاره دي سورۍ کړه چي سپرلۍ ئې غرق کړې، یقیناً چي په ستر (نادر) کار دي لاس پوري کړ، وئې ویل: آیا نه مي وو ویلي چي ته زما په ملګرتیا کي صبر نشې کولی؟ وئې ویل: ما پر خپلي هېرېدا مه نیسه، او زما په کار کي سختي مه راسره کوه، نو وخوزېدل، تر هغه چي له یوه ځوانکي سره مخامخ شول، نو هغه ئې ووژلو، وئې ویل: آیا یو بې ګناه کس دي ووژلو، پرته له دې چي د کوم کس په بدل کي وژل شوی وي، یقیناً چي ډېر ناآشنا کار دي وکړ، وئې ویل: آیا نه مي وو درته ویلي چي ته زما په ملګرتیا کي صبر نشې کولی؟ وئې ویل: که مي له دې وروسته د کوم څه پوښتنه درنه وکړه نو بیا مي په ملګرتیا او مصاحبت کي مه درسره نیسه، یقیناً چي (په دې صورت کي به) زما له لوري د معذورتیا پړاو ته رسېدلی یې، نو وخوزېدل، تر هغه چي د یوه کلي اوسېدونکو ته ورغلل، له کلیوالو ئې د خوراک غوښتنه وکړه، هغوی له دې ډډه وکړه چي مېلمانه ئې کړي، بیا دواړو هلته یو داسي دېوال وموند چي غوښتل ئې نسکور شي، نو هغه ئې ټینګ ودراوو، وئې ویل: که دي غوښتي وی نو پر دې کار به دي اجوره ترلاسه کړې وه، وئې ویل: همدا زما او ستا تر منځ د بېلتون سبب دئ، ژر به د هغو کارونو په حقیقت تا پوه کړم چي صبر دي پرې ونه کړی شو. اما هغه کښتۍ چي وه نو هغه د ځینو مسکینانو وه چي په سیند کي به ئې کار کولو، نو ما وغوښتل چي چي عیبجنه ئې کړم، او (دا ځکه چي) ترې وړاندي داسي پاچا وو چي هره کښتۍ ئې غصبوله، او هغه ځوانکی داسي وو چي پلار مور ئې مؤمنان ول، نو موږ (خضر او د هلک پلار او مور) ووېرېدو چي داسي نه چي په خپل کفر او طغیان سره دوی دواړه تنګ کړي، نو اراده مو وکړه چي د دوی دواړو رب تر ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاکوالي له پلوه غوره او د پېرزويني له پلوه نږدې په عوض کي ورکړي. او هغه دېوال چي وو نو هغه په ښار کي د دوو يتيمو هلکانو وو او ترې لاندي د دوی خزانه وه، پلار ئې صالح انسان وو، ستا رب وغوښتل چي دواړه ستر شي او خپله خزانه راوباسي، دا ستا د رب له لوري يوه پېرزوينه وه، ما دا کار د ځان له پلوه نه دئ کړی، دا د هغه څه حقيقت وو چي تا پرې صبر ونشو کړی.

د قصې دا برخه موږ ته څو مهمي لارښووني کوي:

که د قصې دې برخي ته لږ ځير شو نو ډېر ژر په دې حقيقت پوهېدی شو چي الله تعالی خضر عليه السلام ته کوم علم ورکړی وو او ده موسی عليه السلام ته د ملگرتيا په دوران کي څه ورزده کړل، قرآن فرمايي چي هغه موسی عليه السلام ته درې لارښووني وکړې:

- د يوه ظالم پاچا له منگولو د مسکينو او بې وزلو جاله والو ژغورل؛ هغه هم په داسي بڼې کي چي جاله وال ترې خبر نشول، د لږ ضرر په مقابل کي ئې دوی له ستر تاوانه وژغورل.
- د يوه مفسد، کافر او بې رحمه زلمي وژل او مؤمن مور پلار ئې له شره ژغورل،
- تر نړېدونکي دېوال لاندي د دوو يتيمانو لپاره ښخه شوې خزانه له غارت کېدو خوندي کول،

موسی عليه السلام له خپل عالم او مجاهد استاد نه همدا لارښووني زده کړې وې، د همدې لارښوونو په رڼا کي هغه دغو دريو کارونو ته ورته کارونه وکړل: ۱- له يوه مظلوم بني اسرائيلي نه د دفاع په موخه ئې يوه ظالم قبطي ته داسي گوزار ورکړ چي پرې مړ شو، ۲- د مدين د کوهي غاړي کي ئې په داسي حال کي د دوو بې وزلو نجونو رمه خړوبه کړه چي د اوږده سفر له امله ډېر ستړی او ستومانه وو، ۳- د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بني اسرائيلو د نجات لپاره له مدين نه مصر ته لاړ او د فرعون مقابلې ته ئې ملا وتړله.

که د القصص سورې د دغه ۱۴ آيت نه وروسته آيت ته ځير شو گورو چي په هغه کي د يوه قبطي او بني اسرائيلي تر منځ نښتي او له مظلوم بني اسرائيلي نه د موسی عليه السلام دفاع ته اشاره شوې او ورپسې د موسی عليه السلام هغه تاريخي او انقلابي پرېکړه په گوته شوې چي د ظالمانو له ملگرتيا او ملاتړ نه ئې خپل قطعي او دائمي برائت اعلان کړ:

Ç̈È ûüBÌổ Bŭ #Žĝß šc qä ô-ù ¥?ã Mŏè $JÎ É ‘ A$% القصص: ۱۷

وئې ويل: اې زما ربه! د هغي پرزويني په وجه چي پر ما دي وکړه هيڅکله به (له دې وروسته) د مجرمينو ملاتړی نشم.

دا په حقيقت کي له فرعوني نظام سره د موسی عليه السلام د بشپړې مقاطعې اعلان وو. د علم او حکمت له ورکړي وروسته د دغو پېښو يادونه ښيي چي همدا د ده د علم او حکمت آثار او نتايج وو، يو داسي کس چي د فرعون په کور کي په ناز او نعمت کي ستر شوی وي، د فرعون مېرمني د خپل نازولي او گران زوی په توگه روزلی وي؛ ډېره بعيده ده چي هغه دي يوازي او له ساتونکو پرته ښار ته ننوځي او بيا دي د دوو عادي سړو تر منځ نښتي کي مداخله وکړي او هغه هم داسي مداخله چي په ترڅ کي ئې تېری کوونکی ووژل شي، خو الله تعالی د ده د روزني بېل انتظام کړی وو، له خضر عليه السلام سره ملگرتيا هغه ته ښودلي وو چي د مظلوم ملگرتيا به کوې. خضر عليه السلام د ملگرتيا په دوران کي د دريو پېښو په ترڅ کي هغه ده ته دا درس ورکړی وو چي تل به د مظلوم ملگرتيا کوي او د ظالم له منگولو نه د هغه د ژغورني لپاره به ملاتړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خبري په ډېر وضاحت سره ښيي چي:

خضر عليه السلام نه کوم لاهوتي او ناسوتي علم موسی عليه السلام ته ورښودلي، نه کوم لدني علم، نه کوم باطني علم او نه د طريقت مسلک، درې جهادي لارښوني ئې ورته کړې او په عملي توګه ئې ورښودلې. د ظالمانو په ضد د مظلومانو ملګرتيا، د بې رحمه مفسد وژل او د يتيمانو مرسته.

له هغه پوه او عالم سړي سره د موسی عليه السلام د ملګرتيا په قصه کي څو په زړه پوري او د زياتي توجه وړ ټکي زمونږ مخي ته اينښودل شوي:

موسی عليه السلام له خپل پوه او عالم ملګري نه داسي څه ويني چي د ده لپاره د توجيه او منلو وړ ندي، په ظاهر کي داسي بد او قبيح ورته ښکاري چي په وړاندي ئې چوپ نشي پاته کېدی، فوراً اعتراض کوي. که څه هم ژمنه ئې کړې وه چي ترڅو پوري ده نه وي پرې خبر کړی او قضيه ئې نه وي ورته بيان کړې، تر هغې پوري به د هيڅ کار په اړه پوښتنه نه کوي، خو ګورو چي موسی عليه السلام هرځل خپل تعهد هېروي، سکوت ماتوي او له خپل ملګری سوال کوي، اعتراض ورباندي کوي او ورته وايي: دا څه عجيب کار!! دا څومره ناوړه عمل!! او ملګری ئې هرځل ورته وايي: تا ته مي ويلي وو چي زما ملګرتيا نه شې کولی، زما پرکارونو صبرنه شې کولی، ځکه چي په راز ئې نه پوهېږې، د کارونو له اسرارو بې خبري د دې سبب کېږي چي بې صبره شې. دا کار درې ځلي تکرارېږي، بالآخره موسی عليه السلام اعتراف کوي چي لدې شخص سره د ملګرتيا توان نه لري او د هغه د عجيبو کارونو په وړاندي صبر نه شي کولی. که موسی عليه السلام علم غيب لرلی نو داسي به نه کېدل، نه به ئې په خپل ملګري اعتراض کاوو او نه به ئې له ملګرتيا پاته شوی وو، که موسی عليه السلام چي له اولوالعزم رسولانو څخه دئ، علم غيب نه لري نو بل به څوک وي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علم غیب خاوند وي؟!

موسی علیه السلام پدې اعتراض وکړ چې د مسکینانو کښتۍ ولې تخریب شي او ولې له سفره پاتې شي، خو له دې خبر نه وو چې څو قدمه وړاندې دې کښتۍ او مالکانو ته ئې خطر متوجه دئ، هلته د یوه ظالم پاچا پلویانو کمین نیولی، هره کښتۍ چې مومي غصبوي ئې! د موسی علیه السلام ملګری پدې خبر وو، د دې لپاره چې دا کښتۍ او غریب مالکان ئې له خطر سره مخ نه شي یو تدبیر ئې وسنجاوو، کښتۍ ئې سورۍ کړه، ترڅو له سفره پاتې شي، دا کار چې د موسی علیه السلام لپاره د توجیه وړ نه وو په حقیقت کې د کښتۍ د مالکانو لپاره لوی خدمت وو او په همدې کې د موسی علیه السلام لپاره یو لوی درس پروت وو او هغه دا چې یوه چا ته د ډېرې ګټې لپاره لږ ضرر رسول د ستاینې وړ دئ نه د اعتراض وړ.

په دوهم ځل ئې هم د خپل پوه او عالم ملګري په کړو صبر ونشو کړی، بیا ئې اعتراض وکړ چې دا ځوان دې ولې بې موجبه ووژلو؟! له دې خبر نه وو چې دا ځوان یو شریر، سخت زړی، فاسد او کافر انسان دئ، مور او پلار ئې مسلمانان دي او د ده خطر دومره لوی شوی چې کورنۍ ئې تهدیدوي، دا په اصطلاح یو فاسد غړی دئ، جراحې ته ضرورت لري، د دې فاسد او خطرناک غړي قطع کول په واقع کې لدې مؤمنې کورنۍ سره مرسته ده. د موسی پوه او عالم ملګري دې مؤمنې کورنۍ ته لوی خدمت وکړ، د یوه شریر انسان له شره ئې وژغورله او موسی علیه السلام ته ئې دا درس وروښود چې: په سالم بدن کې د فاسد غړی جراحې ممانعت نه لري، له سالم بدن نه د هغه غړي قطع کول ضروري دي چې د اصلاح او جوړیدو امکان ئې نه وي. که اسلامې ټولنې ته د یوه شریر او فاسد انسان له خوا ګواښ او تهدید متوجه شي او تر خطر لاندې راشي چې له تصفیې او منځه وړلو پرته بله چاره ونلري، نو د دا ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

غږي له منځه وړل د اعتراض نه بلکه د توجیه او ستاینې وړ عمل دئ.

دې ته مو پام وي چې د قرآن له وینا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې خضر علیه السلام دا کار د دې ځوانکي د پلار او مور په خوښه او موافقه تر سره کړی دا ځکه چې اړوند آیتونه داسې وايي:

$RŠ‘'ù ÇŃÈ #\yà2 r $Y‹óÊ $Jß)ÏdŒãb& $ZŠÏ± , ù ÈÏZÏBsŒ ç#q/& b%3ù Ð»=äóø9$B&r

ÇŃÈ $Yqâ > •ÉÐr Z4.– çZÏB #Žöz $Jå‘ $JßŠÏ‰7ãb& الکهف: ۸۰-۸۱

او هغه ځوانکی داسې وو چې پلار مور ئې مؤمنان ول، نو موږ (خضر، او د ځوانکي مور او پلار) ووېرېدو چې داسې نه چې په خپل کفر او طغیان سره دوی دواړه تنګ کړي، نو موږ (درې واړو) اراده وکړه چې د دوی دواړو رب تر ده د پاکوالي له پلوه غوره او د پېرزوینې له پلوه نږدې په عوض کې ورکړي.

که په دې آیتونو کې لږ غور وکړو نو په وضاحت سره راته جوته کېږي چې د هغه هلک مور پلار خضر علیه السلام ته شکایت کړی، درې سره په دې صلاح شوي چې هغه ووژل شي، لکه چې ګورئ دلته د (فخشینا) او ورپسې د (اردنا) صیغې راغلې، په دواړو کې د (نا) ضمیر د هلک مور، پلار او خضر علیه السلام ته راجع دئ، دوی د هلک په اړه وېرېدلي او د هغه د وژلو پرېکړه ئې کړې، په دې کې اصلاً د الله نوم نشو شاملولی. هم له دې امله چې الله تعالی ته د وېرېدو نسبت کول صحیح نه دي، په قرآن کې د دې شاهد نه مومو، او هم له دې امله چې په (خشینا) کې ضمیر یوازې خضر علیه السلام او د ماشوم مور او پلار ته راجع کېدی شي نه بل چا ته، دا ځکه چې تر دې د مخه د الله تعالی نوم نه دئ یاد شوی. اصولاً باید ضمیر نږدې اسم ته راجع شي، دلته د (نا) لپاره نږدې نومونه دوی درې دي، په خشینا او اردنا کې نه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي پلوه او نه له اعتقادي پلوه؛ ضمیر الله تعالی ته راجع کولی شو، همداراز که په (اردنا) کي ضمیر الله تعالی او خضر علیه السلام ته راجع شي د دې معنی داسي راوځي چي دوی دواړو په ګډه د هغه هلک د وژلو پرېکړه وکړه، حال دا چي الله تعالی د پرېکړو په صادرولو کي له هیچا سره مشوره نه کوي او څوک له ځان سره نه شریکوي!! څوک چي په اردنا کي (الله او خضر) مرادوي دې ته ئې پام نه دئ کړی چي په دې صورت کي باید په (خشینا) کي هم دوی دواړه مراد کړي!! چي دا کاملاً غلطه خبره ده، الله تعالی په ټول قرآن کي هیڅ ځای د خشي صیغه ځان ته نه ده منسوب کړې، وېره الله تعالی ته منسوبول صحیح نه ده، دلته هم د (خشینا) یعني ووېرېدو صیغه د هلک مور پلار او خضر علیه السلام ته راجع ده او هم د اردنا یعني اراده مو وکړه صیغه، له دې پرته بل تعبیر ته هیڅ مجال نه پاته کېږي؟

له دې آیتونو نه دا هم جوته کېږي چي دا خبره صحیح نه ده چي ووایو خضر علیه السلام یو معصوم ماشوم وژلی، د هغه ځوانکي په اړه د موسی علیه السلام وینا په دې معنی نه ده چي هغه وژل شوی ځوان یو معصوم ماشوم وو، موسی علیه السلام هغه نه پېژاندو، د اعتراض مقصد ئې دا وو چي هغه داسي جرم نه دئ کړی چي د وژلو مستحق وي، د دې ځوانکي په اړه د خضر علیه السلام وینا معیار ده، د ده له وینا معلومېږي چي هغه په داسي کفر، طغیان، فساد او بې رحمۍ کي غرق وو چي نږدې وه خپله کورنۍ تباه کړي.

موسی علیه السلام درېیم ځل پدې اعتراض وکړ چي ولي له هغه بخیل قوم سره د کاږه دېوال په جوړولو او له غورځېدا مخنیوی کي مرسته کوي، له داسي قوم سره ولي مرسته کوي چي دومره بخیل او بې احساسه دئ چي اړ او مجبور انسان ته یوه مړۍ ډوډۍ هم نه ورکوي او ولي ئې دې خلکو ته مفت او مجاني کار وکړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسی علیه السلام د خپل ملگري پدې عمل انتقاد وکړ، ځکه هغه پدې نه وو خبر چې تردې دېوال لاندې د هغو دوو یتیمانو خزانه ده چې له مؤمنو والدینو په میراث ورته پاتې ده، د موسی علیه السلام ملگري په خپل دې مفت او بې اجورې کار سره هغو یتیمانو ته غټ خدمت وکړ او په عین وخت کې ئې موسی علیه السلام ته دا لارښوونه وکړه چې انسان ته نه ښایي تل بالمثله معامله وکړي، مناسبه نده چې د ټولني د اکثریت بدکړه او ناسمه معامله تا له کمزوري اقلیت سره له نېکي کولو منع کړي. که لږ غور وکړو نو دا خبره راته جوته کېږي چې د هغو یتیمانو پلار خضر علیه السلام یو امین او صالح کس گڼلی، ورته ویلي ئې وو چې د زامنو لپاره مې تر دېوال لاندي سکې ښخوم، کله چې ستر شي نو ترې خبر ئې کړه، ده ورسره ژمنه کړې، د همدې ژمني په وجه دې کلي ته راغلی چې د دېوال حالت وگوري، هغه ئې د ړنگېدو په حال کې موندلی نو ځکه ئې رغولی. هیڅ عقلمن انسان دا خبره نشي منلی چې د یتیمانو پلار دې په داسي حال کې د دوی لپاره تر دېوال لاندې سکې ښخې کړې وي چې هیڅوک ئې نه وو پرې خبر کړی، له داسې نامعقول کار نه به د ده زامنو ته څه گټه رسېده؟ زامن به ئې څنگه خبرېدل چې پلار ئې دلته د دوی لپاره سکې ښخې کړې دي؟ طبیعي او معقوله خبره دا ده چې د دوی پلار خضر علیه السلام ته دا خبره کړې وه.

پدې قصې کې هیڅ داسي دلیل نشته چې د موسی علیه السلام ملگري ته علم غیب ترې ثابت شي، قرآن ندي ویلي چې دی په غیب پوهېدو، نه پوهېږو څوک چې هڅه کوي د دې قصې له کومي برخي خضر علیه السلام ته علم غیب ثابت څنگه دا جسارت کوي؟! د قصې له کومي برخي او د اړوند آیتونو له کوم لفظ نه ئې دا انتباه اخیستې ده؟! د ظالم او غاصب پاچا په اړه د ده علم، د هغه ځوان له نېک عمله مور

(c) ketabton.com: The Digital Library
او پلار او د ده له کفر او طغیان نه د ده خبرتیا او تر نړیدونکي دېوال لاندي د هغو یتیمانو خزانه چي صالح مور پلار ئې له لاسه ورکړي وو، دا معلومات ولي په علم غیب حمل شي؟ دا ولي د هغه د پراخو معلوماتو او د سیمي له حالت نه د ده د خبرتیا نښه ونه ګڼو؟

صحیح نه ده چي د ظالم واکمن په اړه علم، د صالح پلار د طاغي او عاصي زوی په اړه علم او تر دېوال لاندي د یتیمانو د خزانې په اړه علم داسي توجیه او تعبیر کړو چي له قرآن سره تعارض ولري او په غیب د انسان د پوهېدا غلطه خبره ترې راووځي، دا آیتونه باید د قرآن د نورو آیتونو په رڼا کي تفسیر کړو، خضر علیه السلام په دې خبرو پوهېدو؛ دا ځکه چي دی په همدې سیمي کي اوسېدو، موسی علیه السلام ترې خبر نه وو ځکه چي هغه له بلي سیمي هلته تللی وو.

په دې قصې کي دوه شخصیتونه انځور شوي: یو ئې اولوالعزمه پیغمبر موسی علیه السلام او بل ئې د خدای یو نېک بنده، موسی علیه السلام د هغه لیدو ته ورغلی، د ده د سیمي له حالته معلومات نه لري، هغه په خپلي سیمي کي بلد دئ، ښه او بد پېژني، موسی علیه السلام د ملګرتیا او سفر په دوران کي له خپل ملګري درې داسي کارونه ګوري چي د علم غیب نه درلودو په وجه نه پوهېږي چي ولي ئې دا کارونه وکړل، له هغه وروسته پرې پوه شو چي ملګري ئې تفصیلات ورته بیان کړل، دا قصه په ډېر وضاحت سره دا حقیقت زموږ مخي ته ږدي چي پیغمبران علیهم السلام په غیب نه پوهېږي، عجیبه دا ده چي د کږو زړونو خاوندان له دغي قصې معکوسه نتیجه اخلي او د موسی علیه السلام ملګري ته علم غیب ثابتوي!!

د کږو او خیرنو زړونو خاوندانو او په خرافاتو کي تر ستوني غرق ډلو د دغي قصې له څو برخو خپل عقاید په دې توګه اخیستي دي او وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- موسی علیه السلام پیغمبر وو او خضر یو ولي، پیغمبر ته شریعت ورکړی شوی او ولي ته طریقت، د شریعت علم پر ظواهرو ولاړ دئ او د طریقت علم پر باطن، ولي ته د باطن علم ورکړی شوی او پیغمبر ته د ظاهر علم!!
- خضر په غیب پوهېدو، د غاصب پاچا، وژل شوي ماشوم او دېوال لاندي خزانې په اړه د ده علم د علم غیب بېلګي دي!!
- د طریقت لاروي د شریعت په احکامو ملزم نه وي، کولی شي د شریعت خلاف عمل وکړي!! د ماشوم وژل د شریعت له مخي حرام دئ خو خضر همدا کار وکړ. پر اولیاء الله به دا اعتراض نه کوئ چي ولي ئې د شریعت خلاف عمل وکړ.

راشئ وګورو چي دا خبري څومره وزن لري او څومره د حقیقت مطابق یا خلاف دي؟ آیا له دې قصې دا مطالب رااېستل او د خپلو عقایدو بنسټ ئې ګرځول صحیح دي که نه؟

که څوک له شفاف ذهن سره، پرته له دې چي کوم خاص مخکنی فکر ورسره وي، د موسی علیه السلام او خضر علیه السلام د قصې اړوند آیتونو باندي غور وکړي نو په بشپړ یقین او ډاډ سره ویلی شي چي په دغو آیتونو کي هیڅ داسي څه صراحتاً او اشارتا نه تر سترګو کېږي چي د دغې بې لاري ډلي د انګېرنو او غلطو تصوراتو لپاره کوم مستمسک ترې جوړ شي. یوازي هغه به دا غلطه انتباه ترې اخلي چي په غرض او مرض مبتلا وي او د دې پروا نه لري چي د الله تعالی په کلام کي تحریف وکړي. که تاسو د دغي ډلي افکارو او دلایلو ته ځیر شئ نو وبه ګورئ چي د قرآن په کوم آیت یا د کوم آیت په کوم لفظ د استناد پر ځای پر داسي کمزورو روایاتو استناد کوي چي هم له قرآن سره په ښکاره توګه تعارض او هم په خپلو منځونو کي!! راشئ هغه روایات هم وڅېړو چي د دې قصې په اړه ئې د روایاتو په کتابونو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مومو. یو روایت دا دئ:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ تَمَارَى هُوَ وَالْحُرُّ بْنُ قَيْسِ بْنِ حِصْنٍ الْفَزَارِيُّ فِي صَاحِبِ مُوسَى قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُوَ خَضِرٌ. فَمَرَّ بِهِمَا أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، فَدَعَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَالَ إِنِّي تَمَارَيْتُ أَنَا وَصَاحِبِي هَذَا فِي صَاحِبِ مُوسَى الَّذِي سَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَى لُقِيِّهِ، هَلْ سَمِعْتَ النَّبِيَّ ﷺ يَذْكُرُ شَأْنَهُ قَالَ نَعَمْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ " بَيْنَمَا مُوسَى فِي مَلإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ هَلْ تَعْلَمُ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْكَ قَالَ مُوسَى لاَ. فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَى مُوسَى بَلَى، عَبْدُنَا خَضِرٌ، فَسَأَلَ مُوسَى السَّبِيلَ إِلَيْهِ، فَجَعَلَ اللَّهُ لَهُ الْحُوتَ آيَةً، وَقِيلَ لَهُ إِذَا فَقَدْتَ الْحُوتَ فَارْجِعْ، فَإِنَّكَ سَتَلْقَاهُ، وَكَانَ يَتَّبِعُ أَثَرَ الْحُوتِ فِي الْبَحْرِ، فَقَالَ لِمُوسَى فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ، وَمَا أَنْسَانِيهِ إِلاَّ الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ. قَالَ ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي، فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا، فَوَجَدَا خَضِرًا. فَكَانَ مِنْ شَأْنِهِمَا الَّذِي قَصَّ اللَّهُ- عَزَّ وَجَلَّ- فِي كِتَابِهِ ". بخاري: ٧٤

**عبدالله بن عباس رَضِیَاللهُ عَنهُمَا نه روایت دئ چي وايي: د ده او حر بن قيس تر منځ د موسی عليه السلام د ملګري په اړه مناقشه رامنځته شوه، ابن عباس وويل چي دا خضر وو، أبی بن کعب د دوی دواړو خوا ته تېر شو، نو ابن عباس ورغږ کړ او وئې ويل: زما او دغه ملګري تر منځ د موسی عليه السلام د هغه ملګري په اړه مناقشه راغله چي موسی له هغه سره د ملاقات د لاري موندو پوښتنه کړې وه، آيا له رسول الله ﷺ نه دي د ده په اړه څه اورېدلي؟ وئې ويل: هو؛ له رسول الله ﷺ نه مي واورېدل چي ويل ئې: کله چي موسی عليه السلام د بني اسرائيلو په يوې غونډي کي وو يو سړی ورته راغی او وئې ويل: آيا داسي څوک پېژنې چي تر تا زيات پوه وي؟ موسی عليه السلام وويل: نه، نو الله تعالی موسی عليه السلام ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحي وکړه چي ولي نه، زموږ بنده خضر (علیه السلام )، نو موسی له هغه سره د ملاقات د لاري په اړه پوښتنه وکړه، نو الله تعالی کب ورته د نښي په توگه وټاکو او ورته وویل شو: کله چي دي کب ورک کړ نو راوگرځه او هملته به ئې وگورې، او هغه به په نهر کي د روان کب تر شا (په استقامت) تلو، نو موسی ته خپل ځوانکي وویل: آیا پام دي وو چي کله مو هغه لوی کمر ته پنا یووړه نو ما کب هېر کړ، فقط شیطان رانه هېر کړ چي یادونه ئې وکړم، موسی علیه السلام وویل: دا همغه څه دئ چي لټولو مو، نو پر خپلو پلونو بېرته راستانه شول، نو خضر ئې وموند، او بیا د دوی دواړو خبره همغسي ده چي الله تعالی ئې قصه په خپل کتاب کي راوړې.

دا روایت څو خبري زموږ مخي ته ږدي: دا عالم او پوه شخص خضر علیه السلام وو. موسی علیه السلام ته ویل شوي وو چي په ژوندي ماهي پسي روان شي، په هر ځای کي چي ترې ورک شو هملته به خضر ومومي. موسی علیه السلام د سفر ملگری په دې گمارلی وو چي په سیند کي روان کب به تر نظر لاندي نیسي، کله چي ترې ورک شي نو ده ته به خبر ورکوي، دوی د سفر په دوران کي د تودوخي په وجه د کوم کمر سیوري ته پنا وړې، په همدې وخت کي کب خپله لار بدله کړې او د هغه ځوانکي له سترگو غایب شوی، کله چي بیا خوځېدلي، له څه مزل وروسته موسی علیه السلام له هغه نه غرمنی خوراک غوښتی، په همدې وخت کي هغه ته د کب د غایبېدو خبره ورپه یاد شوې او موسی علیه السلام ته ئې یادونه کړې، موسی علیه السلام ورته ویلي چي موږ د همدې ځای په لټه کي وو، بېرته راستانه شوي او خضر علیه السلام ئې هملته موندلی.

دا روایت په بخاري کي دولس ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۷۸، ۱۲۲،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۲۶۷، ۲۷۲۸، ۳۲۷۸، ۳۴۰۰، ۳۴۰۱، ۴۷۲۵، ۴۷۲۶، ۴۷۲۷، ۶۶۷۲، ۷۴۷۸، له دې نه درې ځلي نور د پورتني روايت په څېر دئ، له عادي توپيرونو سره او په دې شمېرو: ۷۸، ۳۴۰۰، ۷۴۷۸، او پنځه ځلي په دغو شمېرو ۱۲۲، ۳۴۰۱، ۴۷۲۵، ۴۷۲۶، ۴۷۲۷ کي داسي راغلی چي له پورتني سره ژور تعارض لري، او په کي راغلي چي موسی عليه السلام ته ويل شوي وو چي وريت شوی کب په ټوکرۍ کي ورسره واخلي، په دغو پنځو کي هم ژور توپيرونه تر سترګو کېږي، دا په داسي حال کي چي د ټولو ديارلسو روايتونو راوي يو دئ! امام بخاري رحمه الله نه دي ويلي چي کوم روايت ئې تر نورو غوره، دقيق او صحيح دئ، هغه له بېلو بېلو راويانو چي څه اورېدلي په امانت سره ئې رانقل کړي، له دغو متعارضو رواياتو به يو غوره کوو، يا هغه چي وايي موسی عليه السلام ته په سيند کي روان کب د نبني په توګه ټاکل شوی وو يا هغه چي وريت شوی کب نبنه ګڼي، د اسنادو له مخي دا پرېکړه نشي کېدی، ځکه که دا کار ممکن وی نو امام بخاري رحمه الله به هرومرو ويلي وو چي کوم ئې ضعيف دئ او کوم ئې صحيح. مجبور يو د قرآن په رڼا کي او د درايت له مخي ارجح روايت تشخيص کړو، راشئ د وريت شوي کب اړوند روايت ته ځير شو، روايت داسي دئ:

عن سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لاِبْنِ عَبَّاسٍ إِنَّ نَوْفًا الْبِكَالِيَّ يَزْعُمُ أَنَّ مُوسَى لَيْسَ بِمُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ، إِنَّمَا هُوَ مُوسَى آخَرُ. فَقَالَ كَذَبَ عَدُوُّ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبِي بْنُ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ " قَامَ مُوسَى النَّبِيُّ خَطِيبًا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَسُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَعْلَمُ فَقَالَ أَنَا أَعْلَمُ. فَعَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِ، إِذْ لَمْ يَرُدَّ الْعِلْمَ إِلَيْهِ، فَأَوْحَى اللَّهُ إِلَيْهِ أَنَّ عَبْدًا مِنْ عِبَادِي بِمَجْمَعِ الْبَحْرَيْنِ هُوَ أَعْلَمُ مِنْكَ. قَالَ يَا رَبِّ وَكَيْفَ بِهِ فَقِيلَ لَهُ احْمِلْ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ فَإِذَا فَقَدْتَهُ فَهْوَ ثَمَّ، فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقَ بِفَتَاهُ يُوشَعَ بْنِ نُونٍ، وَحَمَلاَ حُوتًا فِي مِكْتَلٍ، حَتَّى

(c) ketabton.com: The Digital Library

كَانَا عِنْدَ الصَّخْرَةِ وَضَعَا رُءُوسَهُمَا وَنَامَا فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا، فَانْطَلَقَا بَقِيَّةَ لَيْلَتِهِمَا وَيَوْمِهِمَا فَلَمَّا أَصْبَحَ قَالَ مُوسَى لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا، لَقَدْ لَقِينَا مِنْ سَفَرِنَا هَذَا نَصَبًا، وَلَمْ يَجِدْ مُوسَى مَسًّا مِنَ النَّصَبِ حَتَّى جَاوَزَ الْمَكَانَ الَّذِي أُمِرَ بِهِ. فَقَالَ لَهُ فَتَاهُ أَرَأَيْتَ إِذْ أَوَيْنَا إِلَى الصَّخْرَةِ فَإِنِّي نَسِيتُ الْحُوتَ، قَالَ مُوسَى ذَلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِي، فَارْتَدَّا عَلَى آثَارِهِمَا قَصَصًا، فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَى الصَّخْرَةِ إِذَا رَجُلٌ مُسَجًّى بِثَوْبٍ- أَوْ قَالَ تَسَجَّى بِثَوْبِهِ- فَسَلَّمَ مُوسَى. فَقَالَ الْخَضِرُ وَأَنَّى بِأَرْضِكَ السَّلاَمُ فَقَالَ أَنَا مُوسَى. فَقَالَ مُوسَى بَنِي إِسْرَائِيلَ قَالَ نَعَمْ. قَالَ هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَنْ تُعَلِّمَنِي مِمَّا عُلِّمْتَ رَشَدًا قَالَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا، يَا مُوسَى إِنِّي عَلَى عِلْمٍ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ عَلَّمَنِيهِ لاَ تَعْلَمُهُ أَنْتَ، وَأَنْتَ عَلَى عِلْمٍ عَلَّمَكَهُ لاَ أَعْلَمُهُ. قَالَ سَتَجِدُنِي إِنْ شَاءَ اللَّهُ صَابِرًا، وَلاَ أَعْصِي لَكَ أَمْرًا، فَانْطَلَقَا يَمْشِيَانِ عَلَى سَاحِلِ الْبَحْرِ لَيْسَ لَهُمَا سَفِينَةٌ، فَمَرَّتْ بِهِمَا سَفِينَةٌ، فَكَلَّمُوهُمْ أَنْ يَحْمِلُوهُمَا، فَعُرِفَ الْخَضِرُ، فَحَمَلُوهُمَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، فَجَاءَ عُصْفُورٌ فَوَقَعَ عَلَى حَرْفِ السَّفِينَةِ، فَنَقَرَ نَقْرَةً أَوْ نَقْرَتَيْنِ فِي الْبَحْرِ. فَقَالَ الْخَضِرُ يَا مُوسَى، مَا نَقَصَ عِلْمِي وَعِلْمُكَ مِنْ عِلْمِ اللَّهِ إِلاَّ كَنَقْرَةِ هَذَا الْعُصْفُورِ فِي الْبَحْرِ. فَعَمَدَ الْخَضِرُ إِلَى لَوْحٍ مِنْ أَلْوَاحِ السَّفِينَةِ فَنَزَعَهُ. فَقَالَ مُوسَى قَوْمٌ حَمَلُونَا بِغَيْرِ نَوْلٍ، عَمَدْتَ إِلَى سَفِينَتِهِمْ فَخَرَقْتَهَا لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا قَالَ أَلَمْ أَقُلْ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا قَالَ لاَ تُؤَاخِذْنِي بِمَا نَسِيتُ. فَكَانَتِ الأُولَى مِنْ مُوسَى نِسْيَانًا. فَانْطَلَقَا فَإِذَا غُلاَمٌ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ، فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاَهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ. فَقَالَ مُوسَى أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ قَالَ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ إِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيعَ مَعِيَ صَبْرًا- قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ وَهَذَا أَوْكَدُ- فَانْطَلَقَا حَتَّى إِذَا أَتَيَا أَهْلَ قَرْيَةٍ اسْتَطْعَمَا أَهْلَهَا، فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمَا، فَوَجَدَا فِيهَا جِدَارًا يُرِيدُ أَنْ يَنْقَضَّ فَأَقَامَهُ. قَالَ الْخَضِرُ بِيَدِهِ فَأَقَامَهُ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَقَالَ لَهُ مُوسَى لَوْ شِئْتَ لاَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ أَجْرًا. قَالَ هَذَا فِرَاقُ بَيْنِي وبينك ". قَالَ النَّبِيُّ ﷺ " يَرْحَمُ اللَّهُ مُوسَى، لَوَدِدْنَا لَوْ صَبَرَ حَتَّى يُقَصَّ عَلَيْنَا مِنْ أَمْرِهِمَا ". بخاري: ۱۲۲

د دې روايت په اړه ډېري داسي پوښتني راولاړېږي چي ځواب ئې نشي ويل کېدی، پوښتني دا دي:

- د روايت په سر کي راغلي چي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وويل: كَذَبَ عَدُوُّ اللَّهِ: د خدای دې دښمن دروغ ويلي! د عبدالله بن عباس غوندي له شخصيت نه لري خبره ده چي د يوه کس د ادعاء له مخي د بل چا په اړه داسي وينا وکړي. شريعت داسي قضاوت جائز نه ګڼي چي د يوې لانجې د دواړو خواوو د ويناوو له اورېدو مخکي وي.
- دا روايت وايي چي موسی عليه السلام د بعثت نه وروسته دا سفر کړی، حال دا چي له بعثت نه وروسته هغه د ټول عالم لپاره لارښود وو، تر ده بل پوه او عالم کس په نړۍ کي نه وو، ولي به الله تعالی د دې خبري په کولو تر عتاب لاندي نيولو چي د يو چا په ځواب کي ئې ويلي وو: تر ما بل پوه کس نشته؟! پيغمبر عليه السلام په وار وار صحابه وو ته ويلي چي تر تاسو ټولو ښه پوه يم، او صحابه وو هم ويلي چي الله او د هغه رسول تر ټولو زيات پوه دي.
- قرآن وايي چي موسی عليه السلام د بعثت نه وروسته يوازي څلوېښت ورځي له خپل قوم نه لري شوی چي د ده په غياب کي سامري وغولول، که دا سفر له بعثت نه وروسته وی نو حتماً به ئې قرآن وضاحت کړی وو.
- د قرآن له وينا معلومېږي چي دا سفر هغه مهال شوی چي موسی عليه السلام لا مدين ته هجرت نه وو کړی او د فرعون په کور کي اوسېدو، ځکه قرآن وايي چي په همدغي مودې کي الله تعالی هغه ته علم او حکمت ورپه برخه کړ، د علم ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو یوه مرجع ئې همدا له خضر علیه السلام سره څو ورځنی سفر وو، په همدې سفر کې هغه له خضر علیه السلام نه څو خبري زده کړې، د یوه ظالم پاچا له شر نه د بې وزلو جاله والو ژغورل، د یوه کافر، مفسد او بې رحمه زلمي وژل او با ایمانه مور پلار ئې د ده له شر نه ژغورل، له هغو یتیمانو سره مرسته چې پلار ئې تر دېوال لاندې خزانه ورته ښخه کړې وه، او موسی علیه السلام دغو دریو کارونو ته ورته کارونه وکړل: د یوه ظالم قبطي په وړاندې د یوه مظلوم بني اسرائیلي داسې مرسته چې ظالم قبطي ته ئې کلکه څپېړه ورکړه او په همدې سره هغه ومړ، د مدین د کوهي په غاړه ئې د دوو مېرمنو مرسته وکړه او په داسې حال کې ئې په یوازې تن له کوهي اوبه راوایستې او د دوی رمه ئې خړوبه کړه چې د اوږده سفر له امله سخت ستړی او ستومانه وو، د بني اسرائیلو د ژغورنې لپاره مصر ته ولاړ او د فرعون مقابله ئې پیل کړه، د خضر علیه السلام له هغو دریو کارونو سره د موسی علیه السلام د دغو دریو کارونو شباهت په ډېر وضاحت سره ښیي چې دا سفر له بعثت نه مخکې ترسره شوی. له بعثت نه وروسته هغه د سینا په صحرا کې وو، هلته نه سیندونه وو او نه مجمع البحرین، که احیاناً څوک دا دوه بحرونه ګڼې او وایي چې له مجمع البحرین نه مراد د خلیج عقبه او خلیج سویس یا د بحرالروم او بحر القلزم یوځای کېدا ده نو دا ځایونه هیڅ نښې ته ضرورت نه لري او له موسی علیه السلام نه ئې دومره اوږد سفر هم نه غوښتو چې ووایي: یا به مجمع البحرین ته رسېږم یا به کلونه کلونه (حقبا) مزل کوم. په دې کې هیڅ شک نشته چې معقوله او ارجح رأیه دا ده چې له مجمع البحرین نه د نیل د دوو څانګو؛ نیل الابیض او نیل الازرق د یوځای کېدا محل مراد دئ.

- که وریت شوی او پوخ ماهي د دوی لپاره نښه وو نو موسی علیه السلام به له

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه خپل خادم ته ویل چي هغه د خوراک لپاره راوړه؟!! په دې صورت کي خو به ئې تل له ځان سره ساتو او له خوړلو به ئې ډډه کوله.

- نه قرآن ویلي چي د موسی علیه السلام د سفر ملګری یُوشَعَ بْنِ نُونٍ وو او نه نورو روایاتو دا خبره کړې او نه دا ضروري ده چي نوم ئې په ګوته شي، که ضروري وی قرآن به حتماً د ده نوم اخیستی وو! یوشع بن نون د سینا په سفر کي د موسی علیه السلام ملګری شوی نه په مصر کي د هغه بل سفر په دوران کي.

- دا روایت وایي چي وریت شوی کب ژوندی شو او سیند ته ئې ټوپ کړل او دا موسی علیه السلام او ملګري ته ئې د حیرانتیا سبب شو، حال دا چي قرآن وایي چي په سیند کي د کب ورکېدا یوازي د موسی علیه السلام ملګري لیدلي او موسی علیه السلام دا صحنه نه وه لیدلې نو ځکه ئې له خپل ملګري نه د دغي خبري په اورېدو سره وویل: موږ د همدې ځای په لټه کي وو چي کب به په خپله مخه درومي او له موږ نه به غایب کېږي. د روایت الفاظ دا دي: فَانْسَلَّ الْحُوتُ مِنَ الْمِكْتَلِ فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا، وَكَانَ لِمُوسَى وَفَتَاهُ عَجَبًا او دا د قرآن له وینا سره په بشپړه توګه تعارض لري، ځکه قرآن د موسی علیه السلام د ملګري له خولې وایي:... وَ مَا أَنسانِيهُ إِلا الشيْطنُ أَنْ أَذْكُرَهُ وَ اتخَذَ سبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ عجَباً.

- همداراز دا روایت وایي چي موسی علیه السلام او ملګري ئې د کمر خوا ته سرونه کېښودل او ویده شول، که داسي وو نو د کب ژوندي کېدا او سیند ته لوېدا ئې څنګه ولیده؟! دا پوښتنه ډېره پر ځای پوښتنه ده، ځکه قرآن د ډېري خوا ته د ویده کېدو خبره نه کوي بلکي د پناه وړلو خبره کوي او ښیي چي د تودوخي له امله ئې د کمر سیوري ته پناه وړې او څو شېبې ئې هلته دمه کړې ده، خو دا روایت وایي چي هلته دواړه ویده شوي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا روایت وایي چي خضر علیه السلام د موسی د سلام په اورېدو سره حیران شو او وئې پوښتل چي ستا په سیمي کي سلام له کومه شو، هغه ورته وویل: زه موسی یم، پوښتنه ئې ترې وکړه چي د بني اسرائیلو موسی؟ وئې ویل: هو؛ د دې معنی دا ده چي هغه په غیب نه پوهېدو او موسی ئې ونه پېژندو، خو د دې روایت له ځینو الفاظو داسي معلومېږي چي ګواکي هغه په غیب پوهېدو، حال دا چي قرآن وایي له الله تعالی پرته هیڅوک په غیب نه پوهېږي. پوښتنه دا ده چي خضر علیه السلام څنګه د موسی علیه السلام په څېر یوه پیغمبر ته وایي: ما ته داسي علم راکړی شوی چي تا ته نه دئ درکړی شوی یا په بل روایت له تا سره نه ښایي، او تا ته داسي علم درکړی شوی چي ما ته نه دئ راکړی شوی او په بل روایت کي له ما سره نه ښایي؟! کوم علم ده ته ورکړی شوی وو؟ علم غیب خو نشي کېدی!! ځکه چي هغه د ملاقات پر مهال موسی علیه السلام ونه پېژندو، پوښتنه ئې ترې وکړه چي څوک یې؟ چي ورته وئې ویل موسی، نو پوښتنه ئې وکړه چي د بني اسرائیلو موسی؟! له دې نه خو معلومېږي چي هغه په غیب نه پوهېدو، نو ده کوم علم درلودو چي موسی علیه السلام له بعثت نه وروسته نه درلودو؟ څوک چي دا روایت صحیح ګڼي څنګه خضر علیه السلام ته علم غیب هم منسوبوي؟!! له دې روایته خو معلومېږي چي په هغو دریو مواردو کي هم د ده علم؛ خاص علم او په غیب پوهېدا نشو ګڼلی. دې ته مو باید پام وي چي د قرآن له وینا په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي خضر علیه السلام هغه مفسد ځوانکی د ده د مور او پلار په مشوره وژلی،
- همداراز د قرآن له وینا معلومېږي چي خضر علیه السلام د هغه یتیمانو دېوال د هغي ژمني له مخه رغولی چي د دوی له پلار سره ئې کړې وه، دا ځکه چي هیڅوک د اولاد لپاره په داسي حال کي خزانه نه ښخوي چي هیڅوک پرې خبر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، له داسي کار نه به د ده اولاد ته څه گټه ورسېږي؟!! کېدی شي دېوال ړنگ شي او خزانه د بل چا په لاس کي پرېوزي.

- په دې روایت کي د خضر علیه السلام په لاس د کافر او مفسد ځوانکي د وژل کېدو په اړه دا الفاظ راغلي چي منل ئې گران دي: فَأَخَذَ الْخَضِرُ بِرَأْسِهِ مِنْ أَعْلاَهُ فَاقْتَلَعَ رَأْسَهُ بِيَدِهِ: نو خضر د سر له لوړي نه ونیو او په خپل لاس سره ئې سر ترې وایست!!

ځیني خلک د خضر علیه السلام دا وینا چي وئې ویل: (و ما فعلته عن امري: ما (د خپل زړه) په حکم دا کار نه دئ کړی) داسي تعبیروي چي گواکي ده ته د الله تعالی له لوري په مشخصه توگه د دغه ځوانکي د وژلو امر شوی وو، خو په آیتونو کي په لږ دقت سره پوهېدی شو چي دا غلط تعبیر دئ، د دې وینا معنی دا ده: ما دا کار د خپل نفسي غوښتنو په حکم نه دئ کړی، کوم ذاتي غرض مي په کي نه وو، د الله دین د داسي څه کولو اجازه راکړې، په الهي دین کي د هغه چا وژل مانع نه لري چي صالح ټولنه په کفر او طغیان گواښي، یوازي دغسي تعبیر موسی علیه السلام ته یو مهم درس گڼل کېدی شي، نه دا چي گواکي د الله تعالی له لوري خضر علیه السلام ته په مشخصه توگه د دغه ځوانکي د وژلو حکم شوی وو!!

دغو خبرو ته په پام سره په یقیني توگه ویلی شو چي دا روایت ډېر اشکالات لري او قطعاً د منلو وړ نه دئ، هغه بل له هره پلوه ارجح او غوره دئ او د قرآن له وینا سره اړخ لگوي.

د دې قصې په اړه مزید تفصیلات د القصص او الکهف د سورو په تفسیر (د قرآن پلوشې) کي ولولئ.

څوک چي د الکهف د سورې د ۶۵ آیت له دې فقرې $Vüä $Räc© `B ıpYK-ær د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لدني علم اصطلاح راباسي او هغه د داسي علم په توګه معرفي کوي چي له تعليم او تدريس پرته ترلاسه کېږي او مرشد ئې په يوه نظر مريد ته القاء کوي، هغه ته وايو:

لومړی بايد د دغه آيت په معنی ځان پوه کړو، او وګورو چي الله تعالی هغه عالم بنده ته کوم علم ورکړی وو، هغه علم چي ته ئې ادعاء کوې که بل علم؟! قرآن په خپله د دې پوښتني ځواب موږ ته راکوي او د هغو دريو پېښو په ترځ کي ئې موږ ته راښيي چي له موسی عليه السلام سره د سفر په دوران کي رامنځته شوې. قرآن موږ ته وايي چي موسی عليه السلام له خپل استاد نه جهادي درسونه زده کړي نه (لدني علم).

د قرآن له آيتونو نه خو دا حقيقت جوتېږي چي خضر عليه السلام يو مجاهد وو، د بې وزلو او مظلومانو ملګرتيا ئې کوله، موسی عليه السلام ته ئې د جهاد درس ورکړ، اوس ته موږ ته ووايه چي تا د دغوځرګندو او واضحو آيتونو له کومي برخي او له کوم لفظ نه د (لدني علم) اصطلاح راايستلې؟!! او غواړي له قرآن نه بې خبرو مريدانو ته ووايي چي که ستاسو پير او مرشد نه قرآن لوستلی شي، نه د پيغمبر عليه السلام له احاديثو خبر دئ، نه په ليک پوهېږي او نه لوست کولی شي، د هغه په اړه شک مه کوه او لمن ئې کلکه ونيسه، دا خبري بايد ستا اخلاص کم نکړي، هغه ته د مخکني مرشد له لوري (لدني علم) ورکړی شوی او د دين په ټولو رموزو او پټو اسرارو د مرشد د يوې دعا له امله پوه شوی!! هغه په يوې مراقبې سره کولی شي د اسرارو دروازې پرانېزي او په پټو حقايقو پوه شي!!

ډېره عجيبه ده، د قرآن له داسي قصې او مضمون نه چي هر مخاطب ته د سري مبارزي درس ورکوي، غرضي او مرضي خلکو داسي افسانه جوړه کړې چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخاطب ذهن تخديروي او له سره تر پايه غلط افکار القاء کوي، چېري د خضر عليه السلام هغه درې جهادي کارونه او چېري دې ته د لدني علم نوم ورکول او دا ادعاء کول چي هغه په غيب پوهېدو او کارونه ئې غيرعادي ول.

دوی دې ته هم متوجه نه دي چي د همدغي (و أتينه من لدنا علما) فقرې ته ورته الفاظ د قرآن په گڼ شمېر آيتونو کي راغلي، او په ترڅ کي ئې قرآن موږ ته لارښوونه کوي چي د انسان هر څه د الله تعالی پېرزوينه ده، ژوند ئې، استعدادونه ئې، رزق ئې، علم او معرفت ئې، قرآن دا ټول الله تعالی ته منسوبوي او د الله تعالی پېرزوينه ئې گڼي، په ټولو هغو آيتونو کي چي دا حقيقت په کي بيان شوی همدا د (لدن) لفظ راغلی؛ لکه دا آيتونه:

[illegible] النمل: ۶

[illegible]

[illegible]

القصص: ۵۷

[illegible]

[illegible] آل عمران: ۳۸

[illegible]

[illegible]

[illegible] النساء: ۷۵

[illegible]

مريم: ۵

د دغو آيتونو الفاظو ته لږ ځير شئ، او له هغه آيت سره ئې مقايسه کړئ چي تاسو او ستاسو ملګرو د (لدني علم) اصطلاح ترې رااېستلې، تاسو د خپل اسلوب مطابق بايد له دغو آيتونو نه هم (لدني رزق)، (لدني ولي و نصير)، (لدني اولاد) (لدني قرآن) راوباسئ، خو هر عاقل انسان پوهېږي چي دا بې بنسټه او غلط اسلوب او کرکجن استباط دئ.

موږ ته ووايه چي له (لدني علم) نه ستاسو مراد څه دئ؟ مراد مو (ذاتي علم) دئ، که د (الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم)؟ که آناً او له تعليم او ليک لوست نه پرته ترلاسه شوی علم؟ ذاتي علم خو له الله تعالی پرته هيڅوک نه لري، د انسان علم خو اکتسابي دئ، انسان د وحي، تعليم، تدريس، ليک او لوست له لاري علم ترلاسه کوي، قرآن د پيغمبر عليه السلام په اړه فرمايي چي له بعثت نه مخکي لار ترې ورکه وه، سمه لار ئې نه پېژندله:

[illegible]

مګر نه ئې ومونډلې يو يتيم او د ټېکي ځای ئې درکړ؟ مګر نه ئې ومونډلې يو لارورکی او لار ئې وښودله؟ او نيازمند ئې ومونډلې، خو غنا ئې کړه په برخه.

همدا راز فرمايي چي له بعثت نه مخکي نه په کتاب پوهېدو او نه د ايمان په حقيقت او معنی:

[illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÇÎÈ õŠÉóþ الشوری:۵۲

همداسي مو تا ته له خپل لوري د يوه خاص امر وحي وکړه، ته نه پوهېدې چې کتاب څه دئ او نه د ايمان (په معنی او حقيقت) پوهېدې، خو موږ داسي نور وګرځاوو چې له خپلو بندګانو نه هغه څوک پرې هدايتوو چې غواړو ئې، او بې شکه چې ته د مستقيمي لاري خوا ته لارښوونه کوې.

قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د هر انسان علم په حقيقت کي د الله تعالی له لوري ورکړی شوی علم دئ، د پوهي او معرفت وسايل او استعدادونه هم الله تعالی ورکړي او په يوه څه د پوهېدو مجال او شرايط هم الله تعالی ورته برابروي. قرآن په دې اړه فرمايي:

äš© $Jî žvÎ ýïiÜšü ôÏB äó´ Î bqäÜŠÅãšr ŸŠŸyùz $Br Óûî‰ƒ šú ÷t/ $B ãNè=÷èƒ

البقرة:۲۵۵

په داسې حال کې چې دی په هر هغه څه پوهېږي چې د دوی مخې ته دي يا ئې شاته دي او دوی د ده له علم څخه يوازې په دومره څه احاطه کولی شي چې دی ئې وغواړي،

يعني دا الله تعالی دئ چي هر چا ته علم او پوهه ورکوي، سترګي، زړه، غوږونه، دماغ او اعصاب ئې د ده په اراده ورته کار کوي، لار ورته ښيي او د ښه او بد، مفيد او مضر په پېژندلو کي ئې مرسته کوي، په هر څه چې انسان علماً احاطه کوي او په کوم څه د پوهېدو توفيق ترلاسه کوي نو دا ټول د الله په خوښه او اذن او په همغه حد کي وي چي الله ئې وغواړي. د انسان پر مخ چي د معرفت هره دروازه پرانيستل کېږي او په هرې نوې خبرې چي د پوهېدو توفيق ترلاسه کوي، د ده هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(کشف) او په هر سرِ او راز پوهېدل ئې په حقیقت کې د الله تعالی یوه ځانګړې وړتیا ده، دا دروازه د ده له لورې ورته پرانستل کېږي، په دغو حقایقو د پوهېدو توفیق دی ورکوي او د دغو اسرارو د کشف توان دی ورکوي، چې حقیقت همداسې دئ نو ته ما ته ووایه چې ولې د خضر علیه السلام علم استثنایي علم ګڼې او د (لدني علم) نوم ورکوې؟!!

او د درېیم تعبیر په صورت کې باید پوه شې چې له عیسی او یحیی علیهما السلام نه پرته نه الله تعالی چا ته په وړوکتوب کې فوق العاده علم ورکړی او نه ئې په پیغمبرۍ مبعوث کړی، عیسی علیه السلام ته په ماشومتوب کې یوازې څو خبرې ښودل شوې، جامع علم ئې هغه مهال په برخه شو چې انجیل پرې نازل شو.

پیغمبرانو علیهم السلام ته چې د وحې له لارې کوم علم ورکړی شوی دا هم په تدریجي توګه او د کتاب او صحیفې په بڼه کې ورکړی شوی، نه دا چې په یو ځل او په بشپړه توګه ټول علوم د هغوی زړه او دماغ ته القاء شوي، قرآن پر پیغمبر علیه السلام په تدریجي توګه نازل شوی، دا د ټولو فقهاوو او علماوو متفقه قول او د قرآن د صریحوآیتونو مطابق نظر دئ، یوازې غلات شیعه ورسره مخالفت لري، پیغمبر علیه السلام د هرې قضیې او پېښې په اړه د وحې نزول ته انتظار کړی، د وحې له راتلو مخکې نه پوهېدو چې څه حکم وکړي.

اوس موږ ته ووایئ چې تاسو د کوم منطق له مخې د (لدن) له لفظ نه (لدني علم) اخلئ او ادعاء کوئ چې دا علم له تعلیم او تدریس، لیک او لوست نه پرته ترلاسه کېږي؟ آیا له دې حقیقته خبر نه یې چې دا د محرف بایبل غلطه او بې بنسټه ادعاء ده چې قرآن ئې په کلکه ردوي او د قرآن لومړی نازل شوی آیت د بایبل د دغې ادعاء خلاف وایي چې د انسان علم اکتسابي دئ، د قرائت او لیک لوست له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاري ترلاسه کېدی شي او الله تعالی د قلم له لاري انسان ته هغه څه ښيي چي نه پرېِ پوهېږي: قرآن فرمايي:

ÇÌÈ ãÐøÆ $ 7Ž r ûïÏ%$!ÇÌÈ @ã ôÏÎ `» ¡ SM}$ ,=-{ ÇÊÈ ,=-{ “Ï%©!$ 7În/ ÉÓ$Î ûïÏ%$!

ÇÎÈ Ls>÷ètƒ óOs9 $B `» ¡ SM}$ O=æ ÇÍÈ É=)n=ø9$$Î O=æ “Ï%©!$   العلق: ۱-۵

ولوله په نوم د خپل رب، هغه چي پيدا ئې کړ. انسان ئې له ځوړندو پيدا کړ. ولوله چي رب دې ډېر کريم دئ. آ چي په قلم ئې پوهه ورکړه. انسان ته ئې ورزده کړل څه چي نه پرې پوهېدو.

په دې مبارکو آيتونو کي څو مطالب خاصه توجه غواړي:

- د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پيل شوې او دا ښيي چي د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دی او څومره اهميت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړۍ پيل کړي.
- دا د الله تعالی د کرم او پېرزويني څرگنده نښه ښودل شوې چي انسان د يوه (ځوړند توکي) له حالته هغه ځای ته رسوي چي (کامل انسان) ترې جوړ شي، ليک او لوست ورښيي، انسان يوازينی مخلوق دی چي کولی شي د (لوستلو) له لاري د بل په خبره پوه شي او د (ليکلو) له لاري خپل معلومات خوندي کړي او خپل پيغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قيمتي تجاربو گټه واخلي، د معلوماتو د ضايع کېدو مخه ونيسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتيا او امتياز په هيڅ ذيروح کي نه گورو، الله تعالی په انسان کي دا استعداد او وړتيا ايښې ده چي له (قلم) نه د تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ یوه ته پر بل فضیلت.
- (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسیله ده، په دې سره انسان د دې مجال ترلاسه کوي چې په ډېرو هغو حقایقو پوه شي چې له بلي لاري پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو.
- په اصل کي انسان (بې علمه) دئ، په تدریج سره زده کړه کوي او علم ترلاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کي دی چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکي د دوی په خټه او دماغ کي اېښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهیم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفید او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زیات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمیر کي ئې اېښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلي پوهې سطحه لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقایق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (لیکلو) او له (قلم) نه په استفادې سره د خپلي حافظې ظرفیت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) نه د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په لیک او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاتې کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

انسان یوازینی مخلوق دئ چې کولی شي د (لوستلو) له لارې د بل په خبره پوه شي او د (لیکلو) له لارې خپل معلومات خوندي کړي او خپل پیغام نورو ته ورسوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په دې سره د خپل سلف له قيمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضايع کېدو مخه ونيسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتيا او امتياز په هيڅ ذيروح کي نه ګورو، الله تعالی په انسان کي دا استعداد او وړتيا ايښې ده چي له (قلم) نه د تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی.

سره له دې چي قرآن (قلم)، (ليک) او (لوست) ته دومره اهميت ورکړی او سره له دې چي پيغمبر عليه السلام ته د وحي په پيل کي لومړی لارښوونه د قرائت او قلم په هکله ده او ورته ويل شوي چي قلم د تعليم او تعلم ستره وسيله ده، خو متأسفانه دا منحرفه ډله دا ستر او څرګند حقيقت له پامه غورځوي او ادعاء کوي چي له قرائت، تعليم، تدريس، ليک او لوست پرته هم (علم) ترلاسه کېدی شي، نو د علم د زده کړي لپاره مدرسې ته مه ځه، د عالم مخي ته مه کښېنه، کتاب او قلم پرېږده، خانقاه ته ولاړ شه، د مرشد لمن ونيسه، د کوم قبر خوا ته دېره شه، (لدني علم) به دي په برخه شي، سترګي به دي پرانيستل شي او په غيبي حقايقو به پوه شې!! دا همغه خبره ده چي محرف بايبل ئې کوي؛

تاسو د قرآن دا علمي، دقيقه او په حقيقت او واقعيت ولاړه وينا د بايبل او د بايبل تر اغېز لاندي د تللو متصوفينو له دغي بې بنسټه ادعا سره مقايسه کړئ چي وايي: انسان د معرفت د وني مېوه وخوړه، سترګي ئې پرانستل شوې، د ځان او خپل ماحول په حال پوه شو.

د بايبل په درېيم فصل کي، د انسان سقوط تر عنوان لاندي په لومړيو ۱۹ جملو کي دا مطالب لولو:

(مار تر ټولو هغو حيواناتو ډېر زيرک وو چي خدای پيدا کړي وو، يوه ورځ مار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې خوا ته راغی او هغې ته ئې وویل: آیا رښتیا ده چې خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د مېوو له خوړلو منع کړي يئ؟ ښځې په ځواب کې ورته وویل: موږ ته اجازه راکړی شوې چې د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د یوې ونې چې د باغ په منځ کې ده، خدای امر کړی چې د دې ونې مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو. مار ورته وویل: "مطمئن اوسه چې نه مرئ، بلکې خدای ښه پوهېږي چې کله تاسو دا مېوه وخورئ سترګې مو پرانستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده بېلولی شئ"، هغه ونه ښځې ته ښایسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چې "کېدی شي د دې ښایسته ونې مېوه خوندوره وي او پوهه مي په برخه کړي، نو د دې ونې مېوې ئې راوشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې" په همدې سره د دوی دواړو سترګې پرانستلې شوې، په خپلې بربنډتیا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه، د همدې ورځې په مازدیګر کې، آدم علیه السلام او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چیري يې، ولي پټیږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مي په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چې لوڅ يې؟ آیا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع کړی مي وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وویل: مار وغولولم!! نو خدای مار ته وویل: د دغه کار د کولو په سبب به د زمکې تر ټولو وحشي او اهلي حیواناتو زیات ملعون وې، تر څو چې ژوندی وې په خپلې سینې به خوځې، خاوري به خورې، ستا او د ښځې او ستا د نسل او د ښځې د نسل تر منځ به تلپاتې دښمني اچوم، د ښځې نسل به ستا سر ځپي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ته به د ده پنډۍ چیچي، دغه وخت خدای ښځې ته وفرمایل: ستا د زېږولو د وخت درد به درته زیات کړم، ته به په درد او کړاوو سره خپل اولاد زېږوې، د خپل مېړه مشتاقه به وې او هغه به پرتا برلاسی وي، بیا خدای آدم ته وفرمایل: له دې کبله چي د خپلي ښځې خبره دې ومنله او د هغي ونې مېوه دې وخوړله چي درته ویلي مي وو مېوه ئې مه خوره، زمکه به تر لعنت لاندي راشي او ته به په خپل ټول عمر کي په زحمت او کړاو سره خپل معاش ترې ترلاسه کوې، له زمکي به اغزي او خاشاک درته راټوکېږي او د بېدیا بوټي به خورې، د عمر تر پایه به د تندي په خولو سره ډوډۍ خورې او په پای کي به همغې خاوري ته بېرته ورګرځې چي ترې واخیستی شوې، دا ځکه چي ته له خاورو جوړ شوی یې او خاورو ته به بېرته ورګرځې، آدم خپله ښځه حوی (یعني ژوندون) ونوموله، ځکه چي دا باید د ټولو ژوندیو مور شي)!!!

په دې برخي کي دومره بېهوده او د خندا وړ خبري دي چي انسان ورته حیران شي، نه پوهېږو یهودان او مسیحیان څنګه دا خبري د الله تعالی له لوري او د یوه مقدس آسماني کتاب خبري ګڼي!! لاندي څو خبرو ته ئې متوجه شئ:

- وایي مار تر ټولو حیواناتو زیات زیرک دئ، حال دا چي د مار زیرکتیا تر ډېرو ډېرو حیواناتو لږ ده.
- وایي مار د ښځې د غولولو لپاره باغ ته ورغی!! نه پوهېږو د مار ئې د ښځې له غولولو سره څه؟ کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چي مار کولی شي ښځه وغولوي!!
- وایي: مار ښځې ته وویل: خدای تاسو ته حقیقت نه دئ ویلی، دا سمه نه ده چي د دې مېوې په خوړلو سره تاسو مرئ، حقیقت دا دئ چي د دې مېوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خدای په دې خاطر نه غواړي چي تاسو دا مېوه وخورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په دې سره تاسو د خدای په څېر معرفت ترلاسه کوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقيبان درنه جوړيږي، هغه نه غواړي چي رقيب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغي مېوې له خوړلو منع کړي يئ!! بايبل وايي چي د مار خبره سمه وخته او د خدای خبره ناسمه او د حقيقت خلاف، دوی دواړو دا مېوه وخوړه، مړه نه شول، برعکس په ښه او بد پوه شول!!

قرآن دا موضوع د يوې ډېري ژوري علمي موضوع په توګه څېړلې او يوه ستر علمي حقيقت ته ئې اشاره کړې او هغه دا چي د عالم په ټولو ژوو کي يوازي انسان داسي پيدا شوی چي مجبور دی د مفيد او مضر خوراک په هکله له بله معلومات ترلاسه کړي، نور ژوي داسي پيدا شوي چي د پيدايښت له لومړيو شېبو په دې پوهېږي چي کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کي ئې د مضر او ګټور بوټي او دانې د تشخيص استعداد ايښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پيدايښت له لومړۍ ورځي سم او ناسم خوراک معلومولی شي، د آهو بچی، وری، سېرلی، وزګوړی، سخوندر، جونګی او ټول نور ژوي او بچيان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چي ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې بايد مور سمبال کړي او د تاواني شيانو له خوړلو ئې وساتي، قرآن په جنت کي د آدم عليه السلام د ځای په ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په يادولو سره دغي اساسي او مهمي خبري ته اشاره کړې، خو د بايبل ليکوال له دې نه يوه خندونکې بې بنسټه قصه جوړه کړې!!

دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چي د دغي مېوې له خوړلو مخکي دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چي بربنډ دي!! او دا ځکه چي مخکي بې معرفته ول او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترګي پرانستلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې او خپل لوښوالی ئې احساس کړ!! حقیقت د دې خبرې کاملاً عکس او دا دئ چې: الله تعالی د زمکې په سر هر ژوي ته داسې لباس ورکړی چې هم ښایسته دئ، هم ئې په ځان برابر دئ، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کې له یخنۍ ساتي او هم په دوبي کې له تودوخې. د ځینو لباس خو دومره ښایسته دی چې که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښایست او رنګ کې داسې لباس اوبدلی شي او نه ئې ګنډلی. په ټولو ژوو کې یوازې انسان هغه مخلوق دی چې بربنډ دئ، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دی چې ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، د قرآن له وینا معلومېږي چې انسان په سر کې داسې نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوښېدو مخکې ئې داسې جامه وه چې هیڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته، له دې جامو نه د یوې اشتباه په نتیجه کې محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وایستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نوري جامې، ځیني ئې یوازې د ځان پټولو لپاره، ځیني ئې د ښایست او سینګار لپاره او ځیني ئې د تقوی لباس، سنګین، باوقاره له ګناه نه مانع لباس. د بایبل لیکونکې د آدم علیه السلام بربنډېدا هغسې توجیه کړې، له سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د مېوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په مسلمانانو کې د بایبل تر اغېز لاندې راغلې خلک د آدم علیه السلام له لومړني لباس نه داسې تعبیر لري چې ګواکې دا به له وړیو، ورېښمو، سنډو او یا مالوچو نه اوبدل شوې کومه جامه وه، چې د ده په قد قامت برابره ګنډل شوې وه، حال دا چې اوبدلې او ګنډل شوې جامه بني آدم جوړه کړې، الله چې کومه جامه ورکوې هغه اوبدل او ګنډل نه غواړي. دوی نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن الفاظو ته پام کړی او نه هغه څه ته چې هره شېبه ئې په خپلو سترګو ګوري، یوې خوا ته په ملیونهاوو هغه ژوي ګوري چې په ښایسته الهي جامو پټ دي او بلې خوا ته یوازې بني آدم چې له دې جامې محروم او دې ته اړ شوی چې له وړیو، وریښمو، سنډو، نیلون او یا مالوچو نه ځان ته جامه جوړه کړي، قرآن په دې سره یو ستر علمي حقیقت بیان کړی خو د اسرائیلي روایاتو په دام کې پرېوتو کسانو له دې نه افسانه جوړه کړې.

له کومې ورځې چې انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوی او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوی، نو همدا جامه د انسانانو ترمنځ د تفریق، تبعیض او یو په بل د لویي او تېري وسیله ګرځېدلې، نه ګورئ چې په دغه جامه کې څومره ظلمونه کېږي، په عسکري او پولیسي جامو کې هره ورځ څومره بې ګناه انسانان ځورول کېږي، څومره شریف انسانان د خړو جامو په سبب تحقیر کېږي، څومره ذلیل انسانان په فاخره جامو کې تر نورو ځان لوړ ګڼي، نه ګورئ چې یوه له خپلې جامې د ګیدړې پوستکی جوړ کړی خلک پرې غولوي، بل له جامو نه د پسه په څېر بې آزاره بریښي خو په سینه کې ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان داسې ښیي چې زمری دی خو تر ګیدړ به زیات بې زړه او جبون وي. الله تعالی انسان ته د جامو جوړول ورښودلي، د دې لپاره چې ځان له تودوخې او یخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په درېو ډولونو وېشلی: د ځان پټولو لباس، د ښایست لباس او د تقوی لباس، خو انسان له خپلې جامې نه یا د غولولو وسیله جوړه کړې، یا د ظلم او تېري وسیله، یا یو په بل د لویي او تکبر ذریعه!!

د بایبل دا خبره تر ټولو حیرانوونکې ده چې وایي: د همدې ورځې په مازدیګر کې، آدم علیه السلام او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په

(c) ketabton.com: The Digital Library
ونو کي پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چیرې یې، ولې پټیږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مې په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چې لوڅ یې؟ آیا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع کړی مې وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وویل: مار وغولولم!!

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

بایبل الله تعالی داسې معرفي کوي: په یوه وړوکې باغ کې ګرځې، د ګامونو غږ ئې آدم علیه السلام واورېدو، ترې پټ شو، خدای نه پوهېدو چې آدم چېرې دئ، غږ ئې ورته وکړ: اې آدمه چېرې یې؟ له دې هم خبر نه وو چې دوی دواړو هغه ممنوعه مېوه خوړلې ده!!! له آدم علیه السلام نه پوښتنه کوي: څنګه پوه شوې چې لوڅ یې؟ آیا هغه مېوه مو خوړلې چې ترې منع کړې مې وئ؟!! له دې هم نه وو خبر چې ښځې دا کار کړی!! او له دې هم چې مار غولولې وه!!

په دې سزا هم لږ غور وکړئ چې مار ته د دغه غولولو په وجه ورکړی شوه: تل دې په سینه خوځېږې، خاورې دې خوراک شه!! پوښتنه کوو: آیا مار له دې د مخه په سینه نه په پښو خوځېدو؟ دا نور ډېر حیوانات او خزندې چې په سینه خوځېږي هغوی ته د کومې ګناه سزا ورکړی شوې؟! دا څومره نامعقوله او غلطه خبره ده چې د مار خوراک خاوره ده!! هیڅ مار خاوره نه خوري، د مار خوراک خاوره نه بلکې د مرغانو، موږکانو او چنګښو په څېر حیوانات دي!!

ښځې ته چې کومه سزا ورکړی شوې په دې هم لږ غور وکړئ: د زېږولو د وخت درد دې زیات شه!! د خاوند د اشتیاق په اور وسوزې، هغه دې پر تا برلاسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي!! پوښتنه کوو: دغو بې شمېره حيواناتو ته چې د اولاد زېږولو په وخت کې همدا سې د درد احساس کوي، د کومې ګناه سزا ورکول کېږي؟! د مېږه اشتياق خپلې مېرمنې ته زيات دی که د مېرمنې خپل مېړه ته؟ مګر دا اشتياق سزا ده؟ په ټولو ژوو کې دا اشتياق شته، دوی ته د کومې ګناه په وجه دا د اشتياق سزا ورکړی شوې؟ دا اشتياق خو سزا نه بلکې د الله تعالی يوه لويه پيرزوينه ده، د انسان او حيوان د نسل د دوام يوه ستره وسيله ده، تاسو ولې دې اشتياق ته د سزا په سترګه ګورئ؟ قرآن خو د ښځې او مېړه ترمنځ دا الفت، مينه او اشتياق د الهي رحمت او پيرزويني يوه ستره بېلګه ګڼي!! آيا دا سمه ده چې د نارينه سلطه او برلاسی پر خپلې مېرمنې ښځې ته سزا وګڼو؟! دا برلاسی يوه طبيعي مسئله ده، په اکثرو حيواناتو کې هم د دې شاهد يو، داسې چې نارينه د ښځې ساتنه او څارنه کوي، ترې دفاع کوي، بل ئې خوا ته نه پرېږدي، اداره کوي ئې،... دا برلاسي نه يوازې ښځې ته سزا نه شو ګڼلی بلکې د ښځې لپاره يوه ستره الهي پېرزوينه ده، چرګ له خپلو چرګو دومره دفاع کوي چې پرې زخمي زخمي شي، همداسې بې شمېره نور مرغان او حيوانات، هيڅ عاقل انسان به د بايبل دا وينا د منلو وړ ونه ګڼي.

د بايبل ليکوال خدای داسې معرفي کوي چې نه غواړي د ده په مخلوقاتو کې داسې څوک وي چې په ښه او بد پوهېږي، غوښتل ئې چې آدم عليه السلام د معرفت د ونې مېوه ونه خوري، خو د ده د ارادې خلاف آدم عليه السلام د هغې مېوې په خوړلو موفق شو!! اوس نو دا تدابير سنجوي چې څنګه د دې مخه ونيسي چې آدم عليه السلام د حيات د ونې مېوه هم ونه خوري او د ده لپاره يو تلپاتې حريف او رقيب نه شي!! نو ځکه ئې له يوې خوا آدم عليه السلام د عدن له باغه وايست او له بلې خوا ئې دغې ونې ته د رسېدو په لار کې داسې فرشتې وګمارلې چې په تورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمبال وي او دا توري هم د اور توري چي هري خوا ته څرخي او نه پرېږدي څوک ترې تېر شي!! پوښتنه کوو: که دا باغ آسمان کي وي طبيعي ده چي له آسمانه د آدم له راکوزېدو وروسته هغه باغ ته د ده ننوتل ممکن نه وو، نو په سرو تورو سمبال فرشتې د څه لپاره ګمارل کېدې؟ او که دا په زمکي کي وو نو موږ ته ووایئ چي چېري دی اوس خو له داسي پهره دارانو تېرېدل آسانه شوي، که آدم علیه السلام نه شو تېرېدی اولاد ئې اوس کولی شي د حیات وني ته د رسېدو لپاره په هلیکوپترو سره هلته ځان ورسوي. که عادي خلک دا کار نه شي کولی پاپ ته خو ډېره آسانه ده!!

له دغو بېهوده او چټي خبرو نه هر څوک په دې پوهېدی شي چي د بایبل لیکوال څوک او د څنګه شخصیت خاوند دی او د الله تعالی په اړه د ده انګېرنې څومره بې بنسټه دي!!

قرآن د بایبل د دغو غلطو خبرو د تردید او تصحیح لپاره فرمايي چي الله تعالی آدم علیه السلام د داسي مخلوق په څېر پیدا کړ چي معرفت ئې تر فرشتو ډېر لوړ وو، په هر څه د پوهېدو توان او استعداد ئې ورکړ، په هغه څه ئې د پوهېدو توفیق ورکړ چي فرشتې پرې نه پوهېدې او د همدې معرفت او پوهي په سبب ئې د زمکي خلافت ده ته وسپارو، د معرفت په وجه ئې دی رټلی نه دئ، د ځان رقیب او حریف ئې نه دئ ګڼلی بلکي د زمکي خلافت ئې ورسپارلی او فرشتو ته ئې امر کړی چي ده ته سجده وکړي، بایبل وايي چي فرشتې په سرو تورو د آدم مقابله کوي او قرآن وايي چي فرشتو آدم علیه السلام ته سجده وکړه او الله تعالی د زمکي او آسمان هر څه آدم علیه السلام ته مسخر کړل.

دا په داسي حال کي چي د حیات ونه، د معرفت ونه، د حیات اوبه او دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته نوري خبري بې بنسټه او د خیال په عالم کي جوړي شوې خبري دي، انسان داسي پیدا شوی چي خامخا به مري، الله تعالی داسي اوبه او مېوه نه ده پیدا کړې چي د هغې په خوړو سره انسان دایمي او ابدي ژوند ترلاسه کړي، د انسان معرفت اکتسابي دئ، ورو ورو زیاتېږي، د تعلیم، تعلم، زده کړې او تجربې په نتیجه کي ئې د معرفت او د ښه او بد د پېژندا سطحه لوړېږي، الله تعالی داسي مېوه نه ده پیدا کړې چي د هغې په خوراک سره انسان ته د ښه او بد د پېژندو معرفت ورپه برخه شي!! قرآن د بایبل دغه وینا رد کړې او په هغو آیتونو کي چي تر ټولو د مخه پر پیغمبر علیه السلام نازل شوي او په همدې آیتونو سره د قرآن د نزول لړۍ پیل شوې فرمایي چي د انسان علم اکتسابي دئ او په لیک لوست سره ترلاسه کېږي.

د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم علیه السلام ته د کومي مېوې د نه خوړلو توصیه شوې وه او ګواښل شوی وو چي که دا مېوه وخورې حتماً مرې؟ د حیات د وني که د معرفت د وني؟ طبیعي ده چي دا د حیات د وني مېوه نه شي کېدی دا ځکه چي هغه خو په مرګ نه بلکي په دائمي ژوند منتج کېږي!! او د دوهمي خبري معنی خو دا ده چي که ته د معرفت ترلاسه کولو هڅه وکړې او (د ښه او بد پېژندو د وني) مېوه وخورې نو هرو مرو مرې، یعني په پټو سترګو ژوند کوه، د معرفت د وني مېوه مه خوره، دا مېوه ستا د مرګ باعث کېږي!! په دې هکله څو پوښتني لرو:

- آدم علیه السلام خو دا مېوه وخوړه، ولي مړ نه شو؟ ولي د بایبل د خدای خبره غلطه وخته؟ هغه خو ورته ویلي وو چي که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چي حتماً مرې!!
- د انسان د مرګ یو ستر عامل خو د بایبل د خبري برعکس د ده عدم معرفت دئ، هغه که له بیمارۍ مري وجه ئې دا ده چي د دې بیمارۍ د علاج دوا نه پېژني،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه که د کوم دښمن په لاس مغلوبېږي او په قتل رسېږي سبب ئې دا دئ چې معرفت ئې ناقص دئ، د دښمن د پرځولو او د ده له شره د ځان ژغورلو په چل او چم نه پوهېږي، معرفت خو د ده د ژوند د اوږدوالي باعث دئ نه د مرگ باعث، الله تعالی به څنگه ده ته وايي چې د معرفت د ونې مېوه ستا د مرگ باعث کېږي؟!!

او د موسی او خضر علیهما السلام د قصې په ارتباط باید ووایو: آیا دې ته مو پام کړی چې دا قصه اصلاً د دې لپاره راغلې چې وښيي موسی علیه السلام په غیب نه پوهېدو؟! له یوه ملگري سره روان دئ خو د هغه د ځو کارونو په وجه او موخه نه پوهېدو!! هیڅوک دا ادعاء نشي کولی چې د دې کس مقام تر موسی علیه السلام لوړ وو؟ قرآن خو موسی علیه السلام د هغو پنځو پیغمبرانو له ډلې گڼي چې هیڅ انسان او هیڅ پیغمبر د هغوی مقام ته نشي رسېدی. تا د قرآن له کوم لفظ نه دا معنی اخیستې ده چې دا کس په غیب پوهېدو؟ قرآن خو وايي چې له الله تعالی پرته هیڅوک په زمکه او آسمان کې په غیب نه پوهېږي. قرآن خو د ابراهیم، موسی، ذکریا، لوط، نوح، یعقوب، محمد،... علیهم السلام قصې زموږ مخې ته ږدي چې ښيي دوی په غیب نه پوهېدل، فرشتې ئې په خوا کې ولاړې وې خو دوی د زلمو او مېلمنو گمان پرې کاوو، د اولاد زېری ورکړی شوي، پوښتنه ئې کوله چې دا زوی به څنگه او څه وخت ورکول کېږي، څو متره آخوا ئې زوی په څا کې لوېدلی خو له حاله ئې خبر نه دئ او له غمه ئې سترگې ړندې شوې، د خپل ملگري د کارونو په کنه او حقیقت خبر نه وو... خضر علیه السلام خو معلومه نه دئ پیغمبر دئ که نه، ځکه په قرآن کې ئې نوم د پیغمبر په توگه نه دئ راغلی، په یوه روایت کې د موسی علیه السلام دا ملگری د خضر په نامه یاد شوی، تاسو څنگه هغه تر موسی علیه السلام لوړ گڼئ او علم غیب ورته ثابتوئ؟!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه ده؛ هغه کسان چي زړونه ئې بیمار دي، لدې ښوونکې او له پندونو نه ډکي قصې نه سرچپه او غلطه انتباه اخلي او د داسي یوه تصور د اثبات لپاره پرې استدلال کوي چي په حقیقت کي دا قصه د هغه د تردید او نفی لپاره راغلې. دوی هڅه کوي لدې قصې نه د پیغمبرانو علیهم السلام لپاره د علم غیب د اثبات لپاره د دلیل په توګه کار واخلي، پداسي حال کي چي دا قصه په واقع کي له موسی علیه السلام نه د علم غیب نفی کوي.

# د نبوي احادیثو په اړه صحیح عقیده

د شهادت په درنې ورځپاڼي کي مي د یوه لیکونکي هغه لیکنه ولوسته چي د تنویر په درنې مجلې کي د یوې خپرې شوې لیکني په اړه ئې لیکلې او ځیني ملاحظات ئې پرې وړاندي کړي. ما غوښتل چي دغسي ملاحظات او د هغوی ځوابونه د هغو خلکو په وړاندي کېښودی شي چي د حق په لټه کي دي، غواړي د دین په حقیقت، د قرآن په صحیح تفسیر او د نبوي احادیثو په سم او حقیقي معنی او تعبیر پوه شي او هغه خلک وپېژني چي د نبوي احادیثو په اړه په کرِه لار درومي او رسول الله ﷺ ته نامناسبي او د عقل او دین خلاف ویناوي او کړني منسوبوي. ښه شو چي دې ښاغلي دا بحث د شهادت ورځپاڼي ته راوایست، د ده په ځواب کي څو عرایض لرم:

د ده لومړی ملاحظه پر دې خبري ده چي ویل شوي: حدیث به هغه وخت قبلېږي چي کله د قرآن کریم سره ټکر نه وي!! ورپسې خپل تعلیق په دې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندي کوي: دا خبره په عام ډول هغه خلک کوي څوک چي له احادیثو منکر دي...
ورپسې لیکي: دوی استدلال په دې روایت کوي: إذا روي لکم الحدیث فاعرضوه علی کتاب الله فان وافقه فاقبلوه و إن خالفه فردوه. ورپسې ئې د دې روایت ناقصه او ناسمه ژباړه وړاندي کړې او بیا ئې د دې روایت په رد کي د داسي خلکو اقوال رااخیستي چي ویلي ئې دي: دا روایت زنادقه وو له ځانه جوړ کړی!! په داسي حال کي چي ګمان نه کوو هیڅ په دین پوه او له خدایه وېرېدونکی انسان به د داسي ګنده او غلطي فتوی ورکولو جسارت وکړي، په دې روایت کي هیڅ داسي خبره نشته چي ویونکی ئې زندیق وګڼل شي!! هر مؤمن انسان به دا خبره کوي چي قرآن وروستی ملاک او معیار دئ، هغه وینا به مني چي له قرآن سره موافق وي او هغه وینا به ردوي چي له قرآن سره مخالف وي، لیکونکی په خپله څو سطره وروسته همدغه خبره کوي چي په دې روایت کي راغلې، او دلته ئې د هغه راوي ته د زندیق خطاب کړی!! زندیق هغه دئ چي د قرآن خلاف خبره مني او رسول الله ﷺ ته د قرآن خلاف خبري منسوبوي. دا د تکفیري ډلو کار دئ چي د خپل غلط مسلک هر مخالف په ضد د تکفیر فتواګاني صادروي، دوی هم په خپلو فتواګانو سره خلک تکفیروي او هم له دین، قرآن او حدیث نه په خپلو غلطو تعبیرونو او تفسیرونو سره خلک له اسلام نه متنفر کوي. دوی ته په ځواب کي وایو:

تا د لیکني مطلب په امانت سره نه دئ نقل کړی، د سالم او صحیح نقد تقاضاء دا وي چي تر نقد لاندي مطلب په احتیاط او امانت سره نقل شي، دا روایت تا له خپله ځانه راوړی، په لیکني کي په دې روایت استناد نه دئ شوی. په لیکني کي راغلي چي د متن له پلوه هغه حدیث صحیح ګڼل کېدی شي چي:

- په قرآن کي د هغه لپاره کوم شاهد وي، د قرآن له کوم آیت سره په واضح

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه توافق ولري، یا لږ تر لږه د کوم آیت له الفاظو اشارتاً داسې معلومه شي چې د روایت متن ورسره اړخ لګوي.

- له قرآن سره تعارض ونه لري. دا د کبار صحابه او د ابوحنیفه رحمه الله په شمول د ټولو فقهاوو مسلک دئ چې حدیث قرآن ته راجع کوي او په هغه صورت کې ئې د استناد وړ ګڼي چې په قرآن کې د هغه لپاره شاهد ومومي او یا لږ تر لږه له قرآن سره تعارض ونه لري.
- له بل صحیح حدیث سره تعارض ونه لري.
- د متواتره سنت مخالف نه وي.
- په داسې قضیې او واقعې بحث نه کوي چې په ډېرو پورې تړلې وي خو یوازې یوه کس پرې څه ویلي او بل داسې څوک ونه موندل شي چې د همدې قضیې په اړه ئې همدا خبره کړې وي.
- په حدیث کې داسې څه نه وي ویل شوي چې صحابه وو عملاً د هغې وینا مخالفت کړی وي.
- داسې څه په کې نه وي ویل شوي چې یا د عام الهي سنت خلاف وي او یا د عقل خلاف وي. الهي سنن ثابت او تغییر نه منونکي دي، عقل په حقیقت د پوهېدو وسیله ده، قرآن د کافرانو په اړه فرمایي چې هغوی له دې امله په حقایقو نه پوهېږي او ایمان پرې نه راوړي چې تعقل نه کوي، د دې معنی دا ده چې نه قرآن د عقل خلاف دئ او نه عقل د قرآن خلاف، نه نقل (نصوص) د عقل له پرېکړو سره تصادم کوي او نه عقل د نقل له پرېکړو سره، هیڅ نقلي دلیل د عقلي دلیل خلاف نه وي او هیڅ عقلي دلیل د نقلي دلیل خلاف نه وي، نه په صحیح نصوصو کې داسې څه شته چې عقل ئې نه مني، او نه عقل داسې خبره کولی شي چې نصوص ئې نه مني، موږ هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن حقیقت په خپل عقل سره درک کوو او هم د احادیثو صحت او ضعف، څوک چې عقل نه لري نه د قرآن په تفسیر پوهېدی شي او نه د حدیث په صحت او ضعف.

دا د جلیل القدر امام ابوحنیفه په شمول د ټولو فقهاوو رأیه ده چې روایت یوازې هغه مهال د اعتبار وړ ګڼلی شو چې له قرآن سره تعارض ونه لري، له دې خبري سره یوازې هغه غرضي او مرضي خلک مخالفت کوي چې له قرآن نه منکر وي، د الله تعالی کلام وروستی معیار او ملاک نه ګڼي، رسول الله ﷺ ته داسې څه منسوبوي چې د قرآن خلاف وي، غواړي هره غلطه خبره او وچ او لانده د حدیث په نامه پر خلکو ومني!! دې ته نه ګوري چې محدثینو د امام بخاري په شمول روایات د قرآن په رڼا کې چڼلي او په زرګونو هغه روایات ئې لري غورځولي چې له قرآن سره ئې تعارض درلود. امام بخاري له شپږو لکو روایاتو نه دوه زره دوه سوه غوره کړل او نږدې پنځه لکه اته نوي زره ئې ونه منل او په خپل کتاب کې ئې د هغوی له راوړلو ډډه وکړه. آیا دا له حدیث نه د انکار په معنی ده؟ که رسول الله ﷺ ته د غلطي وینا له انتساب نه ځان لري ساتل؟!! آیا ته امام بخاري هم د حدیثو منکر ګڼې؟

د امام ابوحنیفه د مسند په شرحي کې ملا علي القاري د امام ابو حنیفه په اړه لیکي: ومن أصوله: عرض أخبار الآحاد علی عمومات الکتاب وظواهره فإذا خالف الخبر عاما أو ظاهرا في الکتاب أخذ بالکتاب وترک الخبر، عملا بأقوی الدلیلین، لأن الکتاب قطعي الثبوت وظواهره وعموماته قطعیة الدلالة عنده: د امام ابوحنیفه له اصولو څخه یو دا وو چې أخبار الآحاد (هغه روایات چې یو راوي لري) د الله تعالی د کتاب عامي او څرګندي وینا ته راجع کوي که دا روایت د قرآن له عمومي او څرګندي لارښووني سره مخالفت ولري نو پر کتاب استناد کوي او دا روایت پرېږدي، په دې توګه هغه پر قوي دلیل استناد کوي، دا ځکه چې د قرآن حقانیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثابت دئ او عمومیات او ظواهر ئې د ده له نظره پرېکنده دلیل دئ.

سند له هغه وروسته د اعتناء او اعتبار وړ ګڼلی شو چې د روایت متن له قرآن سره تعارض ونه لري. که ئې له قرآن سره تعارض نه درلود، له نورو صحیح روایاتو سره متعارض نه وو، د عقل او عدل خلاف خبره په کي نه وه، نو که ئې په سند کي څه ضعف هم وي رواړل ئې هیڅ اشکال نه لري، مګر محدثینو په خپلو کتابونو کي ګڼ شمېر ضعیف احادیث نه دي راوړي؟!! دغه روایت چې تا د ځینو په وینا ضعیف ګڼلی د متن له پلوه نه یوازي صحیح دئ بلکي باید هر مسلمان ئې د لارښود په توګه ومني، هغه به کوم مسلمان وي او څنګه به مسلمان وي چې د قرآن خلاف خبره مني او رسول الله ﷺ ته ئې منسوبوي؟!!

دا ډېره کمزورې خبره ده چې که حدیث له قرآن سره د موافقت په شرط منلی شو نو بیا خو حدیث ته څه ضرورت دئ؟!! دا خبره هیڅ هوښیار انسان نه کوي، حدیث د قرآن شرح او تفصیل دئ، د قرآن شرحي او تفصیل ته همدومره ضرورت لرو لکه د قرآن راتلو او د پیغمبر بعثت ته، رسول الله ﷺ ته هم قرآن ورکړی شوی او هم د قرآن فهم، رسول الله ﷺ هم قرآن موږ ته رارسولی، هم ئې په خپل عملي ژوند کي موږ ته عملاً انځور کړی، هم ئې شرحه او تفصیل موږ ته راښودلی. د ایمان تقاضاء دا ده چې له قرآن سره موافقه خبره ومنو، مخالفه رد کړو، که مخالفه نه وي، سند او متن ته ئې له پام نه وروسته د هغې د منلو او نه منلو پرېکړه وکړو. جناب لیکوال لیکي چې: دا صورت موږ هم منو چې حدیث هله دلیل دی چې د قرآن کریم مخالف به نه وي!! پوښتنه کوم: که دا خبره منې نو بیا ستا اعتراض په څه دئ؟ ولي دي د هغه روایت راوي ته د زندیق خطاب وکړ؟ هغه خو همدا خبره کوي، ته ولي دا روایت زنادقه وو ته منسوبوې؟ موږ خو همدغه خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې او تل به ئې کوو چې روایت په هغه صورت کې د منلو دئ چې له قرآن سره تعارض ونه لري!! ائمه وو همدا خبره کړې، نه پوهېږو تا ته هسې اختلاف خوند درکوي که څنگه؟ ته له دې خبرې سره توافق کوې خو دا پرې زیاتوې چې: خو دا مخالفت معلومول د هر چا کار نه دئ!! علماء کرامو ته چې د آیت او حدیث تر منځ تعارض په نظر ورغلی دوی د دې تعارض لپاره د تطبیق یا نسخې لار اختیاروي، داسې نه وایي چې دا حدیث نه منو... بیا لیکې: په احادیثو کې د تضاد او تعارض په هکله ادعاء یوه بې بنسټه او بې دلیله ادعاء ده!!! عجیبه ده!! څو سطره وړاندې لیکې علماء کرامو ته چې د آیت او حدیث تر منځ تعارض په نظر ورغلی دوی د دې تعارض د تطبیق یا نسخې لار اختیاروي!! خو دلته د تعارض له شته والي په بشپړه توگه انکار کوې او دا بې بنسټه ادعاء گڼې!! دا خبره یوازې هغه څوک کولی شي چې نه ئې د احادیثو کتابونه لوستلي وي او نه ئې د احادیثو د شرحې کتابونه، په دې خبر نه وي چې د احادیثو د شرحې کتابونه د دې لپاره لیکل شوي چې دغو تعارضونو ته توجیه پیدا کړي او هغو پوښتنو ته ځواب ووایي چې په دې اړه راولاړېږي، ځینو ته ئې توجیه وړاندې کړې، د ځینو په پای کې ئې خپل عجز څرگند کړی او ویلي ئې دي والله اعلم او په ځینو مواردو کې ئې اعتراف کړی چې توجیه مې ونه موندله. زه حاضر یم د بخاري دومره متعارض راوایات ستا مخې ته کېږدم چې یو کتاب ترې جوړېږي، داسې متعارض روایات چې هیڅ شارح ئې په توجیه او تلفیق نه دئ توانېدلی، د عمدة القاري معروف او منلي مؤلف علامه عیني د بخاري په لسگونو هغه روایات په گوته کړي چې په خپلو کې تعارض لري. راشه چې دلته ئې څو بېلگې ستا مخې ته کېږدم، په دې طمعه چې د حقیقت په موندلو کې ستا مرسته وکړي، د پېښور له نمک منډیي نه د ریاض تر مسجد کبیر پوري ولاړ شه او د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

متعارضو او متضادو رواياتو توجيه او تلفيق راوړه، هغه كتاب په ګوته كړه چې د دغو متعارضو او متضادو رواياتو په توجيه او تلفيق توانېدلی!!

بخاري د ابو طالب او ابن ابی په اړه دوه متعارض روايات راوړي، دواړه ئې هم له قرآن سره تعارض لري او هم د بخاري له نورو رواياتو سره، نه ئې له قرآن سره تلفيق ممكن دئ او نه په خپلو منځونو كي، يو ئې وايي چې رسول الله ﷺ د ابوطالب د مړيني او ساختو په وخت كي د هغه ليدو ته ورغی او د شهادت د كلمې لوستو بلنه ئې وركړه، هغه ونه منله، ده ورسره وعده وكړه چې تر هغه به د مغفرت غوښتنه درته كوم چې الله تعالی مي ترې منعه كړي، او په همدې اړه دا آيت نازل شو: إنک لا تهدي من احببت... بل ئې وائي دا آيت نازل شو: ما كان للنبي... ته به ښايي پوهېږې چې يو ئې د القصص د سورې ۵۶ آيت دئ او بل ئې د التوبه د سورې ۱۱۳، ته ما ته ووايه چې كوم روايت صحيح دئ؟ كوم آيت نازل شوی؟ بخاري دواړه صحيح ګڼي!! خو ته ښايي په دې پوهېږې چې له دوو متعارضو او متضادو خبرو نه يوازي يوه ئې احتمالاً صحيح ختی شي نه دواړه ئې، له دغو دواړو متعارضو رواياتو نه يوازي يو به ئې احتمالاً صحيح وي نه دواړه!! كه قرآن ته رجوع وكړو نو له شكه پرته راته جوته كېږي چې د القصص د سورې آيت د ابوطالب له مرګه ډېر مخكي نازل شوی او د التوبې د سورې آيت د هغه له مرګه نږدې دولس كاله وروسته او د تبوک له جګړې وروسته او له تبوک نه د راستنېدو پر مهال نازل شوی. كه څوک ادعاء وكړي چې ښايي دا آيتونه به دوه ځلي نازل شوي وي دا ادعاء د منلو وړ نه ده، ځكه داسي روايت نشته چې وښيي دا آيتونه دي دوه ځلي نازل شوي وي. هيڅ عقلمن انسان به دا خبره ونه كړي چې جبريل عليه السلام به د ابی ابن سلول او ابوطالب لپاره دوه ځلي له اومه آسمانه زمكي ته راغلی وي او د دوی په اړه به ئې يو يو آيت له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان سره راوړی وي!! زه به ستا ځواب ته انتظار کوم چي ووايي: په دغو دواړو رواياتو کي کوم يو صحيح دئ؟ همداراز د ابن ابی په اړه درې سخت متعارض او متضاد روايات زموږ مخي ته راځي، دوه ئې په بخاري کي راغلي او درېيم ئې واقدي راوړی، يو ئې وايي: د ابن ابی زوی د خپل پلار د مړيني په ورځ رسول الله ﷺ ته راغی او ورته وئې ويل: خپل کميس دي راکړه چي خپل پلار ته کفن ترې جوړ کړم، رسول الله ﷺ خپل کميس ورکړ او بيا ئې د هغه جنازه هم وکړه... بل ئې وايي: رسول الله ﷺ ابن ابی له قبره راوايست او خپل کميس ئې ورواغوست، بل ئې وايي: رسول الله ﷺ خپل کميس د ابن ابی له مړيني مخکي په خپله ابن ابی ته ورکړی وو!! ما ته ووايه: په دغو رواياتو کي کوم يو صحيح دئ؟ څوک توانېدی شي چي دا متعارض روايات تلفيق او توجيه کړي؟! په دغو رواياتو کي يو ئې وايي: عمر رضي الله عنه هغه مهال چي رسول الله ﷺ غوښتل د ابن ابی د جنازې لمونځ پيل کړي وويل: آيا د يوه منافق د جنازې لمونځ کوې، حال دا چي الله تعالی ترې منعه کړې يې؟! يعني دا چي د منافقينو د جنازې له لمانځه نه د اجتناب آيت تر دې د مخه نازل شوی وو!! خو بل ئې وايي چي د ابن ابی د جنازې له لمانځه وروسته دا آيت نازل شو!! ما ته ووايه: په دې دواړو کي کومه خبره صحيح ده؟ دا آيت هم د التوبې د سورې په هغې برخې کي راغلی چي د تبوک له جګړې وروسته نازله شوې، ما ته ووايه: ابن ابی د تبوک له جګړې مخکي مړ شوی که وروسته؟ که يوه خبره وکړې يو روايت دي رد کړی او که بله وکړې بل روايت دي رد کړی! که د شهادت ورځپاڼه ئې د نشرولو حوصله لري نو زه تيار يم په لسګونو لسګونو هغه روايات ورولېږم چي يا له قرآن سره تعارض لري او يا په خپلو منځونو کي، داسي تعارض چي هيڅوک ئې په توجيه او تلفيق نشي توانېدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جناب ليکوال له دې وينا سره توافق نه کوي چې: د رواياتو د يوې خاصي لړۍ په اړه ړوند تعصب د دې باعث شو چې شيعه له ټول امت نه بېله لار غوره او په امت کې د اختلاف باعث شي!! نه پوهېږم چې دوی په دې خبري غور نه دئ کړی که هسي ئې د اختلاف کولو شوق کړی؟! آيا ړوند تعصب جائز ګڼي؟ د شيعه وو روايات ورته صحيح برېښي؟ له دې خبري سره موافق نه دئ چې شيعه په امت کې د اختلاف باعث شول او دا اختلاف ئې له هغو رواياتو راولاړ شوی چې دوی ئې صحيح ګڼي؟!! موږ خو ړوند تعصب حرام ګڼو، حتی که دا د امام بخاري رحمه الله او د ده د کتاب په اړه وي!! د ليکوال صاحب دا خبره هم صحيح نه ده چې له امت سره د شيعه وو د اختلاف سبب د دوی روايات نه دي!! ده ته وايو: د اسلامي امت اختلاف يا سياسي عوامل لري، يا قومي او ژبني او يا له مختلفو رواياتو راولاړ شوي، د شيعه وو اختلاف خو پرېږده د اهل سنت و جماعت تر منځ د اختلاف لويه وجه مختلف راوايات دي، له دې حقيقته يوازي ناپوه او بې خبره کسان انکار کولی شي. ما ته ووايه: امام بخاري رحمه الله ولې د امام ابوحنيفه رحمه الله په څېر ستر امام سره اختلاف کړی؟ ولې ئې د بېل مذهب بنسټ کېښود؟ ولې د ده سلفي پلويان د نورو مذاهبو پلويانو ته د مشرک او بدعتي په سترګه ګوري او تقليد حرام ګڼي؟ آيا له رواياتو پرته بله وجه ورته موندلی شو؟ امام بخاري د رفع اليدين، آمين بالجهر، قرائت خلف امام، او ډېرو نورو مسائلو کې په داسي رواياتو استناد کړی چې د احنافو له نظره کمزوري او مرجوح دي او په مقابل کې ئې دوی په داسي رواياتو عمل کوي چې تر دغو رواياتو ارجح او غوره دي، خو بخاري دغه روايات نه دي راوړي.

عجيبه ده چې جناب ليکوال زموږ له دې وينا سره هم اختلاف کړی چې: احاديث د قرآن له شرحي او تفصيل پرته بل څه نه دي!! نه پوهېږو آيا له دې خبري

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د اختلاف کولو څه دلیل او مجال شته؟! د رسول الله ﷺ هر څه د قرآن مطابق وو، هم ئې عمل، هم ئې وینا، هم ئې امر، هم ئې نهي، د قرآن ځیني لارښووني داسي دي چي هر څوک پرې پوهېږي، ځیني ئې داسي دي چي د علم او پوهي خاوندان پرې پوهېږي، ځیني ئې داسي دي چي یوازي رسول الله ﷺ پرې پوه شوی او هغه خپل امت ته بیان کړي، د دې خبري یو مثال دا دئ: هر څوک د قرآن په دې حکم پوهېږي چي لمونځ به کوي، د لمانځه د اوقاتو په اړه په قرآن کي داسي اشارې شته چي د لمانځه وختونه ترې معلومېږي، د پوهي او علم خاوندان دا اشارې درک کولی شي، خو د لمانځه د رکعتونو د شمېر او څرنګوالي په اړه داسي اشارې راغلې چي یوازي رسول الله ﷺ پرې پوه شوی او خپل امت ته ئې ښودلي.

لیکوال د قرآن او حدیث تر منځ د تعلق په اړه څو خبري کړې دي چي اوږد او غیر ضروري بحث ایجابوي او دا ئې ځای او وخت نه دئ، په دې اړه د ده تعبیرونه نامناسب او ناشایسته دي، د رسول الله ﷺ د احادیثو په اړه دا وینا مناسبه نه ده چي د قرآن د احکامو تأیید ئې کړی، مناسبه وینا دا ده چي حدیث د قرآن شرح او تفصیل دئ. خو ده ځیني احادیث په هغو قضیاوو پوري مربوط ګڼلي چي قرآن ترې ساکت دئ او په مثال کي ئې د واده کړي زنا کار د رجم او د ترور او ورېرې په یوه نکاح کي د جمع کولو ناروا کېدل راوړي!! نه پوهېږم چي هغه اشتباهاً دا مثال راوړی او که عمداً!! د ورېرې، خورزې، خاله او عمه په اړه خو د قرآن حکم دومره څرګند دئ چي هر عادي مسلمان هم ترې خبر دئ، د النساء د سورې ۲۳ آیت هغه ښځي معرفي کړې دي چي نکاح ورسره حرامه ده، اوه ئې له نسبي پلوه او اوه ئې له صهري پلوه، د ترور او ورېرې د نکاح په اړه خو قرآن نه یوازي سکوت نه دئ کړی بلکي په ډېر وضاحت او قاطع الفاظو سره ئې له دوی سره نکاح حرامه ګڼلې، دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په يوې نکاح کې خو لري پرېږده بېله بېله ئې نکاح حرامه ده!! آيا دا آيت دې نه دئ لوستلی، په معنی ئې نه ئې پوه شوی، که غوښتل دې بل څه ووايي او اشتباهاً دا خبره درنه شوې؟!! هو؛ ته غواړې ووايي چې يوه سړي ته د دوو هغو ښځو يو ځای نکاح ناجايزه ده چې په خپلو منځونو کې ورېره او ترور وي، خو د مطلب په سمي افادې نه يې موفق شوی، قرآن په دې اړه يو څرگند اصل زموږ مخې ته اېښی او فرمايلي ئې دي چې يوه سړي ته دوې خويندې په يو ځای نکاح کول حرام دي، ښځه او د هغې مور يا لور ورسره يو ځای نکاح کول حرام دي، رسول الله ﷺ دغه اصل ته په پام سره د هغو دوو ښځو د يو ځای نکاح کول هم ناجايز گڼلي چې په خپلو کې ترور او ورېره وي، دا ځکه چې قرآن د دوو خويندو يو ځای نکاح، له ورېرې سره نکاح، له ښځې او د هغې له مور سره نکاح او له بل مېړه نه د هغې له لور سره نکاح حرام کړې. يعني د دوو داسي ښځو د يو ځای نکاح په اړه صريح او واضح حکم د ده مخې ته پروت وو چې په خپلو منځونو کې ئې خاص تعلق وو، رسول الله ﷺ دغه حکم ته په پام سره د ورېرې او ترور په اړه دا لارښوونه کړې ده. دا حکم ئې له خپله ځانه نه دئ صادر کړی، د قرآن له صريح حکم نه ئې اقتباس کړی. قرآن خو دا هم نه دي ويلي چې د لمسۍ او انا حکم څه دئ، که دا خپله وي يا د مېرمني او يا د خور او ورور، خو هر عقلمن انسان د دوی په اړه حکم له نورو احکامو نه قياس کولی شي، له دغو څوارلسو مواردو نه علاوه نور محرمات د همدغو آيتونو له مخې ټاکل شوي دي، نه دا چې د دوی په اړه رسول الله ﷺ ته بېله بېله وحي نازله شوې!! ستا دا بل مثال هم ستا دغي خبري ته ورته دئ، قرآن د ناواده زناکار سزا په څرگندو الفاظو ټاکلې او ويلي ئې دي چې دواړه سل سل درې ووهئ، يو هوښيار انسان پوهېږي چې د ناواده زناکار سزا دا وي نو د واده شوي زناکار سزا به څه وي، طبعاً چې دا سزا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتماً تر هغه زياته وي، رسول الله ﷺ د داسي زناكار سزا په خپله خوښه نه ده ټاكلې، د قرآن د دغه حكم په رڼا كي او دې ته په پام سره چي په مخكني الهي شريعت كي د دوی سزا رجم وو، فرمايلي چي داسي زناكار به رجم كېږي. موږ وايو چي د رسول الله ﷺ د دغو لارښوونو منشأ همدغه آيتونه دي، ته وايي دا بېله بېله وحي ده!! پوښتنه كوو: ستا دليل څه دئ؟ دا خبره خو ته له ځانه كوې، رسول الله ﷺ نه دي ويلي چي په دې اړه ما ته بېله وحي شوې.

جناب ليكوال ليكلي چي حديث حجت دئ، هغه ته وايو: موږ درسره موافق يو، خو دومره وضاحت ضروري ګڼو چي صحيح حديث حجت دئ، نه هر حديث او صحيح حديث هغه دئ چي له قرآن سره تعارض ونه لري، كوم روايت چي له قرآن سره تعارض ولري كه ټوله دنيا ئې صحيح وګڼي موږ ئې نه د اعتبار وړ ګڼو او نه پرې استناد كوو.

موږ له تا سره په دې كي هم موافق نه يو چي حديث هم د قرآن په څېر د الله تعالی له لوري دي، عقيده مو دا ده چي قرآن د الله تعالی له لوري پر پيغمبر عليه السلام نازل شوی او حديث هغه فهم او پوهه ده چي الله تعالی د قرآن په اړه د رسول الله ﷺ په برخه كړې. دا مطلب هغه روايت ښه توضيح كوي چي وايي:

له ابو جحيفه نه روايت دئ چي وايي: علي رضی الله عنه ته مي وويل: آيا كوم خاص كتاب درسره شته؟ وئې ويل: نه؛ مګر د الله كتاب، او هغه پوهه چي يوه مسلمان سړي ته په برخه كېږي او هغه څه چي په دې پاڼي كي دي، وايي: ورته ومي ويل: نو په دې پاڼي كي څه دي؟ وئې ويل: د ديت حكم، د اسير آزادول او دا چي مسلمان د كافر په بدل كي نه وژل كېږي.

ځيني خلك داسي دي چي قرآن مني خو حديث نه مني او ځيني داسي دي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حديث مني خو قرآن نه مني، ځيني داسي دي چي د يوه کتاب احاديث مني او د بل نه، او د دې کتاب هر روايت ته که څه هم غريب وي او له قرآن سره په بشپړه توګه متعارض، د داسي حجت په سترګه ورته ګوري چي د قرآن څرګند آيت د هغه لپاره شا ته غورځوي!! موږ له دغو ډلو نه کرکه لرو او الله تعالی ته پناه وړو چي د دوی له ډلي څخه شو.

د قرآن او حديث تر منځ د توپيرونو په اړه چي ليکوال څه ليکلي اکثر ئې بې بنسټه او له ځانه جوړي شوې خبري دي، سمه او دقيقه وينا فقط دا ده چي قرآن د الله تعالی کلام دئ چي د الله تعالی له لوري رسول الله ﷺ ته وحي شوی او حديث د قرآن قولي شرح او تفصيل، عملي مصداق او عيني تجسم دئ.

ليکوال په پای کي قولي روايت تر ليکلې روايت د زيات اعتبار وړ ګڼي، يا ښايي غواړي ووايي چي له صحابه وو نه په ليکلې بڼې کي د رواياتو نه راتګ د هغوی اعتبار ته زيان نه روسوي!! نه پوهېږو چي مقصد ئې کوم يو دئ او دا خبره ئې په څه مناسبت کړې!! خو موږ ته دا يوه مغالطه معلومېږي، که ليکل ضروري او مهم نه وی او تر وينا ئې اعتبار زيات نه وی نو رسول الله ﷺ به د قرآن د ليکلو امر نه کاوو، صحابه وو به په يوه مصحف کي د قرآن د ليکلو په اړه اجماع نه کوله، محدثينو به د حديثو کتابونه نه ليکل، د قرآن په لومړي نازل شوي آيت کي به د قرائت او قلم يادونه نه کېده، د قرض او پور په اړه به ئې دا حکم نه کاوو چي هغه وليکئ. که مسلمانانو او په خاصه توګه زموږ درنو محدثينو د رسول الله ﷺ ټول احاديث په يوه کتاب کي راغونډ کړي وی او ټولو پرې اجماع کړې وی نو نن به موږ د متعارضو رواياتو له ستونزي سره مخامخ نه وو، بېلي بېلي داسي مذهبي ډلي به نه وې چي هره يوه ئې ځان ته د رواياتو خاصه لړۍ لري او د هغوی په اړه ړوند تعصب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متعارض روایات او مذهبي اختلافات

ځیني کمعلمه خلک له دې خبر نه دي چې متضادو روایاتو په امت کي څومره ستونزي راولاړي کړې او هغه متحد امت ئې څنګه ټوټې ټوټې او په بېلو بېلو فرقو ووېشو چي د وحدت مزی ئې قرآن وو!! دوی ګمان کوي چي مذاهبو امت ووېشو او په احادیثو عمل کولو سره دا اختلاف له منځه وړی شو، دوی ادعاء کوي چي په احادیثو کي تضاد او تعارض نشته، او روایات د اختلاف او وېش سبب نه بلکي د اتحاد او اتفاق سبب دي!! دا دواړه خبري داسي دي چي هیڅ عقلمن انسان ورسره توافق نشي کولی، چا چي د احادیثو له کتابونو نه حتی یو هم لوستلی وي د داسي خبري کولو جسارت نشي کولی، څوک چي په امت کي د اختلاف له عواملو خبر وي د داسي خبري له کولو حتماً ډډه کوي او هغه ورته د حقیقت خلاف برېښي.

د امت په وروستیو پېړیو کي اختلافات خو یوې خوا ته پرېږده چي لویه منشأ ئې متعارض روایات دي، حتی په صحابه وو کي اختلافات له همدې متعارضو روایاتو راولاړ شوي، د دې ډېري بېلګي د احادیثو په کتابونو کي زموږ مخي ته راځي. دغو متعارضو روایاتو ته په پام سره د امت فقهاء او محدثین راولاړ شول چي روایات وچڼي، د راویانو په اړه ژور تحقیقونه وکړي، صحیح روایات تشخیص کړي، د اعتماد وړ راویان له کمزورو بېل کړي، یوازي هغه روایات د اعتماد او اعتبار وړ وګڼي چي راویان ئې ثقه وي او متن ئې له قرآن سره تعارض ونه لري. الله تعالی دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ته ډېر اجرونه ورکړي، خو د دې معنی دا نه ده چي د احادیثو په کتابونو کي راغلي ټول روایات سل په سلو کي هم د سند له پلوه صحیح دي او هم د متن له پلوه، په دې کتابونو کي هم صحیح روایات شته، هم ضعیف، هم له قرآن سره موافق روایات شته او هم متعارض، د دې کتابونو ځیني روایات یو له بل سره موافق دي او ځیني ئې متعارض، الله تعالی پر موږ ستره پېرزوینه کړې او داسي روڼ او لاربښود محک او معیار ئې زموږ په اختیار کي راکړی چي د روایاتو په شمول د ژوند په ټولو اختلافي مسائلو کي د هغه په رڼا کي قضاوت کولی شو او سمه خبره له کمزورې او غلطي نه بېلولی شو.

قرآن موږ ته لاربښوونه کوي چي په ځینو مواردو کي د یوه کس ادعاء د بل په اړه هغه مهال ومنو چي دوه شاهدان وړاندي کړي او په ځینو مواردو کي هغه مهال چي څلور شاهدان ولري، که د قرض او شخصي معاملاتو په اړه د قرآن حکم دا وي نو د رسول الله ﷺ په اړه چي څوک ادعاء کوي چي داسي ئې وکړل یا داسي ئې وویل څنګه ئې ادعاء له هیڅ شاهد پرته ومنو؟!! عمر رضي الله عنه خو داسي وو چي چا به د ده په وړاندي وویل چي له رسول الله ﷺ څخه مي اورېدلي، نو فوراً به ئې ورته وویل: یا شاهد وړاندي کړه یا دي ملا دُرې ته تیاره کړه!! په کار خو دا وه چي زموږ درنو محدثینو د احادیثو په اړه تر څلورو هم زیات شاهدان غوښتی، د داسي روایاتو له راوړلو ئې ډډه کولی چي یو راوي لري؛ نه په صحابه وو کي د راوي ترڅنګ شاهد شته، نه په تابعینو کي او نه په تبع تابعینو کي، لږ تر لږه دومره خو ئې باید کړي وی چي د داسي روایاتو تر څنګ ئې لیکلی: پام کوئ چي د دې راوي یوازي یو کس دئ او هیڅ شاهد نه لري!! که نن د یوه داسي روایت په اړه چي غریب وي، یو راوي لري، په قرآن کي هم کوم شاهد ورته نه مومي، یو څوک ووایي: زه دا روایت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منم، استناد پرې نه کوم، وېرېږم چي رسول الله ﷺ او صحابه وو ته داسي خبره منسوب نه کړم چي هغوی نه وي کړې، نو دې سړي نه یوازي له حدیث نه انکار نه دئ کړی، ګنهګار او مجرم ئې نشو ګڼلی، بلکي د عمر رضي الله عنه په سنت ئې عمل کړی او له دې نه ئې ځان ساتلی چي رسول الله ﷺ ته غلطه خبره منسوب کړي او د دوزخ د اور مستحق شي. که عمر رضي الله عنه د صحابه وو غریب روایت نه منلو او د شاهد وړاندي کولو مطالبه ئې ترې کوله، نو موږ به ولي داسي روایات منو چي په څلورو او پنځو طبقو کي یوازي یو یو راوي لري، مخصوصاً هغه روایات چي نه په قرآن کي کوم شاهد ورته مومو، نه په احادیثو کي او نه له عقل او درایت سره اړخ لګوي؟!! د داسي خبري څو مثالونه له بخاري نه وړاندي کوم:

د تبع تابعینو له دور نه وروسته یو کس د ذر په نامه وایي چي ما له سعید بن عبدالرحمن نه او هغه له خپل پلار نه اورېدلي چي عمار رضي الله عنه عمر رضي الله عنه ته وویل: آیا په یاد دي دي چي زه او ته په یوه سفر کي سره ملګري وو، او تا لمونځ ونه کړ خو زه (په خاورو کي) ورغړېدم او لمونځ مي وکړ، دغه قصه مي رسول الله ﷺ ته وکړه، رسول الله ﷺ راته وویل: (دا درته کافي وو چي داسي وکړې: بیا رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه پر زمکه ووهل او ورپو ئې کړل، بیا ئې خپل مخ او دواړه لاسونه ورباندي مسح کړل.

دا روایت په بخاري کي اوه ځلي راغلی، د سند له مخي دومره کمزوری دئ چي په پنځو نسلونو کي یوازي یوه یوه کس روایت کړی، هیڅ راوي ئې شاهد نه لري، یعني تر زیات غریب هم اوښتی، او د متن له مخي قطعاً د منلو او راوړلو وړ نه دئ؛ ځکه نه خو دا د منلو وړ ده چي عمر رضي الله عنه د تیمم له حکم خبر نه وو او لمونځ ئې پرېښود، نه دا چي عبدالله بن عباس چا ته د تیمم اجازه نه ورکوله، او نه دا چي عمار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره بې خبره وو چې د تیمم لپاره په خاورو کي رغړېدو!! آیا د عمر ﷛ په ضد داسي ادعاء له شاهده پرته منلی شو؟! هغه خو د علم او تقوی له پلوه دومره لوړ مقام درلود چې له ابوبکر ﷛ وروسته هیڅ صحابي د هغه مقام ته نه رسېدو، هغه حتی د خندق په جنگ کي هم خپل لمونځ نه دئ پرېښی، د تیمم په اړه خو د قرآن آیت دومره صریح او واضح دئ چې د قرآن هر لوستونکی پرې پوهېږي. او اړوند آیت ئې داسي مهال نازل شوی چې له رسول الله ﷺ سره لویه ډله په سفر کي ملگرې وه، ټولو همغه مهال تیمم زده کړی. عبدالله بن عباس ﷠ به څنگه له داسي کار نه خلک منعه کول چې الله تعالی ئې د کولو اجازه ورکړې؟!! د روایت دغو خبرو ته په پام سره دا هم ویلی شو چې دا برخه ئې هم د منلو وړ نه ده چې رسول الله ﷺ په خپلو لاسونو کي پو کړي، دا ځکه چې په تیمم کي پاک لاس پر مخ موښل مراد نه دي بلکي په خاورو لړلی لاس مراد دئ. لاسونه څنډل یا یو له بل سره وهل چې شگي او لوټي ترې توی شي مانع نه لري خو خاوري ترې پو کول له قرآن سره اړخ نه لگوي.

اوس که څوک ووایي: زه دا روایت نه منم، گمان کوم چې دا روایت به په پنځم نسل کي کوم شیعه جوړ کړی وي، چې عمر ﷛ ته ئې په تیمم نه پوهېدا او د لمونځ پرېښودا منسوب کړې، عمار ﷛ ته د تیمم لپاره په خاورو کي رغړېدا!! او عبدالله بن عباس ﷠ ته ئې دا حق ورکړی چې د قرآن یو صریح حکم نسخ کړي!! نو دې سړي هیڅ گناه نه ده کړې، بلکي حق لري ووایي: زه د دغو درنو صحابه وو په اړه دا تورونه نه منم، که دا خبره ونه کړي نو هم به ئې له دغو صحابه وو سره جفا کړې وي او هم له خپل عقل سره.

آیا هغه څوک به د دریو جلیل القدره صحابه وو په خلاف په ناروا تورونو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریک نه ګڼل کیږي چي دا روایت عمداً او له تحقیق نه پرته مني او ترې لاندي (صحیح) لیکي؟!! د الله تعالی په وړاندي به ئې ځواب څه وي چي له شاهده پرته ئې د لویو لویو شخصیتونو په اړه داسي ادعاګاني منلې او صحیح ئې ګڼلې دي؟!

بل مثال ئې هغه روایت دئ چي وایي: رسول الله ﷺ به د شپې او یا د ورځي په یوې برخي کي له خپلو ټولو مېرمنو سره یو ځای کېدو، او د مېرمنو شمېره ئې یولس او په بل روایت نه (۹) وه، انس رضي الله عنه ته وویل شول: آیا رسول الله ﷺ دومره طاقت درلود؟ ده وویل: موږ به سره ویل چي رسول الله ﷺ ته د دېرشو کسانو قوت او طاقت ورکړی شوی.

دا روایت د سند له مخي تر ټولو زیات غریب روایت دئ، ځکه په صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو کي یوازي یو یو راوي لري، او د متن له مخي داسي دئ چي هیڅ وزن او اعتبار نه لري، ځکه راوي ته داسي خبره منسوب شوې چي په هیڅ توګه نشي ترې خبرېدی، انس رضي الله عنه څه پوهېدو چي د رسول الله ﷺ او د هغه د مېرمنو تر منځ څه تېرېدل؟! چا دا خبره ورته کړې؟ څنګه ترې خبر شوی؟! په کار خو دا وه چي دغه روایت ته په پام سره معاذ بن هشام د ضعیفو او غیر ثقه راویانو په جمعي کي نیول شوی وی او هر هغه روایت یوې خوا ته پرېښودل کیدی چي د ده له لوري روایت شوی.

دا روایت په همدې اړه د بخاري له نورو روایاتو سره تعارض لري، بخاري نه دا ویلي چي کوم روایت صحیح دئ او نه ئې هغو جدي پوښتنو ته ځواب ویلی چي په دې اړه راولاړېږي.

دا روایت دوه برخي لري، یوه ئې دا چي رسول الله ﷺ به د ورځي یا د شپې په کومي برخي کي په خپلو ټولو مېرمنو راګرځېدو، دا برخه په ځینو نورو روایاتو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم راغلې او مطلب ئې دا دئ چي د ټولو پوښتنه به ئې کوله، په دې کي دقيقه خبره دا ده چي کله به ئې مازديگر دا کار کاوو او کله تر ماښام وروسته. بله برخه ئې انس ﵁ ته منسوب دا دوه ويناوي دي: ۱- رسول الله ﷺ يا نه (۹) يا يولس (۱۱) مېرمني درلودې او گواکي په همدې وخت کي به ئې له ټولو سره نږدېکت کاوو! ۲- دا ځکه چي موږ به ويل: رسول الله ﷺ ته د دېرشو کسانو طاقت (جنسي طاقت) ورکړی شوی دئ. د دې دواړو خبرو په اړه بايد ووايو چي دا په بشپړه توگه بې بنسټه او د حقيقت خلاف خبري دي، په څو دلايلو:

راوي له دې خبر نه دئ چي په يوه وخت کي د پيغمبر عليه السلام په حرم کي څو مېرمني وې، په خپله وايي چي نه يا يولس! څوک چي له دې خبر نه وي نو له دې نه به څنگه خبرېدو چي له خپلو مېرمنو سره د ليدو پر مهال څه تېر شوي، پيغمبر عليه السلام خو خاوند او مېرمن له دې منعه کړي چي د خپل خلوت خبري د بل چا په وړاندي وکړي، د خلوت له خبرو له خاوند او مېرمني پرته بل هيڅوک نه خبرېږي، د راوي د دې ادعاء مرجع کومه ده؟ چا دا خبره ورته کړې؟

نه قرآن دا خبره کړې چي رسول الله ﷺ د دېرشو کسانو جنسي قوت درلود او نه پيغمبر عليه السلام په خپله دا خبره کړې ده، نو راوي د کوم دليل له مخي دا ادعاء کړې ده؟

قرآن خو وايي چي پيغمبر عليه السلام به کله د شپې له دريو نه دوه برخي، کله نيمايي شپه او کله يوه برخه په لمانځه او د قرآن په تلاوت تېروله (إِنَّ رَبَّکَ يَعۡلَمُ أَنَّکَ تَقُومُ أَدۡنَى مِن ثُلُثَيِ الَّيۡلِ وَ نِصفَهُ وَ ثُلُثَهُ) او د ورځي له پلوه به هم د دعوت په سخت کار کي مصروف وو (ان لک فِي النهار سبحاً طويلاً)، گڼ شمېر روايات هم وايي چي رسول الله ﷺ ډېر ځلي له خپلو مېرمنو اجازه غوښتې ده چي د دوی د وار

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه په عبادت تېره کړي، دا روایت خو په بشپړه توګه د قرآن او دغو روایاتو له وینا سره تعارض لري او وايي چې رسول الله ﷺ به نږدې یولس ساعتونه په جنسي تعلقاتو تېرول!!

د احادیثو په کتابونو کې خو باید یا د رسول الله ﷺ وینا، یا فعل، یا هغه وینا او فعل چې رسول الله ﷺ اورېدلې او لیدلې خو تردید ئې نه دئ کړی، راوړل شي، د هر چا وینا د حدیث په نامه راوړل خو د دې روایت په څېر ډېرې ستونزې راولاړوي.

د دې روایت په دوهمي برخي کي انس رضي الله عنه ته منسوب ویناوي داسي دي چي هیڅ مسلمان باید د هغوی د ویلو جسارت ونه کړي، دا هم د عقل خلاف دي، هم د فطرت او هم د حقیقت، دا د رسول الله ﷺ په شأن کي جسارت او هتک حرمت دئ، هغه نه پوهېږي چي که دښمنانو ته داسي خبري په لاس ورغلې نو د اسلام په ضد به څومره استفاده تري کوي؟!! څوک چي دا خبره په خوله راوړي باید د رسول الله ﷺ هغه حدیث ئې مخي ته ودرېږي چي وايي: چا چي ما ته داسي څه منسوب کړل چي ما نه وي ویلي د جهنم اور ته دي چمتو شي. داسي خبري هغه څوک کولی شي چي د رسول الله ﷺ د تعدد زوجاتو له حکمت او فلسفې بې خبره وي او ګمان کوي چي د دې وجه جنسي قوت وو؛ نه هغه ستر مصلحت چي په دې کار کي نغښتی وو.

ټولو ته جوته ده چي رسول الله ﷺ په پنځه ویشت کلنۍ کي واده وکړ، "خدیجه رضي الله عنها د ده لومړۍ بي بي څلوېښت کلنه کونډه وه، د هغې تر وفات پوري ئې بله ښځه نده کړې، تر پنځوس کلنۍ پوري ئې یوازي یوه ښځه درلوده، د خدیجې رضي الله عنها له وفات نه وروسته ئې سوده رضي الله عنها چي کونډه وه، په نکاح کړه، سوده له لومړیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانانو څخه وه، له خپل مخکني مېړه سره ئې یو ځای حبشې ته هجرت وکړ او د هجرت سختي شېبې او کړاوونه ئې وګالل، نه ئې مال درلود او نه جمال او پیغلتوب، امتیاز ئې قوي ایمان او د ایمان په لار کې قرباني وو، پیغمبر علیه السلام صرف یوه ښځه په پیغلتوب کې کړې. نوري بیبیاني ئې کونډې وې، هره یوه ئې د یوه لوی اجتماعي مصلحت لپاره په نکاح کړې. کله چې انس ﵁ له رسول الله ﷺ سره یو ځای شوی هغه مهال د رسول الله ﷺ عمر نږدې اته پنځوس کاله وو، انس ﵁ یوازې څه کم زیات څلور کاله له رسول الله ﷺ سره تېر کړي، د جنسي قوت غلیان خو تر څلوېښت کلنۍ یا زیات نه زیات تر پنځوس کلنۍ پوري وي، تر دې وخته خو رسول الله ﷺ یوازې یوه مېرمن درلوده!! د نړۍ تر ټولو ښایسته پېغلې ورته میسرې وې، ولې ئې کونډې کړې او هغه هم د ژوند په وروستیو کلونو کې او داسې کونډې هم چې ډېر اولادونه ئې درلودل؟! دا ټول حقایق او دلایل د دې خبرې شهادت ورکوي چې دا روایت جعلي، موضوعي او بې بنسټه دئ، نه د منلو دئ او نه د استناد وړ، څوک چې دا روایت مني نو هم به ئې له خپل ګران او متقي پیغمبر علیه السلام سره جفا کړې وي او هم له خپل عقل سره. لکه چې د عیسی علیه السلام تر ټولو ستر دښمنان هغه دي چې عیسی علیه السلام ئې په داسې صفاتو وستایو چې الله تعالی نه وو پرې ستایلی او داسې څه ئې ورته منسوب کړل چې الله تعالی نه وو ورته منسوب کړي، همدا راز زموږ د خوږ پیغمبر علیه السلام تر ټولو ستر دښمنان هغه دي چې رسول الله ﷺ په داسې صفاتو ستایي چې الله تعالی نه دئ پرې ستایلی!!

دوی ته وایو: په امت کې د اختلاف عوامل یا سیاسي دي او مفسدو واکمنانو راولاړ کړي، یا اقتصادي دي او حریص شتمن او ټګمار علماء سوء ئې تر شا دي او یا له متعارضو روایاتو راولاړ شوي، دغو متعارضو روایاتو حتی نېکان او صالح خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم سره بېل کړي او کله کله ئې د دوی تر منځ دومره شدید اختلافات راولاړ کړي چي یوه ئې بل تکفیر کړی او د هغه په ضد ئې د وسلې کارول جائز ګڼلي!! د شیعه او سني تر منځ اختلاف خو پرېږده چي سیاسي وجوهات لري، د ائمه وو تر منځ اختلافات هم له متضادو او متعارضو روایاتو راولاړ شوي، په امت کي دوه اویا فرقې، له مرجیه نه نیولې تر شیعه پوري، له خوارجو نیولې تر سلفیانو پوري، له بریلویانو تر تبلیغیانو، ټولي له متعارضو او متضادو روایاتو راولاړي شوې، څوک چي د قبر خوا ته ناست دئ او له مړي مرسته غواړي، د قبر خاوند خدای ته شفیع کوي، ګمان کوي چي د ده دعاء اوري او خدای ته ئې رسوي او پر الله تعالی ئې مني نو هغه په ځینو روایاتو استناد کوي!! بریلوي چي وایي رسول الله ﷺ په غیب پوهېدو، د الله تعالی د فیض وېش ده ته سپارل شوی او د الهي فیض د خزانو کیلي د ده په واک کي دي، نو هغه هم په روایاتو استناد کوي!! که سلفیان د خپل مذهب په ګټه پر بخاري تکیه کوي نو بریلویان هم د خپلو ټولو عقایدو لپاره د بخاري په روایاتو استناد کوي!! دا په داسي حال کي چي یو بل ته د مشرک او له حدیث نه د منکر په سترګه ګوري!! دا ټول د قرآن د هغه آیت مصداق دي چي وايي: وَ قَالَتِ الْيَهُودُ لَيْستِ النَّصرَى عَلى شىْءٍ وَ قَالَتِ النَّصرَى لَيْست الْيَهُودُ عَلى شىْءٍ وَ هُمْ يَتْلُونَ الْكِتَب كَذَلِك قَالَ الَّذِينَ لا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ فَاللَّهُ يحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَمَةِ فِيمَا كانُوا فِيه يخْتَلِفُونَ * البقره: ۱۱۳

او يهودانو وويل: نصرانیان په هیڅ (سم دین او مذهب) نه دي، او نصرانیانو وویل: یهودان په هیڅ (سم دین او مذهب) نه دي، په داسي حال کي چي دوی کتاب لولي، همداراز هغو کسانو هم چي نه پوهېږي دوی ته ورته وینا وکړه، نو الله به د قیامت په ورځ د دوی ترمنځ په هغه څه کي قضاوت کوي چي دوی په کي اختلاف کاوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې آيت معنی دا ده چې له حقپالو سره د شيطاني ډلو مخالفت، له مسلمانانو سره د يهودو او نصاراوو اختلاف نوې خبره نه ده، دوی په خپلو کې هم يو له بل سره تل په اختلاف کې پاته شوي، په شديد او نه پخلا کيدونکي اختلاف کې، هومره چې يهودانو به ويل: نصارا خو اصلاً کوم د پام وړ دين او مذهب نه لري او نصاراوو به دغه خبره د يهودانو په اړه کوله حال دا چې دواړو به په الهي کتاب د ايمان دعوی کوله!! د الله کتاب خو يو دئ، تورات او انجيل يو د بل مؤيد او د الله دا کتابونه خو د اختلافاتو د حل لپاره راغلي، څنګه دوی د الله کتاب شا ته غورځولی، په غلطو رواياتو پسې تللي او د الله دين ئې د اختلاف وسيله ګرځولی؟!! ناپوهو مشرکانو به هم د دوی دواړو په اړه دغه خبره کوله چې د دوی مذهب خو اصلاً څه مذهب نه دئ، د دوی د اختلافاتو په اړه پرېکړه الله تعالی ته پرېږده، هغه به د قيامت په ورځ دا فيصله کوي. هر قوم چې د الله کتاب شا ته وغورځوي له همدې برخليک سره به مخامخ کيږي او په ډلو ډلو به وېشل کيږي، دا يوازې د الله کتاب دئ چې د انسانانو د وحدت او يووالي ضامن او باعث دئ.

دوی ته وايو: څوک چې رفع اليدين کوي او په دې کې له احنافو سره اختلاف لري نو هغه يو روايت مني او بل نه، هغه روايت مني چې د ده مذهب ئې صحيح ګڼي او هغه روايات نه مني چې تر دې روايت ډېر ډېر معتبر او ارجح دي او احناف پرې استناد کوي، څوک چې په قرائت خلف امام باور لري، په جهري لمونځونو کې د فاتحې لوستل هم پر امام فرض ګڼي او هم پر مقتدي او له دې پرته لمونځ ناقص ګڼي، په امام پسې په لوړ غږ آمين ويل داسې ګڼي لکه چې ويل ئې فرض وي او تر فرض هم اوښتی، نو هغه په داسې رواياتو استناد کوي چې نور ئې کمزوري او مرجوح بولي او ورته وايي: ستا دغه روايات له هغو معتبرو او صحيح رواياتو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعارض لري چې نه د فاتحې لوستل فرض بولي، نه په امام پسې قرائت کول او نه په لوړ غږ آمین ویل. ځوک چې وايي: رسول الله ﷺ په خپلو سترګو الله تعالی لیدلی هغه هم د بخاري په روایت استناد کوي!! او ځوک چې وايي هغه کس دروغجن دئ چې وايي: رسول الله ﷺ الله تعالی په خپلو سترګو لیدلی؛ هغه هم د بخاري په روایاتو استناد کوي، ځوک چې وايي د رسول الله ﷺ د معراج سفر یوه رؤیا وه او په مقابل کې ئې بل وايي چې دا د ویښې سفر وو، دواړه د بخاري پر روایاتو استناد کوي!! ځوک چې وايي: چا چې د شهادت کلمه وویله د دوزخ اور پرې حرام دئ، که ئې عمل هر ډول وي حتماً به جنت ته ورومي، د بخاري پر روایاتو استناد کوي، او ځوک چې وايي: هر کس به د خپلو عملونو سزا ګوري، یوازې د شهادت د کلمې په ویلو سره له عذاب او محاسبې څخه نه ژغورل کېږي، دا هم د بخاري پر روایاتو استناد کوي!! ځوک چې وايي مړي د ژوندیو خبري نه اوري او ځوک چې د ده په خلاف وايي: مړي حتی د ژوندیو د پښو ترپا هم اوري دواړه د بخاري پر روایاتو استناد کوي!! دا په داسې حال کې چې له دغو خبرو نه ځیني ئې له قرآن سره مطابقت لري او ځیني ئې سل په سلو کې د قرآن خلاف!! دې ته ورته په سلګونو نور موارد. نن که کوم بریلوي ته ووایې: د قرآن ګڼ شمېر آیتونه وايي چې نه رسول الله ﷺ په غیب پوهېدو، نه نور پیغمبران او نه په زمکې او آسمان کې له الله تعالی پرته بل ځوک، هغه به ګڼ شمېر روایات ستا مخې ته کېږدي او درته وبه وايي: دا روایات ښيي چې رسول الله ﷺ په غیب پوهېدو!! که نن کوم شیعه ته ووایې: په ټول قرآن کې یو آیت هم داسې نشته چې د علي رضي الله عنه یا امام زمان په اړه ئې صراحتاً یا اشارتاً څه ویلي وي نو هغه به درته ووايي: زموږ روایات وايي چې د قرآن درې سوه آیتونه د علي علیه السلام په اړه دي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی وايي: په احاديثو کي د تضاد او تعارض په هکله ادعاء يوه بې بنسټه او بې دليله ادعاء ده!! که په سرسري مطالعې سره چا ځو مثالونه پيدا کړي وي، نو داسي مثالونه خو د قرآن نه منونکو هم جمع کړي، نو تاسو هغه هم منئ چي (نعوذ بالله) په قرآن کريم کي تعارض شته؟! دوی ته وايو: دا خبره په بشپړه توګه غلطه ده چي څوک توانېدلی په قرآن کي تعارض په ګوته کړي!! نه تر نن پوري څوک توانېدلی چي په قرآن کي تعارض په ګوته کړي او نه به تر قيامته پوري څوک دا کار وکړی شي. الله تعالی په پرېکنده او قاطع توګه فرمايلي چي په قرآن کي تعارض او اختلاف نشته، لو کان من عند غير الله لوجدوا فيه اختلافاً کثيراً: که قرآن له الله تعالی پرته د بل چا له لوري وی نو په هغه کي به ئې ډېر اختلاف او تعارض موندلی وو. دوی ته وايو تاسو هم له هغو کسانو سره يو ځای شئ چي وايي: په قرآن کي تعارض شته؛ ټول په ګډه، په ټول قرآن کي، يو معمولي تعارض موږ ته راوښيئ!! آيا ډېره عجيبه نه ده چي څوک له متعارضو رواياتو نه د دفاع په موخه د قرآن په خلاف داسي تورونه لګوي؟!!

دا په داسي حال کي چي د رواياتو کتابونه داسي دي چي شارحين ئې د تعارضاتو په توجيه او تلفيق ستړي شوي. موږ خو دغو متعارضو رواياتو او هغو ستونزو ته په پام سره چي دغو متعارضو رواياتو په امت کي راولاړي کړې دي وايو: ای کاش په اسلامي امت کي داسي مدبر او د بصيرت خاوند زعيم راپيدا شوی وی چي د رواياتو په اړه ئې همغه کار کړی وی چي عثمان ﵁ د قرآن په اړه وکړ، کاش موږ د رواياتو داسي متفق عليه کتاب او مجموعه درلودی چي ټول امت پرې متفق وی او په هغه کي داسي روايت نه وی چي له قرآن سره تعارض لري او يا يو ئې له بل سره، که موږ د احاديثو او رواياتو يوه معتبره او ټول امت ته د منلو وړ مجموعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلودی او د احادیثو موجود کتابونه د قرآن په رڼا کي له تنقیح نه وروسته په یوې مجموعې کي راغونډ شوي وی نو له سترو سترو فتنو او اختلافاتو به ژغورل شوي وو. موږ همدا وړاندیز کوو چي د امت صالح، د مسلمانانو په درد دردمن او په قرآن او حدیث پوه او مجاهد علماء دي په یوې معتبري مجمع کي راغونډ شي، د روایاتو کتابونه دي د قرآن په رڼا کي وچڼي او د صحیح روایاتو یوه معتبره مجموعه دي امت ته وړاندي کړي. خو یقیناً چي دا کار تر هغه ممکن نه دئ چي د نړۍ په کوم گوټ کي یو واقعي اسلامي حکومت جوړ شي. که داسي حکومت جوړ شو نو زما لومړی وړاندیز به هغه ته دا وي چي دغه ستر او تاریخي کار ته ملا وتړي. زه د عثمان رضي الله عنه د آخرت لپاره یوازي دا کار کافي گڼم چي د قرآن بېلي بېلي نسخې ئې توحید کړې او د صحابه وو په اجماع سره ئې د مصحف داسي نسخه امت ته په میراث پرېښوده چي نن او د قرآن له نزول نه څورلس پېړۍ وروسته هم د نړۍ ټول مسلمانان پرې متفق دي. موږ د روایاتو دغسي یوې نسخې ته ضرورت لرو.

دوی وايي: حدیث هم د قرآن په څېر د الله تعالی له لوري دي!! که له دې خبري نه د دوی غرض دا وي چي الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پر قرآن سربېره احادیث هم د قرآن په څېر د وحي له لاري لېږلي!! نو دوی ته وایو: که داسي وی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به هیڅکله د احادیثو د لیکلو ممانعت نه وو کړی، دا امر به ئې نه کولو: چا چي له ما څخه له قرآن نه پرته بل څه لیکلي وي هغه دي له منځه یوسي!! دا ځکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې مأمور وو چي هره الهي وحي او پیغام به خلکو ته رسوي، د ده مأمویت او رسالت همدا وو، الله تعالی د همدې لپاره غوره کړی وو، څنگه به هغه د وحي له لیکلو او د هغې د سوزولو او له منځه وړلو امر کولو؟!! پوښتنه کوم: د مکي دور د روایاتو شمېر څومره دئ؟!! آیا د دیارلسو کلونو ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

احاديث، د حديث په ټولو كتابونو كې، دومره دي چي په هر كال كې لسو شلو ته ورسېږي؟ ولي د حديث په كتابونو كي د مكي دور ډېر لږ احاديث او هغه هم اكثراً مطلق غريب احاديث تر ستر‌گو كيږي؟!! ولي صحابه وو په مدينه كي هم د حديث له ليكلو نه په داسي حال كي ډډه كوله چي قرآن به ئې ليكلو؟!! مهرباني وكړه ما ته ووايه: له صحابه وو نه په ليكلې بڼه كي ترلاسه شوي روايات څومره دي؟!! دا خو آسانه خبره ده چي څوك ووايي: فلاني، فلاني او فلاني صحابي رسالې درلودې!! او په دې لړ كي د علي ﵁ نوم هم واخلي!! خو هغه په دې نه پوهېږي چي د علي ﵁ رساله يوه وړه څرمن وه چي د خپلي توري په لاستي كي به ئې ساتله او په هغې كي د ليكل شوي حديث په اړه هم متعارض روايات زموږ مخي ته راځي!! راشه د قرآن هغي وينا ته غوږ شو چي د وحي په اړه د رسول الله ﷺ چلن ته اشاره كوي او فرمايي:

لا تحرِّك بِهِ لسانَك لِتَعْجَلَ بِهِ * إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَ قُرْءَانَهُ * فَإِذَا قَرَأْنَهُ فَاتَّبِعْ قُرْءَانَهُ * ثمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بيَانَهُ* القيامة: ۱۶-۱۹

ژبه دي مه پرې خوځوه، د دې لپاره چي تلوار پرې كوې، راغونډول او ويل ئې زموږ په ذمه دي. نو چي كله ئې لولو د لوستلو متابعت ئې كوه. بيا ئې بيانول هم زموږ په ذمه دي.

په دې آيتونو د ښه پوهېدو لپاره بايد لاندي خبري په پام كي ولرو: تر دې مخكي آيتونو كي د هغه چا چلن ته گوته نيول شوې چي نه يوازي د قيامت په اړه د قرآن وينا او دلايل نه مني؛ بلكي عملاً او په دې خاطر ئې تكذيبوي چي له گناهونو لاس اخيستو ته چمتو نه دئ، په قيامت باور له ده دا غوښتنه كوي چي له گناهونو ډډه وكړي خو دى د گناه په ارتباط د خپل وجدان او ملامتونكي نفس قضاوت هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مني، خو د قرآن په اړه د دې مفسد انسان د دغه ظالمانه چلن په مقابل کې د پیغمبر علیه السلام معاملې ته پام وکړئ او وګورئ چې په دې دواړو کې څومره ژور توپیر دئ، پیغمبر علیه السلام د قرآن د هرې نوې برخې په اورېدو سره داسې په وجد راځي او هڅه کوي چې په تلوار سره ئې زده او حفظ کړي، څه ترې پاته نشي، هیڅ لفظ ئې هېر نه کړي، او دا احساس ورسره راپیدا کیږي چې که د ده مخاطبینو تر اوسه د ده هیڅ مخکنۍ خبره نه ده منلې خو اوس او د دغو آیتونو په اورېدو سره به خامخا ایمان راوړي، د خپلو ټولو پوښتنو ځواب به په کې مومي، باید ژر ئې ترلاسه کړي او ژر ئې د خپلو مخاطبینو مخې ته کیږدي. عجله او تلوار ئې دومره چې الله تعالی ورته د تلوار نه کولو توصیه کوي او فرمايي: د قرآن د نویو آیتونو د ترلاسه کولو په اړه ډېره عجله مه کوه، کله چې ئې د وحې فرشته پر تا لولي ته ئې په تلوار له ځان سره مه تکراروه، پرېږده چې فرشته خپل پیغام بشپړ کړي، د وحې له القاء فارغ شي، په تأني او دقت سره ئې واوره، د هېرېدو تشویش ئې مه کوه، مونږ د دې ذمه وار یو چې هغه ستا په حافظې کې خوندي کړو، ستا په ژبه ئې جاري کړو او شرح او تفصیل ئې بیان کړو.

له دې آیتونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې رسول الله ﷺ ته دوه شیان ورکړی شوي: د الله تعالی له لوري وحې شوی پیغام او د دې الهي پیغام د قرائت، بیان او تشریح توفیق. یعني رسول الله ﷺ ته قرآن ورکړی شوی او د قرآن فهم، قرآن ورکړی شوی او د قرآن د حفظ، لوستلو، بیانولو او تشریح کولو توفیق. قرآن د الله تعالی له لوري پر پیغمبر علیه السلام نازل شوی او حدیث هغه فهم او پوهه ده چې الله تعالی د قرآن په اړه د رسول الله ﷺ په برخه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عاشوراء

عاشوراء هم یوه له هغو قضایاوو څخه ده چي په اړه ئې په امت کي د شدید اختلاف شاهد یو، دا اختلافات یا سیاسي جرړي لري او یا له متضادو روایاتو راولاړ شوي. تر دې د مخه چي وګورو د عاشوراء اړوند روایات څه وایي، کوم یو ئې صحیح او د اعتبار وړ دئ، کوم ئې جعلي، موضوعي، ضعیف او بې اعتباره دئ، د قرآن او سنت په رڼا کي د عاشوراء په اړه څه ویلي شو او په دې ورځ څه کول جائز او څه ناجائز ګڼلی شو، باید هغو کرکجنو او د اسلام د بنسټیزو اصولو خلاف او د اسلام د روح او مزاج ضد اعمالو ته اشاره وکړو چي ځیني خلک ئې د مذهب تر نامه لاندي په دې ورځ ترسره کوي، او هغه د ثواب کار او جنت ته رسېدو وسیله بولي، داسي اعمال چي نه په قرآن کي ورته جواز موندی شو، نه په سنت کي او نه د صحابه وو په منهج کي، نه له عقل سره اړخ لګوي او نه د یوه سلیم الفطرت انسان له مذهبي احساس سره.

ځیني په دې ورځ د ماتم غونډي جوړوي، ویر کوي، کوڅو او بازارونو ته راوځي، د خلکو په وړاندي ځان په زنځیرونو وهي، توري جامې اغوندي، خپلي سیني په څپېړو وهي، ځیني ئې له نامه پورته ځانونه لوڅ کړي او خپلي شاګاني په زنځیرونو وهي، ځیني د سرود په بڼي کي یا حسین یا حسین او یا علي مدد وایي او څنې اچوي، حرکات ئې منظم او د یوه مذهبي رقص په څېر او له ډول او سرود سره توأم، د جلوس په سر کي د ذوالجناح په نامه زین شوی او سینګار شوی آس روان،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیرغونه ئې تور او د لرګي پر سر ئې د رغوي او پنځو ګوتو نشان (چي دوی ئې د پنج تن پاک نښه ګڼي)، رنګ رنګ ټوټې او دسمالونه پرې راځوړند، دا کار په داسي حال کي کوي چي عملاً د طاغوت تر سلطې لاندي ژوند کوي، د ظالمانو ملګرتیا کوي، مرسته ترې غواړي خو په خوله ئې د یا علي مدد دعاء وي، ... دې ته وایي له امام حسین ﷺ سره محبت او د هغه د شهادت په نامه ماتم!! دا حرکات نه یوازي کرکجن، د دین او عقل خلاف دي او هیڅ الهي دین او هیڅ صحیح مذهب ئې جائز نه ګڼي، بلکي داسي خرافات دي چي هر عقلمن انسان ترې کرکه لري او الهي ادیان د دې لپاره راغلي چي د دغو شرک لړلو دودونو او خرافاتو ټغر ټول کړي. دوی دا مراسم په داسي حال کي لمانځي، پر یزید او یزیدیانو لعنت وایي چي تر یزید د لازیاتو ظالمانو اطاعت او ملګرتیا کوي!! امام حسین د یزید له بیعته ډډه وکړه او په دې لار کي ئې شهادت قبول کړ خو دوی په افغانستان او عراق کي د امریکایانو تر سلطې لاندي ژوند کوي، نه یوازي مخالفت ئې نه کوي او ساکت، راضي او تسلیم دي بلکي د امریکایانو تر قومندې لاندي د سنیانو په ضد جنګېږي، په عراق کي د دوی ستر مذهبي مشر د امریکایانو د یرغل ملګرتیا وکړه، د نجف کلیاني ئې امریکایانو ته وسپارلې، خپلو پلویانو ته ئې له امریکایانو سره د ملګرتیا او د دوی تر قومندې لاندي جنګېدا فتوی ورکړه، د محرم د لسمي مراسم ئې په داسي حال کي لمانځل چي امنیت ئې د انګرېزانو او امریکایانو له خوا تأمین شوی وو. په پاکستان کي د پرویز مشرف خوا ته ودرېدل، امریکایانو له دوی داسي ټولګي جوړ کړل چي د سنیانو په ضد ئې وجنګوي. په افغانستان، عراق او پاکستان کي په جوماتونو، مدرسو، مکتبونو، ښارونو، زیارتونو او د خلکو د تجمع په ځایونو کي چاودني د دوی په لاس او د امریکایانو په وینا ترسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی دا جلوسونه کټ مټ همغسي دي لکه چي یهودانو به کول او په محرف بایبل کي ئې یادونه شوي، همغسي په کوڅو کي مذهبي رقص، سرود، نڅا او څنې غورځول او ځانونه زخمي کول، یقیناً چي د دوی اکثر مذهبي عقاید او مراسم له یهودانو کاپي شوي، نه ئې په قرآن کي شاهد مومو او نه د رسول الله ﷺ په سنت کي او نه د صحابه وو په منهج کي، له دوی پوښتنه کوو: آیا رسول الله ﷺ د خپل ګران تره حمزه رضي الله عنه د شهادت له کبله داسي ماتم کړی چي تاسو ئې کوئ؟ مګر د حمزه رضي الله عنه قرابت رسول الله ﷺ ته تر علي ورنږدې نه وو؟ مګر د هغه مقام تر علي رضي الله عنه او د ده تر اولاد لوړ نه وو؟ مګر له اسلام څخه د دفاع په چارو کي د هغه ونډه تر دوی زیاته نه وه؟ آیا هغه د بدر او احد د سترو سترو جنګونو دوهم قائد نه وو؟ آیا د هغه شهادت د دوی تر شهادت زیات دردوونکی نه وو؟ آیا هغه د دښمنانو په لاس مثله نه شو؟ ولي رسول الله ﷺ د هغه لپاره ماتم ونه کړ؟ ولي تاسو د هغه لپاره ماتم نه کوئ؟ آیا صحابه وو د عمر رضي الله عنه، عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه د شهادتونو له کبله ماتم کړی؟ آیا عبد الله بن عباس رضي الله عنه د علي رضي الله عنه د تره زوی د ده او حسین رضي الله عنه او د ده د کورنۍ د غړو د شهادت له کبله ماتم کړی؟ موږ ته د صحابه وو، تابعینو او تبع تابعینو او ټول سلف په تاریخ کي د داسي ماتم یوه بېلګه راوښیئ؟ که ماتم جائز وی نو د رسول الله ﷺ د وفات ورځ د غم او ماتم هغه ستره ورځ ده چي په ټول انساني تاریخ کي ئې نظیر نشته، ولي په دې ورځ ماتم نه کوئ؟! ولي صحابه وو د علي، حسن او حسین رضي الله عنهم په شمول ماتم ونه کړ؟!! یقیناً چي تاسو د دې وینا مصداق یئ: و قالت الیهود عزیر بن الله و قالت النصاری المسیح بن الله و قالت الشیعه علی بن الله: یهودانو وویل عزیر د خدای زوی دئ، نصاراوو وویل مسیح د خدای زوی دئ، شیعه وو وویل علي د خدای زوی دئ!! او د ده د اولاد دولس تنه پر زمکه د خدای ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناستي، همغسي لکه چي مسيحيانو عيسی عليه السلام ته دولس حواريون وټاکل او هغوی ئې د خدای او د خدای د زوی ځای ناستي وګڼل!! دوی موهومي امام زمان چي وايي د يوې چيني خوا ته په پنځه کلنۍ کي ورک شوی په آسمانونو کي لټوي او د ژر بېرته راتلو لپاره ئې وايي: عجل الله فرجه الشريف: خدای دي د ده شرافتمن خلاصون رانږدې کړي!!! يعني په کوهي کي لوېدلي، خدای دي هغه راوباسي چي راشي او د دوی دښمنان ورته ذبح کړي او د شيعه وو پاچايي رامنځته کړي او دا همغه څه دي چي يهودانو د عزير عليه السلام په اړه ويل چي د يوه نهر خوا ته له خپل ملګري بېل شو او د آسمان په لوري وخوت!! يهودان هم د يوه داسي مسيح راتلو ته منتظر دي چي له آسمانه به راکوزېږي او د يهودانو ټول دښمنان به له تيغه تېروي او د زمکي پر سر به د دوی ستره پاچايي جوړوي!!!

اکثر جاهلي مذاهب په غائب ناجي باور لري او راتلو ته ئې انتظار کوي، په دې اړه بودايان، د متراس پلويان، مسيحيان، يهودان او شيعه سره ورته دي، توپير ئې په دې کي دئ چي د ځينو منتَظَر ناجي اول دنيا ته راغلی، ستر ستر کارونه ئې کړي، مړ شوی، بېرته ژوندی شوی، آسمان ته ختلی، بيا به راځي، د يهودانو منتَظَر ناجي لا نه دئ پيدا شوی، په مناسب وخت کي به پيدا شي او يهودانو ته به ستر ستر کارونه وکړي، د شيعه ګانو منتَظَر ناجي پنځه کلن وو چي غائب شو، تر اوسه ژوندی دئ، خدای د ټول عالم چاري ورسپارلې دي، د شيعه وو دعاګاني د ده له لاري او د ده په شفاعت او وساطت قبلوي، په مناسب وخت کي به راشي او د شيعه وو ټول دښمنان به ووژني!! دا داسي ناجي ګڼي چي پلار، نيکه، جد او ټول سلف ئې وفات شوي خو دئ څوارلس پېړۍ تېرېږي چي ژوندی دئ او د قيامت تر ورځي به ژوندی وي!! اوس نو تاسو قضاوت وکړئ چي په دغو ډلو کي د کومي ډلي عقيده تر ټولو زياته د

(c) ketabton.com: The Digital Library
عقل خلاف او په خرافاتو ولاړه ده؟!! آیا د دې احمقانو پر عقل ژړا نه ده په کار؟!!

د مړو لپاره داسي ماتمونه نه یوازي جائز نه دي بلکي د اسلام له سترو اساساتو سره تصادم کوي، له دې سره چي د مرگ او ژوند پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، دا چي د مرگ نېټه له وړاندي ټاکل شوې، دا چي مرگ د نوي ژوند پیل دئ، دا چي شهید ژوندی دئ، دا چي په مرگ سره موږ د خپل رب په لوري درومو، دا چي د الله په لار کي شهادت ستره بریا او فوز عظیم دئ، آیا دا عقیده چا ته اجازه ورکوي چي په شهیدانو ماتم وکړي؟!! قرآن مؤمنان داسي معرفي کوي چي کله کوم مصیبت ورورسېږي وایي: إنا لله و إنا إلیه راجعون: موږ د الله یو او د هغه لوري ته ورگرځېدونکي، دا خو د رضایت او قناعت شعار دئ نه د شکایت، ویر او ماتم چیغه!! قرآن موږ ته د مصیبتونو په وړاندي د صبر سپارښتنه کوي او ماتم د صبر خلاف عمل دئ، کوم کار چي پیغمبر علیه السلام نه دئ کړی، صحابه وو نه دئ کړی، ائمه وو نه دئ کړی ته څنگه د دې کرکجن بدعت مرتکب کېږي او داسي څه ته مذهبي رنگ ورکوې چي د دین او مذهب له اساساتو سره تصادم کوي؟!!

ځیني د تاریخ ستري پېښي دې ورځي ته منسوبوي او وایي: آدم علیه السلام په دغه ورځ پیدا شوی، له جنت څخه له راکوزېدا وروسته دی او مېرمن ئې په دغه ورځ سره یو ځای شوي، نوح علیه السلام په دغه ورځ ژغورل شوی، فرعون په دغه ورځ غرق شوی او موسی علیه السلام له بحر روغ تېر شوی، یونس علیه السلام په دغه ورځ د کب له گېډي سالم وتلی، ابراهیم علیه السلام په دغه ورځ له اوره روغ وتلی!!! او دا ټول د دې لپاره یادوي چي وښیي د کربلا او د حسین رضي الله عنه د شهادت پېښه په دغي ستري تاریخي ورځي رامنځته شوې!! دې ته هم پام نه کوي چي د هغو سترو پېښو د کربلا له پېښي سره هیڅ مناسبت او مماثلت نشته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغوی کي الله تعالی ظالمان او د دين دښمنان هلاک کړي او پيغمبرانو عليهم السلام ته ئې بريا ورپه برخه کړې او له کړاوونو ئې ژغورلي، حال دا چي په کربلا کي د دغو ټولو تاريخي پېښو خلاف د حسين رضي الله عنه په شمول د ده د کورنۍ نږدې اويا غړي په شهادت رسېدلي!! دې ته نه ګوري چي د عاشوراء د ورځي د سترو سترو تاريخي پېښو اړوند روايات ټول اسرائيلي روايات دي چي هيڅ وزن او ارزښت نه لري.

ځيني دې ورځي ته د يوم من ايام الله نوم ورکوي!! چي دا نومونه په بشپړه توګه غلطه ده، قرآن هغو سترو سترو ورځو ته د ايام الله نوم ورکړی چي د شر، فساد، کفر او شرک ستر ستر ځواکونه په سخت الهي عذاب اخته شوي او حقپالو ته ستره او تاريخي بريا ورپه برخه شوې.

ځيني د محرم الحرام ټوله مياشت دومره سپېڅلې مياشت بولي چي له روژې پرته تر ټولو مياشتو ئې افضل ګڼي، دا په داسي حال کي چي نه په قرآن کي د دې مياشتي د ځانګړي فضيلت په اړه څه ويل شوي او نه په کوم صحيح حديث کي، د اسلام له نظره ټولي ورځي او مياشتي يو برابر دي، د اوقاتو فضيلت ذاتي نه دئ، د هغه ځانګړي عمل له مخي يو وخت پر بل فضيلت مومي چي په هغه کي ترسره شوی. د روژې مياشت د دې لپاره افضل ګڼل شوې چي په دې کي قرآن نازل شوی، د قدر شپه له دې امله په دې نامه ياده شوې او تر زرو مياشتو غوره ګڼل شوې چي په همدې شپه پر رسول الله صلی الله عليه وسلم د قرآن نزول پيل شوی، څلور حرام مياشتي، رجب، ذي القعده، ذي الحجه، محرم او رجب له دې امله د اشهرالحرام په نامه يادي شوې چي په دې که به د حج او عمرې مراسم ترسره کېدل.

د عاشوراء د ورځي دا ماتمونه سياسي خلفيه لري، ايراني واکمنو او مذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخوندانو ئې د عاشوراء له ورځې او پېښې د عربو او ټول اسلامي امت په ضد د يوې حربې او وسيلې په توګه کار اخيستی، دوی يزيد سنيانو ته منسوبوي او حسين رضي الله عنه د شيعه وو امام ګڼي، سنيان د جابر او قاتل ملګري بولي او شيعه د اهل بيت پلويان او محبان، دوی علي رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم يوازنی حقيقي ځای ناستی ګڼي او د علي رضي الله عنه هغه اولاد چي له فاطمې رضي الله عنها پيدا شوي د امامت منصوصي وارثان بولي، ټولو هغو صحابه وو ته د منافق خطاب کوي چي له علي رضي الله عنه پرته ئې له بل چا سره بيعت کړی، ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم د امارت غاصبان بولي، او دا ټولي خبري هم د قرآن خلاف خبري دي او هم د عقل او منطق خلاف!! دا خبري يوازي هغه تورزړی او بدضميره انسان کولی شي چي له اسلام او مسلمانانو سره ئې کلکه کينه او دښمني په زړه کي وي، ځوک چي پر قرآن باور لري هغه پوهېږي چي په اسلام کي نه د موروثي امارت تصور شته او نه د منصوصي امامت، قرآن امارت او امامت د خلکو امانت ګڼي او د امير او امام انتخاب د مسلمانانو وجيبه او حق بولي، مسلمانانو ته امر کوي چي دا امانت هغه چا ته وسپارئ چي اهل وي!! په ټول قرآن کي د علي رضي الله عنه په اړه نه صراحتاً څه مومو او نه اشارتاً، که امامت موروثي وی نو په قرآن کي به د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځای ناستي نوم په واضح توګه اخيستل شوی وو، همغسي لکه د هارون عليه السلام نوم چي اخيستل شوی، که داسي وی نو الله تعالی به تر قيامته پوري د ټولو هغو امراوو نومونه په قرآن کي ياد کړي وو چي الله تعالی ورته ټاکلي!! له دې پرته خو منصوصي امارت هيڅ معنی نه لري!! د صحابه وو له لوري يو په بل پسي د څلورو خلفاوو انتخاب ښيي چي اسلام په موروثي امارتونو باور نه لري، د موروثي امارات تصور د دين، عقل او عدل خلاف تصور دئ. دا هغه تصور دئ چي پاچايان ئې خوښوي، ځوک چي له دې پرته بله خبره کوي يا جاهل دئ يا په غرض

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مرض مبتلا، ما ته ووایئ: د رسول الله ﷺ په لاس روزل شوي صحابه په دین ښه پوهېدل که دا ایراني آخوندان چي قرآن د کتاب له مخي هم سم نشي لوستلی؟!! آیا تر دې د لوی ظلم تصور کېدی شي چي ځوک صحابه وو ته بد و رد وایي، هغه صحابه چي په سلو کي تر نوي زیات ئې د الله تعالی په لار کي شهیدان شوي او ډېری ئې له مدینې بهر او د جهاد په سنگرونو کي!! حقیقت دا دئ چي د روافضو د مذهب بنسټ د اسلام د کینه کښو دښمنانو په لاس اېښودل شوی. د فارس هغو سیاسي او مذهبي واکمنو کورنیو چي د ساسانیانو د اقتدار په دوران کي ئې پر ایران او ایرانیانو حکومت کولو او اقتدار ئې د عربو مسلمانو په لاس نسکور شو، د غچ اخیستو لپاره د علي ﷺ هغو لمسیانو ته پناه ورکړه چي د امویانو د اقتدار په دوران کي هجرت ته مجبور شوي وو، هغوی دغه سیاسي اقدام ته مذهبي رنگ ورکړ، همدلته د یوه نوي مذهب بنسټ کېښودی شو چي له علي ﷺ او د هغه له اولاد سره د محبت اظهار او سنیانو سره دښمني ئې ستره او اساسي ښکارندویه وه، که څه هم د دې مذهب لړی له هغه مهاله پیل شوې وه چي یهودي عبدالله بن سبا د عثمان ﷺ د شهادت توطئه جوړه او پلې کړه، چي په همدې سره په اسلامي امت کي د خونړیو فتنو هغه دردناکه سلسله پیل شوه چي د اسلامي امت په ټوټې ټوټې کېدو او د اسلامي خلافت په زوال منتج شوه. دا مفتن ابن سبا او د ده ملگري ول چي د عثمان ﷺ له شهادت وروسته ئې د علي ﷺ د پلویانو په لیکو کي ځان ته مورچلي جوړي کړې، علي ﷺ ئې دې ته اړ کړ چي دارالخلافه له مدینې کوفې ته انتقال کړي، دا دوی ول چي د کورنیو جگړو اور ئې بل کړ، د عثمان ﷺ د قاتلانو د محاکمې مخه ئې ونیوله، د علي ﷺ او هغو صحابه وو تر منځ ئې د هري موافقې او روغې جوړي مخنیوي وکړ چي د عثمان ﷺ د قاتلانو د محاکمې غوښتنه ئې کوله. همدا دوی ول

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي لومړی د علي رضي الله عنه او بیا د امام حسین رضي الله عنه د شهادت باعث شول. له مدینې څخه کوفې ته د دارالخلافه انتقال هغه ستره المیه او فاجعه وه چي جبران ئې ممکن نه وو، په امت کي د ډېرو سترو فتنو پیلامه شوه، د ابن سبا ملګرو د همدې لپاره ټینګار کولو چي علي رضي الله عنه دې کار ته اړ کړي، مدینه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس جوړه شوې وه، له کفر، شرک، نفاق او منافقینو تصفیه شوې وه، ولس ئې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس روزل شوي وو، منافقینو هلته د پښو ځای نه موندو، دیني، فکري، اخلاقي او معنوي فضاء ئې داسي جوړه شوې وه چي هیڅوک نشو توانېدی په ښکاره توګه د اسلام او ایمان منافي عمل جسارت وکړي، که چا به غلط ګام اخیستو نو له هر لوري به له مخالفت سره مخامخېدو، په ټول یقین سره ویلی شو چي که دارالخلافه کوفې ته نه وی انتقال شوې نو شام به هم په دارالخلافه نه بدلېدو، نو یزید به هم امارت ته نه وو رسېدلی، د مدینې فضاء چا ته اجازه نه ورکوله چي قصرونه جوړ کړي او امارت میراثي کړي. د مدینې اهمیت دومره وو چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې له فتحې وروسته نه یوازي مدینې ته راستون شو او دا ډاډمن سنګر ئې پرې نښود، بلکي مهاجرینو ته ئې اجازه ورنه کړه چي په مکې کي په خپل مخکني کور او کلي کي پاته شي!!

د علي رضي الله عنه له شهادت نږدې څلور سوه کاله وروسته یو څوک راولاړ شو، کتاب ئې ولیکو، ده ته ئې منسوب کړ او ډېر داسي څه ئې په کي ولیکل چي د ده له شأن او مقامه ډېر ډېر لري او د قرآن او عقل خلاف، خو همدا کتاب د یوې مذهبي فرقې د رامنځ ته کېدو باعث شو، داسي کتاب هم ولیکل شو چي په هغه کي له خره او چنګابښې هم احادیث روایت شوي!! ښایي بې مناسبته به نه وي که دې مطلب ته اشاره وکړم چي یوه ورځ مي د ایران په ټلویزیون کي یو آخوند تر سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چي ویل ئې: کله چي د آدم علیه السلام په کالبوت کي روح پو شوه او راژوندی شو نو لومړی خبره ئې دا وه: یا علي! کله چي نوح علیه السلام په کښتۍ کي سورېدو وئې ویل: یا علي! کله چي ابراهیم علیه السلام اور ته لوېدو وئې ویل یا علي!! او... او... او کله چي پیغمبر علیه السلام د معراج په شپه له اوومه آسمانه تېر او عرش ته نږدې ورسېد یو غږ ئې واورېدو او وئې ویل: یا الله دا ته یې که دا علي؟ له هغې خوا ورته وویل شو: دا زه یم خو ما د زمکي پر سر تر علي غوره انسان پیدا نه کړ چي د هغه په غږ له تا سره خبري وکړم!!!! دا نن چي تاسو ایران ته ولاړ شئ نو وبه گورئ چي څوک کومي خوني ته ننوځي نو وایي: یا علي! چي له ځایه پاڅېږي وایي: یا علي!! له علي رضي الله عنه مرسته غواړي، له هغه چا چي جومات ته په داسي حال کي روان وو چي یو قسي القلب دښمن ورته په کمین کي ناست وو، دی ترې خبر نه وو، تر برید لاندي راغی، په زهرجني توري زخمي شو او په شهادت ورسېدو، لمسیان ئې په کربلا کي د یزید د بې رحمه لښکر په لاس شهیدان شول، نه هغوی ځان وژغورلی شو او نه علي رضي الله عنه د دوی مرسته وکړی شوه!! څوک چي په خپل ژوند کي د ځان مرسته ونه کړی شي له مرگ وروسته به څنگه د بل مرسته وکړی شي!! په خدای قسم چي که د علي رضي الله عنه په وړاندي چا دا خبري کړې وی چي شیعه گان ئې کوي یا ئې ده ته منسوبوي؛ نو په خپلي توري به ئې د هغه سر ترې غوڅاوو!! که داسي کتاب ئې لیدلی وی نو تنور ته به ئې غورځاوو، ده ته منسوب دروغجني او جعلي خبري خو پرېږده د خپلو اصلي خبرو په اړه به ئې ویل: دا زه څوک یم چي د قرآن په شته والي کي او د پیغمبر علیه السلام د احادیثو په موجودیت کي زما اقوال راغونډوئ، په هغه استدلال کوئ او هغه د خپل مذهب بنسټ گرځوئ، ما له قرآن پرته او د پیغمبر علیه السلام له قول پرته بله خبره نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې!! ما له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره صادقانه بیعت کړی، تل مي په دوی پسې لمونځ کاوو او په صداقت سره مي د دوی اطاعت کړی!! ما هیڅکله نه دي ویلي چي د مخکنیو خلفاوو په ټاکني خفه وم، ما نه دي ویلي چي (تقیه) مي کوله، په ستوني کي مي هډوکی نښتی وو، څه مي نه شو ویلی او خپلي خبري مي په زړه کي ساتلې، ما منافقت نه دئ کړی، ما ځان ته امارت نه دئ غوښتی، زه د عثمان رضي الله عنه په شهادت د خپل زوی تر شهادت زیات خفه شوی یم، زه د مسلمانانو وحدت غواړم، څوک چي زما په نامه د مسلمانانو تر منځ د اختلاف او تفرقې باعث کېږي، هم زما دښمن دئ او هم د اسلام دښمن، زه د الله تعالی په وړاندي له هغه چا خپل برائت اعلانوم چي زما او زما د اولاد په قبرونو قصرونه جوړوي، له هغوی مرستي غواړي، د دعاګانو د اجابت وسیله ئې ګڼي، له دې قبرونو ئې د جاهلو خلکو د غولولو دام جوړ کړی، امامت زما د اولاد منصوصي حق ګڼي او په دې سره په اسلامي امت کي اختلاف راولاړوي!! خو ما لیدل چي د دغه جاهل آخوند همدغو مسخره خبرو ته ځینو جاهلو او غولېدلو اوښکي تویولې!!

آیا دې ته مو توجه کړې چي څنګه نن د هري کلیسا په هر دېوال د عیسی علیه السلام هغه مجسمه ترسترګو کېږي چي په صلیب ئې ځوړند ښیي، په لاسونو او پښو ئې مېخونه ټک وهل شوي، وجود ئې تغمې تغمې، زخمي زخمي او په وینو سور؟ له مجاور ئې پوښتنه وکړه چي دا څوک دئ؟ ولي په داسي دردوونکي حالت کي ښودل شوی؟ ځواب ئې دا دئ: دا مسیح، د خدای زوی او په خپله خدای دئ، زمکي ته راغلی وو، د خپلو بندګانو د ژغورني لپاره!! پوښتنه وکړه: مګر څوک کولی شي چي خدای په دار کړي، په لاسونو ئې مېخونه ټک وهي، په درو ئې ووهي؟ ځواب ئې دا دئ: هیڅکله نه، ده په خپله ځان قرباني ته وړاندي کړ، چي زموږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناهونو فدیه ورکړي او د قیامت په ورځ د ده ټول منونکي له مؤاخذې او مجازات پرته مخامخ جنت ته ولاړ شي!!

او دا همغه څه دي چې تاسو به ئې د هر شیعه په کور کې، د دوی په تکیه خانو کې او د دوی په مذهبي غونډو او جلسو کې وګورئ او د دوی له جاهلو آخوندانو به ئې واورئ، توپیر ئې فقط دا دئ چې د مسیح پر ځای به د امام حسین نوم واورئ!! په هر کور کې به د ذوالجناح (د حسین ﵁ آس) عکس په وینو سور ځوړندوي، په خپلو جلوسونو کې همداسي آس د ټولو وړاندي روانوي، یقیناً چې دا جاهلانه دود ئې له مشرکو مسیحیانو تقلید کړی.

حسین رضي الله عنه د ظالم او مفسد یزید په ضد غږ اوچت کړ، د کوفې خلکو د ملګرتیا ډاډ ورکړ، خو دی ئې د کربلا په میدان کې یوازي پرېښود، زړه ئې له ده سره خو توري ئې له یزید سره شوې، د خپلي کورنۍ له اویاوو کسانو سره په شهادت ورسېدل، خو کله چې د یزید واکمني پای ته ورسېده، اقتدار د ده د کورنۍ د مخالفینو په لاس کې پرېوت، نو حسین رضي الله عنه نه یوازي په خپله له شهادت وروسته امام حسین شو، بلکه امارت د ده د اولادې الهي مسلم حق، نه یوازي د ده په قبر زیارت جوړ شو، بلکه د ده د پلار علي رضي الله عنه لپاره هم په دغه وخت کې قبر په ګوته شو او د وخت حاکم ورباندي زیارت جوړ کړ، قبر ئې هم د وخت حاکم د یوه (خوب او رؤیا) په ترڅ کې وموندو، تر دې وخته ئې قبر هیچا ته نه وو معلوم، له دې نېټې وروسته نه یوازي په نجف کې بلکه په ډېرو نورو ځایونو کې هم د ده په نامه زیارتونه جوړ شول، په مزار شریف او د کابل په کارته سخي کې هم!! چا چې یزید ته د امام حسین رضي الله عنه د وژلو فتوی ورکوله د یزید له تلو وروسته د دې زیارتونو مجاور شو، د چا چې توري له یزید سره وې اوس د کربلا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيښې په ياد خپلي سينې په زنځيرونو وهي، توري جامې اغوندي او وير کوي!! همدا کسان د ده اولاد يوازني حقيقي اامامان ګڼي او يو پنځه کلن لمسی ئې داسي امام زمان ګڼي چي خدای ته په خپلو دعاګانو کي وايي: خدايه! امام زمان له موږ راضي کړه، خدايه! د قيامت په ورځ مو د امام زمان په وړاندي شرمنده نه کړې، خدايه! زموږ دعاګاني امام زمان ته ورسوه!! اوس نو خدای د امام زمان قاصد شو، خدای د امام زمان په دربار کي يو شفيع شو، له هغه دا غواړي چي د امام زمان په وړاندي د دوی شفاعت وکړي!! دا امام زمان پنځه کلن ماشوم وو چي له خپله کوره غائب شو، نه ئې تر دې وخته د شهادت کلمه زده وه، نه ئې يو رکعت لمونځ کړی، نه ئې روژه نيولې، نه په قرآن پوهېدو، ... خو سره له دې د خلکو لارښود او امام شو!! چا امام کړ؟ خدای، چا درته وويل چي خدای د خلکو لپاره يو پنځه کلن ماشوم امام ټاکلی؟ فوراً درته وايي: داسي خبري مه کوه چي کافر کېږې!! امام او لارښود خو هغه چا ته وايي چي د خلکو مخي ته روان، په لمانځه کي ورته مخکي او په ژوند کي ئې لارښود وي، غائب کس ته د امام لقب کارول يوه مغالطه ده، الله تعالی به څنګه د خلکو لپاره غائب امام ټاکي؟!!

چا چي له قصرونو او د قصرونو له واکمنانو کرکه لرله، هر قصر ئې د ظلم نښه ګڼله او ويل ئې "ما هيڅ قصر ونه ليد مګر د هغه خوا کي مي د چا تلف شوی حق وليد"!! په همدې جرم له مخالفتونو سره مخامخ کېدو او چا چي هر جګ قبر ړنګاوو، اوس د دوی له قبرونو داسي قصرونه جوړ شوي چي نه فرعون په خپل ژوند کي درلود، نه نمرود او نه يزيد. عجيبه ده، عجيبه؛ د ژوندي لپاره قصر حرام دئ او د مړي لپاره جائز او د ثواب کار!! ستاسو دا د قبرونو پر سر ستر ستر قصرونه په جګ غږ شهادت ورکوي چي ستاسو مذهب په ظلم، جهل او خرافاتو ولاړ دئ!! آيا دا ستر

ظلم نه دئ چي له بې وزلو، غم ځپلو، حاجتمنو خو ساده لوح او دوکه شوو دیندارانو شکرانې او نذرانې تر لاسه کوئ، لویه برخه ئې ستاسو د آخوندانو په جیبونو کي لوېږي، بله برخه پر دغو قصرونو او د دې لپاره لګول کېږي چي هیبت ئې زیات شي او دا ساده لوحان لازیات پرې وغولول شي، یقیناً چي دا دواړه قصرونه (هم د واکمنانو قصرونه او هم د قبر پر سر قصرونه) په همدې موخه جوړېږي، چي د خاوند او مجاور هیبت او کرامت ستر او لوړ ثابت کړي او جالب دام ترې جوړ شي!!

هو؛ په کربلا کي ستر جنایت وشو، دردوونکی او نه هېرېدونکی، خو کاش تا د کربلا د دردوونکې پېښي ترڅنګ هغه توره ورځ هم غندلی چي کربلا او نجف صلیبي ځواکونو اشغال کړل او په لسګونو زره مظلوم عراقیان، د امام حسین د جد امتیان، په خپلو وینو کي ورغړېدل، خو دا دئ برعکس ګورو چي د نجف مجاور (آیت الله العظمی سیستاني!!!) په لندن کي معالجه کېږي او عراق ته له راستنېدو وروسته د نجف او کربلا کنجیانې امریکایانو ته سپاري!! ما ته ووایه: دا د آیت الله کار دئ که د آیت الشیطان؟!! ما ته ووایه: داسي له مبالغو ډک القاب کارول جائز دي، د قرآن آیت ته یوازي آیت ویل او یوه سفیه آخوند ته د آیت الله العظمی لقب ورکول څنګه توجیه کوې؟ اسلام خو د شخصیت پالني ټغر ټولولي او د داسي القابو له کارولو په کلکه ممانعت کوي، قرآن رسول الله ﷺ ته د عبد الله نوم غوره کوي، د مخکنیو سترو سترو شخصیتونو په اړه، د ابراهیم علیه السلام په شمول، وایي:

{qç. $Bã bqèóê Ÿwr Oçp¡ . $B Nã9r ÇM6¡ . $B $l; ÇM=z ô% pBé 7ù

ÇÍÈ šc qèJèf البقرة: ۱۳۴

دا یوه ډله وه چي تېره شوه، دوی ته خپلي لاس ته راوړنې دي او تاسو ته خپلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(دوی به د خپلو کړو وړو بدله ترلاسه کوي او تاسو د خپلو کړو وړو)، له تاسو نه دا پوښتنه نه کېږي چي هغوی څه کول؟!!

یعني هر څوک به د خپلو عملونو په اړه پوښتل کېږي، نه یو د بل ځواب ورکولی شي او نه یو د بل د کړو وړو په وجه مکافات او مجازات کېږي!! او دا د ټولو هغو خلکو په خولې ستر او سخت گوزار دئ چي په نسلي امتیازاتو باور لري او گمان کوي چي معنوي او مذهبي مقام او منزلت یو داسي موروثي توکی دئ چي له پلاره اولاد ته انتقالېږي، د اسلام دغو لارښوونو ته په پام سره صحابه وو به یو بل په فقط په خپلي کنیې یاداوو، عمر بن الخطاب، علي بن ابي طالب، امیر المؤمنین، خلیفة المسلمین په څېر نومونه ئې کارول، چا ته ئې د شهنشاه، ملک، قاضي القضات، حضرت آیت الله العظمی، حجة الاسلام و المسلمین، او دې ورته له مبالغو ډک القاب ونه کارول، په داسي القابو د چا ستاینه ئې حرام گڼله. دغه مبالغې دي ته چي په شرک منتهي کېږي، نن څوک د تملق او غوړه مالي په توگه وکاروي، سبا جاهلان پرې دوکه شي او د شرک په ډنډ کي پرېوځي.

مسیحي د عیسی علیه السلام مذهب هېر کړ او د ده د مجسمې لمانځل ئې مذهب شو او ده د امام حسین د جد دین ته شا کړه، د امام حسین د قبر لمانځل ئې مذهب شو. گورئ چي مسیحي د صلیب طوق په غاړه گرځوي او دا د کربلا له خاوري د جوړ شوي مهر ټاپې په خپل تندي!!

سیاست کله له پیغمبر د مذهب باغي جوړ کړي او کله له دیندار باغي خدای!! که د ټگمارو مذهبي مشرانو او د مکارو سیاستمدارانو مکرونه عجیب دي، نو تر دې د هغه چا سفاهت د لازیات حیرت او تعجب وړ دئ چي د دوی د مکر په دام کي پرېوځي او (دروغ) د (مذهب) په نامه مني!! خو نه؛ ترڅو چي دنیا وي، ساده لوح او

(c) ketabton.com: The Digital Library
سفیه انسانان به هم وي او د ټګمارو په دام کي به د دوی پرېوتل هم!! که سامري له سخوندر معبود جوړولی شي او هندو له غوا، که د یهودو ملایان د یوه واکمن په دربار کي مریم په زنا متهموي او زوی ئې ساحر ګڼي، خو د بل واکمن په دربار کي ئې دا د خدای مور ګڼي او زوی ئې د خدای زوی، نو له پنځه کلن غائب ماشوم امام زمان جوړول او خدای د ده قاصد ګڼل هم ډېره نادره خبره نه ده!! نو په دې هم ډېر تعجب مه کوئ چي څنګه یوه داسي کس ته له مرګ وروسته د امام لقب ورکوي (امام رضاء ئې بولي) چي له بل سره ئې بیعت کړی او د هغه تر امامت لاندي ئې په دولت کي کار کړی، وايي: دا د دې لپاره چي هغه (تقیه) کوله، (تقیه) خو د ثواب ستر کار دئ، هومره چي تر شهادت ئې هم اجر زیات دئ!! تقیه یعني (مذهبي خدعه) نه یوازي جائزه ده بلکه د ثواب موجب!! په دې هم حیرت مه کوه چي ولي به هغه څوک په خپله د زهرو جام څښي چي په غیب پوهېږي، همغه کار چي وايي امام کاظم وکړ!! او عالم الغیب به ولي په داسي خلکو اعتبار کوي چي د اعتبار وړ نه دي او دی به په میدان کي یوازي پرېږدي او ولي به هغه څوک له خپل ملک شړل کېږي چي (متصرف الامور) ئې ګڼي او د (حاجتونو د تر سره کېدو مرجع) ئې بولي، څوک چي په خپل ژوند کي نه خپل مشکلات حل کولی شي او نه د خپلو ملګرو، نو له مرګ وروسته به څنګه د ژوندیو ستونزي حل کړي؟

مسیحیان د عیسی علیه السلام بیا راتلو ته منتظر دي، خو که هغه راغی نو تر هرچا د مخه به دوی د ده مخالفت کوي، د خپلو پلرونو په څېر به د هغه د وژلو لپاره ملا تړي، پلرونو ئې له دې کبله د ده د وژلو هوډ وکړ چي دی یو انسان دئ، نه له ځانه دفاع کولی شي او نه له خپلو ملګرو، د خدای پیغمبر خو باید داسي نه وي، باید فرشته وي او د سترګي په یوه رپ او د ګوتي په یوې اشارې سره باید زمکه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسمان وخوځولی شي او د دوی اوسني زامن به ئې هم دروغجن ګڼي ورته وايي به: ته هغه عیسی نه يې چې موږ ورته منتظر وو، ته يو عادي انسان يې، عیسی خو د خدای زوی دئ او په متو کې ئې د خدای زور. يهودان مسيح ته منتظر وو خو چې مسيح راغی منتَظَر مسيح ئې ونه ګاڼو او ايمان ئې پرې رانه ووړ!!

که دا نن هغه امام زمان راشي چې ځيني ورته منتظر دي او ووايي: د زمانې د فرعون او د وخت د يزيد په خلاف قيام وکړئ، له اسلام دفاع ته چمتو شئ، خپل هېواد د صليبي ځواکونو له سلطې آزاد کړئ، نو وبه ګورئ چې تر هر چا د مخه ئې هغه څوک مخالفت وکړي چې نن وايي : عجل الله فرجه الشريف: خدای دي د ده راوتل رانږدې کړي!! دغه خلک به ورته وايي: ته خو هغه امام زمان نه يې چې موږ ئې په انتظار کې وو، ته خو له موږ مرسته غواړې او له هغه خو به موږ مرسته غوښته!! ته موږ قيام او جهاد ته رابلې، حال دا چې امام زمان خو د يوې ګوتي په خوځولو سره زمکه او آسمان خوځولی شي!!

بايبل د يهودانو د ستر او فاتح پاچا او په ټولي نړی د اسرائيليانو د غلبې او برلاسي خبري کوي او وايي: په دې وخت کې به د داؤد د کورنۍ او د اورشليم د خلکو لپاره داسي چينه وبهېږي چې دوی به له ټولو ناپاکيو او ګناهونو پاک کړي!!! د بتانو عبادت به پای ته ورسېږي، زمکه به له دروغجنو انبياوو او فال نيونکو پاکه شي، انبياء به له نبوت (د جذبې نشا) شرمېږي (بايبل انبيا داسي معرفي کوي لکه زموږ اوسني ملنګان چې د قوالي سندرو ته ځنې غورځوي هغوی به دغسي د جذبې نشا کوله او همدغه نشا به ئې د نبوت په نامه يادوله) او د خلکو د غولولو لپاره به د انبياوو جامه نه اغوندي!! هر يو به وايي: زه نبي نه يم، بزګر يم، له ځوانۍ تراوسه مي دنده بزګري ده!! او که پوښتنه ترې وکړې چې دا د بدن زخمونه دي څه وايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب به ورکړي: له دوستانو سره په نښتي کي زخمي شوم!!! (د بايبل په حاشيه کي د دې زخمونو په اړه راغلي: دروغجنو انبياوو به خپل بدن زخمي کاوو، د تفصيل لپاره ئې د لومړيو پاچايانو کتاب ته مراجعه وکړئ!!) او دا همغه کار دئ چي شيعه ئې د عاشوراء په ورځ کوي!!!

دا عجيب اعتراف دئ، د بايبل د دروغجنو انبياوو حقيقت ئې په ډېره دقيقه توگه انځور کړی او ښيي چي دوی په خپلو جامو خلک غولوي، جذبه کېدل، نڅا او حتی ځان زخمي کول به ئې د اخلاص او خدای ته د قرب نښه گڼله!! ډېر شرکي مذاهب په دې بيماری اخته دي، شيعه وو هم د کربلا د پېښي په ياد ځان په زنځيرونو وهل او خپل سره پرهارونه خلکو ته ښودل له دوی زده کړي، د بايبل دا خبره صحيح ده چي د حق او الهي دين د غلبې په وخت کي د دغو دروغجنو انبياوو ټغر ټوليږي، خلک ئې په ماهيت پوهېږي، نور نه شي کولی په خپلي سپېڅلې جامې!! او خپلو دروغجنو وړاندوينو خلک وغولوي، نور به (د جذبې نڅا، مذهبي رقصونه)، د خدای د ذکر په نامه مستي کول، ساز سرود غږول، رقص او نڅا کول او دې ته د عبادت نوم ورکول نه وي، نه به د هندوانو رياضتونه وي، نه د مسيح د زخمونو په نامه ځان زخمي کول او نه د کربلا په نامه ځان په زنځيرونو وهل، چا چي دا غلطي کړې وه ځان به تبرئه کوي!!

ما ته په بايبل کي له تحقيق وروسته دا معلومه شوه چي شيعه وو د خپل مذهب هغه عقايد او مراسم له کوم ځای او کوم مذهب څخه اقتباس کړي چي په قرآن او حديث کي د هغه لپاره هيڅ مدرک او سند نشته، ما ته اوس څرگنده شوې چي دوی له بايبل څخه لاندي شيان اقتباس کړي:

- په غائب او منتَظَر امام باور او دا گمان کول چي هغه به راځي، اقتدار به شيعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ته سپاري او د دوی ټول دښمنان به له منځه وړي!! همغسي لکه يهودان او مسيحيان چي خپل خپل مسيح ته منتظر دي.

- امام زمان د خدای نائب او په کون او عالم کي متصرف ګڼل او دا عقيده درلودل چي امامان په خپل ژوند کي هم او له مرګه وروسته هم د خدای او بندګانو ترمنځ واسطه دي، د دوی له لاري خدای ته د انسان دعاګاني رسي او خدای د دوی په شفاعت دعاګاني او عبادتونه قبلوي. دوی خبره هغه حد ته رسولې چي د خپلو مړو امامانو د قبرونو خوا ته خپلي ليکلې عريضې غورځوي او جواب ته ئې انتظار کوي!! د ايران پخواني جمهور رئيس رفسنجاني د منبر په سر او د جمعې د ورځې په خطبې کي وويل: موږ له امام زمان سره خطي رابطه لرو!!
- امامت موروثي ګڼل.
- په دولسو امامانو عقيده درلودل، همغسي لکه مسيحيان چي د عيسى عليه السلام په دولسو حواريونو باور لري او يهودان دولس قبيلې لري.
- خپل امامان عالم الغيب بلل او ډېري وړاندويني هغوی ته منسوبول.
- سادات د لاويانو په څېر خاصه مذهبي طبقه او مذهبي مشري د دوی دنده ګڼل، خمس او صدقات د دوی حق شمېرل. دوی او نورو مذهبي مشرانو ته د لاويانو په څېر خاصه مذهبي جامه ټاکل.
- د کربلا په ياد وير کول او ځان په زنځيرونو زخمي کول، هغه هم د نورو په مخکي او د يوه مذهبي رقص په بڼې کي!!
- په فال نيولو باور ساتل، خبره ئې دې حد ته رسولې چي قرآن ئې په ځانګړې بڼې کي داسي چاپ کړی چي د يوې پاڼې په سر ئې ليکلي: خوب (ښه) او په بلي (بد)، په پټو سترګو ئې د فال لپاره پرانېزي، که د (خوب) پاڼه راووتله بختور دئ او کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې سم، باید ډاډه وي چي ترسره کېږي او که د (بد) پانه ئې مخي ته راغله نو بخت ورسره یاري نه کوي، له خپل هوډ دې لاس په سر شي!! حتی د حافظ شیرازي په کتاب همداسي فال نیسي!! دا په داسي حال کي چي پیغمبر علیه السلام فرمایي: چا چي د عراف، منجم او فال نیونکي په وینا باور وکړ، هغه قرآن ئې تکذیب کړی چي پر محمد نازل شوی.

عن أبي هريرة قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من أتى عرافا أو كاهنا فصدقه فيما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد صلى الله عليه وسلم

# عاشوراء په روایاتو کي

راشئ وګورو چي په روایاتو کي د عاشوراء په ارتباط څه راغلي. په دې اړه د بخاري یو روایت دا دئ:

عَنْ عَائِشَةَ - رضى الله عنها - قَالَتْ كَانَ يوم عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِى الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِه، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ رَمَضَانُ الْفَرِيضَةَ، وَتُرِكَ عَاشُورَاءُ، فَكَانَ مَنْ شَاءَ صَامَه، وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ .

له عائشې (رضی الله عنها) روایت دئ چي وایي: قریشو به د جاهلیت په زمانه کي د عاشور په ورځ روژه نیوله او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به هم پدې ورځ روژه نیوله او کله چي ئې مدینې ته هجرت وکړ نو بیا ئې هم دا ورځ روژه نیوله او نورو ته یې د روژې نیولو امر وکړ خو کله چي د رمضان روژه فرض شوه نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عاشوراء د روځې روژه ئې پرېښوده بیا د هر چا خپله خوښه وه چې پدې ورځ ئې روژه نیوله او که نه.

دا روایت په بخاري کې شپږ ځلې نور په دغو شمېرو راغلی: ۱۵۹۲، ۱۸۹۳، ۲۰۰۱، ۲۰۰۲، ۳۸۳۱، ۴۵۰۲، د دغو روایاتو تر منځ جدي او ژور توپیرونه او تعارضات تر سترگو کېږي، دومره چې یو په هغه صورت کې ترې غوره کولی شې چې نور ټول رد کړې، په ځینو کې ویل شوي كَانَ يَوْمُ عَاشُوراءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِى الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ په بل کې كَانُوا يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ قَبْلَ أَنْ يُفْرَضَ رَمَضَانُ، وَكَانَ يَوْمًا تُسْتَرُ فِيهِ الْكَعْبَةُ، په بل کې صَامَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ . فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ، په بل کې أَنَّ قُرَيْشًا كَانَتْ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ فِى الْجَاهِلِيَّةِ، ثُمَّ أَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِصِيَامِهِ حَتَّى فُرِضَ رَمَضَانُ په بل کې كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - أَمَرَ بِصِيَامِ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ . په بل کې كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِى الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تَرَكَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَمَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ تَرَكَهُ . په بل کې كَانَ عَاشُورَاءُ يَوْمًا تَصُومُهُ قُرَيْشٌ فِى الْجَاهِلِيَّةِ، وَكَانَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - يَصُومُهُ، فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ صَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ كَانَ مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لاَ يَصُومُهُ په بل کې كَانَ عَاشُوراءُ يَصُومُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَهُ، وَمَنْ شَاءَ لَمْ يَصُمْهُ » په بل کې كَانَ عَاشُورَاءُ يُصَامُ قَبْلَ رَمَضَانَ، فَلَمَّا نَزَلَ رَمَضَانُ قَالَ « مَنْ شَاءَ صَامَ، وَمَنْ شَاءَ أَفْطَرَ » په بل کې قَدِمَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - الْمَدِينَةَ، فَرَأَى الْيَهُودَ تَصُومُ يَوْمَ عَاشُورَاءَ، فَقَالَ « مَا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هَذَا » . قَالُوا هَذَا يَوْمٌ صَالِحٌ، هَذَا يَوْمٌ نَجَّى اللَّهُ بَنِى إِسْرَائِيل مِن عدوِّهِم، فصامه مُوسَى . قَالَ « فَأَنَا أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْكُمْ » . فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ . په بل كي - قَال كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيداً، قَالَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - « فَصُومُوهُ أَنْتُمْ » په بل كي لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ وَجَدَهُمْ يَصُومُونَ يَوْمًا، يَعْنِى عَاشُورَاءَ، فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ عَظِيمٌ، وَهْوَ يَوْمٌ نَجَّى اللَّهُ فِيهِ مُوسَى، وَأَغْرَقَ آلَ فِرْعَوْنَ، فَصَامَ مُوسَى شُكْرًا لِلَّهِ . فَقَالَ « أَنَا أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ » . فَصَامَهُ وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ . په بل كي أَنَّ النَّبِىَّ - صلى الله عليه وسلم - بَعَثَ رَجُلاً يُنَادِى فِى النَّاسِ، يَوْمَ عَاشُورَاءَ « أَنْ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ أَوْ فَلْيَصُمْ، وَمَنْ لَمْ يَأْكُلْ فَلاَ يَأْكُلْ په بل كي أَرْسَلَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - غَدَاةَ عَاشُورَاءَ إِلَى قُرَى الأَنْصَارِ « مَنْ أَصْبَحَ مُفْطِرًا فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِه، وَمَنْ أَصْبَحَ صَائِمًا فَلْيَصُمْ » . قَالَتْ فَكُنَّا نَصُومُهُ بَعْدُ، وَنُصَوِّمُ صِبْيَانَنَا، وَنَجْعَلُ لَهُمُ اللُّعْبَةَ مِنَ الْعِهْنِ، فَإِذَا بَكَى أَحَدُهُمْ عَلَى الطَّعَامِ أَعْطَيْنَاهُ ذَاكَ، حَتَّى يَكُونَ عِنْدَ الإِفْطَارِ . په بل كي قَالَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - يَوْمَ عَاشُورَاءَ « إِنْ شَاءَ صَامَ » په بل كي أَمَرَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - رَجُلاً مِنْ أَسْلَمَ أَنْ أَذِّنْ فِى النَّاسِ « أَنَّ مَنْ كَانَ أَكَلَ فَلْيَصُمْ بَقِيَّةَ يَوْمِه، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ، فَإِنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ » په بل كي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ لِرَجُلٍ مِنْ أَسْلَمَ « أَذِّنْ فِى قَوْمِكَ - أَوْ فِى النَّاسِ - يَوْمَ عَاشُورَاءَ أَنَّ مَنْ أَكَلَ فَلْيُتِمَّ بَقِيَّةَ يَوْمِه، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ أَكَلَ فَلْيَصُمْ » په ځينو كي ويل شوي: مَا رَأَيْتُ النَّبِىَّ - صلى الله عليه وسلم - يَتَحَرَّى صِيَامَ يَوْمٍ فَضَّلَهُ عَلَى غَيْرِهِ، إِلاَّ هَذَا الْيَوْمَ يَوْمَ عَاشُورَاءَ وَهَذَا الشَّهْرَ . يَعْنِى شَهْرَ رَمَضَانَ !! په ځينو كي قَالَ دَخَلَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - الْمَدِينَةَ وَإِذَا أُنَاسٌ مِنَ الْيَهُودِ يُعَظِّمُونَ عَاشُورَاءَ وَيَصُومُونَهُ فَقَالَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - « نَحْنُ أَحَقُّ بِصَوْمِه » . فَأَمَرَ بِصَوْمِه . په بل كي قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - الْمَدِينَةَ وَجَدَ الْيَهُودَ يَصُومُونَ عَاشُورَاءَ، فَسُئِلُوا عَنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذَلکَ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى أَظْفَرَ اللَّهُ فِيهِ مُوسَى وَبَنِى إِسْرَائِيل على فِرعون، ونحن نَصُومُهُ تَعْظِيماً لَهُ، فَقَال رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْكُمْ » . ثُمَّ أَمَرَ بِصَوْمِهِ . په بل كي قَدِمَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - الْمَدِينَةَ وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ فَقَالُوا هَذَا يَوْمٌ ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ . فَقَالَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - لأَصْحَابِهِ « أَنْتُمْ أَحَقُّ بِمُوسَى مِنْهُمْ، فَصُومُوا » . په بل كي لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - الْمَدِينَةَ، وَالْيَهُودُ تَصُومُ عَاشُورَاءَ، فَسَأَلَهُمْ، فَقَالُوا هَذَا الْيَوْمُ الَّذِى ظَهَرَ فِيهِ مُوسَى عَلَى فِرْعَوْنَ، فَقَالَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - « نَحْنُ أَوْلَى بِمُوسَى مِنْهُمْ فَصُومُوهُ » په بل كي قَالَ صَامَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - عَاشُورَاءَ، وَأَمَرَ بِصِيَامِهِ . فَلَمَّا فُرِضَ رَمَضَانُ تُرِكَ . وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ لاَ يَصُومُهُ، إِلاَّ أَنْ يُوَافِقَ صَوْمَهُ . په بل كي د دې خلاف ويل شوي: كَانَ يَوْمُ عَاشُورَاءَ تَعُدُّهُ الْيَهُودُ عِيداً، قَالَ النَّبِىُّ - صلى الله عليه وسلم - « فَصُومُوهُ أَنْتُمْ » يعني يهودانو دا ورځ د عيد په توګه لمانځله او رسول الله ﷺ له هغوی د مخالفت ښودلو په توګه وويل چي تاسو روژه ونيسئ، او دا د ټولو نورو رواياتو خلاف دئ.

د دغو متعارضو رواياتو تر منځ تعارضات او توپيرونه دا دي:

- ځيني ئې وايي چي د عاشوراء روژه قريشو هم نيوله او رسول الله ﷺ هم له همغه مهاله نيوله، او ګواکي قريشو به په دغي ورځ پر کعبې نوی غلاف غوړاوو!!

ځيني ئې وايي کله چي رسول الله ﷺ مدينې ته راغی يهودان ئې وليدل چي په دې ورځ روژه نيسي وئې پوښتل چي ولي په دې ورځ روژه نيسئ؟ هغوی وويل: دا يوه ستره ورځ ده، فرعون په کي غرق شوی او موسی عليه السلام ته بری ورپه برخه شوی، موږ د دغي ورځي د درناوي لپاره روژه نيسو، رسول الله ﷺ وفرمايل چي موږ تر يهودانو زيات د دې وړ يو چي د دې ورځي درناوی وکړو، نو په خپله ئې هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

روژې نیول پیل کړل او نورو ته ئې هم امر وکړ، ځیني ئې وايي چې رسول الله ﷺ تر رحلت لږ وړاندې د دې روژې نیول پیل کړل، چا ورته وویل: دا خو له یهودانو سره شباهت راځي، رسول الله ﷺ وفرمایل: د شباهت ختمولو لپاره به راتلونکی کال یوه ورځ مخکې هم روژه نیسم، خو هغه د دغې ورځې تر بیا رارسېدو وړاندې رحلت وکړ!! ځیني ئې وايي: یهودانو به دغه ورځ د عید او خوشحالۍ د ورځې په توګه لمانځله، رسول الله ﷺ له یهودو سره د مخالفت په موخه وفرمایل: چې تاسو په دې ورځ روژه ونیسئ!! ځیني ئې وايي چې رسول الله ﷺ د عاشوراء د ورځ سحر اعلان وکړ او کلیو ته ئې څوک ولېږو چې خلک خبر کړي او ورته ووايي: چا چې څه نه وي خوړلي روژې ته دې دوام ورکړي او چا چې څه خوړلي وي تر ماښامه دې څه نه خوري!! ځیني ئې وايي چې د روژې تر فرضېدو پورې دا روژه نیول کېده خو د روژې له فرضېدو وروسته پرېښودی شوه، او ځیني ئې د دې خبرې تر څنګ دا هم علاوه کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د هر چا خپله خوښه چې په دې ورځ روژه نیسي که نه!! په یوه کې دا هم ویل شوي چې قریشو به په دغې ورځ د روژې تر څنګ د کعبې غلاف هم بدلولو!!

د دغو متعارضو روایاتو له منځه د یوه انتخاب محال او ناممکن دئ، امام بخاري هم نه دي ویلي چې په دغو متعارضو او متضادو روایاتو کې کوم یو ئې د متن، محتوی او اسنادو له پلوه صحیح او تر نورو غوره دئ، او په کوم دلیل، د بخاري هیڅ شارح هم نه ویلي او نه ویلی شي چې کوم روایت تر نورو غوره دئ!! دا د یوه اصل په توګه په پام کې ولرئ چې کله د یوې موضوع په اړه متعارض روایات مومو داسې چې تر منځ ئې نه تلفیق ممکن وي او نه داسې دلیل موندلی شو چې یوه ته پر بل ترجیح ورکړو، په قرآن کې کوم شاهد ورته ونه مومو، په خپله دغو روایاتو کې هم د ترجیح

(c) ketabton.com: The Digital Library
وجه پیدا نه کړو نو په کار دا ده چي ټول یوې خوا ته پرېږدو، نه استناد پرې وکړو، نه ئې نورو ته ووایو او نه کوم یو د خپلي سلیقې له مخي غوره کړو.

زه دې نتیجې ته رسېدلی یم چي په دې ورځ نه په خپله روژه نیسم او نه بل ته د روژې نیولو مشوره ورکوم، دا راته غوره برېښي چي نفلي روژې یوازي په دې توګه وي: د عرفې ورځ، د شوال شپږ ورځې، ایام بیض (د هري میاشتي دیارلسمه، څوارلسمه او پنځلسمه)، هره دوشنبه او پنجشنبه او یوه ورځ تر منځ. خو دې ته مو پام وي چي د دې ورځو هره روژه په ثواب کي یوه مسکین ته د یوې ورځې خوراک ورکولو حد ته نه رسېږي، د هغو واعظانو له مبالغو ډکو ویناوو ته ارزښت مه ورکوئ چي داسي روژې د جنت کونجي ګڼي او له ټولو مخکنیو او وروستنیو ګناهونو د پاکېدو وسیله!! او مقام ئې دومره لوړ ښیي چي نه په جهاد سره ترلاسه کېدی شي، نه په شهادت سره او نه په زکات او نورو فرایضو سره.

په دې ورځ خیراتونه مه کوئ، دا ځکه چي نه رسول الله ﷺ داسي خیراتونه کړي او نه صحابه وو، داسي روایت نه مومو چي کوم صحابي دي د مړو لپاره خیرات کړی وي، د شیعه وو د ماتم غونډو او جلسو ته مه ورځئ، که ورځئ نو باید خپل شرعي مسئولیت اداء کړئ او د ټولو هغو شرکي ویناوو او حرکاتو په اړه خلکو ته حق وینا وکړئ چي هلته ئې اورئ او ګورئ، لکه یا علي مدد، یا حسین، ځانونه په زنځیرونو وهل، ماتم کول، مذهبي رقصونه، او نور خرافات او د دین، مذهب او عقل ضد حرکات. که داسي ونه کړئ نو له دوی سره به په ګناه کي شریک وئ. د داسي جلسو په ضد له مسلحانه اقداماتو ډډه وکړئ ځکه نه رسول الله ﷺ د کومي مذهبي ډلي په خلاف داسي کار کړی او نه صحابه وو، هغه واکمنان له اسلام او اسلامي امت سره ستر ظلم کوي چي دغسي جلسو او جلوسونو ته اجازه ورکوي او تسهیلات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته برابروي، هغه حکام دا کار کوي چي پردي پال دي او دنده ئې په اسلامي امت کي د اختلافاتو اور ته لمن وهل دي، مگر نه گورئ چي په افغانستان او عراق کي دغو غونډو او مظاهرو هغه مهال زور واخیست چي صلیبي ځواکونو اشغال کړل، همدا ځواکونه شیعه آخوندان هڅوي او تسهیلات ورته برابروي چي په دې ورځي کوڅو ته راووځي او د دین او عقل ضد حرکاتو مظاهره وکړي او داسي څه ووایي چي سنیان غبرگون ته اړ کړي.

# پر رسول الله ﷺ باندي د سحر حقیقت

دا هم د مسلمانانو تر منځ یوه اختلافي مسئله ده چي آیا پر رسول الله ﷺ باندي سحر او کوډي شوې وې که نه؟ آیا دې کوډو پر هغه اغېز کړی وو که نه؟ اغېز ئې څومره وو؟ آیا صحیح ده چي کوډگر کولی شي یو څوک په کوډو سره بیمار کړي یا بل ته تاوان ورسوي؟ پر رسول الله ﷺ باندي کله او چېري دا کوډي شوې وې؟ آیا یو کوډگر کولی شي چي په خپلو کوډو سره د رسول الله ﷺ په څېر شخصیت ته تاوان ورسوي، بیمار ئې کړي او حافظه ئې مختل کړي؟ که دښمن ته دا کار ممکن وو نو ولي ئې په وار وار دا کار نه دئ کړی؟

په دې اړه په ټول قرآن کي نه صراحتاً او نه اشارتاً داسي څه مومو چي پر رسول الله ﷺ یا بل پیغمبر یا بل انسان کوډي شوې او د کوډو د اغېز له کبله بیمار شوی، خو د روایاتو په ټولو کتابونو کي یوازي یو روایت داسي مومو چي وایي پر رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ﷺ باندي په مدينه کي د يوه يهودي له لوري کوډي شوې وې، دومره اغېز ئې پرې کړی وو چي دروندوالی او کسالت به ئې احساساوو او کله کله به ئې ګمان کولو چي فلان کار مي کړی خو حقيقتاً به ئې هغه کار نه وو کړی!! روايت دا دئ:

حَدَّثَنِی مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّی حَدَّثَنَا يَحيَی حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنِی أَبِی عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِیَّ ﷺ سُحِرَ حَتَّی کَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ . بخاري ۳۱۷۵

دا روايت چي په بخاري کي شپږ ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۲۶۸، ۵۷۶۳، ۵۷۶۵، ۵۷۶۶، ۶۰۶۳، ۶۳۹۱، د سند له مخي داسي دئ چي په صحابه وو او تابعينو کي يوازي يو يو راوي لري؛ عروه رضي الله عنه او عائشه رضي الله عنها، دوی ته چي کومو راويانو دا روايت منسوب کړی د هغوی په رواياتو کي دا جدي توپيرونه تر سترګو کېږي: په يوه کي راغلي: حَتَّی کَانَ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ صَنَعَ شَيْئًا وَلَمْ يَصْنَعْهُ او په بل کي يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّیْءَ وَمَا فَعَلَهُ، په بل کي حَتَّی کَانَ يَرَی أَنَّهُ يَأْتِی النِّسَاءَ وَلاَ يَأْتِيهِنَّ په بل کي حَتَّی إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَفْعَلُ الشَّیْءَ وَمَا فَعَلَهُ په بل کي يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَأْتِی أَهْلَهُ وَلاَ يَأْتِی په بل کي حَتَّی إِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ قَدْ صَنَعَ الشَّیْءَ وَمَا صَنَعَهُ په يوه کي حَتَّی إِذَا کَانَ ذَاتَ يَوْمٍ أَوْ ذَاتَ لَيْلَةٍ (دلته د شک څرګندونه شوې او ويل شوي کومه ورځ يا کومه شپه!!) وَهْوَ عِنْدِی لَکِنَّهُ دَعَا وَدَعَا په بل کي حَتَّی إِذَا کَانَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهْوَ عِنْدِی دَعَا اللَّهَ وَدَعَاهُ په بل کي فَقَالَ لِی ذَاتَ يَوْمٍ په بل کي وَإِنَّهُ دَعَا رَبَّهُ ثُمَّ قَالَ په يوه کي « يَا عَائِشَةُ، أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ أَفْتَانِی فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په بل کي يَا عَائِشَةُ أَعَلِمْتِ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِی فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په بل کي أَشَعَرْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِی فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په بل کي يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللَّهَ أَفْتَانِی فِی أَمْرٍ اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ، په بل کي « أَشَعَرْتِ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَفْتَانِی فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ فِيهِ په يوه کي أَتَانِی رَجُلاَنِ فَقَعَدَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِی، وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَیَّ په بل کي جَاءَنِی رَجُلاَنِ، فَجَلَسَ أَحَدُهُمَا عِنْدَ

(c) ketabton.com: The Digital Library
رَأْسِى وَالآخَرُ عِنْدَ رِجْلَىَّ په بل كي أَتَانِى رَجُلاَنِ، فَجَلَسَ أَحَدُهما عند رِجلىَّ والآخر عِنْدَ رَأْسِى په يوه كي فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وجَعُ الرَّجُلِ فقَالَ مطبُوبٌ . قَالَ مَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ په بل كي فَقَالَ الَّذِى عِنْدَ رَأْسِى لِلآخَرِ مَا بَالُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ . قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ، رَجُلٌ مِنْ بَنِى زُرَيْقٍ حَلِيفٌ لِيَهُودَ، كَانَ مُنَافِقًا . په بل كي ثُمَّ قَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ مَا وجَعُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ . قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الأَعْصَمِ، الْيَهُودِىُّ مِنْ بَنِى زُرَيْقٍ په بل كي فَقَالَ الَّذِى عِنْدَ رِجْلَىَّ لِلَّذِى عِنْدَ رَأْسِى مَا بَالُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ . په يوه كي يَعْنِى مَسْحُورًا . قَالَ وَمَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ أَعْصَمَ په يوه كي قَالَ فِى أَىِّ شَىْءٍ قَالَ فِى مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ، وَجُفِّ طَلْعِ نَخْلَةٍ ذَكَرٍ . قَالَ وَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِى بِئْرِ ذَرْوَانَ په بل كي قَالَ وَفِيمَ قَالَ فِى مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ . قَالَ وَأَيْنَ قَالَ فِى جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ، تَحْتَ رَعُوفَةٍ، فِى بِئْرِ ذَرْوَانَ » په بل كي قَالَ فِيمَا ذَا قَالَ فِى مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ، وَجُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ . قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِى بِئْرِ ذِى أَرْوَانَ » په بل كي قَالَ وَفِيمَ قَالَ فِى جُفِّ طَلْعَةٍ ذَكَرٍ فِى مُشْطٍ وَمُشَاقَةٍ، تَحْتَ رَعُوفَةٍ فِى بِئْرِ ذَرْوَانَ » په بل كي قَالَ فِيمَا ذَا قَالَ فِى مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ طَلْعَةٍ . قَالَ فَأَيْنَ هُوَ قَالَ فِى ذَرْوَانَ، وَذَرْوَانُ بِئْرٌ فِى بَنِى زُرَيْقٍ » په يوه كي فَأَتَاهَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فِى نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَجَاءَ فَقَالَ « يَا عَائِشَةُ كَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، أَوْ كَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ » په بل كي فَأَتَى النَّبِىُّ ﷺ الْبِئْرَ حَتَّى اسْتَخْرَجَهُ فَقَالَ « هَذِهِ الْبِئْرُ الَّتِى أُرِيتُهَا، وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ » . په بل كي قَالَ فَذَهَبَ النَّبِىُّ ﷺ فِى أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ إِلَى الْبِئْرِ، فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَعَلَيْهَا نَخْلٌ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ « وَاللَّهِ لَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ، وَلَكَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ » په بل كي فَجَاءَ النَّبِىُّ ﷺ فَقَالَ «هَذِهِ الْبِئْرُ الَّتِى أُرِيتُهَا كَأَنَّ رُءُوسَ نَخْلِهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ، وَكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ(له دې داسي معلومېږي لکه چي دا څا ئې په خوب او رؤيا کي ليدلى وي) په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل كي قَالَتْ فَأَتَاهَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ ثُمَّ رجَعَ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالَ « واللَّهِ لكأَنَّ ماءها نقاعة الْحِنَّاءِ، ولكَأَنَّ نَخْلَهَا رءُوسُ الشَّيَاطِينِ » . په يوه كي قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلاَ أَسْتَخْرِجُهُ قَالَ « قَدْ عَافَانِي اللَّهُ، فَكَرِهْتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ فِيهِ شَرًّا » . فَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ . په بل كي قَالَ فَاسْتُخْرِجَ، قَالَتْ فَقُلْتُ أَفَلاَ أَىْ تَنَشَّرْتَ . فَقَالَ « أَمَا وَاللَّهِ فَقَدْ شَفَانِى، وَأَكْرَهُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ شَرًّا » په بل كي قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَأَخْرَجْتَهُ قَالَ « لاَ، أَمَّا أَنَا فَقَدْ عَافَانِي اللَّهُ وَشَفَانِى، وَخَشِيتُ أَنْ أُثَوِّرَ عَلَى النَّاسِ مِنْهُ شَرًّا » . وَأَمَرَ بِهَا فَدُفِنَتْ په بل كي فَأَمَرَ بِهِ النَّبِىُّ ﷺ فَأُخْرِجَ . قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَهَلاَّ - تَعْنِى - تَنَشَّرْتَ فَقَالَ النَّبِىُّ ﷺ« أَمَّا اللَّهُ فَقَدْ شَفَانِى، وَأَمَّا أَنَا فَأَكْرَهُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا په بل كي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَهَلاَّ أَخْرَجْتَهُ قَالَ « أَمَّا أَنَا فَقَدْ شَفَانِى اللَّهُ، وَكَرِهْتُ أَنْ أُثِيرَ عَلَى النَّاسِ شَرًّا »

لكه چي گورئ په دې رواياتو كي ژور توپيرونه تر سترگو كېږي، ځيني ئې وايي چي رسول الله ﷺ دا د كوډو توكي په خپل لاس راوايستل، ځيني وايي نورو ته ئې امر وكړ چي راوئې باسي، او دفن ئې كړي، ځيني وايي همداسي ئې پرېښودل او وئې ويل چي الله تعالى ما ته له دې پرته شفا راكړه، ځيني ئې وايي چي عائشې رضي الله عنها ورته وويل آيا زه ئې راونه باسم، همدا راز گورئ چي په دې راوياتو كي د شك موارد هم تر سترگو كېږي، راوي يو ځای وايي: كومه ورځ يا كومه شپه چي رسول الله ﷺ زما خوا ته وو، په روايت كي د شك وينا د روايت اعتبار كموي، د ځينو له الفاظو داسي معلومېږي چي هغه ځا، د هغه اوبه او پر سر ئې د كجوري ونه په خوب كي ليدلي وو، حال دا چي نور ئې وايي چي رسول الله ﷺ په خوب كي يوازي دوه سړي ليدلي وو، همدا راز دلته ويل شوي چي د دې ځاه پر سر د ولاړي وني ځانگي داسي وې لكه د شيطانانو سرونه!! دا وينا له حقيقت سره اړخ نه لگوي، د هغه ځاه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کجوري ونه به یقیناً د مدینې د نورو نو په خبر وه، که نه نو په ډېرو روایاتو کې به دا راغلې وه چې که څوک غواړي د شیطان د سر څرنګوالی ورته معلوم شي نو د ذَرْوَانَ د کوهي پر سر د ولاړې ونې څانګې دې وګوري!!

دلته څو پوښتنې راولاړېږي:

• که واقعاً پر رسول الله ﷺ کوډې شوې وې نو دا خو ډېره لویه حادثه وه، ولې په ټولو صحابه وو کې یوازې یوه کس دا خبره کړې ده، دا خبره خو باید ګڼ شمېر صحابه وو روایت کړې وی!! لږ تر لږه د رسول الله ﷺ نورو بیبیانو هم دا خبره کړې وه، له صحابه وو څخه باید ډېر تابعینو ته هم رسېدلې وی، ولې په تابعینو کې هم له هشام او د ده له پلار پرته بل راوي نه لري؟!!

• قرآن خو وایي چې سحر د اشیاءو ماهیت نشي بدلولی، هسې د خلکو د غولولو یوه ننداره وي چې یو شی په بلې بڼې کې ګوري، آرام پراته شیان د خوځېدونکو په څېر ورته برېښي!! په ټول قرآن کې داسې آیت نه مومو چې د سحر داسې اغېز ترې ثابت شي چې یو انسان بیمار کړي، د هاروت او ماروت په قصې کې د سحر داسې اغېز په بشپړه توګه ردوي او وایي: دوی په کوډو سره چا ته ضرر نشو رسولی، ضرر یوازې د الله تعالی په إذن سره انسان ته رسېدی شي نه د جادوګر په کوډو سره.

• که د موسی علیه السلام عصا د فرعون د ډېرو ماهرو کوډګرو ټول سحر شنډولی شو او دوی ټولو په ګډه موسی علیه السلام ته هیڅ ضرر نشو رسولی نو یو یهودي کوډګر به څنګه توانېږي چې رسول الله ﷺ ته ضرر ورسوي؟!! رسول الله ﷺ خو موږ ته داسې دعاګانې راښودلې چې په ویلو سره ئې هم د شیطان له شره خوندي پاته کېږو او هم د کوډګرو او د هر مضر شي له شره، او څرګنده ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ﷺ به حتماً دا دعاګاني ويلې نو له دې سره سره څنګه ومنو چي دغو کوډو پر هغه اغېز کړی وو؟!!

- يهودو او مشرکينو ولي يوازي دا يو ځل پر ده باندي کوډي وکړې؟!! ولي ئې تر دې وړاندي او ورسته دا کار نه دئ کړی؟!!
- دا خو د رسول الله ﷺ عصمت تر پوښتني لاندي راولي او ډېرو ته دا شک راپيدا کوي چي ښايي پر رسول الله ﷺ به ډېر ځلي نور هم کوډي شوې وي او د کوډو تر اغېز لاندي به ئې داسي خبري کړې وي چي د ده اصلي خبري نه دي!! آيا په داسي مهمي اعتقادي مسئلې کي داسي غريب روايت منلی شو چي په صحابه وو او تابعينو کي يو يو راوي لري، په ټول قرآن کي نه يوازي کوم شاهد ورته نه مومو بلکي له قرآن سره په ښکاره توګه تعارض لري، په متن کي ئې هم کافي ستونزي شته، ځيني ئې يو څه وايي او ځيني بل څه؟!!

څوک چي وايي سحر حق دئ، معنی ئې دا ده چي په قرآن کي د سحر او ساحرانو (جادو او جادوګرانو) يادونه شوې، د فرعون کوډګرو د موسی عليه السلام مقابله کړې، خپل پړي او عصاګاني ئې اچولي ول او خلکو ته داسي برېښېدلي وو چي خوځېږي، همدا او بس، نه دا چي جادو کول يا سم او جائز کار دئ او يا په جادو سره څوک کولی شي بل ته ګټه يا ضرر ورسوي، قرآن دا دواړه خبري ردوي، وايي: نه جادو جادوګر ته ګټه رسولی شي او نه جادوګر په خپل جادو سره بل ته تاوان رسولی شي، جادوګر به هيڅکله او په هيڅ ځای کي بريالی نشي، قرآن په دې اړه فرمايي:

$B Ȩ̀ÿr ÇÏÌÈ 4?ãR{ $MR& š• RÎ̧ @# , ? Ẅ $Zè ÇÏÈ 4 › qB ̦Ÿ‹Å ¾ÏìÅÿR ’Î § _ ‹ ù

4A& ß̧ øm ä̈m$¡¡ 9$&Îÿ Ẅr 9Å »™ ‰ø (qãŸ ¹ $JRÎ̧ (pãZ ¹ $B @# )ù 7ÏŠÜƒ ’Î

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو موسی په خپل زړه کي وېره احساس کړه، ومو ویل: مه وېرېږه، یقیناً چي همدا ته برلاسی یې، او هغه شی وغورځوه چي ستا په لاس کي دئ، چي هغه څه ښوی تېر کړي چي دوی جوړ کړي، یقیناً هغه څه چي دوی جوړ کړي د کوډګر مکر دئ، او جادوګر چي هر چېري ورشي بریا نشي موندلی.

له دې مبارکو آیتونو څو خبري معلومېږي:

- د کوډګرو له لوري ښودل شوې ننداره دومره هیبتناکه وه چي موسی علیه السلام په خپل زړه کي وېره احساس کړه، دلته دا نه دي ویل شوي چي آیا پر ځان وېرېدلی، که له دې چي په مسابقې کي به برلاسی نشي او که په دې چي خلک به دوکه شي او د جادوګرانو تر اغېز لاندي به راشي؟! خو له وروستۍ فقرې معلومېږي چي وېره ئې په مسابقې کي د خپلي بریا په اړه وه، ځکه الله تعالی فرمايي: ومو ویل: مه وېرېږه، یقیناً چي همدا ته برلاسی یې.
- د الله تعالی له لوري موسی علیه السلام ته ویل شوي چي د خپل لاس عصا وغورځوي، چي دا به ټول هغه پړي او عصاګاني ښوی تېري کړي چي دوی د خوځنده مارانو په څېر ښودلي.
- دلته ویل شوي چي جادو هسي یوه دوکه او غولونه وه، د فرعون د ماهرو جادوګرانو دا لوبه د لاس هنر وو نه د جادو اغېز، دا په حقیقت کي یو مکر وو نه بل څه، د پړو او عصاګانو حقیقت نه دئ بدل شوی بلکي خلک غولول شوي او د خوځنده مارانو ګمان ئې پرې کړی!! د آیت دا برخه چي وايي: جادوګر چي هر چېري ورشي بریا نشي موندلی، دا حقیقت مزید واضح کوي او ښيي چي د جادوګر مکر او کید د څو شېبو داسي غولونکې ننداره ده چي نه ده ته کومه ګټه رسوي او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ته. د گټې او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي.

همداراز قرآن د هاروت او ماروت د قصې په ترڅ کي فرمايي چي بني اسرائيلو به له دوی د داسي څه زده کولو هڅه کوله چي په هغه سره سړی او د هغه مېرمن سره بېل کړي خو دوی په خپل سحر سره نه ځان ته کومه گټه رسولی شوه او نه بل ته کوم تاوان:

$B $JgÿB bqB=èGŠù ëjã? Xù p×Gï ßtû $JRÎ) wqà)tƒ 4ÓL®m %n& ôÏB Ès$Jtèã $Br

« $ÎhÎ ÿw) %m& ôÏB ¾ÏmÎ ûïhtÒÎ Nèd $Br ¾ÏmÅ r–r ãöJ%$ûü/ ¾ÏmÎ šc qèÿã

NßgãÿZtƒ Ÿwr Nèd”àÒtƒ $B bqßJ©GtƒGr                    البقره: ۱۰۰

(دې ملائکو) به هيچا ته څه تعليم نه ورکاوو مگر دا چي ورته ويل به ئې: موږ (خو د يوه) امتحان (لپاره راغلې) يو، نو ته مه کافر کېږه، خو دوی له دې دواړو هغه څه زده کول چي په هغه سره نارينه او مېرمنه ئې سره بېل کړي، دا په داسي حال کي چي په دې سره دوی د الله له اذن پرته هيچا ته تاوان رسوونکي نه وو او په داسي حال کي چي هغه څه ئې زده کول چي تاوان ئې وررساوو او گټه ئې نه وررسوله.

دا آيتونه په واضح الفاظو د سحر دا ډول اغېز ردوي او وايي چي د گټې او تاوان پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي نه د جادوگرانو په جادو سره!!! دې ته مو پام وي چي دغو دوو فرشتو خلکو ته داسي جادو نه ورښودو چي په هغه سره مېړه او مېرمن ئې سره بېل کړی شي، حاشا و کلا چي الله تعالی به فرشتې په دې گمارلې وي چي خلکو ته داسي کوډې ورزده کړي، دا هم د الله تعالی په اړه تور دئ او هم د فرشتو په اړه، دا خو ستره گناه ده، فرشتې په خپله دوی ته وايي چي مه کافران کېږي، نو څنگه به هغوی ته داسي کوډې ورښيي؟!! د آيت معنی دا ده چي دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفسدینو به حتی له فرشتو هم د داسي څه زده کولو هڅه کوله چي سړی او د ده مېرمن سره بېل کړی شي، یوه به غوښتل چي د بل مېرمن ترې بېله کړي او پر خپل ځان ئې مینه کړي، نو د همدې لپاره به ئې کوډو ته پناه وړه حتی غوښتل ئې چي له فرشتو هم دغسي څه زده کړي، په همدې موخه فرشتو ته ورتګ د دوی لپاره اتمام حجت وو او په همدې سره په الهي عذاب اخته شوي. د جادو د دا ډول اغېز خبري هغه ټګماران تکراروي چي خلک غولوي او ورته وایي: جنابه! جادو حق دئ، انکار ترې کفر، پر رسول الله ﷺ جادو شوی وو، ما ته راشه چي په یوه جادو سره ستا مرادونه ترسره کړم، سرکښ محبوب درته تسلیم کړم، که د بل د کوډو له کبله بیمار شوی یې کوډې راوباسم او د جادو اغېز شنډ کړم، خو دا ډېر ګران کار دئ، او شکرانه ئې لویه ده، له ما ډېر وخت، ډېر زحمت او ډېر مصرف غواړي، د سور سېرلي او سپین چرګ ویني، د زعفرانو زېړ رنګ، د ورېښمو ټوټه او دا او دا غواړي!!! زعفران به زه راپیدا کړم، د سېرلي او سپین چرګ بندوبست به ته وکړې، د محبوبې د وېښتانو څو تارونه، د زړې ړمنځې څو ښاخونه او .... به هم ته راپیدا کړې، نور هر څه پر ما!!!

د ځینو خلکو په ذهن کي به ښایي دا اندېښنه راولاړه شي چي په قرآن کي ویل شوي چي د نفاثات في العقد له شره الله ته پناه یوسو، او ځینو مفسرینو د نفاثات في العقد په اړه ویلي چي له دې څخه مراد هغه کوډګري ښځې دي چي تارونه به ئې غوټه کول او په هري غوټي کي به ئې پو کول او په دې توګه به ئې پر خلکو کوډې کولې!! د دوی د اندېښنې رفع کولو لپاره باید ووایو: دا د الفلق د سورې په څلورم آیت کي راغلې فقره ده، د دې فقرې شرح او تفسیر د الناس سورې په څلورم آیت کي زموږ په وړاندي اېښودل شوي، کوم څه ته چي په یوې سورې کي د نفاثات في

(c) ketabton.com: The Digital Library
العقد نوم ورکړی شوی په ورپسې سوره کې او همغسې په څلورم او پنځم آیتونو کې د الوسواس الخناس الذي یوسوس في الصدور الناس په الفاظو ورته اشاره شوې، دا دواړه سورتونه د محتوی له پلوه په بشپړه توګه سره ورته دي، او دواړه په یوه نامه؛ معوذتین یادي شوې. د دې تفصیل د الفلق د سورې په تفسیر کې وګورئ.

(نفاثات) له نفث څخه د پو کولو په معنا او د نفاثه جمع ده، چې یا د (علامه) په څېر د زیات پو کوونکو نارینه وو په معنا ده، یا جمع مؤنث یعنی پو کوونکې ښځې او یا د پو کوونکو ډلو په معنا ده. او (عُقَد) د عقده جمع او معنا ئې غوټه ده. دې معانیو ته په پام سره د مفسرینو تر منځ درې رأیي زمونږ مخې ته راځي: ۱- مراد ئې هغه جادوګري ښځې دي چې د جادو او کوډو لپاره تار غوټه غوټه کړي او په هري غوټې کې پو کړي، ۲- د زمخشری او ابو مسلم اصفهاني له نظره په (النفاثات فی العقد) سره هغو ښځو ته اشاره شوې چې په خپلو کرشمو، عشوه او ناز نخرو سره نارینه داسې تر اغېز لاندې نیسي او په خپل دام کې ئې اچوي لکه چې جادو پرې شوی وي. درېیمه رأیه دا ده چې له (النفاثات فی العقد) څخه هغه ډلې مراد دي چې عقده من افراد پاروي، د دوی په عقدو کې پو کوي، د ناراضیانو په لټه کې وي تر څو ئې تحریک کړي، احساسات ئې راوپاروي، عقدې ئې وروپړسوي، په هغو غرضي او مرضي وګړو پسې ګرځي چې خپلو ناروا غرضونو ته نه دي رسېدلي، په زړه کې عقدې لري، دوی ئې په شا وټېوي او د مسلمانانو په لیکو کې د فتنو راولاړولو لپاره ترې استفاده وکړي. که د الفلق د سورې د آیتونو تسلسل ته پام وکړو نو له ورایه برېښي چې دا (النفاثات فی العقد) له هغه وروسته خپل فعالیت پیلوي چې تیاره خوره شي او هغه وخت عقدې پړسوي چې ځیني په ړندوونکې فتنې اخته شي، کله چې مغشوش شرایط راشي او ځینو خلکو ته د حق او باطل ترمنځ تفکیک ګران شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دغو پو کوونکو ته مناسب شرایط برابر شي، متې رابډ وهي او د عقده منو خلکو په راپارولو بوخت شي. حقیقت دا دئ چي د (نفاثات فی العقد) اطلاق نه په عشوه گرو ښځو صحیح دئ او نه په هغو کوډگرو ښځو چي په تعویذ او د تار په غوټو کي پو کوي.

چا چي دا آیت د پورتني روایت له مخي تفسیر کړی؛ دې ته ئې پام نه دئ کړی چي په روایت کي یاد شوی جادوگر نارینه دئ نه کومه ښځینه جادوگره!! دې ته ئې هم توجه نه ده کړې چي د دې سورې په هیڅ برخي کي د جادو او جادوگر یادونه نه ده شوې، دلته د همدې سورې له دغه آیت وروسته په ورپسې آیت کي د حاسد یادونه شوې او دا په واضح توگه ښیي چي نفاثات في العقد هم د حاسد په څېر کینه کښ او کینه پاروونکی وگړي دي، نه جادوگري ښځې.

د الناس د سورې په څلورم او پنځم آیتونو کي ویل شوي (من شر الوسواس الخناس الذي یوسوس فی صدورالناس: د هغه وسوسه اچوونکي له شره چي په وار وار راځي، هغه چي د خلکو په سینو کي وسوسې اچوي) او دا دقیقاً د (النفاثات فی‌العقد) معنا او شرحه ده. د قرآن په ډېرو نورو آیتونو کي هم گورو چي د (نفاثات فی‌العقد) او (الذي یوسوس فی صدورالناس) مفهوم افاده کوي، دا ټول هغي ډلي ته اشاره کوي چي د صف دننه د فتنو راولاړولو لپاره هڅي کوي، د توبې په سوره کي په دې اړه داسي راغلي:

pZFÿy$ Nà6 Rqãÿ Nã=»ÏK {qãÊ=V r Z$6z ÿw) NärŠ#– $B /ä‹Ï {qã•z ö9

التوبة: ۴۷ ÇÍÐÈ ûüÏJÎ=»©à9$$/ OŠÎ=æ ª!$#ur 3 Nçl; bqãè»£J™ öä3‹Ïùur

که ستاسو په لیکو کي وتلي وی نو له تاوانه پرته به ئې بل څه نه وو درزیات کړي، خامخا به ئې د فتنو په لټه کي په تاسو کي ځغلول کول او په تاسو کي د دوی لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوربدونکي شته، الله د ظالمانو په حال ښه پوه دئ.

نو په بشپړ ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چي نه پر رسول الله ﷺ جادو شوی او نه د جادو له کبله بیمار شوی، او نه جادوګر کولی شي په خپل جادو سره چا ته ګټه یا تاوان ورسوي. جادو یوه دوکه ده او جادوګر یو ټګمار او دوکه مار انسان. او دا همغه څه دي چي قرآن ئې موږ ته لارښوونه کوي.

## ذو القرنین او یأجوج او مأجوج

د ذوالقرنین او یأجوج او مأجوج په اړه هم په امت کي د جدي اختلاف شاهد یو، په تفسیرونو کي هم بېل بېل آراء مومو او په روایاتو کي هم کافي متعارض روایات. راشئ وګورو چي قرآن په دې اړه څه ویلي او کومه رأیه او روایت د اعتبار وړ ګڼلی شو!!

د قرآن په دوو آیتونو کي د یأجوج او مأجوج یادونه شوې، یو ئې د الکهف د سورې۹۴ آیت او بل ئې د الانبیاء د سورې ۹۶ آیت دئ، د الکهف په سورې کي د دوی یادونه د ذوالقرنین د قصې په ضمن کي شوې او قصه داسي پیل شوې:

ÇÑÌÈ #•ò2 Ë nçZB NãŠæ (qèð™ @è ÈÜRö)ßS “ Ë `ã • Rqèó„r

د ذو القرنین په اړه تا پوښتي، ووایه: ژر به ئې څه یادونه درواوروم.

په دې مبارک آیت سره یوه بله اغېزناکه او عبرتناکه تاریخي قصه پیل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د يوه ځواکمن او فاتح زعيم په اړه ده او په ترڅ کي ئې د دې سورې محوري او اساسي مضامين په نوې اغېزمني بڼې کي انځور شوي. دا ځل يو مؤمن بنده د داسي اقتدار او واکمنۍ په حالت کي ښيي چي د ملک لمن ئې د وچي له ختيزه تر لوېدزه غزېدلې، د شمال او جنوب په لوري خوره شوې، هيڅوک ئې مخي ته ودرېدی نشي او د مقابلې توان ئې نه لري، ډول ډول وسائل او امکانات ئې په واک کي دي، خو دې زور او ځواک؛ نه مغرور کړی، نه ئې له خپل رب عصيان او بغاوت ته هڅولی او نه ئې د نورو په حق کي ظلم او تېري ته تشويق کړی، د مظلوم مرسته کوي، د ظالم له شره ئې ژغوري، د مفتوحه سيمو له هستوګنو سره نېک او عادلانه چلن کوي او يوازي ظالمانو ته سزا ورکوي، فتوحات ئې د دې لپاره نه دي چي د جاه طلبۍ شوق پوره کړي، نورو ته خپل زور او ځواک وښيي او د نورو سيمو په نيولو سره د خپلي واکمنۍ لمن پراخه کړي، بلکي د يوه سپېڅلي هدف لپاره دي، غواړي خلک پر الله تعالی او آخرت ايمان راوړي او د ظالمانو له منګولو وژغورل شي. د دې آيت لاندي مطالب توجه غواړي:

- دلته ويل شوي چي: او د ذوالقرنين په اړه له تا پوښتني کوي، له دې وينا معلومېږي چي د نورو پوښتنو په ضمن کي دا هم يوه پوښتنه وه، او دا ښيي چي د اصحاب کهف او خضر عليه السلام په اړه مخکني وضاحتونه هم د دوی د پوښتنو په ځواب کي وړاندي شوي. د آيت له دې فقرې (#•ò2 Ë ŋžB Nãǎæ (qè ™ ©ë) : ووايه: ژر به ئې څه يادونه درواوروم) معلومېږي چي رسول الله ﷺ د دې وحي له راتلو وروسته هغوی ته دغه وينا کړې، هغه رأيه صحيح نه برېښي چي وايي: رسول الله ﷺ لومړی له هغوی سره وعده کړې او بيا څه موده وروسته دا آيتونه نازل شوي.
- دلته د ذوالقرنين نوم راغلی چي لغوي معنی ئې د دوو ښکرانو خاوند ده، نه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن کي د دې مزيد وضاحت شوی چي دا څوک وو، نه په احاديثو کي او نه د تاريخ په کتابونو کي، ځينو ويلي چي دا يوناني سکندر اعظم وو او ځينو ويلي چي دا خورس(خسرو) د فارس واکمن وو، په دې اړه په يقين سره څه ويل ګران دي، دا هم يوه بله پوښتنه ده چي ولي د ذوالقرنين په نامه ياد شوی؟ آيا دا له دې کبله چي ده او فوځيانو به ئې داسي خولونه پر سر ږدول چي دوه ښکرونه به ئې ول، که د دې لپاره چي ده حقيقتاً په خپلي کوپړۍ کي د ښکرو په څېر دوه راوتلې غوټې درلودې؟ په دې اړه هم څه واضح ځواب نشو موندلی، خو د قرآن له وينا دومره معلومېږي چي قريش له دې نوم سره آشنا ول او د همدې ذوالقرنين په اړه ئې له رسول الله ﷺ پوښتنه کړې، د قريشو د دې معرفت مرجع يهودان ول، بايد د يهودانو په مذهبي او تاريخي کتابونو کي دا ولټول شي چي دوی د ذوالقرنين نوم چا ته ورکړی وو. په بايبل کي د دانيال يوه جعلي او سر تر پايه بې بنسټه قصه مومو چي په ضمن کي ئې د دانيال داسي خوب ته اشاره شوې چي وايي: خوب مي ليد چي د شوش په سيمي کي (دا سيمه اوس د ايران يوه برخه ده)؛ د نهر خوا ته ولاړ يم، يو مږ ګورم چي دوه جګ ښکرونه ئې دي، د نهر په ژۍ کي ولاړ دئ، ناڅاپه ګورم چي يو ښاخ ئې ستر او تر بل جګ شو، دي مږ د مغرب، شمال او جنوب لوري ته ښکرونه وهل، هيڅ ځناور ئې مقابله نشوی کولی او روغ نشو ترې خلاصېدی، څه چي ئې غوښتل همغسي ئې کول او سترېدو، په داسي حال کي چي لګيا وم د دې صحنې په اړه مي فکر کولو ناڅاپه له لوېديزه يو وز راڅرګند شو، داسي تېز راروان وو چي پښې به ئې د منډي په حال کي پر زمکه نه لګېدې، دې وز چي يو ښکر ئې د دواړو سترګو تر منځ درلود په شدت سره د دوه ښکري مږ په لور ورغی، له ډېر غضب سره ئې پرې بريد وکړ، دواړه ښکرونه ئې ورمات کړل او هغه ئې رانسکور کړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې د جبرئیل له قوله چي دانیال ته په خوب کي راڅرګند شوی دا خوب داسي تعبیروي: هغه دوه ښکری مړ د ماد او فارس پاچايي ده، هغه وز چي د دواړو ستر ګو منځ کي ئې یو ښکر وو د یونان پاچايي ده، ښکر ئې د همدي ملک لومړی پاچا دئ، د ښکر ماتېدا او پر ځای ئې د څلورو ښکرونو راپیدا کېدا په دې معنی ده چي دا پاچايي به په څلورو برخو ووېشل شي او هره برخه به یو پاچا لري خو هيڅ یو به ئې د لومړي پاچا په څېر ځواکمن نه وي....

- که تاسو د بایبل دغه برخه په دقت سره ولولئ نو یقیناً چي ډېر ژر به درته جوته شي چي (دانیال) یو جعلي نوم دئ، او په ده پوري تړل شوې خبري جعلي، له ځانه جوړي شوې خبري او له سره تر پایه غلطي او بې بنسټه دي، خو عجیبه ده چي دانیال ته منسوب دغه قصې، خوبونه او تعبیرونه ئې په مسلمانانو کي خورې شوې، دانیال د یوه معروف معبر په نامه پېژني او حتی ځینو مفسرینو په خپلو تفسیرونو کي د ده خبري نقل کړې دي، دا په داسي حال کي چي عمر رضي الله عنه یو کس د دې لپاره سخت تنبیه کړ چي دانیال ته دغه منسوب خبري ئې تبلیغ کړې وې او ورته وئې ویل چي زه پیغمبر علیه السلام د اهل کتابو د آثارو له لوستلو په کلکه منعه کړی وم. د دې تفصیل د (بایبل د قرآن په رڼا کي) کتاب کي وګورئ، خو یهودان د بایبل دغي جعلي برخي ته تر نورو زیات ارزښت ورکوي، د همدې لپاره دا دوه ښکری (ذوالقرنین) په دوی کي پېژندل شوی او معروف نوم وو او د فارس یو ستر واکمن ئې په همدې نامه یاداوو.
- قرآن په راتلونکو آیتونو کي د دې ستر فاتح مواصفات زموږ مخي ته ږدي او هغه د یوه مؤمن او عادل واکمن او زعیم په توګه معرفي کوي.

#Œ͂ ØLm ÇÑÎÈ $76™ ì7Øù ÇÑÎÈ $Y6™ äóÓ« Èä `Ï ûp‹Y÷?#är ÇÚ öF$'Î ¼çm9 $YG3B $Ρ̂

(c) ketabton.com: The Digital Library

$Zùè $Bφ% $d‰Zä ‰`rr pÜm Bú ‡ã ’Î Ü ãø? $d‰`r Ä§ ô‡9$ >ìóB ÷=/

O=ß `B $B& A$% ÇÑÏÈ $Xφ ãn bÍZä ‹Ï, G? b& $BÎr >É è ê b& $BÎ È‡Rö) ß$#‹»f

@Ïår `B#ä ôB $B&r ÇÑÐÈ #[õ3R$Ï#‹ã ¼çgÉèš ¾ïÎ 4‹Î Š•ã Ïê ¼çgÉèç $ ö¡ ù

ÇÑÑÈ #ŽÅç$RÌB& ôÏB ¼ç9 Aqà)Z™r 4_ó tç$ä!“_ ¼ã#ù $[s Î»[1]

يقيناً چي موږ هغه ته په زمکي کي تمکين ورکړی وو او ډول ډول اسباب مو ورکړي ول، نو د يوه (اقدام اړوند) سبب پسې شو، تر هغه چي د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، هغه ئې داسي وموند چي په تور رنګه خټينه چينې کي پرېوځي، او د هغې خوا ته ئې يو قوم وموند، ومو ويل: اې ذو القرنينه! يا ئې تعذيب کړه يا د دوی په اړه نېک چلن غوره کړه، وئې ويل: اما هغه چي ظلم ئې کړی نو حتماً به ئې تعذيب کړو بيا به د خپل رب لوري ته ګرځول کېږي او هغه به ئې په ځانګړي بد عذاب اخته کړي. او هغه چي ايمان ئې راوړی او نېک عمل ئې کړی نو هغه ته غوره بدله ده او حتماً به هغه ته د خپلي سپارښتني آسانه وينا وکړو.

په دې مبارکو آيتونو کي دا لارښووني مومو:

- ذوالقرنين د نړۍ يو پياوړی او مضبوط واکمن وو، الله تعالى ډول ډول اسباب او امکانات ورکړي ول، له خپلو وسائلو او امکاناتو په استفادې سره ئې لومړی د لوېديز په لوري مخه کړه، تر هغه ځايه مخکي ولاړ او سيمي ئې يوه په بلي پسي فتح کړې چي د لمر لوېدو حد ته ورسېدو، داسي ځای ته چي پراخه خټينه چينه ئې مخي ته حائل شوه، داسي ورته معلومېده چي لمر د همدې خټيني

(c) ketabton.com: The Digital Library

چينې په وروستۍ (غربي) ژۍ کي پرېوځي، د قرآن له وينا معلومېږي چي د دې چينې شرقي ژۍ ختېنه ده، د غرب په امتداد دومره اوږده پرته ده چي آخوا ته ئې هيڅ لوړه نه تر سترګو کېږي، د لمر د پرېوتو پر مهال داسي معلومېږي لکه چي لمر په همدې چينې کي پرېوځي. د قرآن له وينا دا هم معلومېږي چي دا کوم ستر بحر او سمندر نه وو بلکي چينې ته ورته بحيره وه، دغو لاربنوونو ته په پام سره ويلی شو چي دا فاتح زعيم د يونان کوم پاچا نشي کېدی، ځکه د يونان په غرب کي داسي بحيره نه تر سترګو کېږي، د کوچنۍ آسيا په غربي ساحل کي پرتې جزېرې او مديترانه داسي دي چي د قرآن د الفاظو مصداق ګڼل کېدی شي، نو د دې فاتح زعيم پلازمېنه به د دې سيمي ختيځ کي پرته وه، او دا د خورس په اړه تر سکندر اعظم زيات صدق کوي.

- دې فاتح زعيم د دغي چينې خوا ته يو قوم وموند، داسي چي الله تعالی ده ته هم د دې قوم د تعذيب قدرت او توان ورکړی وو او هم له دوی سره د نېک چلن توان، خو ده دا پرېکړه وکړه: چا چي ظلم کړی يا له دې وروسته ظلم وکړي مناسبه سزا ورکوم، بيا به د خپل رب لوري ته درومي او الله تعالی به سخته سزا ورکوي، او هغه چي ايمان ئې راوړی او نېک عمل ئې کړی يا له دې وروسته ايمان راوړي او نېک عمل وکړي نو هغه ته به په دنيا او آخرت کي غوره بدله ورکول کېږي او موږ به نه له هغه سره سختي کوو او نه به ئې پر سختو کارونو ګمارو.
- له دې وينا په ډېر صراحت سره معلومېږي چي دا يو مؤمن او عادل زعيم وو، د مفتوحه سيمو له هستوګنو سره ئې عادلانه چلن کولو، ظالمانو ته ئې سزا ورکوله، له مؤمنانو او نېکانو سره ئې نېک چلن کاوو، هدف ئې د زمکو لاندي کول او د نورو شتمني لوټل نه وو، د تاريخي شواهدو له مخي سکندر دا مواصفات

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه درلودل، هغه چنگيز ته ورته فاتح وو، له تاريخي شواهدو دا معلومېږي چي خورس تر ډېره حده د همدې مواصفاتو خاوند وو.

@èµJ Óé©Çöq% 4?ã ßèÖ? $d‰`r Ä§ ôî±9$ì îÔB ÷÷/ #ŒÎ ó‍Lm ÇÑÒÈ $76™ ì7ä ß©

ÇÊÊÈ #Žtöz Ïmƒ‰9 $JÎ $ZÖm& 6%r 7Ï‹ . ÇÊÉÈ #ŽtÅ $kÍrŠ `Ï B Ogß©

بيا (د بل کار لپاره) په اسبابو پسې شو، تر هغه چي د لمر د ختو حد ته ورسېد، هغه ئې داسي وموند چي پر يوه داسي قوم راخېژي چي له هغه مو هيڅ حجاب او پرده نه ده ورته جوړه کړې، همداسي وو، او موږ يقيناً په هغه څه د خبرېدو له پلوه احاطه کړې چي له ده سره ول.

دا مبارک آيتونه د دې زعيم بل فاتحانه اقدام څېړي او وايي:

- بيا ئې د بل اقدام لپاره تياری ونيو، د ختيځ په لور وخوزېدو، داسي سيمي ته ورسېدو چي د هستوګنو او لمر ترمنځ نه چت حائل کېدو، نه کېږدۍ او نه جامې، نه ئې خوني او سمڅي درلودې، نه ئې کېږدۍ او نه جامې، د حيواناتو په څېر بربنډ ول.
- له الفاظو داسي معلومېږي چي دا سيمه هم د کوم بحر په غربي ژۍ کي پرته وه، لمر به له راڅرګندېدو سره سم ترسترګو کېدو، او وړانګي به ئې مخامخ او له کومي مانع پرته پر سيمي او هستوګنو ئې لګېدې. داسي معلومېږي چي دا به د هند هغه شرقي سيمه وي چي له بحر سره متصل پرته ده.
- دا آيتونه مسلمانانو ته اطمئنان ورکوي چي د ذوالقرنين په اړه د قرآن دا وينا د هغه جامع او کامل علم له مخي ده چي الله تعالی ئې د ده او د ده د امکاناتو او وسائلو په اړه لري.

brŠ3ƒ žv $Böq% $JĵÏrŠ Æ Ë %`r ÈbŽ¡ 9$ûü/ ÷÷/ #ŒÎ ó‍Lm ÇÉÈ $76™ ì6ä ß©

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÇÌÈ Zvq% bq(3)ÿ

بيا (د بل كار لپاره) په اسبابو پسې شو، تر هغه چې د دوو غرونو منځ ته ورسېد، تر هغو وړاندې ئې داسې قوم وموند چې دې ته نږدې نه وو چې په كومې وينا وپوهېږي.

دلته د ذوالقرنين بل سفر ته اشاره شوې خو لورى ئې نه دئ په گوته شوى، دومره ويل شوي چې د دوو غرونو منځ ته ورسېد، د دغو غرونو خوا ته ئې داسې قوم موندلى چې په خبرې د پوهېدا وړتيا ئې دومره كمزورې وه چې په هيڅ وينا نه پوهېدو ته نږدې وو. په وروستيو آيتونو كې داسې اشارې مومو چې په مرسته ئې دا سيمه او ولس ئې پېژندى شو.

%1` öz 7 9 @èø @gù ÇÚ ÒF $’Î br%Åÿã I qã ÙBr I qã Ùƒ bÎ ÈRö)$$# ‹ »ƒ (q8$%

ÇÌÍÈ #Ÿ‰™ bg$Y•/r $YZ•/ Ÿ@èø B b& #?ã

وئې ويل: اې ذوالقرنينه! يقيناً چې يأجوج او مأجوج په دې زمكې كې فساد خوروونكي دي، آيا كېدى شي چې تا ته څه خراج (ماليه) د دې لپاره دركړو چې زموږ او دوى تر منځ كوم سد او مانع جوړ كړې.

له دې مبارک آيت څو خبرې معلومېږي:

- دا سيمه د يأجوج او مأجوج قوم ته نږدې پرته وه. دوى به د دوو غرونو له منځه راتېرېدل او د سيمې پر خلكو به ئې بريدونه كول، فساد او بې امني به ئې خوروله.
- د يأجوج او مأجوج تر بريدونو او گواښونو لاندې خلكو له ذوالقرنين غوښتي چې دا ناو بند كړي او د دې دواړو لوړو غرونو تر منځ داسې سد جوړ كړي چې د دغو بريدونو مخنيوي وكړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا ئې هم ورته ویلي چې د دې په بدل کې به مورږ تا ته مالیه درکوو.

د یأجوج او مأجوج نومونه هم باید د یهودو په مذهبي کتابونو او تاریخي اسنادو کې ولټوو، ځکه دا نومونه د ذوالقرنین د قصې په ارتباط راغلي، د دوی په مذهبي کتابونو کې د دې یادونه شوې، دوی هغه قومونه د یأجوج او مأجوج په نامه یاد کړي چې د آسیا په شمال ختیزي برخو کې مېشت ول، بایبل وایي چې یأجوج او مأجوج د نوح علیه السلام د زوی یافث اولاد او هستوګنځی ئې د آسیا شمال ختیزه سیمه ده، (دې ته مو پام وي چې د قومونو د شجرو په اړه د بایبل وینا او ادعاء خوشې او بې بنسټه ادعاء ده او قرآن ئې ردوي)، له دې خبري معلومېږي چې د ذوالقرنین دا سفر د شمال په لوري وو، له تاریخي اسنادو دا هم جوتېږي چې د قفقاز په جنوب کې د دربند او داریال په نامه دوه سدونه ترسترګو کېږي چې ویل کېږي د تاتاري، منګولي، هن او سیتهین قومونو د یرغلونو د مخنیوي لپاره جوړ شوي وو,

•/ã ’Îqê#ä ÇÌÎÈ $BŠ‘ Nbž•/r ÷B Y•/ @èô & ¯ö§)Î ’Îqã‹ä'ù ×öz ’Îi ïŠÏi Ó‍ÍEB $B A$%

A$% #Y$R ¼ã#è_ #Œ)Î ó#Lm (qã‚ ÿR$ A$% Èè‰%Á 9$û#/ 3‘ r$™ #Œ)Î ó#Lm Ÿ‰ƒŸ‰tø$

ÇÌÏÈ $Ó)R ¼ç9 (qãÜGó™$$Br çrãgâƒ b& (þqãÜó™$$Jù ÇÌÏÈ #Y•Ïïi hø ã øì•Ïé þÎqê#ä

ÇÌÑÈ $ym ’Îi ß‰ãr b%.r ä!©Š ¼ã#è_ ’Îi ß‰ãr ä!` #Œtù ’Îi `Ï B p•q‘ #‹»d A$%

ÇÌÒÈ $Y•d Nß»Zè•Jgú Í q•Á 9$’Î ‡ÿçr •Ù è/ ’Î ßqB ƒ 7Í Bq ƒ NåÕè/ $Zø•?r

وئې ویل: زما رب چې څه زما په واک کې راکړي هغه (ډېر او) غوره دي، نو په افرادي قوت سره زما ملتیا وکړئ چې ستاسو او د دوی تر منځ بند جوړ کړم، د اوسپني ټوټې راته راوړئ، تر دې چې د دواړو لوړو څوکي ئې سره (وصل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

برابري کړي)؛ وئې ويل: (اور) پو کړئ، تر دې چې هغه ئې اور (ته ورته سرې) وګرځولې، وئې ويل: ما ته ويلي شوي زېړ (مس) راوړئ چې پرې توی ئې کړم، نو نه په دې توانېدل چې پرې وخېژي او نه ئې په سوري کولو توانېدل. وئې ويل: دا زما د رب له لوري يوه پېرزوينه ده، نو کله چې زما د رب وعده راورسي له خاورو سره به ئې برابر کړي، او زما د رب وعده رښتينې ده، او په دې ورځ به پرېږدو چې ځيني ئې د ځينو نورو ( په ليکو) کې د څپو په څېر ننوځي، او په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به يو ځای راغونډ کړو.

د دې مبارکو آيتونو مهمې لارښوونې دا دي:

- ذوالقرنين په ځواب کې ورته وويل: ستاسو ماليه نه غواړم، تر دې ماليې هغه څه ډېر غوره دي چې زما رب راکړي، همدا راته کافي دي. او دا ښيي چې د ذوالقرنين فتوحات د يوه سپېڅلي مقصد لپاره وو نه د مفتوحه سيمو او قومونو د غارت او لوټلو لپاره.
- له ما سره د دې کار په بشپړولو او ترسره کولو کې د خپل وس مطابق مرسته وکړئ، چې ستاسو او د دوی تر منځ بند جوړ کړم، د اوسپني ټوټې او دړې راته راوړئ.
- دا د اوسپني ټوټې او دړې ئې د دواړو غرونو تر منځ داسې سر په سر ودرولې چې د دواړو له څوکو سره برابرې شوې.
- بيا ئې د اوسپني خوا ته سکاره کېښودل او اور ئې پرې بل کړ، خلکو ته ئې وويل چې اوس سکروټو ته د اړوند وسائلو په مرسته پو کړئ، تر دې چې اوسپنه دومره سره شوه چې د اور په څېر شوه، نو خلکو ته ئې وويل: ما ته ويلي شوي زېړ (مس) راوړئ چې پرې توی ئې کړم، په دې توګه د اوسپني داسې مضبوط دېوال جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چي يأجوج او مأجوج نه پرې رااوښتی شو او نه ئې سوری کولی شو.

- په دې وخت کي ذوالقرنين د خپل رب شکر اداء کړ او وئې ويل: دا زما د رب له لوري يوه پېرزوينه ده، الله تعالی موږ ته د دې توفيق راکړ چي دا کار ترسره کړو، دا سد به تر هغه ولاړ وي چي الله تعالی ئې غواړي، خو کله چي زما د رب وعده راورسي مات مات او له خاورو سره به ئې برابر کړي، او زما د رب وعده رښتيني ده، هرومرو ترسره کېږي. دلته د الهي وعدې معنی يا د هغه سد د نسکورېدو نېټه ده او يا هغه نېټه ده چي الله تعالی د هر څه د مرگ او فنا کېدو لپاره ټاکلې.

د الانبياء په سورې کي د يأجوج او مأجوج په اړه داسي راغلي:

ßqã Ù Ms Ïè #Œ) #_ Lm ÇÎÈ šc qãÅö Ÿw NgR& $g»Yõ3=d& pƒö% 4?ã P•mr

š† Ïf #Œfù ', s$Î%ãq$ > ŽI% Ir ÇÏÈ šc qèÅYƒ 5 ‰n è@à2 `Ï B Nèdr ßqã Ûr

$Zà2 @/ # ‹»d ôÏB 7#ø î 'Î $Zà2 6% $Z=f q»ƒ (rãÿ. ûïÏ%$ ã Á ‚ p Á Ï, »©

ÇÐÈ šú ûÜÎ» ß الانبياء: ۹۵-۹۷

او پر يوه داسي کلي چي موږ هلاک کړی حرامه ده چي بېرته به نه راگرځي، تر هغه چي يأجوج او مأجوج پرانيستل شي او دوی به له هري لوري راکوزېږي. او هغه رښتيني وعده رانږدې شوې ده، نو ناڅاپه به د هغو وگړو سترگي رډې پاتې شي چي کفر ئې کړی (وايي به) افسوس زموږ په حال؛ يقيناً چي موږ له دې غافل وو؛ بلکي ظالمان وو.

د دې آيتونو معنی دا ده چي هغه خلک به هم د الله تعالی په لور درومي چي په الهي عذاب اخته او هلاک شوي، دوی به هم د قيامت په ورځ بياراژوندي کېږي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنیایي عذاب ئې اکتفا نه کېږي، د الله تعالی په لوري نه گرځېدا پرې حرامه ده. دا ثابته او نه بدلېدونکې الهي پرېکړه ده، دوی به هغه مهال له نورو سره یو ځای د الله تعالی په وړاندي ودرېږي چي قیامت راشي، د قیامت تر راتلو وړاندي به د یأجوج او مأجوج هغه ستره فتنه راڅرگنده شي چي د فساد او تباهي خورولو لپاره به له هري لوري راکوزېږي. تر هغه به دوی په خپلو قبرونو کي پراته وي چي یأجوج او مأجوج بیا د فساد خورولو مجال ترلاسه کړي، دا لار یو ځل بیا ورته پرانیستل شي، هغه مهال به بیا پر نورو سیمو د دوی یرغل پیل شي، یرغل به ئې داسي وي چي له هري لوري به راکوزېږي او بریدونه به کوي، خو دا به هغه مهال وي چي قیامت به ډېر رانږدې شوی وي، او د الله تعالی په وړاندي د دوی ودرېدا به ډېر ژر ترسره شي.

ځینو له دغي فقرې (ßqã_Br ßqã_Ų ÙMsÏè#€Ï #_ Ìm) : تر هغه چي یأجوج او مأجوج پرانیستل شي، دا انتباه اخیستې ده چي ښایي د ذوالقرنین هغه سد به د قیامت تر رانږدې کېدو پوري همداسي روغ پاته وي او د یأجوج او مأجوج د راتېرېدا مخه به نیسي، خو هغه مهال به نسکور شي او دوی ته به د تېرېدا او پر نورو د یرغلونو مجال په لاس ورشي. خو دا انگېرنه له یوې خوا د آیت له الفاظو سره اړخ نه لگوي؛ ځکه آیت وایي چي هغه مهال به دوی له هري لوري راکوزېږي، یوازي د هغه یوه بند له لوري د راکوزېدا خبره نه کوي، له بلي خوا دا جوته ده چي دلته د دوی د شمېر زیاتوالي ته اشاره شوې او د دومره زیاتو خلکو مخنیوی په یوه ووړ بند، هغه هم د یوې وړې سیمي په یوه ناو او خوړ کي نه ممکن دئ او نه ئې عقل مني، له بلي خوا دا انگېرنه له الهي سننو سره اړخ نه لگوي، قومونه مري، ستر ستر او مضبوط مضبوط بندونه د وخت په تېرېدو سره شړېږي او نسکورېږي، د انسان وسائل او امکانات وده کوي، یو وخت په اوبو کي تگ، له غرونو اوښتل، په هوا کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

الوتل ورته محال وو، خو اوس په لويو لويو بحرونو کي اوږده اوږده سفرونه کولی شي، له غرونو او بندونو تېرېدا څه چي له يوې وچي بلي ته د هوا له لاري درومي، فضاء ته سفرونه کوي او پر سپوږمۍ کوزېږي. د قرآن د يوه آيت داسي تعبير چي له واقعيتونو سره اړخ نه لگوي نه يوازي صحيح تعبير نه دئ بلکي د دې ستر او عظيم الشأن الهي کتاب په اړه بې ځايه شکونه راولاړوي. قرآن د هغه الله تعالی کتاب دئ چي دا ټول عالم ئې پيدا کړی او له ټولو اسرارو ئې خبر دئ، په دې کتاب کي يوه کلمه داسي نشته چي د واقعيتونو خلاف وي او د انسان عقل ئې نشي منلی. يأجوج او مأجوج د نورو انسانانو په څېر انسانان دي، ژوند او مرگ لري، د دوی په اړه به همغه څه وايو چي په بل هر انسان ئې اطلاق کېدی شي، د قرآن له نظره دا يو مفسد قوم وو، په زمکي کي ئې فساد او تباهي خوروله، د دوی خوا ته پراته خلک ترې تنگ ول، تل به ئې پر دوی غلچکي بريدونه کول او بېرته به تښتېدل، دوی ذو القرنين ته شکايت وکړ، هغه د دغو بريدونو د مخنيوي لپاره په يوه ناو کي داسي اوسپنيز بند او سد جوړ کړ چي د هغوی بريدونه ئې تم کړل. دا د هغه مهال يو مؤثر تدبير وو، د دې معنی دا نه ده چي همدا سد به تر قيامته پوري د دوی مخنيوی کوي.

د قرآن له وينا معلومېږي چي دا سد ديوه غره په خوړ کي جوړ شوی، د دې غره يوې خوا ته مېشت قوم نسبتاً متمدن قوم وو، ذوالقرنين ته د دوی دا وړانديز چي د بند جوړولو په بدل کي ماليه (خراج) درکوو همدا مفهوم افاده کوي، يأجوج او مأجوج د دې غره په شمال کي اوسېدل، خو وحشي قوم وو، د دې خوړ له لاري راتېرېدل او پر دغو قومونو ئې غلچکي بريدونه کول او له تالان وروسته بېرته تښتېدل، د سد له جوړېدو وروسته د دوی دا غلچکي بريدونه متوقف شوي، له دې وروسته بريد، تالان او بېرته تښتېدا ورته گرانه شوې، دا رأيه دقيقه نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ګواکې دوی ستر ستر بریدونه کول او دا سد د دوی د داسې بریدونو مخنیوی کړی. داسې بند د لویو پلې بریدونو مخه نشي نیولی، لوی پلی فوځ په غرونو رااوښتی شي، که د دوی بریدونه ستر ستر وی نو دا نسبتاً متمدن قومونه به هلته نه پاتې کېدل او لادمخه به نورو سیمو ته کډه شوي وو، هغو چې دا رأیه ئې وړاندې کړې ښايي د دې سورې د (۹۹) آیت په اړه ئې دا ګمان کړی وي چې دا د یأجوج او مأجوج په اړه دئ، حال دا چې دا آیت د قیامت د ورځې په اړه دئ، له (یومئذٍ) نه مراد د بند د ماتېدا ورځ نه ده، دا د قیامت ورځ ده، په دې ورځ به ټول خلک د بحر د څپو په څېر د محشر په لورې درومي، دا ځکه چې په (۱۰۰) آیت کې همدغه د (یومئذٍ) کلمه بیا تکرار شوې او ویل شوي چې په دې ورځ به په صور کې پو شي او دوزخ به کافرانو ته وښودل شي.

د دې احتمال هم شته چې د شمال له لورې د چنګیزیانو هغه ستر ستر او ورانوونکې بریدونه د همدې آیت مصداق وي چې له چین څخه پیل او تر مدیترانې او هند پورې وغزېدل، په دې ټولې پراخې سیمې کې ئې دومره وینې توی کړې، دومره انسانان ئې ووژل او دومره ښارونه ئې وسوزول چې په بشري تاریخ کې ئې نظیر نه مومو. اسلامي خلافت ئې نسکور کړ، په بلخ او بغداد کې ئې دومره تباهي وکړه چې جبران ئې محال وو. ښايي د الانبیاءد سورې په ۹۵-۹۶ آیتونو کې دغه حالت ته اشاره شوې وي او دا د قرآن یوه دقیقه وړاندوینه وي چې ترسره شوه، او ښايي دا وړاندوینه به تر قیامت وړاندې ترسره شي؛ هغه مهال به دا قوم یو ځل بیا په همداسې ستر شرارت لاس پورې کړي.

دا مطلب هم په یادولو ارزي چې ولې د ذوالقرنین د سفرونو په لړ کې د جنوب یادونه نه ده شوې؟ ما ته داسې معلومېږي چې د ذوالقرنین د پلازمېنې په جنوب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل هېواد نه وو، د ده هېواد په جنوب کي له سمندر سره نښتی وو او له دې معلومېږي چي پلازمېنه به ئې په خراسان کي وه او هېواد به ئې په جنوب کي تر سمندر پوري غزېدلی وو.

راشئ وگورو چي په روایاتو کي د یأجوج و مأجوج په اړه څه راغلي:

د بخاري په دولسو روایاتو کي د دوی یادونه شوې، په دې کي یو روایت داسي دئ چي وایي یوه سړي رسول الله ﷺ ته وویل: ما د یأجوج او مأجوج سد ولید، د سد مواصفات ئې ورته بیان کړل، رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه دي (په خپلو سترگو) ولید؟ که دا روایت صحیح وي نو څو خبري ترې معلومېږي: ۱- د رسول الله ﷺ تر زمانې دا سد په مکمله توگه موجود وو یا ئې ځیني برخي موجودي وې، ۲- دا کوم خارق العاده سد نه وو، لکه هغسي چي ځیني گمان کوي، ۳- له عربو ډېر لري پروت نه دئ بلکي دومره نږدې دئ چي یو کس توانېدلی هلته ولاړ شي او په خپلو سترگو ئې وگوري.

د بخاري بل روایت ئې دا دئ:

عَنْ زَيْنَبَ ابْنَةِ جَحْشٍ رضي الله عنها أَنَّ النَّبِىَّ ﷺ دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا يَقُولُ « لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ » . وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِى تَلِيهَا . قَالَتْ زَيْنَبُ ابْنَةُ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ قَالَ « نَعَمْ ، إِذَا كَثُرَ الْخُبْثُ » .

له زینب بنت جحش رضي الله عنها روایت دئ چي رسول الله ﷺ زموږ ځای ته په داسي حال کي راننوت چي وېري اخیستی وو وئې ویل: لا إله إلا الله، افسوس د عربو په حال له هغه شر چي یقیناً رانږدې شوی، نن د یأجوج او مأجوج په بند کي دومره سوری جوړ شو، بټه گوته او ورپسې ئې سره وصل کړې، زینب وایي: ما ورته وویل: یا رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله! آیا په داسي حال کي به هم هلاک کېږو چي په موږ کي صالحان وي؟ وئې فرمایل: هو؛ کله چي پلیتي ( پلیتان) زیات شي.

دا روایت چي په بخاري کي ځلي درې ځلي نور په دغو شمېرو راغلی: ۳۵۹۸ ، ۷۰۵۹ ، ۷۱۳۵، د سند له مخي غریب دئ، په دریو طبقو کي یو یو راوي لري. د متن له پلوه په خپلو منځونو کي څو توپیرونه لري: په یوه کي راغلي: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ دَخَلَ عَلَيْهَا فَزِعًا په بل کي د دې خلاف راغلي اسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ ﷺ مِنَ النَّوْمِ مُحْمَرًّا وَجْهُهُ په یوه کي وَحَلَّقَ بِإِصْبَعِهِ وَبِالَّتِي تَلِيهَا په بل کي وَحَلَّقَ بِإِصْبَعَيْهِ الإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا او په بل کي وَعَقَدَ تِسْعِينَ. یو روایت وایي چي رسول الله ﷺ له خوبه راوینې شو، مخ ئې سور اوښتی وو او وئې ویل: لا إله إلا الله، افسوس د عربو په حال له هغه شر چي یقیناً رانږدې شوی، نن د یأجوج او مأجوج په بند کي دومره سوری جوړ شو، بټه کوته او ورپسې ئې سره وصل کړې، بل ئې وایي چي رسول الله ﷺ په داسي حال کي زموږ ځای ته راننوت چي وېري اخیستی وو او همدا خبره ئې وکړه خو په پای کي د ابهام گوتي یادونه نه کوي او وایي یوه او ورپسې گوته ئې سره وصل کړې. په یوه بل روایت کي د دې ټولو خلاف ویل شوي: « يُفْتَحُ الرَّدْمُ رَدْمُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذِهِ» . وَعَقَدَ وُهَيْبٌ تِسْعِينَ، دلته د فتحت پر ځای یفتح راغلي چي له مخکني سره جدي تعارض لري او ښيي چي دا سد به له دې وروسته سوری شي. او په بل کي داسي راغلي « فَتَحَ اللَّهُ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلَ هَذَا » . وَعَقَدَ بِيَدِهِ تِسْعِينَ .

که سره له دې ټولو تعارضاتو دا روایت صحیح وگڼو چي په سد کي سوری راپیدا شوی نو د دې معنی همغه ده چي ځینو درنو شارحینو کړې او دا ئې د دې فتنې د قرب او نږدېوالي په معنی اخیستې، نه په حقیقي معنی او په سد کي د سوري په معنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بخاري بل روايت دا دئ:

عَنْ أَبِی سَعِيدٍ الْخُدْرِیّ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِیّ ﷺ قَالَ « لَيُحَجَّنَّ الْبَيْتُ وَلَيُعْتَمَرَنَّ بَعْدَ خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ » . تَابَعَهُ أَبَانُ وَعِمْرَانُ عَنْ قَتَادَةَ . وَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ عَنْ شُعْبَةَ قَالَ « لاَ تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لاَ يُحَجَّ الْبَيْتُ » . وَالأَوَّلُ أَكْثَرُ ، سَمِعَ قَتَادَةُ عَبْدَ اللَّهِ وَعَبْدُ اللَّهِ أَبَا سَعِيدٍ .

له ابو سعيد خدري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د يأجوج او مأجوج له راوتلو وروسته به هم حج او عمره اداء کېږي. په بل روايت کي دا پرې اضافه شوي چي قيامت تر هغه نه راځي چي د بيت الله حج کول بند شي.

د بخاري څلور نور روايات داسي دي چي د مؤمنانو په پرتله د يأجوج او مأجوج شمېر داسي ښيي لکه يو په زرو کي، دا روايات هم د سند له مخي مطلق غريب دي، په دريو طبقو کي يو يو راوي لري او په څلورمي کي دوه.

- د ذوالقرنين د قصې په پاى کي د ده داسي خبري راوړل شوې چي د ده دا قصه او ټوله سوره د هغوی پر محور څرخي، او په دې سره قريشو ته ويل شوي: ستاسو مغرور مشران په خپلي داسي مشرۍ او زور ځواک مغرور شوي چي د ذوالقرنين د پراخ ملک په پرتله د يوه واړه کلي ملکانو ته ورته دي، هغه پر خداى او آخرت ايمان درلود، د مظلومانو مرسته ئې کوله، د نېکانو مل او ملاتړى وو، شرق، غرب او شمال ته له داسي سترو سترو فوځونو سره ولاړ چي هېڅوک ئې مخي ته نشو تم کېدى، پرديو قومونو ته ئې له بدل او اجورې پرته لوى لوى کارونه کول، خو د قريشو دا مغرور مشران بتان لمانځي، آخرت نه مني، د الله تعالى پر آيتونو ملنډي وهي، د الله پر پيغمبر استهزاء کوي، د خپل قوم پر مظلومو او بې وزلو مؤمنانو ظلمونه کوي، عملونه ئې ګنده، په فساد کي تر ستوني غرق، ټول هم او غم ئې دا چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وزلي او مظلومان ولوټي، وېره ئې له دې چې دا ذليل او قليل اقتدار ته ئې ګواښ متوجه نشي!!

- د دې بحث په ترڅ کې به تاسو ته واضح شوې وي چې يأجوج او مأجوج د انسانانو د يوه قوم نوم دئ، وحشي قوم وو، په غرونو کې اوسېدل، کوم ښار او مرکزي حکومت ئې نه درلود، که نه نو ذوالقرنين به حتماً هغه فتح کړی وو، پر نورو قومونو ئې غلچکي بريدونه کول، د يوه سد له امله ئې دا غلچکي بريدونه متوقف شول، اوس که تاسو داسي وينا، رأيه او روايت واورئ چې وايي: دا کوم ځانګړی مخلوق وو، له نورو انسانانو سره ئې ډېر ژور توپيرونه ول، دومره ستر ستر او پلن پلن غوږونه ئې ول چې يو به توشک او نيالۍ شو او بل بړستن، نو ستا قضاوت به د دې وينا په وړاندې يا دا وي چې دا خبره په بشپړه توګه غلطه، بې بنسټه او د قرآن خلاف ده او يا دا چې ووايې: د يوه غوږ توشک او بل غوږ بړستن معنی دا نه ده چې پلن پلن غوږونه ئې ول بلکې معنی ئې دا ده چې نه ئې توشک وو او نه بړستن، پر زمکه به داسي پرېوتل چې نه به ترې لاندې له خپل غوږ پرته بل څه وو او نه ئې له پاسه له خپل غوږ پرته کوم څادر او بړستن.
- د دې قصې په پای کې، د يوې داسي ښکلې او جامع تتمې شاهد يو چې دغه مطالب په کې ځلېږي، الله تعالی فرمايي: هغه ورځ راتلونکې ده چې خلک به له قبرونو راپاڅوو، ټول به د محشر په لوري داسي روان وي چې ځينې به د ځينو نورو په ليکو کې د څپو په څېر ننوځي، په شپېلۍ کې به پو شي نو ټول به يو ځای راغونډ کړو. په همدې سره د ذوالقرنين دا روزونکې او لارښوونکې ښکلې قصه پای ته رسوي. او ورپسې د قيامت په ورځ د کافرانو حال بيانوي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

| عنوان | صفحه |
| --- | --- |


سريزه ------------------------------------------------ ۱
سلفي شم که مذهبي پاته شم؟-------------------------------- ۷
رفع اليدين ------------------------------------------- ۲۶
آيا په امام پسي د مقتدي قرائت جائز دئ؟ ---------------------- ۳۴
آيا په لوړ ږغ آمين ويل جائز دي؟ ---------------------------- ۴۳
آيا له طاق رکعتونو وروسته لنډه ناسته ضروري ده؟----------------- ۴۶
جمع صلاتين ------------------------------------------ ۴۹
جومات ته د ښځو تگ ------------------------------------ ۵۸
حجاب او شرعي لباس ------------------------------------ ۷۳
د جنازې په لمانځه کي فاتحه لوستل!!------------------------- ۸۰
د شهيد جنازه ----------------------------------------- ۸۲
آيا الله تعالى د خداى په نامه يادولى شو؟------------------------ ۸۶
آيا الله تعالى انسان ته ورته صورت لري؟ ----------------------- ۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

آيا الله تعالى په هر ځای کي له موږ سره دئ؟ -------------------- ۱۰۰
عرش او پر عرش استوی --------------------------------------- ۱۰۸
آيا صحيح ده چي الله تعالى د زمکي آسمان ته راکوزېږي؟ ----------- ۱۳۱
معراج ------------------------------------------------- ۱۳۷
د قبر عذاب ---------------------------------------------- ۱۵۲
د قبرونو زيارت ------------------------------------------- ۱۵۹
د کافرانو ماشومان به دوزخ ته ځي که جنت ته؟! ---------------- ۱۶۲
آيا پېريان ليدل کېږي؟ ------------------------------------- ۱۶۵
خضر عليه السلام ------------------------------------------ ۱۷۸
د نبوي احاديثو په اړه صحيح عقيده ---------------------------- ۲۲۲
متعارض روايات او مذهبي اختلافات ---------------------------- ۲۳۵
عاشوراء ------------------------------------------------ ۲۵۰
عاشوراء په رواياتو کي ------------------------------------- ۲۶۹
پر رسول الله ﷺ باندي د سحر حقيقت ----------------------- ۲۷۵
ذو القرنين او يأجوج او مأجوج -------------------------------- ۲۸۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**